

# د رغنده سولې ښوونیزمهارتونه

لیکوال : محمد انور ولید

۱۳۹۴ هجري لمریز کال

سرليک مـخ


سريزه................................................................................................ 6
لومړۍ برخه ................................................................................13
ځمکه ، ژوند اوانسان..............................................................................13
انسان او ټولنه ..................................................................................15
سوله يْيزه پوهه او روزنه ..........................................................................18
د سوله ئيزې ښوونې او روزنې عمليه : ...........................................................19
د سوله ئيزې ښوونې او روزنې موخه : ..........................................................19
د سوله ئيزې ښوونې اوروزنې هدفونه: .........................................................20
په انسانانو کې دسولې زېرمې عبارت دي له : .....................................................20
سوله ئيزه ښوونه او روزنه پرڅه راټولېږي؟......................................................21
سوله ئيزه ښوونه او روزنه په لاندې موضوعاتو سره را ټولېږي :..................................21
د سوله ئيزې ښوونې او روزنې ګټې.....................................................................21
سوله څه ته وايي؟....................................................................................22
سوله دوه ډوله ده: .....................................................................................24
مثبته( دائمي ) او منفي (مؤقتي ) سوله:...............................................................24
سوله له کومو لارو ممکنه ده ؟.........................................................................25
سوله څنګه را تلای شي ؟.............................................................................26
سوله پرکومو اصولو ولاړه وي ؟ .....................................................................26
په ورځني ژوند او ټولنيزوکړو وړوکې د سوله ئيزې ښوونې او روزنې د ځينوګټو يادونه په لاندې توګه کېږي : ...27
زموږ په ټولنه کې د سوله ئيز کار اغېزمنتيا..........................................................29
سوله ئيزه ژمنه ...........................................................................................31
سوله د هرچا مکلفيت دئ: ...............................................................................33
اسلام دسولې په اړه څه وايي ؟........................................................................36
الهي ارشاد په دې اړه فرمايي: ...........................................................................40
د تلپاتې سولې په اړه د حجرالاسود د ايښودلو پېښه : ..............................................40
سوله يْيز کلتور ..........................................................................................41

د سوله ییزاوجګړه ییزکلتورځانګړتیاوې:........................................................................43
د افغان سولې او جګړې په اړه ملي ، سیمه ئیزې او نړیوالې هڅې :.............................44
د افغانستان سوله اود جګړې د د وام ډیزاینونه ...........................................................48
دوهم فصل.................................................................................................................52
انساني ژوند ـ سوله او شخړې:.......................................................................................52
د شخړې ( منازعې ) مفهوم ............................................................................................56
(اختلاف او منازعه) ......................................................................................................57
د شخړې ( منازعې ) خصوصیت : ..................................................................................62
شخړې په لاندې توګه ځینې خصوصیات لري : ...........................................................62
د شخړې ( منازعې ) د پېژندنې اهمیت :.........................................................................64
د شخړې پېښېدل اوانګېزې :........................................................................................65
د شخړې ( منازعې ) ډولونه: ..........................................................................................67
له شخړو سره د چال چلند روېښونه ...............................................................................68
له اختلاف او شخړو سره د نا مناسبو کړنو پایلې ..............................................................70
د شخړو په هکله پوهه تر لاسه کول : .............................................................................71
د اختلافاتو او شخړو د (اووه) ګونو پړاوونو پېژندنه : ........................................................72
له شخړوسره د تعامل اړین تدابیر ..................................................................................74
څنګه د شخړو د منفي خوځښت مخنیوی وکړو ؟ ..........................................................76
د په شخړو عادت ټولنو د بدلون کړنلارې.......................................................................83
د اسلام له نظره د بدلون بنسټ ......................................................................................90
درېیم فصل .................................................................................................................91
تشدد (تاوتریخوالی) او جګړې .......................................................................................92
افغانستان د پېښومحوراو برخلیک یې.............................................................................95
ب : جګړه : ...............................................................................................................101
د جګړې لغوي مفهوم :.................................................................................................101
د جګړې موخه ( هدف) : .............................................................................................102
د جګړو انګېزې: ........................................................................................................103

د اروايي جګړې په اړه ليدلوري......................................................................................105
د اروايي جګړې موخې : .......................................................................................105
جنګ جګړو موږ ته تر شا څه پرې ايښي ؟...........................................................................110
جنګ ولي پيښيږي؟............................................................................................113
د تروريزم تعريف...............................................................................................115
د تروريزم عمده خصوصيات ..................................................................................117
د تروريزيم د تمويل منابع.......................................................................................118
اسلام او جګړه .................................................................................................120
په جګړه کې دانساني ارزښتونواوسولې وضعيت: ...........................................................123
د وسله والو شخړو او جګړو تاوانونه............................................................................124
د ژوند په چاپيريال باندې د جګړو ناوړه اغېزې...................................................................126
زموږ اوسنی وضعيت ...........................................................................................126
دسولې پرېل صراط با ايمانه خلک تېرېدای شي .................................................................129
دسولې ديني ارزښت ...........................................................................................132
له جګړو څخه د خلاصون کړنلارې................................................................................136
په سمندرکې د يخ غرونه ( د يخ لويې ټوټې ) : ..............................................................215

**بسم الله الرحمن الرحيم**

**سريزه**

اسلام د انساني نړۍ له پاره د سلامتیا دین دئ . خوسلامتیا په امن کې نغښتې ده . اوځمکه د ابوالبشرحضرت آدم (ع) د ځوځات له پاره یو داسې میراث دئ چې ټولنې ، توکمونه اوقبیلې یې په خپلوجغرافیوي محدودو کې د سیمې اونړۍ په کچه د اُنس ، اُلفت او پېژندګلوۍ له مخې یو د بل ترڅنګ د وروړۍ او خواخوږۍ داسې ژوند سره وکړي چې د یو انسان درد ، غم او ښادي د بل انسان په وجود کې په ریښتیني ډول محسوسه وي .

څرنګه چې اسلام د ټولو انسانانو له پاره د امن او سلامتیا دین دئ او الله تعالی ورته دا د ین ځکه خوښ کړی دئ چې په خپلمنځي یووالي کې د شرک او بُت پرستیو پرځای پرتوحیدي ریښتیني محور (عقیده) سره را ټول او پرته له افراط او تفریطه په عباداتو او خپلمنځي معاملاتوکې د تلپاتې او ډاډمنو اړیکو لاره پرې خپله کړي .

قومونه اوقبیلې الله پاک د انسانانودخپل مینځي پېژندګلوۍ له پاره پیداکړي دي . خو په حقوقي لحاظ د ځمکې پرمخ آبادۍ (کورونه ، کلي ، ناحیې ، ښارونه او هېوادونه ) یې بیا د ( المُرعی لاقرب القُراء )د نبوي فورمول ( حدیث ) له مخې پرې تشکیل کړي دي .

خو په دې کې ځیني وختونه د معاملاتو په حقوقي اړخ کې د انسانانوترمینځ دحقې یا ناحقې دعواوې او لانجې هم را ټوکېدلې دي ، چې ترمینځ یې لومړی سولې او بیا بېخپوره هواري ته د کتاب الله او سنت رسول الله داحکامواوارشاداتو په رڼاکې او همدا رنګه د وخت د مدونه وضعي دستورالعملونوعملي کولوته اړتیا لیدل شوې .

ځکه خوملکیارغرشین هم د همدې حدیث شریف پراستیناد د شخړو د هواري او تلپاتې سولې په خاطر د ځمکود وېش خبره کړې او ویلي یې دي چې : له هرې سردرې څخه چې کوم څوک متضررکېږي ، ګټه یې هم د هغوی ده . نوموړي د ځمکو دغه ډول وېش د اوبود طبعي ماتوالي پر اساس کړی دئ . په دې معنا چې :که اوبه له سر چینې څخه هرې خواته رواني وې ، هغه د همغو خلکو خپله جغرافیه او حق دئ چې ترکومه ځایه د ورماتواوبو مدیریت کولی شي . او څرځایونه یې تر هغه ځای پورې ورته ټاکلي چې په کلي کې پرته له څه وسیلې څخه ترټولوجګ طبیعي غږ رسېدلی شي . خو ددوی ځمکنی ملکیت او جغرافیه بیا بېله ده او اړیکې یې له خواوشا نږدې او لیرې ګاونډیانو او له ټولې سیمې سره ښې اړخونه او لاملونه لري .

افغانستان هم دې بېلګې ته ورته د نړۍ له همداسې هېوادونوڅخه یودئ چې وګړي یې بېله جغرافیه ، ښې کلتوراو ښې نظام لري ، خو په کلتور او مذهب کې له ځینو خپلوګاونډیانو سره شریکې اړیکې هم لري . ولې په جیوپولیتیکي برخه کې یود بل د اړتیاوو پربنأ له سیمې او نړۍ سره د متقابلو راکړو ورکړو پراساس دوستانه اړیکې د یوه سنت په توګه سره پالي .

خو متأسفانه چې د نړۍ دغه څلور لارۍ هېواد (افغانستان ) تل د خپل جیو جغرافیک موقعیت او جیو پولیټیک سیاست له کبله د سیمې او نړۍ د سازمان یافته کړیوهدف ګرځېدلی چې په کور د ننه ، نړیوالو او سیمه ییزو سیاستوالو د تاریخ په اوږدوکې د نوښت په هره تاریخي مقطع کې د خپلوځانګړیوموخو له پاره د خپل واک پر مهال څو تنه له ځان سره ملګري کړي ، هغوی یې د یوې پېژندلې سیمې د وسیلې په توګه د خپل هدف تر لاسه کولو له پاره د تېر په څېر واک ته په کې رسولي ، او بیا یې د خپلو راتلونکو مرموزو ( پټو ) پروژو د بیا فعالولو له پاره یا په خپله ـ او یا هم د نورو په لاس په کې وژلي او له مینځه وړي دي .

افغانستان ډېرې طبيعي زېرمې اوخوړې اوبه لري . جغرافيايي موقعيت يې نړۍ له جنوبي اوختيځې آسيا سره تړلې او همداسې يې سوېلي او ختيځه آسيا له اروپا ، منځنۍ آسيا ، منځني ختيځ او عربي نړۍ سره تړلې ده . تمدنونه له همدې ځلور لارې له ختيځ څخه د لوېديځ پر لور ـ او له لوېديځ څخه د ختيځ پر خوا انتقال شوي . خوګټې نورو وکړې او په کې تباه او برباد افغانستان او افغانان شول .

څکه په دې لرغوني تاريخي جغرافيه کې وروسته له هرو څولسيزو ـ او وروسته له هرو ( اويا ) تر( سلو) کالوپوره کېدو يو ځل د وخت نړيوال زبرځواکونه دې تاريخي او له حماسوډکې خاورې ته را ننوتي ـ مرګ ژوبلې يې افغانانو ته ور اړولې دي ، دکوه نور په څېر الماس اود هندوکش له جنوبي سيمو څخه ئې د ( ويمانا ) يا ( ويمارګا ) په نوم د پټو تخنيکي او ميخانيکي رازونولرونکي پينځه زره کلن ګاډۍ يا مرغان او نورلرغوني توکي له ځانه سره ترې غلاکړي ، افغان نظامونه يې په کې ړنګ کړي ، د زر، زوراوتزويرد خپلې خوښې حکومتونه يې په کې جوړکړي ، څوک يې له تاج او تخته په کې بې برخې کړي او څوک يې پر تخت او بخت د پاسه ورکښېنولي ، د دوی د خپلې خوښې ـ او يا هم ددوی د خوښې خلاف رژيمونه په کې جوړ شوي ، او بيا يې افغانستان هماغسې وران ويجاړکينه کښوګاونديانوته ترشا پرې اېښی اودوی د روسانو په څېر ترې وتلي دي .

د نظامي ، کلتوري ، سياسي ، اقتصادي ، توکميز ، ژبني ، مذهبي او ګوندي منافقت لوګي يې اوس هم زموږ. دګران هېواد ځمکه او هوا لوخړنه کړې ده . د افغان رژيمونو او حکومتي واک عزل او نصب ټول دلته په دې خاوره کې د خپلوګټو له پاره د پرديو له خوا په بل ځای کې تر سره کېږي . خو په خپلمنځي بديو او دښمنيو کې يې زموږخاموش اکثريت ښکېل کړی دئ .

د شلمې پېړۍ وروستی څه دپاسه دوې لسيزې ـ او د يوويشتمې پېړۍ يوه نيمه لسيزه د افغانانو له پاره په افغانستان کې د بېګناه وينو او اوښکولسيزې وې چې د پرديو تپل شويو جګړه ييزو موخو نوبتي سريال لا هم دوام په کې لري .

سږنۍ (۳۶ )پسرلی دئ چې زموږ بېګناه مظلوم خلک په خپلو وينو او اوښکوکې لامبي ، ( ۱۵) کاله روسانو او د هغوی مزدورانواو نورو معامله ګرو دا خاوره د افغانانو په معصومو وينوباندې سره کړه . ور پسې پاکستان لومړی د افغان مجاهدينو له مجبوريت څخه ناوړه ګټه پورته کړه ، او افغان مجاهدين يې په خپلوکې په ځو ټوټو سره ووېشل ، ملي يووالی ـ ملي نظامي سنګر ـ مردمي زور ـ سياسي او فکري دريځ او خود اراديت يې ورټوټه ټوټه کړ ، د ملي يووالي پرضديې بيا په خپلوکې سره وجنګول ، پرديو، سيمه ييزو اونړيوالو استخباراتو کورنۍ جګړه په کې پيل کړه . په زرګونوټانکونه ـ ليرې ويشتونکي توپونه او درنې جنګي وسلې او وسيلې يې په خپلمنځي جګړوکې پرې د اورخوراک کړې . په سوونو جنګي الوتکې يې تباه او برباد شوې . د نيم کابل په شمول ټول افغانستان په کنډواله بدل شو . په لکونو افغانان په کې ژوبل ، ورک ، شهيدان او مهاجر شول ، دولتي سيستمونه په کې له مينځه ولاړل ، ملي اردو او ملي تأسيسات ټول ونړېدل ، د ترياکو ، قاچاق او اداري فساد مافيايي سيستمونه په کې را وټوکېدل ، چې په ميليارډونوډالره کلني عائډات يې بهرنيانو وړي اوپه کې معتاد بيا افغانان شول . ورپسې پاکستان بربنډيرغل پرې وکړاو د هغه هېواد استخباراتي سلاکارکرنيل امام او دکورنيو چارو وزير( نصير الله بابر) يې تر هرات پورې (۸۰۰) کيلو متره د ننه د افغانستان په خاوره کې له خپلو ملېشو سره بدرقه کړل . لومړی يې پرطالب ډوله حکومت باندې افغان وُلس وځاپه ، پرې بې وسلې او خلع صلاحيت يې کړ ، بيا يې د القاعده او بنيادګرو په نوم جګړه پر افغانانو باندې ور وتپله . پاکستان د باج اخيستو په بدل کې هرګام د غرب په اشاره پورته کاوه اوپردغه پردۍ پروژه

باندي يې د افغانستان په خاوره کې خپلې پيسې له غربيانو څخه تر لاسه کولې . افغانان يې په خپلمنځي اختلافاتوکې تر هغو پورې مصروف سره وساتل چې په ( ۲۰۰۱ ) ميلادي کال کې په نيويارک کې پر نړيوال تجارتي مرکزاو پېنټاګون باندې د حملې په پلمه د جګړې اصلي وارثان د نړيوال ايتلاف په ملاتړ افغانستان ته په **خپله** راغلل . او دادي شپاړسم کال ته دا جګړه را وغځېدله اوتراوسه پورې يې تر ( ۴۷۰۰۰۰) زيات افغانان په کې وژلي ، خو د تروريزم په نامه دغه پوځي جادويي سريال لا هم په افغان خاوره کې چلېږي .

په دغه غيرمتوازنه پردۍ جګړه کې دافغانستان خاوره اود هغه وخت طالب رژيم دواړه نړيوالواوافغان ګاونډيانو په خپل ګډ شوم توافق سره د خپلو اهدافو له پاره کارولي ، استعمال کړي او طالبان د هغوی د استعماري پلمې يوه پروژه وه چې له کبله يې خپله طالب رژيم او د لومړۍ کته ګورۍ ځينو طالب او القاعده مشرانوخپل سرونه په کې وخوړل ، دوهمه کته ګوري خلک يې په ځېلونوکې پراته دي او درېيمې کته ګورۍ ته يې په افغانستان ، سيمه او نړۍ کې د (آی اس آی ) د مفتيانو په لاس د داعش په نوم تور ې او سپينې جامې وراغوستې ، تور او سپين بيرغونه يې په لاس کې ورکړي او د اسلامي خلافت او امارت په نومونو يې بيا په افغا نستان او سيمه کې استعمالوي .

د افغانستان ګاونډيانو په سلګونو افغانان په مختلفو نومونو سره په خپله خاوره کې وژلي ، او ياېې په پرديو هېوادوکې د خپلو شومو اهدافو له پاره جنګولي ، چې موږ يې نموني افغان شيعه ګان په سوريه ، عراق او يمن کې په ګوته کولی شو . په رسنيو کې خو دا هم را غلي چې د ايراني ملېشو تر قوماندې لاندې په سوريه کې تر (۱۵۰۰) زيات افغان شيعه يان جنګېږي . اوهغه سني مذهبه افغانان يې بيا په خپله په مختلفو بهانو په دار ځړولي چې ددوی قومانده يې نه ده منلې .

خوپاکستان بيا د هغو سلګونو افغان طالبانوکورنۍ په لاهور ، ملتان ، کراچۍ ، اسلام آباد او کوېټه کې له ځان سره برمته نيولې ، او هغوی يې مجبورکړي چې هرو مرو به په افغانستان کې د افغان دولت په وړاندې جنګېږي .

په داسې حال کې چې همدغه افغانان د روسانو د يرغل پر وخت په يوه سنګر کې د خپلو غليمانو په وړاندې جنګېدل . خواوس چې امريکا اوورسره نړيواله ناټو ټلواله افغانستان ته را غلې ، همغه د يوه سنګر افغانان د خپلو ورونو په وړاندې د پرديو استخباراتي پروژو له پاره په خپلوکې سره جنګول کېږي ، بنديانېږي او وژل کېږي . <u>پروژې هم داسې چې افغانستان څوک د ( اې ) ، څوک د ( بې) څوک د ( سي )او څوک د (کلېنټن) د مخکې طرحه شويو پلانونو له مخې سره وېشي . په سيمه کې د لوی پنجاب ، لوی سند ، لوی بلوچستان ، لوی پښتونستان ، لوی تاجيکستان ، شمالي افغانستان او لوی بدخشان ( د څلورم آغاخان تر مشرۍ لاندې د اسماعيليه دولت جوړېدل ) په نومونو د افغانستان او سيمې په جغرافيه کې فزيکي بدلونونه راوړې . لوی هرات ايران ته د ايراني بلوڅانويه بدل کې ورکول کېږي ، خو د افغانانو ملي يووالي او ملي حاکميت يې د خپلمنځي جګړو او همدغو موخو له پاره له مينځه په کې وړی دئ . خدای خبر چې دغه افغان بېړا ګان به څه وخت دد ښمن له دغو شومو پلانونو څخه خبرېږي او بيا به يې په وړاندې څه وخت سره يو موټې کېږي ؟ خو ترڅو چې د افغانستان اصلي مشران دا کارکوي ـ څو نورو افغان نسلونو به هم ترڅو راتلونکو پيړيو پورې دا ارمان خپل ګورته ور سره وړی وي . افغانستان به ټول لوټ او ټوټه ټوټه وي .</u>

په داسې حال کې چې افغانان پخوا هم سره ورونه وو ـ اوس هم سره ورونه دي ، او سبابه هم سره ورونه وي . ځکه افغسنان ددوی ټولو شريک کور دئ . او په هر وخت کې د هر يرغلګر په وړاندې دښمن وو ، او دي . لاملونه يې هم معلوم دي ، تاريخي اوږده مخينه لري چې دلته يې په دې وړه ټولګه کې د بيان څه حاجت نه شته .

اوس افغانان پردې باندې پوه دي چې ددوی تر مینځ د نفاق دغه کرغېړنه جګړه چا ـ د کوم هدف له پاره پیل کړې اوترشا یې کوم لاسونه کارکوي چې افغان د افغان په لاس وژني او فتوا یې هم د سیمې او نړی استخباراتي مفتیان ورکوي .

دغې جګړې خو زموږ په هېواد کې افغانان د مصري ، یمني ، سوداني او عراقي ولسونو په څېرلومړی په خپلو کې سره بېل کړل . اوس غواړي په خپلوکې یې سره وجنګوي . هو! کټ مټ دا همغه د مصري سېکولرېستي پوځي قبطیانونسخه ده چې اوس زموږ په هېواد کې عملي کېږي .

ولې زما په آند نن سبا دېته اړتیا ده چې افغانان دې له فکري ، ژبني ، سمتي ، مذهبي ، ګوندي ، توکمي او د واک پر سر له اختلاف څخه د خپل ملي یووالي اوددې سپېڅلې لرغوني تاریخېې خاورې د ساتنې په خاطرډډه وکړي . ځکه همدا د افغانانو د ورکېدو پیلامه ده ، اوس ددې وخت را رسېدلی چې دلته موږ ټول افغانان د الله تعالی (ج) حکم پرځان باندې عملي کړو اوټول په ګډه سره په یوه رسۍ ( حبل الله ) باندې منګولې ټینګې کړو ، له نفاق او خپلمنځي شخړوڅخه څه نه جوړېږي . هغه د خان عبدالغفار خان خبره ده چې ویلي یې وو : ( یابه سره یوکېږو ،که نه نو سره ورکېږوبه ) . اوافغانان باید له ورکېدو څخه د ملي یووالي په شتون کې خپل ځانونه سره یو موټی کړي ، ترڅو افغانستان له وارداتي نفاق او توکړې کېدو څخه پرې و ژغوري . ټول دې په یوه ملي محور سره را ټول شي ، ترڅو د پردیو لاسونه د افغانستان او افغانانو له ملي ګرېوان څخه وخېژي .

ددې کار له پاره اړینه ده چې په صداقت او ایمانداری له یو بل سره کښېني ، یو د بل خبرو ته غوږ شي ، خپلې خبرې او غوښتنې دې د پردیو ترجمانانو په خوله یو بل ته نه سره تبادله کوي .

د سولې خبره د افغانانو تر مینځ هغه مهال را پورته شوه چې اړتیا یې محسوسه او یا ولیدل شوه . خو دا باید په یاد ولرو چې سوله د انسانانوتر مینځ ترتاو تریخوالي ، سړو او تودو شخړو او اخ وډب پېښېدو وروسته د بیا پېښېدو د مخنیوي په خاطر د ثالث بالخیرکسانو له خوا د یوه مُدبر پلان د عملي کېدو له مخې مینځ ته راتلی ، نه د مغرضو مهرو اوکرېکټرونو د کاذبانه او منافقانه تمثیل له لارې .

خو شرط پهکي دادئ چې لومړی باید د سولې پرمهال سولې ته د زیان اړولو ټولې ذي دخلې خواوې مسدودې او د لاس او ژبې دواړه زیان اړوونکي دروازې یې وتړل شي ، ترڅومعصومه سوله په ماشومتوب کې بې تعریفه د بې عزتیو په هدیره کې د تېر په څېر بشخه نه شي .

سوله د فلاحت او رستګاری په لور یوه داسې دریڅه ده چې ټولو انساني ممکنه نېکمرغیوته د رسېدو امکانات په کې شته، ځکه الله تعالی سولې ته د خیرکلمه استعمال کړې او پیغام اوتینګاریې پردې باندې دئ چې افغان باید د افغان ترڅنګ د بشپړ انساني سلوک څخه ډک د همزیستیﺳﻮﻟﻪ ئیز ژوند ولري.

له عبث او بې مانا تاو تریخوالي ، شخړو او جګړو څخه خپله الله تعالی (ج) ، د الله تعالی رسول (ص) ، ټول انسانان ، په تېره افغانان کرکه او نفرت لري . افغانستان ته ور پیښه غمیزه یوداسې ناورین دئ چې ملي ، سیمه ییز او نړیوال اړخونه لري . ټول مکلف افغانان باید په ګډه دغې پردی ور باندې تېل شوې شومې پدیدې اوغمیزې ته د ملي یووالي په صادقانه ژبې سره د پای ټکی کېږدي .

ملي يووالي ته بايد د پردئ ښورروا په سترګه ونه کتل شي چې ځيني عادتي خلک د خپلې ګټې ډکولو له پاره تل پياز په بده کې ور سره ګرځوي . ځکه ملي يووالى زموږ د هېواد د ټولو اتباعو هويت يوداسې منل شوى مظهردئ چې د سيمې او نړۍ له خوا ټولو ورپېښنو ستونزو اوکشالوته غاښ ماتوونکي منطقى ځوابونه ورکولى شي .

افغانستان تل د سولې کور دئ . خو متأ سفانه چې نن ورځ افغان حکومت او افغانان د کورني تفرق ( سمت ، نژاد ، مذهب ، او ژبې ) قرباني شوي . بهرنيو مداخلوځالې په کې جوړې کړې اوپردئ جګړې ور باندې تحميل دي چې له امله يې هره ورځ او هره ګړۍ زياتې مرګ ژوبلې هم افغانانو ته ور اوړي . همدا لامل دئ چې د افغانستان ملي يووالي ته له تېرو درې نيمو لسيزو را په ايسته په لوى لاس درانه زيانونه ور اړول شوي ، خو د بيا رغېدو له پاره يې سولې ته ژوره اړتيا ليدل کېږي . ځکه دا د افغان حکومت او ټولو مکلفو افغانانو مسؤوليت او وجيبه ده چې بايد په افغانستان کې د خپلې جغرافيې ، خپلې خپلواکۍ ، خپل ملي هويت ، خپل نظام ، خپل ملي يووالي او خپلو ملي ګټو د خوندي ساتلو په خاطر د افغان شموله سولې زمينه او بستر برابرکړي . ځکه افغانان له آره د خپل ملي يووالي د رِغېدو له پاره د بين الافغاني سولې قابليت په ځان کې لري . په داسې حال کې چې ريښتينې سوله هم په ملي يووالي کې نغښتې ده .

که چېرته موږ يوداسې ملي يووالى ولرو چې په ريښتيا سره هېڅ ډول تبعيض په کې نه وي ، د افغانستان هر تبعه خپل ځان په کې محروم احساس نه کړي ، نو بيا خو موږ د خپل دوست او دښمن په وړاندې وزن هم لرو ، قووت هم لرو ، ژبه هم لرو، استازى هم لرو ، حقوق هم لرو او د نورو په وړاندې اعتبار هم لرو . خو زموږ ملي يووالى او ملي پخلاينه په اخلاص او ښه نيت پورې اړه لري.

سوله له زر ، زور او تزوير سره هم هېڅ تړاو نه لري . ځکه که چېرته سوله او امن په زَر سره را تلاى نو قارون صفته بين المللي کړيوبه اوس په ټوله نړۍ کې داکارکړى ؤ . خوکه چېرته سوله او امن د تزوير زيږنده واى ، نواوس به دټولې نړۍ سوله اوامن داحبارواوڒهبانوپه ټکتونوپورې تړلى ؤاودکليساګانو د زنګونوکړنګولو اودکوډګرو له تعويذونو سره جوخت به د نړۍ نظامونه په سوله او امن کې چلېدل . اوکه چېرته سولې او امن د سره ابرهه د باروتي فيلانو د پښو په زور پورې اړه لرلاى نوپه افغانستان کې به لا له وړاندې سوله اوامن راغلى واى .

ځکه په ياد هېوادکې خو له تېرو څلورو لسيزو را په ايسته خورا زوروره زورآزمايې او سيالې روانه ده . ولې محصله يې تر منفي صفر هم ور ښکته شوه . که نه نو تر (۱۳۵۷ لمريزکال ورآخوا خو په افغانستان کې هرڅه سم روان وو . هغه لږ تېک ټوک هم پخواني شوروي اتحاد او پاکستان جوړکړى ؤ ، ځکه دوى د دوه قطبي عقيدو ( اسلام او ماتر يالېزم ) جنګولو تر مينځ خپلې ناروا تغذيې سره کولې او بيه يې د افغانستان په بې ثباتيو او ورانولو باندې تمامه شوه .

خو نه ! داسې نه ده ، د سولې اصلي کُنجي اخلاص دئ . ريښتيني سوله له ريښتيني اخلاص سره تړاو لري . او ريښتينى اخلاص په سوچه ملي يووالي کې شتون لري، د افغانستان په ريښتينې سوله کې د ټولې سيمې او نړۍ خير دئ . ځکه په ريښتينې سوله کې د ټولو افغانانو ريښتينى امن ، دادمنه بيا رغونه ، دادمن نظام ، د قانون يوخېل پلي کول ، ريښتينى ملي يووالى ، ملي هويت ، خود اراديت اوعزت پروت وي . دا مهال د افغانستان خاوره ، نظام ، ملت او حکومت ټول سولې ته تږي ناست دي .

سیمه او نړۍ هم د اوسنیو نا امنیو له امله سره جړقېدلي ده . که چېرته زموږ په هېواد کې رېښتینې سوله راشي د ټولو افغانانودکلونو تنده به پرې ماته شي . که نه نو رېښتینې سوله خو زموږ په هېواد کې د ټولو نېکمرغیو، او نا امني د ټولو بدمرغیو مور ده .

دا چې نن موږ د بین الافغاني ، سیمه ییز او نړیوال سیاست او خپل مجبوریت د دریځې له لارې د سولې دروازې ته سره رسېدلي یو ډېره غټه خبره ده . ځکه تر اوسه پورې له موږ څخه د سولې رسمي آدرس ورک ؤ ، او موږ خپلې غوښتنې د بل په خوله په نیمګړې او ډېره ژوبله ترجمانی یوبل ته سره رسولې ، همدا لامل ؤ چې پردیوبه له همدې تشې څخه په استفادې سره زموږ په هېواد کې اوبه خړولې او خپل کبان به یې په کې نیول . په افغانستان کې روانه پردی جګړ ه د بُن د نیمګړو قراردادونو له مخې پر موږ باندې تحمیل ده چې د سر او مال ټول تاوانونه یې د افغانانو په پچه رسېدلي ، خو رقابتي ګټې په کې بیا د نورو دي .

خوله نېکه مرغه نن سبا افغانانو ته د ا موقع په لاس ورغلې چې د ډاډمنې سوچه بین الافغاني سولې له پاره پرته له پردیو فرمایشونو او غرضي مداخلو څخه په خپلوکې په خپلواکه توګه یو بل ته مخامخ سره کښېني ، پرخپلو تېرو او روانو ستونزو سره وغږېږي او یوه داسې ملي حل لاره یې را وباسي چې ټولو افغان خواووته د منلو وړ او د خپلواک افغانستان ، نظام او ټولو ملي ګټو په کې خیر وي .

دا د هر ذیدخل افغان او ټولو خبیرو هېواد والو فرض دئ چې په خپل ټول توان د رېښتینې بین الافغاني سولې له پاره په صداقت او ایمانداری سره کار وکړي .

جګړو ځپلی افغانستان د جرګو او مرکو یوداسې هېواد دئ چې اتباع یې له یو بل سره د سولې وړتیا او قابلیت په ځان کې لري ، خو شرط په کې دادئ چې د سیمه ییزو اونړیوالو رقابتونو له ډګره یې په خورا بصیرت ، حکمت او درایت سره نور د سیمه ییزو او نړیوالو رقابتونو له ډګره دباندې را وباسي . ځکه د افغان سولې اصلي وارثین او مالکین خپله افغانان دي ، نه نور خلک .

دا چې پخوا مو د مرګ ژوبلو او برخلیک واک اختیار د نورو په لاس کې ؤ ، خو اوس ددې وخت رارسېدلی چې د افغاني سولې وا ګې باید بل چاته په لاس کې ور نه کړو .

افغان مشرانو او سیاستوالو ته په کار ده چې د سولې دې پروسې ته رغنده وده ورکړي تر څو په یوه خوله ، یوه هوډ او متحدو لاسونو سره افغانستان د اوسني بُحران او پردیو رقابتونو له دې خونړۍ لوبې څخه را وباسي . افغانستان د پردیوسیمه ییزو او نړیوالو نیابتي سیالیوآزمون ځای نه دئ ، بلکې په افغانستان کې تل باید سوله او ثبات موجود وي ، ځکه د افغانستان سوله او ثبات د سیمې او نړۍ له سولې او ثبات سره مستقیم تړاو لري .

که په افغانستان کې سوله او ثبات موجود وي ، په سیمه او نړۍ کې به هم سوله او ثبات موجود وي ، او که په افغانستان کې سوله او ثبات نه وي ، نو په سیمه او نړۍ کې هم سوله او ثبات نه راځي . ځکه د آسیا په وچه کې د افغانستان جغرافیوي او جیو پو لیټیک موقعیت داسې دئ چې ټوله سیمه او نړۍ سره مښلوي . که په افغانستان کې امن او ټیکاو موجود وي ، په ټوله سیمه او ټوله نړۍ کې به امنیت وي اوکه په افغانستان کې بې ثباتي او فساد موجود وي ، نو ښکاره خبره ده چې ټوله سیمه او نړۍ به ور سره فاسده وي .

سیمه ییزو او نړیوالو سیاستوالو ته هم لازمه ده چې په افغانستان کې د سولې د سیالۍ تر څنګ په ټینګه ملاتړلې ودربږي ترڅو په ټوله سیمه او نړۍ کې پوخ او باوري امنیت او سم سمکی راشي . خو په افغانستان کې باوري امنیت او رغنده سوله په بین الافغاني خپلواکه رغنده اراده او د سیمې او نړۍ د ذیدخلو خواوو په نیت پورې اړه لري .
وروسته له دې به مالومه شي چې دا پلا به د افغاني سولې دغه بېړۍ د روانو سیمه ییزو او نړیوالو پېښو په دې توپاني سمندرکې چېرې خپل لنګر واچوي . خدای دې وکړي چې دا ځل کړې ژمنې عملي او د افغانستان د مظلوم ملت له ګربوانه د تروریزم او هر اړخیزې مافیا او فساد لاسونه نور ورلنډ شي .

که چېرته موږ په خپلوکې د ملي یووالي ګوهر له ځانه سره ولرو ، له وچ تعصب او تبعیض څخه ځان لیرې وساتو ، نو بیا په هغه صورت کې نږدې او لیرې ګاونډیان ، سیمه او نړۍ مجبوره ده چې د افغانانو ټولو روا غوښتنوته په افغانستان کې د سولې ، امن او ټیکاو راتلو په خاطر لبیک او مثبت ځواب ووایي ، ملاتړ یې وکړي ، ترڅو افغانستان یو ځل بیا د سولې او امن په کور بدل شي.

په افغانستان کې د سولې او امن په اړه ډېروکورنیو، سیمه ییزو او نړیوالوکار پوهانو او سیاستوالو په خپلوخیالي فرضیو ، آجنډاوو او فورمولونوسره د خپل زړه براسونه وایستل ، ځکه سوله او د سولې آدرس همدا اوس څوک ردوي او څوک یې هم مني . افغان حکومت هم د بیان د آزادي د اصل له مخې د هر چا نظرته په چاپي ، برېښنایي ، غږیز او تصویري انداز کې درناوی کړی .

خو زما په خیال آند که چېرته افغان سوله لومړی په قرآني او افغاني ژبوسره تعریف ـ او بیا د سولې د ښوونیزو مهارتونو له لارې په مسلکي او بنسټیز ډول پر مخ ولاړه شي ، کېدای شي لومړی په افغانستان ـ اوور پسې په ټوله سیمه کې ګام په ګام ډاډ منه سوله ، امنیت او ټیکاو را مینځته شي .

زما له خپلو افغان مشرانو ، سیاستوالو او کارپوهانو دا غوښتنه ده چې د افغان سولې په اړه دې دا فرصت له لاسه نه ورکوي ، که چېرته دوی رېښتیا خپل ځانونه ملي مشران ګڼي ، د خپلمنځې اختلافاتو پر ځای دې پر منلي ګټو داسې غور، فکر اوکاروکړي چې د ملت هر بچی ور سره ملي روحیه او ملي احساس په ځان کې را ژوندی او پیاوړی کړي ، ترڅو د بدخشان اوسېدونکې په هلمند کې ، د کندهار اوسېدونکی په مزار، تخار او سر پُل کې ، د فاریاب اوسېدونکې په ننګرهار اوکونړونوکې ، د پکتیا اوسېدونکی په پنجشېر دره ، میمنه او غورکې ، د بامیانو اوسېدونکی په کندزاو زابل کې ، د دای کنډیو اوسېدونکی په خوست او پکتیکا کې په ډاډه زړه ، پوره اخلاص او بشپړ باور سره داسې کار وکړي لکه د خپل کور او د کور د نورو غړیو له پاره چې کارکوي . ترڅو ټول افغانان په رېښتیا سره رېښتینې سوله ، ملي ټیکاو او د ملت رېښتیني چارواکي بعینهِ محسوس کړي .

هو ! رېښتینې سولې ته د رسېدو او برې لار همدغه ده . د خپلمنځې دایْمي سولې له پاره دې خپل هغه اسلامي او دودیز مېتودونه وکاروي کوم چې په ښوونیز اصولي ځنځیري شکل ما په خپل دغه اثر (( د رغنده سولې ښوونیز مهارتونه )) کې سره را ټول کړي دي .

ما په خپله دغه ټولګه کې په رېښتیا او ایمانداری سره دیني ، اصولي ، بشري ، او دودیزو اړخونو ته په کتو په افغانستان ، سیمه او نړۍ کې د دایْمي سولې او پخلاینې له پاره د منل شوي ښوونیز مېتود په شکل پاخه دلایْل را ټول کړي دي ، ترڅو ماهرسوله کوونکي د تمهید په څېر د سولې پر وخت ترې کار واخلي . چې له دغو ښوونیزو

مهارتونو څخه به نه یوازې بین الافغاني ښکېلې غاړې ، بلکې له دې مېتود څخه به د سیمې او نړۍ د امنیت او ثبات له پاره د سیمې هېوادونه او نړیوال هم ګټه پورته کړي . تر څو په سیمه او نړۍ کې داسې - او دېته ورته نورې پېښې بیا تکرار نه شي .

دا په داسې حال کې ده چې خپله افغانان او د سیمې او نړۍ نور انساني ؤلسونه او ملتونه له دې وروسته بې ثباته افغانستان ، سیمه او نړۍ نه غواړي . ځکه د سیمې او نړۍ امنیت او ثبات د افغانستان په امنیت او ثبات کې نغښتی دئ . په دې مانا چې د سیمې او نړۍ د امنیت او بې ثباته کېدو دروازه خپله افغانستان - خو کلې یې له پاکستان سره ده چې باید په ګډه د نا امنیو مخه په کې ونیول شي ، ترڅو افغانستان خپله افغانانو ته د امن کور ، او د سیمې او نړۍ د نورو هېوادو له پاره په جیو پولیټیکي ، اقتصادي او سترا تیژیکي لحاظ د اړیکو او تلو راتلو تر ټولو خوندي او د امن او ثبات دروازه او لاره شي .

په افغانستان ، سیمه او ټوله نړۍ کې د تل پاتې سولې ، ثبات او ښېرازه ، یو موټې هوسا ، بسیا اوخپلواک افغانستان په هیله . و من الله التوفیق

(( محمد انور ولید ))

نوټ : ما د (( رغنده سولې ښوونیز مهارتونه )) کتاب ولیکه ، کېداشي څه کمی او زیاتی به ولري ، ځکه زه هم د خدایعالی یو بنده او له هرې خوا نیمګړی او همغه یوه معبود برحق الله تعالی ته په هر څه کې محتاج یم . له ټولو لوستونکو تمه لرم چې دا کتاب ولولي او د نیمګړتیاوو په اړه دې له ماسره په لاندې پته تماس ونیسي اوددې کتاب پرګونګو ټکو دې ماته خپله علمي او تجربه تي رغنده مشوره د شریعت او افغاني منل شوو دودونوپه چوکاټ کې چې د کتاب الله او سنت رسول الله (ص) له احادیثو سره په ټکرکې نه وې را کړي ، ترڅو د سولې په اړه دا اثر خپله افغانانو، ټولې سیمې او نړۍ ته د لارې مشال شي . مننه

ستاسي ورور ( محمد انور ولید )

موبائیل شمېره : ۰۷۰۸۱۹۸۴۵۵

0 708 198 455 :

بسم الله الرّحمن الرّحيم

لومړۍ برخه

سوله ېيزه ښوونه او روزنه

ځمکه ، ژوند اوانسان

الله تعالی د پاني نړۍ تېوله شمسي منظمه د انساني هستۍ د ګټې له پاره پیدا کړې ده . دا چې په الهي فطرت کې الله تعالی شمسي نظام د سیارو ، ثوابتو اواقماروتېولوهغو ستوروڅخه تشکیل کړی چې د لمرپرمحور باندې چورلکونه خوري اوترقیا مته پورې به دا منظمه په منظم ډول ترهغو پورې دوام مومي چې د دغې منظمې د جاذبې داخلي ځواکمن تیپ ( ساحه ) په کې موجوده وي .

که چېرته د شمسي نظام په دغه اجرأيي سیستم کې لږ شاني خلل ( عیب ) پیدا شي ، بیا به د شمسي نظام سیارې خپل توازن له لاسه ورکړي ، له خپلو مدارونوبه ووځي ، یو له بل سره به داسې وجنګیږي چې په پایله کې به د دوی فزیکي جوړښت په دُ خان (دود) بدل او قیامت به جوړکړي .

د انساني نظام جوړښت هم دېته ورته همداسې دئ ، چې د پیدا کېد و، ځوانېد و، زړېد و او فنا کېد و قابلیت په کې شته . موږ انسانان د شمسي نظام په یوه ډېره ښاېسته سیاره ( ځمکه ) کې هستوګن یو او دا سیاره د انساني هستۍ د ژوند له پاره په الهي بالغه حکمت سره داسې ډ یزاين شوې چې په هغې کې ورته د ژوند کولوله پاره په ځمکه اوتېولوورته کاېناتوکې د هوساینې ډول ډول اسباب ، وسایل ، ذرايع او نعمتونه په منظمه توګه داسې پیداشوي ، له یو بل سره پېیل شوي او را تېول شوي دي چې د هغوی جوړښت د انسان له تصورڅخه ډېرلوړدئ . خوانسان په کې د نورو ژوندیو موجوداتو په مینځ کې ترټولو پرمختللی ژوندی ، ناطق ، عاقل اومفکرموجود دئ اوکولای شي په اړه یې له یو بل سره پرې خبرې او مفاهمه وکړي . خپل تاریخ ثبت کړي ، راتلونکو نسلونو ته خپل معلومات ورانتقال کړي ، چې په خپل چاپېریال کې د خپلې تجربې ، زده کړې او علم له مخې د تصرف اراده اوواکونه هم لري اوانسان ته د الله تعالی له لوري په ځمکه کې د خلافت منصب ورکړ شوی دئ . دغه منصب د یوې داسې دایرې حیثیت لري چې د محیط تېولې نقطې یې له مرکز سره په یوه فاصله کې پرتې وي . که چېرته په دغه مرکزکې ډېرلږ بدلون او

نغیر را وړل شي ، په محیط کې یې ډېر لوی بدلون مینځته را ځي ، چې بیا دې شکل ته د منطق او ریاضي په ژبه نوره دایره نه شي ویل کېدای . ځکه چې د دایرې د اصولو له مخې به بیا د دایرې تعریف له مینځه په کې تللی وي .

همداسې که چېرته په دغه منصب کې هم ډېره وړه اشتباه وشي ، په اتباعو کې یې ډېرغټ بدلونونه مینځ ته را ځي . ددې د پاره چې موږ انسانانوله دغه ډول اشتباهاتو څخه ځانونه ساتلي او په هرڅه کې موږ د قانون ، وړتیا او تعادل سوله ییزه لاره خپله کړې وي ، زموږ نظام به هم د شمسي منظمې په څېرد هرډول کورني او بهروني ټکراو تصادم په وړاندې خوندي ، خپل اصالت به موساتلی وي او تل به په ژوندی او سوله ئیزه بڼه دوام مومي .

ځکه د ځمکې او نوروکایڼاتود نعمتونوڅخه د ګټې اخیستنې او عادلانه سوله ییزژوند له پاره انسان پر عقل ، شعور ، تفکر ، ادراک ، تحلیل ، د ښواو بدو پرتمیز ، په وړتیاو( استعدادونو) او د الهي وحی په لارښوونوسره سمبال شوی دئ . ددې په څنګ کې انسان د نوموړو نعمتونو اولارښوونو څخه د ګټې اخیستنې په خپلو فطري او اکتسابي وړتیاوو باندې مجهز شوی دئ . الله تعالی انسان پرنورو موجوداتو باندې اشرف المخلوقات پیداکړی ،کرامت یې ورکړی اولارښوونې یې ورته کړې چې په عباداتوکې یوازې د یوه الله تعالی (ج) عبادت او یاد وکړي ، او په معاملاتوکې د ځمکې له نعمتونو څخه د دنیا په آبادی او د سولې په تأمین کې ګټه ترې واخلي او په خپل منځي اړیکوکې عدالت او انصاف قایم او یو داسې سیاست خپل کړي چې په هغې کې د حق الله او حقوق العباد و تر مینځ تعادل په ژوندی بڼه خوندي وساتي .

الله تعالی له انسان سره ژمنه کړې چې ترڅو پورې د الله تعالی د لار ښوونو او اوامرو څخه پیروي کوي ددنیا اوآخرت کامیابي او بری به یې په برخه وي . ولې ددې پر خلاف ؛ که انسان د الله تعالی له لارښوونو او اوامرو څخه سر غړونه وکړي او خپلې وړ تیاوې په نا مناسبه او غلطه توګه وکاروي ، له ډول ډول ستونزو او کړاوونو سره به مخ شي .

له پورتنی لنډې توضیح څخه موږ انسانانو دا سبق زده کړچې موږد ځمکې پرمخ د یوه لوی امانت انتقالوونکي یو، او هغه د ځمکې پر مخ د الله تعالی ددستور په رڼا کې خلافت ( حکومت ) دئ . الله تعالی په ځمکه کې د انساني ژوند د تأمین په خاطر پر ډول ډول نعمتونو سربېره د انسانانو تر مینځ د سوله یېزو اړیکو د خوندي ساتلو او په سوله یېزه توګه د ژوند کولو روښانه لار ښوونې کړې چې انسانان یې د تاو تریخوالي ، جګړو او وینو تویولو څخه په کلکه په کې منع کړي دي .

دا یوڅرګند حقیقت دئ چې د شمسي نظام د ستورو تر مینځ ، ځمکه او په ځمکه کې د ژوند بنسټ د هغوټولو اصولو او قوانینو پیروي کوي کوم چې د الله تعالی له لوري ټاکل شوي دي . ټول کایڼات په ډېره منظمه او سوله یېزه توګه له یو بل سره په معینو چوکاټونوکې خپل ژوند ته ادامه ورکوي . انسان هم ددې نظام په یوه ښایښته سیاره (ځمکه ) کې د یوه عقل لرونکي ، پوه ، حیأ لرونکي او اختیار لرونکي ژوندي موجود په توګه ژوندکوي . موږ د هر انسان په زړه او شعوري ویښ ضمیرکې د نوموړو اصولو او قوانینو پیروي په روښانه ډول وینو .

د بېلګې په توګه : که موږ د انساني ماغزو ، حواسو ، د وینې دوران ، هضمي ، تنفسي ، حسي او..... سیستمونو خپلمنځي او بیا د نوموړو سیستمونو اړیکي له چا پېریال سره په ژوره توګه وڅېړو، دا به د سر په سترګو او ټول وجود سره محسوسه کړو چې دا ټول هرڅه په ډېر متعادل دقت ، نظم ، سولې او له فساد او درغلی څخه پاکواصولو،

مقرراتواو موازينوسره د ژوند له پاره په الهي بالغه حکمت او علم باندې تنظيم شوي دي . د انسان په سالم بدن او سليم فطرت کې د الله تعالی حکمونو ته د تسليم تمايل ، سوله او عدالت اوله فساد او بې عدالتۍ څخه ليرې والی اخښل شوی دئ . د اسلام دين هم په حقيقت کې له انساني فطرت سره همغږی دئ ، ځکه دا دين يو فطري دين دئ .

د همدې دين د اصولو پر بنأ د هر مسلمان پر ( ځان ، مال ، ناموس او آبرو .... ) باندې هر ډول تېری حرام دئ . د هر مسلمان وينه ، مال ، ناموس ، عزت او آبرو ټول له الهي کرم او درناوي څخه برخمن دي . او ټول مسلمانان يې په درناوي او ساتنه باندې مکلف دي . ځکه الله تعالی (ج) ورته انساني کرامت او اسلامي فېرزو ينې دواړه ور په برخه کړې دي . او خدای ور کړي ټول حقوق يې محفوظ او پر نورومکلفو انسانانو باندې امانت دي .

انسان او ټولنه

انسان په ټولنه کې ژوند کوي ، ټولنه له انسانانو څخه جوړه ده ، پر همدې بنأ هر انسان د خپل ځان او نورو په وړاندې پرحقوقي او مدني معاملاتو رعايتولو باندې مکلف دئ . دا موضوع د انسانانو له پاره طبيعي او حتمي ده . پخوانيو پوهانوانسان ته د مدني بالطبع خطاب کړی ، مطلب يې دا ؤ چې د انسان ټو لنيز ( اجتماعي ) احساس د نوموړي پر طبيعت او خاوره کې اخښل شوی دئ . انسانان په يوازې توګه نه شي کولای چې خپل ژوند تأ مين او ټولو غوښتنو ته يې ځواب ووايي .

انسان د خپل ژوند ددوام له پاره نه يوازې دا چې د نورو مرستې ته اړتيا لري ، بلکې له خپل فزيکي ، حياتي ، اروايي او روحاني چاپېريال سره د مادي او معنوي اړيکو فعال تأمين ته هم تر هر څه اړين ضرورت لري .

د بېلګې په توګه : انسانان نه يوازې د مادي اړتياوو لکه اوبه ، خواړه ، هوا ، جامو ، د اوسېدلوځای ، عصبي آرامتيا ( خوب ) او نورو اړتيا وو د پوره کېد و له پاره يو بل ته اړ او محتاج دي ، بلکې د معنوي اړتياوو لکه : پېژندنه ، درناوی ، مينه ، ملګرتيا ، تايېد ، تعريف، د زړه خواله ، د احساساتو او هيجاناتو متقابل درک ، اورېدل ، پاملرنه ، برخه اخيستل ، د خپلو وړتياوو پراختيا ، ښوونه ، کار اخيستل ، د وير ـ ماتم او سختيو پر مهال ډاډ ګيرنه ، امن او سکون ته همداسې د نعمتونو او خوښيو پروخت د شکر اداء کولومقام ته د وړاندې کولو اړتيا لري .

په حقيقت کې د انسانانو اړتياوې د خپلمنځي ټو لنيزو فزيکي تعاملاتو او حياتي ، اروايي او روحاني اړيکو په متن کې تر سره کېږي چې ددې اړيکو د تعادل د را مينځته کولو ، ساتلو او پالنې پايلې انساني سعادت او کمال را مينځته کوي . ددې پر عکس ؛ د نوموړو اړيکو د عدم تعادل ، غفلت ، او نه پالنې په پايلو کې انسانان له شقاوت او بد بختيو سره مخ کېږي .

مکلف انسان بايد د خپل ابوالبشر آدم (ع) په څېر د علم ، عقل او حيأ څښتن وي . ځکه حضرت آدم (ع) چې کله د ربّ العالمين په بالغه حکمت او حکم سره له نېستۍ څخه هستۍ ته را غی ، الله تعالی جبرائيل (ع) له درېيو څيزونو سره

حضرت آدم (ع) ته را ولېږه . حضرت جبرائيل (ع) آدم (ع) ته وويل : په دې درېيو ځيزونوکې يو يې خوښ کړه ! حضرت آدم (ع) په هغه درېيو ځيزونوکي عقل خوښ کړ . پر همدې مهال علم او حيأ دواړه په خبرو را غلل او پر حضرت آدم (ع) يې غږ وکړ چې : اې آدمه ! کله چې موږ درى واړه ( علم ، عقل او حيأ ) خداى تعالى پيدا کړو ، الله تعالى ژمنه را سره کړه چې هرځاى عقل وى ـ علم او حيأ دواړه يو ځاى ور سره دى . له دېنه داسې ښکاري چې انسان د عقل ، علم او حيأ درى واړو ښتن او يو فاعل مختار مخلوق دئ چې اصلي محور يې عقل تشکيلوي . ځکه علم او حيأ هم د عقل په موجوديت کې پرمخ ځي . فزيکي او رواني برخې هم د همدغو درېيو ځيزونو زيږنده دي . پيغمبرانو (ع) او نبيانو (ع) او د الله تعالى نورو صالحو بنده ګانو هم خپل ځانګړى او ټولنيز ژوند په عملي ډول د عقل ، علم او حيأ په درى بُعدي منشورکي داسې تنظيم کړى ؤ چې په عقيده وي لحاظ يې پرتوحيد ، ميعاد او رسالت باندې پخه عقيده لرله . او په معقوله توګه يې منقول ( وحى کړى شوي احکام ) او نور مؤمن بهِ شيان د زړه له اخلاصه په واز کومي منلي وو . همدا د هغوى منشور ؤ . خو موږ افغانان چې ځانونه د پيغمبر ددين وارثان ګڼو ، د همدغې خط مشې په عملي کولو باندې مأمور او مکلف يو ، ترڅو پرخپله سالمه عقيده ، وړتيا او روغ نيت سره ددايمي سولې په چوکاټ کې رغنده ،خوځنده ، هوسا او بسيا ټولنه جوړه کړو .

د هرې ټولنې بقأ او پر مختګ د نوموړې ټو لنې د محرکو ځرخونو او د هغوى د اغېز منتوب له ځرنګوالي سره ژور تړاو لري . د يوې ټو لنې محرک ځرخونه د نوموړې ټولنې د وګړو د ذهنيتونو ، کړو وړو ، رسمي او غير رسمي قوانينو، ټولنيزو تړونونو ، دوديزو او غير دوديزو رواجونو(۱) ، ارزښتونو ، ژبې او د ژوند له طبيعي منابعو او له هغو څخه د ګټې اخيستو د سيستمونو له ځرنګوالي سره ژورې اړيکې لري . که په يوه ټو لنه کې ټولنيزې اړيکې او خپلمنځي تعاملات سوله ييز او عادلانه وي ، پر مټ به يې د نوموړې ټولنې د وګړو له پاره د سعادت او کمال د پياړتيا او پراختيا ښه شرايط را مينځته شي .

---

- په فقه کې يوه کليه ده چې وايي : العرف بالمعروف کالمعروف بالنص . د مسلمان رواجونه بايد د نبوي سيرت او قرآني اخلاقو خلاف نه وي . (۱)
- ---

ولې ددې پرخلاف ،که په يوه ټو لنه کې ټو لنيزې اړيکې اوخپل مينځي تعاملاتوغيرعادلانه او د تاو تريخوالي په بڼه سر راټوکولى او وده يې کړې وي ، د نوموړې ټولنې د وګړو له پاره به د لا زيات تاو تريخوالي او جګړو د پراختيا ښه ښېخپوره کړکېچن او له دښمنيو ډک شرايط پرې را مينځته شي .

دا يوځرګند حقيقت دئ چې په هرټولنيزحالت کې ډېر داسې عوامل لکه : ځوکي او واک ، ثروت ( بډايي) او ښوزلي ، جنسيت ( نارينه ، ښځينه ) ، عمر ( واړه او لويان ) له يوې ځانګړې کورنۍ او يا ډلې سره تړاو شته چې پر اساس يې له ټولنيز حالت څخه د ټولنې د مختلفو غړيو غوښتنې او اړتياوې له يو بل سره تو پير لري . له همدې امله په ټولنه کې د وګړو او ډلو آنګېرنې ، غوښتنې او موخې کله نا کله له خندونو سره مخ کېږي . او په پايله کې يې اختلافات او شخړې تر مينځ سره پېښې شي .

د انساني تاریخ په بهیرکې له پیله ترننه پورې نارینه ، ښځینه ، ځوانان ، سپین ږیري ، سیاستوال ، سودا ګر ، کروند ګر ، شپانه .... هریو د اختلاف او شخړو په هکله خپلې خپلې تجربې او نظریې له ځانه سره لري .

ددې په څنګ کې په دې هم ښه پوهېږو چې ټولنه یو ساکن او ساکت وضعیت نه لري ، بلکې په هغې کې پرله پسې تعاملات ټولنو ته د تحرک او خوځښت وړتیا ورکوي . ددغو تعاملاتو ، تحرکاتو او خوځښتونو په مینځ کې ستونزې ، شخړې ، سوله ، تاو تریخوالی او جګړې را مینځته کېږي . چې کله کله تاو تریخوالی او جګړې د ټولنیز چاپېریال سوله یېز حالت له پیچلتیا اوستونزو سره مخ کوي .

په یوه پیچلي وضعیت کې یوه متفق ( سره یوه خوله ) سوله ییز نظر ته رسېدل څه آسانه کار هم نه دئ . ددې له پاره چې په یوه پېچلي او ستونزمن حالت کې سولې ته لاره ومومو،د ډول ډول لید لوریو ، تجربو ، آنګېرنو ، معلوماتو راټولولو او د هغوی تحلیل به د نوموړي پیچلي وضعیت د مختلفو اړخونو په روښانه کولوکې مرسته وکړي .

د یوه ټولنیز حالت روښانه انځور به د سولې له کارکوونکو سره سولې ته د رسېدو په تګلاره او کړنلاره کې یوه مرستندویه سرچینه هم وي . دا چې موږ په ټولنه کې ژوندکوو ، او شخړې ، سوله ، تاوتریخوالی اوجګړې زموږ په ټو لنیزو اړیکو کې را مینځته کېږي ، تحول او بدلون مومي او سره له هغو د نوموړې ټو لنې وګړي ، ډلې د ژوند وضعیت او اړیکې هم ور سره سم بدلون مومي ، له دې کبله اړینه ده چې په ټو لنه کې د سولې راوستو ، سولې سا تنې اوسوله یېزې روغې جوړې بنسټیزو اړتیاوو ته ژوره پاملرنه وشي . چې دا بیا سوله ییزې پوهې او روزنې ته اړتیا لري .

اوس به راشو دېته چې سوله ییزه پوهه او روزنه څه ته وایي ؟

سوله يْيزه پوهه او روزنه

دا چې موږ د سولې خبره کوو ، څه ډول سوله غواړو پلې کړو ؟ آيا سوله هم کوم تخنيکي اوعلمي اړخونه لري که څنګه ؟ د څه ډول منطق او استدلال له مخې د سولې بهير پر مخ يوسو ؟ آيا د سولې اړتيا د خير خواه خبيرو خلکوپه خوله پوره کېداى شي ، که نه د متناظرو ذي دخلو اړخونواو تامع خلکو په خوله څه ډول د سولي تشه ډکه کړو ؟

ښکاره خبره ده چې سوله ( روغه جوړه ) پوهې او روزنې ته اړتيا لري . ځکه د سولې پوهه اوروزنه په سوله يْيزه توګه له يو بل سره د ژوند کولو له پاره يوه ژوره انساني اړتيا ده . خو له بده مرغه زموږ په هېواد اوافغاني ټولنه کې ددې مهمې موضوع د ښوونې او روزنې په اړه په دوامداره توګه غفلت شوى دئ . دا په دې معنا چې زموږ هېواد او هېواد وال په پردئ وارداتي سيمه يْيزه جګړه کې له تېرو (۳۶) کالو را په ايسته ايسار پاته دي . د سر او مال تاوانونه اوخپل مينځي دښمنئ زموږ هېواد والو وګاللې او ګټې نورو په کې وکړې . ځکه په افغانستان کې ټولې جګړې پردئ پروژې وې ، چې پروپوزلونه يې له افغانستانه بهرجوړ شوي او د تطبيق له پاره يې نورو ته په اجاره ورکړې ، خو پر افغانانو باندې د افغانستان په خاوره کې د پر مختللي اقتصادي او نظامي تکنالوجۍ پر متې جبراً تحميل شوې دي .

اوس يو شمېرکسانو د سولي په نوم د بل په اشاره او پردیو پيسو سر را اوچت کړى ، له سولي څخه يې د خپلي بوبې آله جوړه کړې ، سوله يې يوه پروژه ده ، خپل معاشونه په کې اخلي ، او پرسوله باندې يې خپل بېزنېس روان ساتلى . جنګ جګړې په غرونو او سرحداتوکې رواني دي ، او سوله په ښارونوکې يوازې په شعارونوکې محدوده ساتل شوې ده ، خو پايلې يې ددې سبب شوې چې زموږ په ټو لنه کې د تشدد او تاو تريخوالي ريښې لا پسې ژورې شي . تر څو ددوامداره جګړو اوپردیو مداخلو له پاره پرې مناسب شرايْط را منځته کړي .

موږ د خپلې روغتيا او سلامتيا د وقايوي ساتنې له پاره طبابت ، فزيکي جوړښت ، انجنيري سيستم ، د کروندو او دفاع له پاره وسله وال او امنيتي پوځ ، او نورو ته په پر له پسې ډول وخت ، پيسې او وسايْل په کار اچوو ، ترڅو په ډاد من امنيت کې ژوند وکړو .

که د نړۍ په کچه دا پوښتنه مطرح کړو چې اوسني انسانان د دومره پر مختګ سره سره څومره په مدنيت ، امنيت او سکون کې ژوند کوي ؟

ځواب واضبح دئ چې تراوسه پورې د وسلو رقابت ، جګړو ، درواغو ، حِرص ، بُخل ، پر نورو باندې د سلطې اوکنټرول له پاره د ځان غوښتنې حس ، انساني مدنيت ، امنيت ، سکون ، پريو بل باندې باور ، مرسته ، مينه ، لورېينه او نور انساني ارزښتونه له ډول ډول ګواښونو سره مخ کړي دي . له دې کبله د انساني مدنيت ، امنيت ، سکون ، پر يو بل باندې باور ، مرستې ، مينې ، لورېينې او سولې د پر مختګ او تأمين له پاره موږ بايد سوله يْيزې پوهنې او روزنې ته ژوره پاملرنه وکړو . سوله ، سکون او اطمينان بايد سره وپېژنو او په جوړونه کې يې له يو بل سره مرسته وکړو .

کله چې موږ د سوله يْيزې ښوونې او روزنې خبره کوو ، زموږ موخه داده چې داسې ذهنيتونه جوړ او مهارتونو ته پراختيا او وړتيا ورکړو چې له خبروکولو سره درناوى او وضاحت مل وي او په خورا دقت او خوا خوږۍ سره هغه

واورېدل شي . ستونزو ته د نورو له نظره هم وکتل شي . نوښت ، د نظرياتو توپير او ريښتيانی هيلې بايد تقديرشي . ترڅو ستونزې او شخړې په سوله ئيزه توګه په کې حل او د شخړو وضعيت بدلون ومومي .

ټولنيز چاپېريال داسې وده او پراختيا په کې ومومي چې په هغې کې درناوی او د يوبل پالل ، تحمُل او زغم ، له يو بل سره د مرستې کولو او له يو بل څخه د سختيو ، ستونزو او وېرو په ليرې کولوکې برخه اخيستل په ژوند ی بڼه د پراختيا په حال کې وي . د سوله ييزې پوهې اوروزنې لارې چارې همدغه دي چې موږ يې په لاندې ډول بيانوو :

د سوله ئيزې ښوونې او روزنې عمليه :

سوله يْيزه ښوونه او روزنه د هغو ښوو نيزو روزنو او ارزښتونو ترلاسه کولو يواکتسابي عمل دئ چې په مرسته يې ذهنيتونه ، مهارتونه ، ارزښتونه اوعادتونه پراختيا مومي او له خپل ځان ، نورو او چاپېريال سره په همغږی کې د ژوند کولو وړتياوې ورسره پياوړې شي .

په بل عبارت :

سوله يْيزه ښوونه او روزنه هغو ښوونو ، روزنواو ذهني زده کړو ته وايي چې د هغو له لارې شخړې په سوله يْيزه توګه حل اوله تاو تريخوالي او جګړو څخه مخنيوی پرې وشي .

په دې عمليه کې داسې پو هنيز مهارتونه او ارزښتونه وده او پراختيا مومي چې موږ ته له نورو او چاپېريال سره د خپل ځان د همغږۍ لارې چارې را په ګوته کولی شي او موږ ته ددې وړتيا راپه برخه کوي چې هيلې او وېرې سره پر تله او وپېژنو او هم پر وېرو باندې د غلبې جرأت ترلاسه کړو .

د سوله يْيزې ښوونې او روزنې د عمليې په بهيرکې به موږ د سولې په وړاندې د خطرونو اوګواښونو څېړې او پس منظر (شاليد ) ته لومړی خپل پام ور واړوو ، بيا به تعاملات او اړيکې په کې درک او تحليل کړو ، ور پسې به ددې تحليل په رڼا کې موږ و توانېږو چې د سولې د پر مختګ له پاره لارې او سر چينې په نښه کړو . دغه معلومات به له موږ سره د سولې په پېژندلو او جوړجاړي کې مرسته وکړي .

د سوله ئيزې ښوونې او روزنې موخه :

د سوله ييزې ښووني او روزنې اصلي موخه داده چې يوه داسې سوله ييزه پر مختللې ټولنه په کې جوړه شي چې اوسېدونکي يې په ډاډمنه سوله کې له يو بل سره آرام ، هوسا او بسيا ژوند وکړي .

د سوله ئيزې ښووني اوروزنې هدفونه:

له ( باور ، پېژندني ، مرستې ، اورېدلو ، ....کشف او د عملي مهارتونو له لارې د هغود پياوړتيااوپراختياڅخه عبارت دي .)

په انسانانوکې دسولې زېرمې عبارت دي له :

- ( درناوي ، وقار ، مينې ، تقدير او هيلي .
- ديوبل ترڅنګ په ورورولی او فعالې مرستې سره په څمکه کې د فساد له مينځه وړل او د عدل او انصاف قايْمول دي .
- د هغولارو او اصولو پېژندنه او پياوړتيا ده چې له ټولنيزو اختلافاتو او شخړو سره د انساني کړنو او تعاملاتو د مديريت څرنګوالی ـ او په سوله يْيزه توګه د شخړو د حل لارو پېژندنه پرې را مينځته شي .
- هغو لارو اواصولو ته بايد پراختيا ورکړل شي چې پرمټ يې انسانان له يو بل سره په سوله ئٌيزه توګه ژوند وکړي .
- هغو ذهنيتونو ، معيارونو ، وړتياوو ، لاروچارو ، ارزښتونواوعواملوته بايد وده او پراختيا ورکړل شي چې په مرسته يې له اختلاف او شخړې سره په سوله يْيزه توګه تعامل( چال چلند ) وشي .

- هغو لارو ، عواملو ، معيارونو او وړتيا ووته وده او پراختيا ورکول دي چې د هغو په مرسته سوله په تاو تريخوالي او جګړو باندې غلبه ومومي .

سوله ئیزه ښوونه او روزنه پرڅه راټولیږي؟

لومړی : سوله ئیزې زده کړې هغه مهارتونه دي چې د شخړو د سوله یېز حل د لارو چارو په پیداکولو ، د شخړو او تاو تریخوالي په اړه د ټولنیزو ذهنیتونو ، کړنو ، عادتونو ، جوړښتونو او کلتوری نښو نښانو په پیژندنه او په هغوکې د مثبتو بدلونونوپه را مینځته کولو باندې را ټولیږي .

دوهم : سوله یېزه ښوونه او روزنه د انسانانو په ذهني اوعملي بدلون باندې ددې له پاره سره را ټولیږي ، ترڅونوموړي وګړي وکړای شي چې د خپل مینځي شخړو ریښې په ښه توګه سره تشخیص او په اړینو مهارتونو لکه مفاهمه ، بحث او خبرې ، مذاکرې ، منځګړتوب ، پخلاینې او ....سره د هغو په حل اوبدلون کې د خپل ژوند حالت ته د ښه والي په لور بدلون ورکړي .

سوله ئیزه ښوونه او روزنه په لاندې موضوعاتو سره را ټولیږي :

- ــ دا ښوونه او روزنه د ټو لنیزو مسایٔلو ، ستونزو او شخړو په اړه د ټولنو د وګړو د ذهنیتونو ، کړنو او د شخړو او سولې په اړوند د ټولنیزو جوړښتونو د اغېزمنتوب مطالعه ، تحلیل او د پایلو څېړنه کوي .
- ــ هغه پوهې ، مهارتونه ، مېتودونه ، ټولنیز جوړښتونه او دودونه موږ ته را پیژني چې ټولنیزې شخړې له ورانوونکي حالت څخه پریوه مطلوب سوله یېز حالت باندې بدلولی شي .
- ــ دغه مېتود د دوامداره سولې د تأمین له پاره په اغېزمنه ، ځانګړې او ټولنیزه توګه د شخړو د سوله یېزحل ، بدلون او رغنده سولې له پاره هڅه کوي .

د سوله ئیزې ښوونې او روزنې ګټې

موږ او تاسې په خپل چاپیریال او ورځني ژوند کې کېدای شي هره شېبه ، هره ګړی ، هره ورځ ، هره اوونی ، هره میاشت او هرکال له ستونزو ، ستونزمنوخلکو اوحالاتوسره مخ شو ، خو تاسې نوموړي حالات څنګه ارزوئ او څه ډول غبرګون ور سره ښییې ؟

سوله یېزه ښوونه او روزنه ، د شخړو حل او بدلون ، زده کړه او د مهارتونو تمرین او عملي کول به له تاسې سره مرسته وکړي ترڅو نه یوازې خپلې ځاني ستونزې په کې تشخیص او حل کړئ ، بلکي له نورو سره د ستونزو په حل او یا له ستونزمنو حالاتو سره په سوله یېزه توګه معامله به هم په بري سره ترسره کړئ .

د سوله یېزو مهارتونو زده کړه ، تمرین او په کار اچول به په ټول ژوند کې له تاسې سره مل وي او په اړینو وختوکې به له تاسې سره مرسته وکړي . د سولې ښوونه او روزنه به ستاسوفکري ځواک او وړتیا درزیاته کړي ترڅوتاسې خپل ځان اوچاپیریال ته په نوې بڼه له سره پام وکړئ . ددې کتنې په بهیرکې به تاسې په خپل ځان ( ذهن ، فکري جریانونو، وسوسو ، خیالونو ، تصوراتو ، پرېکړو، کړنو ، ... او چاپیریال )کې داسې شیان درک

کړئ چې د اکثرو شخړو او ستونزو ريښې له هغو سره تړاو لري . تاسو به ددې وړتيا ومومى چې په خپل ځان او نوروکې د سولې زېږمې کشف او هغو ته به پراختيا ورکړئ .

سوله څه ته وايي؟

له ډېرو کلونو را هيسې په افغانستان ، سيمه او نړۍ کې د جګړو او اخ وډب ډرامې رواني دي . پخوا به چې اروپايي اود پخوانى نړۍ نور مشران په مختلفو بې بندوږباريو او غير مسؤولو کارو نو لکه شراب او کباب ، مستيو ، خمارو، قمار، ناروا جنسي اړيکو او نورو عبثياتو باندې لګياوو او په هغې کې به ستړي شول ، نو بيا به يې د خپلې ستړيا ليرې کولو په خاطر مرئيونه د جنګي سپيو په څېر ساتل او له وحشي ځناورولکه پړانګانو او زمريانو سره به يې د هغه انساني کرامت ته په پوره سپکاوي سره په شرط مقابلې ته وړاندې کول او تر هغو پورې به په جګړه کې سره ساتل کېدل چې يا به يې ځناور ـ او يا به يې هم مرئی انسان وواژه . بادارانو به له دې وحشي لوبې څخه خپل خوندونه اخيستل . بس دخپلودماغو نو ستړ يا به يې د هغوی په مرګ ژوبلو کې سره واستله . خو په حقيقت کې د نننې سطرنج داني او جنګي بوختياوې تر نن ورځې پورې د همغې اروپايي لوبو د ځنځيري کړيو روان تاريخي بهير دئ چې په تسلسل کې يې موږ هم په ډېر لږ توپير سره و پېچل شوو .

نو تر هغې هم ډېر پخوا دغه نننی پرمختللې جنګي تکنالوي نه وه ، کله چې انسانانو خپل ځانونه په اصطلاح لږ متمدن احساس کړل ، نو ددې جنګي قوماندې د توطئيو جوړولو سِر او راز بيا په فرعونې او صليبي مغاروکې خوندي ؤ . کله چې لومړی نړيواله جګړه تېره شوه ، بشري انکشافات او اکتشافات مينځته راغلل ، اوبتلې ، الوتکې ، چورلکې او د بر ، بحراو هوايي سفينې جوړې شوې ، نو بيا د قو ماندې دغه مرکزونه د سمندر په تل کې ځای پر ځای شول ، خودا مهال د تکنالوجی تر ټولو خوندي قومانده اوکوماندو په خورا ليرې ستوريزه فضأ کې ځای پرځای شوی چې سيالې خواوې هم تر هغې پورې لاس رسی نه ورته لري . هو ! دغه له رازونو ډک کوماندو له ټولوکمپيو ټري آفتونو څخه هم ځکه خوندي دئ چې هلته کمپيو ټري رايرسونه حمله نه شي ور باندې کولی . ولې د مرګ ژوبلواو نورو آزمېښتونو لابراتواراو پوليګون يې افغانستان او اسلامي نړۍ ده چې خلک يې همدا اوس يوازې امن ، خوراک ، څښاک ، پوښاک ، د هستوګنې ځای ، نورو ژوندنيو وسيلو اوخپلواکۍ ته اړتيا لري او ددې ټولو انځور يې په رېښتينې سوله کې تر سترګوکېږي او سوله له جګړې سره تل په ټکرکې ده ، ځکه تاو تريخوالی او جګړه د سولې په قاموس کې نه شته .

تاوتريخوالی اوجګړه په حقوقي لحاظ تل دمعنا ضد کينه کښو ، ماده پرستانو له خوا که هغه کاپيټاليستان وي ـ يا کمونېستان د حقوقو تر پښو لاندې کېدو او له حده وتلي افراط او تفريط په صورت کې مينځته راځي ، چې له امله يې تل حقيقت په کې په دار ځړېدلی اوحق يې قرباني وي . ځکه د فيلانو تر مينځ جګړه کې غوماشې تل د فيلانو

تر پښو لاندې وژل کېږي . له دوهمې نړیوالې جګړې را وروسته د نړۍ د زبرځواکونو ترمینځ د پر مختللي جنګي ، اقتصادي ، سیاسي او استخباراتي تکنالوجۍ سیالي را مینځته شوه چې د آزموېلوډګرېې اسلامي نړۍ اوافغانستان ورته وټاکل شول . ځکه په افغانستان او نوره اسلامي نړۍ کې ډېرې داسې زېرمې شته چې کفري نړۍ یې نه لري او هغوی دې زېرمو ، او یو د بل په وړاندې د ستراتیژیکوحاکمونقطوته دلاس رسي په خاطر له پېړیورا هیسې خپلې ځانګړې سترتیژۍ اوپلانونه جوړکړي او د عملي کېدو له پاره یې بېلا بېلې پلمې او نقشې له پخوا را هیسې په لاره اچولې دي چې موږ یې ښکاره بېلګې په اسلامي هېوادوکې د سیاسي واکمنو ځېرو پر پټوتغذیو او د ملتونوپر خوار او زاراو محتاج حالت کې ساتلوسره د بشر د حقوقو او غربي دیموکراسۍعملي کول ، د صدام او خمیني ، او صدام اوکویټ تر مینځ جګړه ئیزې نمایشي ډرامې ، او په دې وروستیوکې د عراق ، افغانستان ، مصر ، لیبیا ، او یمن د ځینو رژیمونو ړنګول ، د ایران د سبز پوشانو او ور پسې د بهار عرب تمثیلي ډرامې چې هغه په اصل کې د عربو د ځپلو ، توکرې کېدواو لوټکولو لامل شول ، خو تابستان اروپا بیا یوازې فرانسه او جرمن هېوادونه وځپل ځکه هغوی له ناټو سره په ژغ سم نه وو روان . خو په اصل کې یې په اروپا کې د مسلمانانو د مخ پر ودې وجودي نفوذ مخه پرې ډپ کړه .

په افغانستان او د سیمې په هېوادوکې ګام په ګام همزمان دوه دوه متضاد سیستمونه فعال ساتل شوي ، ( یوخپله رژیم او ور سره په څنګ کې په اصطلاح اپوزېسیون ، او بل د رژیم خالفې متضادې ډلې ټپلې ) ، چې د تاو تریخوالي او جګړو ددوام اوخپل دائمي حضور په پلمه د توازن برابرولو په خاطر ترې کار اخلي . یوې خوا ( حکومت ) ته په قانوني شکل د نظامي تړونونو له مخې خپلې له کاره لوېدلې بې کیفیته وسلې او توري پیسې ورکوي ، او بل لوري ته په غیر رسمي آدرس ددې وسلو ضد وسلې او پیسې رسوي . خو په اصل کې دوی د خپلو زړو وسلو د خرڅلاو له پاره تور بازارونه په اسلامي نړۍ کې پیدا کړي او د جنګ هغه نظامي سوټې بېرته پرموږ باندې پلوري چې پرموږ باندې یې په جګړه کې مات کړي دي . ولې په اصل کې ددواړو متضادوخواوو د مالي او نظامي تغذیې آدرس همدا یو دئ ( نیواکګر ځواکونه ) . له همدې امله زموږ په هېواد او ټوله سیمه کې سوله نه راځي . او سوله هم ډېر تعریفونه لري چې هرڅوک سوله د خپل لید لوري د زاویې له کنجه تعریفوي .

ځیني خلک سوله د ډلو او دولتونو تر منځ د جګړو، شخړو او اخ او ډب د نه شتون یا په بل عبارت د ډز بندۍ په معنا بولي . خو په ځینو هېوادوکې بیا پرته له پورتنیو ستونزو څخه خلک خپلو روا حقونو ته لاس رسی هم نه لري ، ځکه چې هلته عدالت او عادل حاکم نه وي ، قانون موجود وي او خلک د قانون له مخې خپل حقوق غواړي خو څوک قانون ته احترام نه لري او هغه پر خپل ځان او خپله ټولنه باندې یو خېل نه پلی کوي . په داسې حال کې چې :

لومړی : مخالین او خاموش اکثریت هم ، پرته له څه ډار ، وېري او تاو تریخوالي څخه په خوندي توګه ژوند کول غواړي ، او پر خپل ځان باندې پرته له قانون څخه هېڅ ډول ظلم ، زور زیاتی او تاو تریخوالی نه مني او نه خو ناروا چاره چاته ور ښئلی شي .

دوهم : مخالفین او د هېواد نور خلک غواړي چې :

قانون باید د ټولو پر وړاندې یو شان پلی شي ، تر څو خلک په قضایي سیستم باندې باور پیدا کړي او د خلکو حقونه په عادلانه او اغیزمنه توګه د قضایي او عدلي ادارو له خواپرته له تحریفه خوندي او دامنیتي ارګانونو له خوا وساتل شي.

دریم : مخالفین په سیاست ، پریکړو ، د قوانینو، مقرارتو او پالیسیانو په جوړولوکې ګډون ، له حکومت څخه حساب کتاب ، د یوه ریښتیني خادم په توګه کار او یو واقعي جمهوري نظام غواړي .

څلورم : هر څوک باید له خپل انساني فطرت سره سم د خوړو، پاکو اوبو، کور ، ښوونې او روزنې ، روغتیا ، پاملرنې او د ژوند سپیڅلي چاپیریال ته په پام سره پرته له جنسیت ، قوم ، ژبې ، ملیت ، مذهب او نژاد څخه د یو عادلانه حاکم نظام په شتون کې په قانوني بڼه یو شان لاس رسی ولري .

پینځم : مخالفین له تبعیض پرته دکاراو وړتیا د شرائطو آسانتیا او په خپله جغرافیه کې له خپلې خوښې سره سم په عادلانه توګه د ژوندکولو فرصتونه برابرول غواړي ، ترڅود ریښتینې سولې ته په ډاډ منه او عادلانه توګه لاره هواره شي .

سوله دوه ډوله ده :

مثبته( دائمي ) او منفي (مؤقتي ) سوله :

کله چې ځینې بې تجربې او نالوستي خلک د جګړې او تاو تریخوالي فزیکي اړخ ونه ویني او په مؤقته توګه اوربند وشي ، هغې ته سوله وایي ، ولې خبر نه وي چې د تاو تریخوالي دغه ډول سکوت تر ایرو لاندې یو داسې اور ـ یا ترخړو اوبو لاندې یو د اسې کېړک دئ چې سړی پرې باور نه شي کولی ، خو په حقیقت کې کورنۍ ، هېوادونه ، سیمې او نړۍ سوځولی او توکړې کولی شي . خو په حقیقت کې د سولې دې ډول ته منفي او نا مطمئنه سوله وایي چې هر وخت یې د اور بلېدواو ټکر امکان شته.

او هغه سوله چې د ټوالنې په بېلابېلو برخو (نارینه وو ، ښځو ، ځوانانو ، سپین ږیرو ، ښاري او کلیوالي سیمو ) پورې اړه ولري او موخه یې د خلکو تر مینځ د متوازن واک را مینځته کول وي ، دېته مثبته سوله وایي ، ځکه د ټولنې د ټولو قشرونو د لومړنیو حقوقو خوندي کېدو او متوازن مسؤولانه واک ته د لاس رسي مسئله په کې مطرح ده . سوله دېته نه وایي چې یوازې تودې شخړې او جګړې دې په کې نه وي ، خو له دې هم هېڅوک انکار نه شي کولی چې سړه ( د پټو او ښکاره ناندریو او تبلیغاتو جګړه ) حتمي په کې شته ، ځکه ژوند له سولې او جګړې دواړو سره تړلی او د ژوند یوه اړینه برخه جوړوي چې په پای کې همغه تاو تریخوالی ، شخړې او جګړې خپل ځای سولې ته پرېږدي .

هغه پښتو متل دئ چې وایي ، ( غر چې هرڅومره سخت شي ، بیا یې هم پرسر یوه نرۍ لاره شته . ) خو شرط په کې دادئ چې د ټولو ښکېلو خواوو روا حقوقوته د عدالت او سمې او پرځای پرېکړې په سترګه وکتل شي . ولې تلپاتې سوله د جګړې ختمولو او د ټولو اتباعو د اړتیاوو پوره کولو په موخه د روا او معروفو ټولنیزو روغو اړیکود بیا را ژوندي کولوبهیرته هم وایي.

سوله له کومو لارو ممکنه ده ؟

سوله د بېلا بېلو لارونه را تلای شي . ځکه هره سوله ځانګړي مفاهیم ، ځانګړي پړاوونه ، کړنلارې او دریځونه لري چې بلاخره شخړې پر دوامداره سولې باندې بدلولی شي . خو داسې سوله پرله پسې مثبتو او پرځای فعالیتونو ته اړتیا لري ترڅو د حکومت ، سیمه ئیزو هېوادو او نړیوال سازمان له یوه رسمي آدرس څخه د تلپاتې سولې ددوام په خاطر پرېکنده معتبره ټاپه هم ور باندې ولګېږي . د سولې راوستل د ټولو بیلابیلو حکومتي ، مذهبي سازمانونو، مدني ټولنو، دودیزو مشرانو او جوړښتونو، رسنیو، او سوداګریزو ټولنو دنده ده : چې په علمې کانونونو ، ښوونځیو ، جوماتونو ، حکومتي سیستمونو ، سوداګریزو مرکزونو، کلیواو ښارونوکې د ټولنیزو مرکزونو په کچه کارغواړي . ځکه سوله یوازې په ارزښتونو، د اړیکو په مهارتونو، تحلیلي چوکاټونو، او ټولنیزو بهیرونوکې بشپړېدای شي او بس .

په سوله کې د خلکو او د هغوی د چاپیریال ترمنځ د رغنده اړیکو جوړولو مهارتونه اړین دي . ځکه جګړې هم د ټولو اړیکو یوه برخه ده ، له دې لارې خلک له دغه ډول مهارتونو سره بلدیت پیداکوي او له دې لارې خپلې رغنده اړیکې د سولې له پاره جوړوي . له همدې ځایه بشري امنیت او عادلانه پر مختګ ته خلک لاس رسی موندلی شي .

سوله څنګه را تلای شي ؟

الف :ـــ د شخړو روغ مدیریت : شخړې باید داسې مدیریت شي چې یوه حق په جانب ډله ورته پیاوړې شي تر څود اړینو شرائطو له لارې د هغوی د ستونزو د حل لاره پرې ومونده شي او اړیکې بدلون پرې و مومي .

ب : ـــ د مستقیم تاوتریخوالي کمول : داسې مخامخ هڅې باید وشي چې تاو تریخوالی په کې را کم اود ناروااړخونو عاملین په کې محاکمه او مظلومانوته خوندې چاپېریال په کې برابرشي .

ج : ـــ اړیکې باید د زخمي زړونو دارو درمل ، شخړو ته باید د پای ټکی کېږدي او عدالت په کې په سمه توګه پلی شي . ترڅو په باوري شکل د خلکو په اړیکوکې د اوږدې مودې له پاره مثبت بدلون راوستل شي .

ر : ـــ اړینه ده چې د سولې راوستو کلتوري پلان د وړتیا له مخې جوړ او پلی شي او بیا دې دا خلکو ته پرېږدي چې د ښکېلو خواوو تر مینځ پر اوږدمهاله سولې باندې د ځواب ویلو فکروکړي . ښوونې او روزنې ، پرمختګ ، پوځي بدلون او تحول ، څېړنې او ارزونې ته دې د تاوتریخوالي د مخنیوي په خاطر وده ورکړي .

سوله پرکومو اصولو ولاړه وي ؟

د سولې لومړی اصل ، ارزښتونو ته پام کول دي .

۱ : ـــ بنسټیزو اړتیاوو او حقونو ته پام کول : د سولې راوستل له خلکو سره مرسته کوي تر څو هغوی لومړنیو اړتیاوو او حقوقو ته لاسرسی ولري ، خو شرط په کې دادئ چې د نورو اړتیا او حقونه هم ومنې .

۲: ـــ د جګړې او تاوتریخوالي شننه (تحلیل) : د جګړې او تاوتریخوالي د لاملونو او ریښو دوامداره تحلیل ته اړتیا ده ، تر څو د سولې له پاره مناسبې لارې چارې او سرچینې په کې په ګوته شي .

۳ : ـــ د اوږده مهال پلان جوړول : د سولې راوستل کیدای شي د لنډې مودې د پلانونو او یا فعالیتونو له لارې تر سره شي، خو ټولنیز بدلون راوستل بنایي کلونه ، لسیزې او پېړۍ وخت ونیسي .

۴ : ـــ د ټولو سیستمونو بدلون : د سولې راوستل د ځانګړیو اړیکو او معروفوکلتوري جوړښتونو له لارې هم د نظام او سیستم بنې ته بدلون ورکولی شي .

۵ : ـــ د همغږۍ کړنلارې او ښکیل اړخونه : بیلابیل ښکیل اړخونه باید خپلې کړنلارې د خپل مسئوولیت، حساب ورکولو، د مقابل لورې معقولو او روا غوښتنو، ځان تیریدنې( انعطاف ) او هر اړخیز ګډون له پلوه د سولې راوستلو په لارکې سره همغږي کړي .

۶ : ـــ پیژندل او د ځواک جوړول : خلک باید د نورو سره د ګډو هلو ځلو او همکاریو پر بنسټ د خپلو انساني اړتیاوو د پوره کولو له پاره پرته له تاوتریخوالي خپله وړتیا او ښه پوهاوی په ځحان کې و لري .

۷ : ـــ ښکیلو اړخونو او خلکو ته مناسب واک ورکول : د سولې راوستل باید په مشارکت او خپل ځاني هوډ سره ټینګ ولاړې وي چې کولای شي هغه بیا پیاوړې او پراخه شي او نورې مناسبې هڅې باید تر سره شي چې د نورو د نظر اوریدلو او ځواکمن کولو پر بنسټ ولاړې وي .

په ورځني ژوند اوټولنیزوکړو وړوکې د سوله ئیزې ښوونې او روزنې د ځینوګټو یادونه په لاندې توګه کېږي :

- سوله یْیزه ښوونه او روزنه د یوې ټولنې له اوسنیو او راتلونکو نسلونو سره مرسته کوي ترڅو د تاو تریخوالي ، جګړو او له هغو څخه د را مینځته شویو ناخوالو له اغېزو خلاصون ومومي ، هغوی به په دې وتوانوي چې خپل ژوند په سوله یْیزه توګه پر مخ یوسي . د سولې زده کړې به د تاو تریخوالي او جګړه یْیز تفکر، تصور، عاداتو اوکړنو په لیدو سره د مثبتو بدلونونو را مینځته کولو د لارې مشال شي .
- د تاو تریخوالي او جګړه یْیز تفکر، خیال ، عاداتو اوکړنو په چاپېریال ، او د ځواکونو په ننداره کې خلک په ځانګړې توګه جګړه مار، بېوزله خلک ، ښځې اوماشومان داسې فکرکوي چې تاوتریخوالی ، تېری او بې عدالتي د ژوند واقعیتونه دي . په داسې ټولنوکې تاریخ په جګړو او بریو دواړو باندې ټینګارکوي او دکرامت او افتخارتاج اوتخت د هغو له پاره مناسب ګڼي چې په جګړوکې یې قهرماني ښوولې وي . په زور واکۍ سره یې په ټولنه کې وېره خوره کړې وي ، خو په حقیقت کې داسې نه ده ، ځکه انساني ژوند په ریښتیا په درناوي ، عزت ، کرامت ، عدالت اوانصاف باندې ولاړدئ ، خو عزتمند هغه څوک دئ چې د انسان له عزت اوکرامت څخه دفاع او ننګه کوي ، او د عدالت او انصاف په لاره کې هڅه اوهاند بیا خپله تګلاره ګڼي .
- سوله یْیزه ښوونه اوروزنه له یوبل سره په اړیکوکې په درناوي ، صبر او زغم ، ښه سلوک ، خواخوږۍ ، د عدالت او انصاف په رعایتولو باندې ټینګارکوي او له خلکو غواړي چې په فعاله توګه د نوموړو مفاهیمو او ارزښتونو په راژوندي کولوکې فعاله ونډه واخلي .
- سوله ییزه ښوونه او رو زنه غواړي د جګړه ییزتفکراوکړنو په ذهنیت او طریقوکې په داسې توګه بدلون راولي چې په یوه ټولنه کې اوسېدونکي له شخړو او ستونزو سره په سوله ییزه توګه عملي ګام پورته کړي ترڅو د انساني کرامت ، سولې او امن عملي ساتندویان شي .
- سوله ییزه ښوونه او روزنه له یوې خوا د سولې د تمایْلاتواوژمنو د پیاوړتیا له پاره هڅونو او تشوق ته پراختیا ورکوي ، او له بلې خوا له یو بل چاپېریال سره په مینه او همغږۍ کې ژوند کولو ته د قدر په سترګه ګوري .
- سوله ییزې زده کړې موږ ته ددې جرأت راکوي چې د خپلو کړو وړو مسؤولیت په خپله غاړه واخلو او د زیان د جبران له پاره مناسب ګامونه پورته کړو .

- سوله ییزې زده کړې له موږ سره د منفي ذهنیتونو اوکړنو په ادلون بدلون او د مؤثرو پالېسیانواو لایحو په تد وین کې مرسته کوي .
- سوله ییزې زده کړې موږ ته دا وړتیا را په برخه کوي چې د خپل ژوند او خپلې ټولنې ستونزې له یوې نوې دریځې اوکونج ( زاویې ) څخه وګورو ، دغه نوې دریځه اوکونج یا زاویه به له موږ سره مرسته وکړي ترڅود ستونزو وړاندې ورروسته لید لوری په ښه شکل تحلیل ، انځور او د اړینو اصلاحاتو او بدلونونو د را مینځته کولو عناصر په کې تشخیص او په مناسبه توګه یې وکاروو .
- سوله ییزه پوهنه هغه ذهنیتونه ، کړنې او ارزښتونه چې سوله پیاوړې کوي له هغو ذهنیتونو او ارزښتونو څخه چې د شخړو ، زور زیاتیو او جګړو تمایلات هڅوي ، په تو پیر او پېژندنه کې مرسته کوي .
- په بحراني ځایونوکې سوله ییزې زده کړې د دوښمنو ډلو ذهنیتونه د یو بل په وړاندې ددې جوګه ګرځوي ترڅو د یو بل موجودیت ومني او د یوبل نظریاتو ته غوږشي .

تجربو ښوولې ده چې پرسوله پوهې ډلګۍ له هغو اشخاصو او ډلو څخه ډېرتوپیرلري چې د سولې له زده کړو څخه بې برخې وي . د سولې کولو پرخوا تمایل او د سولې لرلید د ارزښتناکې سولې په جوړولوکې ستر رول لري .

- سوله ییزه ښوونه او روزنه په ټولنیز چاپېریال کې د شخړو او تاو تریخوالي د نښو نښانو په پېژندولو ، د شخړو په مدیریت ، حل ، بد لون ، د خیر ښېګڼې ، یو والي او د جګړو له تهدید څخه د خوندي دنیاګۍ په جوړولوکې مرسته کوي .
- د سولې له زده کړو څخه زموږ موخه د ژوند هغه تیاره اړخونه رڼا کول دي چې په دوامداره توګه هغه په قصدي یا غیر قصدي ډول له پامه غورځول شوي وي . زموږ د ژوند دغه یاد اړخونه د انساني ژوند وقار اوکرامت ته درناوی ، انساني اړتیاوو ته پاملرنه ، د ژوند ساتنه او ملاتړ، د یو بل مرستې ته را دانګل ، د کینې ، نفرت ، او انتقام پرځای غمرازي ، ترحم او ښښنې ته مخه کول دي .

د سوله ییزې ښوونې او روزنې په پایله کې به د ټولنې په وګړوکې یو بل ته درناوی ، د زړه خواله ( همد لي ) د یو بل پېژندنه ، د شخړو مدیریت ، حل لارې ، بد لون ، او سوله ساتنه پیاوړې شي او په ورځني ژوند او ټولنیزو اړیکوکې به د عدالت او انصاف خوندیتوب پراختیا وموميي . د سولې ښوونه او روزنه به له ماشومانو ، ځوانانو ، میندو ، پلرونو اوحکومتي چاراوکو سره مرسته وکړي چې د سوله ییزو ذهنیتونو او اړمنو خلکو سره د سوله ییزکلتور په پراختیا کې مرسته وکړي .

زموږ په ټولنه کې د سوله ئیزکار اغېزمنتیا

زموږ په ټولنه کې له پخوا را هیسې د سولې خوندي کېدو، روغې جوړې ، د شخړو د حل او بدلون رسمي او غیررسمي ادارې ، نهادونه ، د الله تعالی (ج) ارشا د ا ت اود رسول الله (ص) نبوي لارښوونې ، افغاني روا دودونه ، ټولنیزې ډلې اوثالث بالخیر وګړي موجود دي چې د وګړو او ډلوترمینځ د شخړو په حل او سوله ییزه روغه جوړه کې کارکوي .

که موږ دنوموړو جوړښتونو اغېزمنتیا او بشپړې سولې وضعیت ته په تېرو نږدې څولسیزوکې یوځغلنده نظر وکړو ، وبه ګورو چې زموږټولنیزې شخړې او اختلافات څه ډول تاوتریخوالي اوجګړوته ور ننوتل ، اوڅرنګه له کنټرول او ادارې څخه ووتل ؟ نه یوازې په کورد ننه ، بلکي سیمې اونړۍ ته هم ور وغځېدلې ، پراختیا یې وموندله او سرایت یې وکړ .

زموږ په سوله غوښتونکې ګران هېوادافغانستان کې ډېرو جګړه مارو  د پردیو تېل شووشخړو اوجګړوصحنو( ډګرونو) ته را ودانګل . د تاو تریخوالي ، جګړو او ناتار ډګرونه یې تر ډېره پورې تاوده وساتل . ډېری میندې یې بورې اوپلرونه یې دغم او ویر په ټغرکښېنول . ځکه دوی ته پردی غم نیم اختر دئ . تاسې پوهېږئ چې دا سې ولې وشول ؟ دا اختلافات او شخړې له کوم ځایه را پیل ، او بیا په دومره لویه کشاله څنګه بدلې شوې چې ټوله سیمه او نړۍ یې سره و جړقوله ؟

زموږ ؤلس او واکمنو په  شخړوکې د ښکېلو خواووپه وړاندې ولې د یادو ټو لنیزو اختلافاتو او شخړو په پیل کې مناسب او وړځواب ونه وایه ؟ آیا دوی د نوموړو اختلافاتو او شخړو په پیل کې له شخړو سره د نا مناسبو کړنوله عواقبو څخه خبرنه وو ، په حل باندې یې نه پوهېدل ، وېرې او ډارپسې اخیستي وو  اوکه په دوامداره شخړوکې یې خپلې ګټې لیدلې ، څه وجه وه  ؟

په جګړوکې ښکېلو مخالفوخواووڅه ډول ددې اختلافاتو مدیریت کاوه ؟ آیا دغه جګړه ئیز مدیریت دوی خپله رهبري کاوه ، اویا یې د جګړو ریموټ د بل چا په لاس کې ؤ ؟ افغانانو پخوا څه ډول د ځان په وړاندې دتاوتریخوالي اوجګړه ئیزناورین دپای ته رسېدوحل لارې موندلې ، ځکه دا خود جرګواو مرکو وطن دئ ، نواوس یې له کوموو وسایلو ، روېښونو ، مفاهمو ، مذاکراتو ، اویا په عکس له زور زیاتي اوچورلټ نابودولوکارواخیست اویا په افغانستان کې دتاوتریخوالي اوجنګي موازني ساتلوله تاکتیکه په کې کاراخلي اویا داچې بهرني ځواکونه اوسیمه ئیزې اونړیوالې کړۍدخپلوستراتیژیکومحسوسوموخوترلاسه کولواوخپل دائمي حضورپیداکولوله پاره په مختلفونومونوسره

دمختلفوجنګي زونونواوبېزونوله لارې دمختلفوپروژوپه تطبيقولوکې له افغانستان څخه د خېز د تختې په څېرکار اخيستل کېږي ؟ په دې معنا چې ترشايي څه لوبه روانه ده چې پر مېږ يې افغانان په خپلوکې يود بل په وړاندې په بديواو وژلوسره اخته ساتلي اوله اصلي دښمن سره بيا د افغانستان د برخليک ټاکلو په اړه پټې ناروا پرېکړې کوي ؟

ددې ټولو پوښتنود ځواب په ژورتحليل او پايله کې دا نتيجه ترلاسه کولای شو چې د تاريخي حکم له مخې له شخړو او جګړو سره مناسب چلند او معامله نه ده شوې . په ډېره سطحي اوسمبوليکه توګه يوازې د اقتدار اوصلاحيتونو او يا هم د شخصي امتيازاتو يا د واک د وېش پرسر د سولې پرضد معاملې شوې دي . د شخړو روېښ ، ټولنيزعدالت اوانصاف ته چې د سولې اصلاحي بنسټ جوړوي کومه خاصه اوژوره پاملرنه نه ده شوې . ډېرداسې فرصتونه وو چې په ټولنه کې له هغو څخه د پخوا را هيسې زموږ سترګې پټې او غفلت په کې شوی دئ . د هغو له جملې څخه د ريښتيني سوله ئيزاصلاحي بنسټ پر مټ دسولې ساتنه ، د شخړو سوله ييزحل ، د مهارتونو پياوړتيا ، له تاو تريخوالي او جګړو څخه د مخنيوي له پاره په ټولنيز او حکومتي سيستم کې د مناسبو اصلاحاتي بدلونونو را مينځته کول د يادولو وړ دي .

سره له دې چې پخواني روا او معروف دوديز مېتودونه په خپل ځای کې ارزښت لري ، خو په اوسنيو ډېرو حالاتوکې د ننني شخړو وضعيت ته په کتو سره د ځواب وېيلوجوګه نه دي . له همدې کبله دا مهال ځينو مهمو جوړښتونو او مهارتونو ته پراختيا او وده ورکول اړين دي .

ددې له پاره چې په اوس او راتلونکې کې له اختلافاتو او شخړو سره مناسب عمل ترسره شي ، بايد زموږ په افغاني ټولنه کې ريښتينی ټولنيز ثبات ( ټيکاو ) اوسوله دواړه تأمين او خوندي شي . ځکه د سولې له پاره کارکول او سوله ييزه زده کړه ، او په مناسبه توګه د هغې کارول ډېر مهم او بنسټيز رول لري .

د سولې د مسلکي پوهې ترلاسه کول د سولې د ښوونې او روزنې او سوله ييزو ترېښېنګونو له لارې تر سره کېدای شي . موږ ټول په دې پوهېږو چې د هر مثبت بدلون له پاره اړونده زده کړې ته اړتيا شته ، که هغه د ديني ، طبي ، انجينيري ، کرکيلي ، کلتوري ، .... او نور وي يا بل څه ، خو ، د زده کړې عمليه د هرې سطحې د بدلون له پاره اړينه ده . خلک د اړونده دندو ( وظايفو ) (( ځانګړيو ، ټولنيزو ، بنسټيزو او...)) ، د خپلو وړتياوو (( ظرفيتونو )) لوړولو له پاره د ښوونې او روزنې مختلفو ځايونو او ادارو ته ورځي ترڅو د وړتيا وړ زده کړې په کې ترلاسه کړي .

تعليم د ټولنې وګړي په خپله ټولنه ، سيمه او نړۍ کې د فعال او اغېزمن ژوندکولو له پاره آماده کوي . ځکه تعليم داسې مفاهيم ، سلوک او ارزښتونه انتقالوي چې هم د يوې ټولنې د مثبت شخصيت ، کلتور او هو يت ساتنه وکړي او هم د هغو د ودې او لا پراختيا له پاره هڅه کوي . د ټول تعليم موخه (هدف ) همدادئ چې د نړۍ غېږې ته داسې انسانان وړاندې کړي ترڅو د نړيوال انساني تعمير په عمران او آبادۍ کې په اغېزمنه توګه فعاله او مثبته ونډه واخلي . تاسې پوهېږئ چې پورتني ياد شوي هدف ته در سېدو له پاره ډېره مناسبه طريقه د سولې تعليمات دي . د سولې زده کړې د نورو پوهنو په څوا کې او يا په ځانګړي ډول زموږ د ژوند د سوله ييز تګ لوري په ټاکلوکې ډېر اغېزمن رول لوبولی شي .

سوله ییزې زده کړې د انساني ژوند په هغو اړخونو ( ابعادو) باندې ډېر ټینګارکوي چې د انسانیت او انساني ارزښتونو ژوند په هغو پورې تړلی دئ .

د بېلګې په توګه :

سوله ییزې زده کړې انساني کرا مت ته درناوی لري ، انساني اړتیاوې څاري ، د شخړو سوله ییز حل لارې لټوي ، د تاو تریخوالي او جګړو مخنیوی کوي ، متقابلو همکاریو ته پراختیا ورکوي ، له یو بل سره په سوله ییزه توګه ژوند کوي او چاپېریال ساتنې ته ډېره پاملرنه کوي . سر بېره پر دې د انسانانو د فزیکي ، ذهني ، علمي او روحاني ودې او پراختیا په لارکې هم په بشپړه توګه هڅه کوي . سوله ییزه ښوونه او روزنه د خپلې ټولنې په وګړو او ټولې نړۍ کې د سوله ساتې جوړښت ، ژمنتیا روح ( سا ) ور پوکوي . خو دابايد په یاد ولرو چې سوله ییزې زده کړې د دایمي سولې د بقأ له پاره په پسته او نرمه منطقي له حکمته ډکه ژبه ، په خورا تر ټولو ښه طریقه ، او پوره درناوي او وقار سره د شخړې ښکېلو خواوو ته ور انتقال شي .

څکه شخړو څېلې خواوې ټولې ناروغې دي . ناروغان مسلکي طبي تشخیص ، درملي ، عیادت ، آرامي فضأ او سوله ئیزآرام ته اړتیا لري . ترڅو د خبرو اورېدلو او منطقي او پر ځای خبروکولو وړتیا او زغم ور سره پیدا شي . که داسې نه وي ، نوبیا خوسوله تربمونو اورېدو لاندې ناشوني ده . څکه هغه متل دئ چې وایي : په جګړه کې آس ته دانه نه ورکول کېږي او نه هم په جګړه کې چا حلوا وېشلې ده .

سوله ئیزه ژمنه

دا خوښونکې خبره ده چې زموږ د ټولنیز ژوند اوچاپېریال سلامتي او روغتیا له سولې سره مستقیمې اړیکې لري . د انساني ژوند اوسنی وضعیت او د راتلونکو نسلونولپاره د سوله ئیز ژوند دشرایطو برابرول د ټولو انسانانو مسؤولیت او دنده ده ترڅوهغوی هم د سولې اوچاپېریال خوندي ساتلو له پاره ژمن او د رغنده کارکولو پخه اراده او هوډ له ځانه سره ولري .
سوله داسې شی نه ده چې له بل ځای څخه یې را وارده او یا یې په بیه واخلو . همدا رنګه تر هغو پورې سوله نه شي کېدای چې په جبراو اکراه (زر، زور او تزویر) سره پروګړو او ؤلسونو باندې د خود غرضه کورنیو ، سیمه ییزو او بهرنیو عناصرو اوکړیو له خوا د بندو دروازو ترشا د نا مقدسو سیاسي زدو بندونو ، معاملو او

ایتلافونو په شکل د ملي ارادې خلاف زمونږ پر ؤلس باندې فرمایشي او مصنوعي سوله هم لکه پردۍ جګړه تحمیل ( ور وتپل ) شي .

څرنګه چې سوله ییزه عملیه منظمو او پرله پسې سوله ییزو رغنده هڅوته وایي ، او دا هڅې د مثبتو ذهنیتونو ، کړنو او د ټولنیزو عادلانه جوړښتونو له تعمیري لارو چارو څخه را مینځته کیږي . ځکه خو سوله ئیز مثبت ذهنیتونه ، کړنې او جوړښتونه د سوله ئیز ژوندانه بنسټ جوړوي .

د سوله ئیز جوړښت کچه په ټولنیزو اړیکو کې د ریښتینولی ، عدالت ، مینې ، پیرزوینې او همغږۍ د ودې اوپراختیایي کچې په کیفیت پورې اړه لري . ځکه د سوله ییزجوړښت پراختیا له یوې خوا د اړیکو په ترسیم ، ترمیم او اصلاح کې مرسته کوي او له بلې خوا د ځانګړې او ټولنیز تاو تریخوالي سرچینې او ریښې لومړی اصلاح کوي اوکه د اصلاح وړ نه وي ، نو بیا یې د اړتیا پر وخت دسولې د تخنیکې لارو چارو پرمټ له مینځه وړي .

د سولې له پاره دوامداره کارکول د سوله ییز ژوندانه پوهې او مهارتونوته د پراختیا ترڅنګ پرله پسې ژمنتیا اوعملي کړنلارو( ستراتیژیو) او سالم مدیریت ته اړتیا لري . د سوله ییزجوړښت د پوهنیزو پراختیاوو مهارتونه په ټولنه کې د زور زیاتي او تاو تریخوالي د ریښو په پیژندلو ، اصلاح او له مینځه وړوکې ټاکونکی رول لري .

هرڅومره چې په یوه ټولنه کې د سوله ییزجوړښت پوهنه او ارزونه د پراختیا او ودې په حال کې وي ، په همغه کچه به ټولنه وکړای شي چې خپلې شخړې په سوله ییزه توګه سره حل او فصل کړي .

په جګړې ځپلوټولنوکې د سولې عملیه داسې پراخو هلوځلوته اړتیا لري چې د سولې له پاره په ټولنیز تعهد سره بنأ وي . ټولنیز تعهد نوموړو ټولنو ته دا وس او ځواک ور په برخه کوي ترڅو په دوامداره توګه د سولې هڅې پرله پسې جاري وساتلی شي .

د سولې له پاره په پراخه کچه او پرله پسې هلو ځلو سره د ټولنیزې ژمنتیا ماشین هغه وخت په خوځښت را ځي چې د سولې موضوع په کې د ټولنیز بحث د سر ټکی وي . چې بیا په ټولنه کې د مختلفو سطحو خلک پر سوله باندې دیوې مهمې حیاتي موضوع په توګه بحث پرې وکړي او هغه مطرح کړي . سوله او د سولې حقیقت اوابعاد یې سره وپیژني . سرچینې او منابع لکه ( عادلانه سیستمونه ، مثبت تصورات ، ذهنیتونه او صالح عملونه ) یې په نبنه کړي . د سولې له مینځه وړونکي لکه ( منفي تصورات ، ناروا رواجونه ، تخریبي او مفسد اعمال او غیر عادلانه سیستمونه ) ټول باید اداره ، کنټرول او اصلاح کړي .

که موږ پر دې باوري شو چې په یوه ټولنه کې ټول خلک باید د امنیت او عدالت څخه برخمن وي اوپر دې پوه شو چې امنیت او عدالت په سوله ییز چاپیریال کې ممکن دئ ، نو اړینه ده چې د یوې ټو لنې ټول وګړي د سولې په خوندي ساتلواوجوړجاړي کې په بشپړه ژمنتیا او همغږۍ سره په کارکولو باندې پیل وکړي او د سوله ییزکلتور په را مینځته کولو ، وده او پراختیا کې پراخه برخه واخلي .

سوله د هرچا مکلفیت دئ:

موږ هر یو د ژوند له ډېرو ساده ، عادي او طبیعي مسا ئلو څخه نیولې بیا د ټولنیز ژوند تر ډېرو پېچلو مسئلو پورې د ډېرو طبیعي او ټولنیزو قوانینو رعایت ته اړتیا لرو او د قوانینو دغه ډول رعایت یوازې دهغو سوله ماروکارنه دئ چې په حرفوي،دوديزوه او(ان جې او)ئي توګه ، د سولې کارونه پرمخ وړي ، بلکې ددغه مکلفیت بارد هغوټولوکسانوپراوړوباندې پروت دئ چې څومره يې د ټولنيزې سولې او خير ښېګڼې په کارکې په لاس او ژبې سره وس رسېږي . ځکه سوله د انسانو د راتلونکې له پاره په اصل کې د هر اړخيزه انارشي ، فساد ، فتنو او مرګ ژوبلو د مخنيوي ، اود سعادت او ښې راتلونکې لامل کېږي .

د بېلګې په توګه :

له تنفس ، خوراک او پوښاک څخه نيولې بيا د سختو او مزمنو ناروغيوترعلاج پورې ، په ښوونځيکې له داخېلېدو څخه نيولې ترلوړو زده کړو بشپړولوپورې ، د کورني جوړښت څخه نيولې د اولادونو تر روزنې پورې ، په کلي اوؤلس کې له ژوندکولوڅخه نيولې تر نړيوال ژوندانه پورې .... اونور.

په دغوټولو جوړښتونواو اړيکوکې تاسې د ژوند د تأمين او خونديتوب له پاره د يو شمېر منلو اصولو او قواعدو رعايت کوئ .

اوس که دا پو ښتنه مطرح کړو چې په دغو ټولو حالاتو کې تاسې له سولې سره څه ډول اړيکې لرئ او سوله څنګه تمرين کوئ ؟

دغه پوښتنه به تاسو لږ څه و هڅوي ترڅو په اړه يې ژور فکر وکړئ او هغه دا چې د تنفس پر وخت له هوا سره اړيکې ، د هوا خصوصيات ( پاکه او نا پاکه ، توده او سړه .... ) ستاسې د تنفسي غړو خصوصيات ( د تنفسي ناروغيو اغېزې .... ، سږو ته د هوا دداخېلېدو او خارجېدو ميخانيکيت ، د مرستندويه غړيو او جوړښتونو ( حجاب حاجز ، د سينې عضلات ، او د پوښتيو د هډوکو جوړښت ، په ماغزوکې د تنفس مرکز او د وينې له سيستم سره اړکې ... ) که په ژوره توګه مطالعه کړو او د هغوی تر مينځ اړيکې او همغږی په دقيقه توګه وګورو ، و به وينوچې په ډېرمنظم ډول له يو بل سره د يوه فعال او اتوماتيک ماشين د پرزو په څېرکارکوي .چې زموږ خپله اراده هم په ويښ حالت په دې کارکې شامله ده .

د بېلګې په توګه :

موږ هڅه کوو چې له ککړې هوا څخه د پاکې هوا خوا ته حرکت وکړو ، ترڅو پاکه هوا تنفس کړو . له پاکې هوا څخه موږ اطمينان او سکون تر لاسه کوو . د تنفس دوامداره تمرين او د قوانينو رعايت د تاسو په ژوند کې هم آسانتياوې را مينځته کوي او د ژوند ساتنه موکوي .

همداسې د سولې تمرین هم درواخله . په دې تمرین کې یو شمېر اصولو او ددې اصولو رعایت ته اړتیا شته . د بېلګې په تو ګه :

د خپل ځان او د نوروحقوقو ته درناوی ، ځانګړیو او ټولنیزو اړتیاوو ته پاملرنه ، د خپلوکړووړو مسؤولیت منلو ته غاړه اېښودل ، رښتینولي ، د زړه خواله ، دیوبل خبرو اورېدو ته غوږنیول ، رښتینې تفاهم ، پریو بل باندې پېرزوینه اوله یو بل سره مرسته کول د اخلاقي ارزښتونو په پام کې نیولو سره به تاسو هم له خپل ځان او نورو سره سوله تمرین کړئ . د سولې دغه ډول تمرین به له تاسو سره د ژوند په ټولو اړوندو برخوکې مرسته وکړي ، ترڅو په اطمینان او ډاډ سره یو د بل ترڅنګ په سوله کې ژوند سره وکړئ .

د بېلګې په توګه :

په تاسې کې به دا باور پیاوړی شي چې :

په ځانګړي توګه ښه ذهنیت او د ښو افکارو روان بهیر د ښوکړنو ( اعمالو ) د تر سره کېدو قدرت را مینځته او زموږ شخصي ژوند ته سوله او اطمینان را په برخه کوي . دغه سوله او اطمینان به زموږ د شاوخوا په چاپېریال ، اړیکو او د نړۍ په بد لون کې هم خورا اغېزمن رول ولوبوي . سولې ته د رسېدو او د سولې د تمرین له پاره د سوله ییزو ذهنیتونو ، افکارو اوکړنو تمرین هم ډېر اړین دئ .

د سولې د تمرین تر شا موږ لاندې دلایْل په ګوته کولای شو چې:

موږباید لومړی سوله زده کړو او هغه د خپل ځان ، کور ،کلي ، دفتر ، مدرسې ، ښوونځی ، مسجد ، روغتون ، پوهنتون ... او نوروخیریه ټولنو په جوړښتونو او اړیکوکې تمرین او څوڅو ځلې تکرارکړو. بیا به د سولې له پاره داسې فضأ پرې را مینځته شي چې له خپل ځان ، نورو اوچاپېریال سره ګټورې اړیکې پرې جوړې کړو .

سوله د انساني ذهنیتونو اوکړنو یوه فعاله او دوامداره عملیه ده چې د ژوند په جوړښتونو او اړیکوکې خوځنده رول لري . د سولې دا جریان د هر انسان له زړه ( احساساتو ) ، ماغزو ( ذهنیت او ارادې ) څخه پیل او په اړیکوکې ځان ښکاره کوي .

د سولې احساسات ، ذهنیتونه او ارادې د انساني ژوند په ټولواړوندو سطحو (کچو) او ډول ډول اړیکوکې ځان را ښکاره کولای شي ، له همدې کبله موږ په مختلفو ټولنیزو جوړښتونواو اړیکوکې سولې ته له مختلفو لارو څخه رسېدلای هم شو . څکه له خپل ځان ، کورنۍ ، دفتر ، مدرسې ، مسجد ، ګاونډي ... او نورو سره د سوله ییزو اړیکو او فضأ د جوړېدو له پاره داسې لارې چارې شته چې پر مټ یې سړی سوله ییز هدف ته پرې رسېدای شي .

پوښتنه :

تاسو په خپل ژوند او خپلو اړیکوکې سوله څه ډول تمرین کوئ ځواب یې خپله ومومۍ ؟

په انسانانو، په تېره مسلمانانواو په خاص ډول په افغانانوکې معمولاً سوله هغه وخت مطرح کېږي چې تر مینځ یې تاوتریخوالی او جګړې را مینځ ته شي . که څه هم هغه تاو تریخوالي او جګړې کورني او ذاتي اړخونه ولري یا بهرنۍ او تپل شوې خواوې ، خو بیا یې هم لامل او عامل معلوم وي چې باید مخه یې ونیول شي . د افغانستان جګړه

چې پردۍ او بهرنۍ اړخ لري ، او پر موږ باندې داسې را تپل شوې ده چې د تمثیل له پاره یې کرېکټرونه زموږ خپل افغاني عناصرپه لومړۍ کرښه کې زموږ په خپله خاوره کې زموږ په وړاندې لوبول کېږي ، ولې تر شایې نور سیمه ئیزاو نړیوال کتلېستې حرکات موجود دي چې یوازې د جګړې اور تېزولواو د افغانستان بې ثباته کولو ته لمن په کې وهل کېږي او بس . خوپه داسې حالت کې د خپل هېواد ، خپل هویت ، خپل نظام ، خپلې خپلواکۍ او خپلو هېواد والو د ساتنې او خونیتوب په خاطر زموږ افغانانو خپله دنده ، خپل مسؤولیت او خپل مکلفیت څه دئ ؟ موږ افغانان باید د خپلې سولې راوستو او ملي یووالي د ساتنې په خاطر څه ډول رول ادا کړو تر څو دغه را باندې تپل شوي ناورین ته پرې د پای ټکی کېږدو ؟

راځۍ دسولې په اړه د ملي ثبات ټولنې هغه خپره کړې اعلامیه هم ولولو چې په تاند ویب پاڼه کې یې خپره کړې ده :

**(( د تل پاتې سولې په اړه افغان شموله هلې ځلې، د روانو جنګونو مخنوی، د افغان وژنې او ورور وژنې خونړې پیل شوي بهیرته دپای ټکی ایښودل، دمعضلاتودحل په موخه د ټوپک د میل پرځای دخبرو اترو دمیز ترشاکښیناستل او بالاخره حکومت او طالبان  د سولې او مذاکراتو له لارې  سیاسي تفاهم ته رسیدل زموږ د ټولوهېوادوالو یوازینۍ هیله ده.))**

نوموړې ټولنې په خپله خپره کړې مقاله کې زیاته کړې  :

**(( دملي ثبات ټولنه باورلري چې په جنګ کې دښکیلو خواوو ټولې ستونزې د بین الافغاني میکانیزم ، جرګو او مرکو له لارې د حل یوازینۍ لار ده او دغه حل د دواړو لورو په ریښتینو همکاریو او پاکو ارادو پورې تړلی دی او باور لرو چې اوس ددې وخت رارسیدلی  او هغه دباور فضاء چې د دواړو لورو ترمنځ رامنځته شوې  دستونزو په حل کې مرسته کولی شي. ))**

یادې ټولنې په خپله اعلامیه کې زیاته کړې ده چې : **((دحکومت او طالبانو ترمنځ د خبرو اترو د پیل شوې لړۍ د دواړو لورو له خوا په هېواد کې دتل پاتې سولې راوستو له پاره اخیستل شوي  دخبرو اترو مهم ګامونه موږ او هېوادوالو ته ددې زیرې راکوي چې نور نو دجګړو څخه ستړي شوي او ښکیلو خواوو دا درک کړې چې  خپل ټول مشکلات  دمیز تر شاه  دخبرو اترو له لارې حل او فصل کړي. ))**

په مقاله کې دا هم را غلي چې :

**(( دملي ثبات ټولنه باورلري چې په هېواد کې د نیابتي جګړو اساسي رېښه کورنۍ او بهرنۍ ستونزه ده او ددغې ستونزې دحل له پاره دکورنیو لوبغاړو په شمول ګاونډي او دسیمې هېوادونه اساسي نقش لري ، نو  دسولې په پروسه کې دحکومت او طالبانو ترڅنګ ګاونډي او دسیمې هېوادونو ریښتینو همکاریو ته هم  اړتیا ده، حکومت مکلفیت لري چې په هر قیمت وي  د هېوادوالو له پاره په کور دننه  ډاډمن امنیت، د ژوندکولو شرایط  او د سولې فضاء برابره ، ترڅو ټول افغانان  دهیڅ  تبعیض پرته  د ورونو په څېر په خپل هېواد کې دسوکاله ژوند ساه واخلي. ))**

په پای کې یې ویلي : **(( موږ په پای کې یو ځل بیا د حکومت او طالبانو له لوري دسولې پروسې په اړه د اخیستل شوو ګامونو هرکلی کوو او د سولې په راوستو کې دا هڅې کافي نه بولو بلکې ددې ټولو نورو موثرو او اغیزمنو هڅو د دوام غوښتنه کوو.))**

خو زه خپله پر سوله باندې د اسلام د اصولو له مخې لږه رڼا اچوم ترڅو لوستونکو ته دا جوته شي چې اسلام د سولې په اړه مسلمانانو ته څه پیغام له ځانه سره لري .

لکه څنګه چې انسان ته خپل ژوند خورا زیات ارزښت لري ، همداسې سوله هم ددغه انساني ژوند د بقأ او تضمین له پاره ډېره ارزښتناکه ده . ځکه په سوله کې سر تارسري خیر او ددنیا او آخرت فلاحت او رستګاري نغښتې ده .د آدم (ع) او حوا (رض ) راتګ دنیا ته او ددواړو تر مینځ د عقد ( نکاح ) تړل هم د انس او الفت منعا لرله ، نه د خشن او تریخ ژوند تېرولو .

دا چې موږ او تاسې ټول هره ورځ له تېرو څه کم څلورو لسیزو را په ایسته د بې ګناه افغانانو( معصومو ماشومانو ، ښځو ، سپین ږیرو او سپین سرو بوډاګانو ، ځوانانو او مظلومو انسانانو ) مرګ ژوبلې ، جنازې ، کډې او د هېواد ړنګې کنډوالې په خپلو سترګو وینو او د حال او قال په دواړو ژبو موږ ته د پېښو له تاریخي تصویري قاموس څخه دا سبق راکوي چې پر افغانستان او افغانانو باندې دغه ټولې شوې کړنې له هېڅ ډول انساني ارزښت سره اړخ نه لګوي . ځکه د افغانستان ، سیمې او نړۍ ټول انسانان په خپلوکورونو ، کلیو ، هېوادو ، سیمو او نړۍ کې د آرام ژوند کولو حق لري ، او دغه حق خدایتعالی دوی ته ورکړی دئ او هېڅوک حق نه لري چې له خپل خدای ورکړي ژوند څخه یې محروم او بې برخې کړي .

اوس چې په ټول افغانستان کې د پردۍ جګړې اورونه پرافغانانوباندې بل شوي دي ، خپله پر افغانانو باندې د خپلې ملي او دیني فریضې او د سیمې او نړۍ پر مسلمانانوباندې ددوی د خپلې دیني وجیبې او پر نورو نړیوالو باندې ددوی د انساني مکلفیت له مخې ددغې جګړې د ختمولو او د افغانستان د ثبات او بیا رغونې دا پور دئ چې په ګډه سره پرته له دې چې د لوی افغانستان جغرافیې ، ملي حاکمیت ، قانون او خپلواکۍ ته صدمه په کې ورسېږي دې جګړې ته نور د پای ټکی کېږدي . له افغانانو سره دې ددوی د زېرمو په را ایستلو کې په منصفانه توګه پرله پسې مرستې وکړي او افغانان دې په سوله کې د خپل ؤلس واک نظام او ړنګ هېواد بیا رغولو ته په ډاډه زړه په قلاره پرېږدي .

اسلام دسولې په اړه څه وايي ؟

(( سوله داسلام په سپېڅلي دين کې خورا ستر ارزښت لري ، آن تردې چې ددوه کسانو یاډلو یا دوه ملتونو ترمنځ په سوله او روغه جوړه کې داړتیا پروخت درواغ ویل هم روا دي چې په دې هکله رسول الله (ص) فرمایلي دي :
دسولې او روغې جوړې پرمهال داسې درواغ ویلو ته هم اجازه شته چې د روغې جوړې اسباب پرې برابرېدای شي ، که څه هم درواغ ویل په شرع کې ناروا عمل دی ، مګر ددې له پاره چې دخلکو ترمنځ دخپل منځي اختلافاتو ، فساد او وینې تویولو مخه پرې ونیول شي ، درواغ ویل روا دي او شریعت دې ته درواغ نه دي ویلي ، لکه چې امام بخاري رحمة الله علیه په صحیح البخاري کې حدیث شریف روایت کړی دی(صحیح البخاري څلورم ټوک ۲۴۰۳ مخ )

ژباړه: هغه څوک چې درواغجن نه دی خود خپلو درواغو په اساس دخلکو په منځ کې سوله راولي او په خپلو درواغو سره ددوه کسانو ترمنځ اختلاف ته دپای ټکی ږدي او یا د خیر خبره کوي دا کس درواغجن نه دی ، ددې حدیث شریف دلا روښتیا په هکله امام خطابي (رح) ددې حدیث شریف په برخه کې داسې فرمایلي دي :

دخلکو ترمنځ سولې ته هڅونه ، اودخلکو ترمنځ اختلاف له منځــه وړل اویا داختلافاتو مخنیوی کول دي ، ځکه چې رسول الله (ص) دالله (ج) په رسۍ منګولي لګولي دي ، په داسې حال کې چې دخلکو ترمنځ اختلاف اچول په دین کې درز پیداکوي نوهغه څوک چې دخلکو ترمنځ سوله کوي ، دثواب اوفضیلت هغه مقام ته رسیږي چې ، دنفلي روژې نیوونکي او نفلي عبادت کوونکي او نفلي صدقې کوونکي له درجې څخه ډیر پورته دی ، ځکه چې هغوي دځان له پاره لګیاوي او سوله کوونکی خو بیا دټولنې د خیر ښېګڼې له پاره لګیاوي کارکوي ، خلکو ته په لاس ، ژبې او قلم سره خیرو رسوي .

همداشان سوله دالله (ج) حکم هم دی ، الله(ج) په قران کریم کې داسې فرمایلي دي : فاتقوالله واصلحوا ذات بینکم واطیعوالله ورسوله ان کنتم مؤ منین(سورة الانفال ـ ۱ .

ژباړه: ای مسلمانانو تاسو له الله (ج) څخه وویریږئ او په خپل منځ کې سوله وکړئ اود الله (ج) له استازي حضرت محمد(ص) پر پل باندې پل کیږدئ ( د آنحضرت (ص) سیرت خپل کړئ ) ، که چیري تاسو مؤ منان وئ .

الله (ج) په پورته آیت شریف کې د وېرې شرط ایښی دئ چې له الله (ج) څخه وویریږئ او د الله(ج) او دهغه داستازي (پیغمبر (ص) څخه اطاعت او پیروي وکړئ ، په خپل منځ کې جګړې ، شخړې او اختلافونه مه سره کوئ ، ځکه چې الله(ج)ستاسو تر منځ هرډول شخړې حرامې ګرځولي دي او په بل ځاي کې د مؤمنانو دصفاتو په ترڅ کې د(رحمآء بینهم)صفت ذکر شوی او داهم ددې ښېګه ده چې مسلمانان بایدخپل منځي اختلافات دخبرو او روغې جوړې له لارې سره حل او فصل کړي ، نه دجګړو او شخړو له لار ې.

پورته ټولو الهي احکامو اونبوي احادیثو ته په کتوسره باید هڅه وکړو چې په ګران هېوادکې د روانو بدبختیو دله منځه وړلو له پاره هر ممکن اقدام ته لاس کړو، ترڅودجنګ جګړو له دې بدمرغې بلاڅخه په ګندلي ګرېوان دتل له پاره خلاص شو ، نو پرموږ ټولو لازمه ده چې په ګران هېواد کې د تلپاتې سولې له پاره په یوه خوله کار وکړو او خپلې ټولې شته ستونزې د پورته ذکرشویو قرآني آیتونو اونبوي احادیثو په رڼا کې دخبرو له لارې د ( رُحمآءُ بینهم ) د الهي فورمول له مخې سره حل کړو . ))

سوله اودسولې کليمه اوسنۍ خبره نه ده ، بلکې دبشريت دپيدايښت سره سمه منځته راغلې ده . سوله يوه عربي کلمه ده چې معنايې( وس، جوړېدنه ، يووالی، اتفاق ، اودخپلمنځي جنګ جګړو بندول دي) .

په اسلامي شريعت کې هغه سوله چې حرام پکې حرام او حلال پکې حلال ونه ګڼل شي جايزه نه ده ، چې په دې اړه حضرت محمد(ص) فرمايلي دي : ((الصلح جايز بين المسلمين الاصلحاحرم حلالاً او احل حراماً والمسلمون علي شروطهم الاشرطا حرم حلالاً اواحل حراماً)):رواه ابن ماجه والترمذي ( سبل السلام ج ٣ص ٨٨ )

ژباړه : **(دمسلمان او مسلمان ترمنځ سوله رواده ، مګرداسې سوله روا نه ده چې حلال پکې حرام او حرام پکې حلال وګرځول شي . )**

د اسلامي شريعت له مخې سوله په شپږ ډوله ده :

- دمسلمان اوکافر ترمنځ
- دښځي اوخاوند تر منځ
- دباغيانو او عادلانوترمنځ
- ددوه مرورو ترمنځ
- دخپل منځي جګړو دټپي شويو او ټپي کوونکو ترمنځ
- ددووکاروباري شريکانوترمينځ

((کتاب فتح الباري شرح صحيح البخاري))

دسولې دغه شپږډلونه الله (ج) په قرانکريم کې بيان کړي دي ، چې ځيني يې په ځانګړي ډول ذکرکړي دي ، داځکه چې دسولې دغه ډولونه ډېر مهم او اړين دي اواهميت يې دمتعدي والي په وجه دي ، يعني داختلاف اوجګړې تداوم چې زيانونه يې ټولنې ته رسيږي ، او ټولنه ورڅخه زيانمنه کيږي .

خو ددې په عکس په داسې حال کې چې سوله نه يوازې داچې جګړه مارو خوا وو ته ګټه رسوي ، بلکې ټولنې ته يې هم ګڼ شمير ګټې په کې رسيږي.

دسولې هغه ډولونه چې الله (ج) يې ذکر په قر انکريم کې کړی يوڅويې دبېلګې په ډول ستاسو درنو لوستونکو مخې ته ږدم ، ترڅو دسولې مينه وال په آسانۍ سره دهغې په شرعي ارزښت باندې پوه شي.

په لومړي سرکې دکافر او مسلمان ترمنځ سوله باندي يوڅوکرښې ليکم :

دمسلمان اوکافرترمنځ سوله:

ددې ډول سولې په هکله الله(ج) مسلمانانو ته داسې لارښوونه اوحکم کړی اوفرمايلي يي دي چې : وان جنحواللسلم فاجنح لها وتوکل علي الله انه هوالسميع العليم وان يريدوان يخدعوک فان حسبک الله هوالذي ايدک بنصره و بالمؤمنين ( سورة الانفال-۶۱و۶۲ )

ژباړه:که چیرې غیر مسلم(کفار)سولې او پخلاینې ته میل ښیي ، نوتاسوهم دهغوی دسولې وړاندیز ومنئ ، سولې ته میلان ښکاره کړئ او په پاک الله (ج) بروسه (توکل) وکړئ ، بېشکه چې الله(ج) په هرڅه ښه پوه او اورېدونکی دئ . اوکه چیرته وغواړي چې تاته دوکه (فریب) درکړي ، ستا له پاره خدايتعالي بس دئ ، هماغه وو چې ته يې په خپله او د مؤ منانو په مرسته ډېر غښتلی( ځواکمن ) کړې .

دمسلمان اومسلمان ترمنځ سوله:

دا ډول سوله په جګړه کې دښکېلو مسلمانو ډلو ترمینځ دقرانکریم په آیت باندې ثابته شوې ده ، چې دسولې دغه ډول دمسلمانانو دخپل منځي جګړو دبندولو او ختمولوپه اړه دی ، دسولې دا ډول ترنورو ټولو ډولونو ډېر مهم اواړین دی ، ځکه چې خپلمنځي جګړې د افغانانو په څېر دمسلمانانوزور اوبه کوي ، موږ او تاسو په همدغه اوسنۍ نړۍ او اوسني عصرکې په خپلو سترګو وينو چې د يوې ورځې جنګې لګښتونه د يوه هېواد له يوکال عائداتو سره برابر دي او بل دا چې جګړې په اسلامي نړۍ کې مسلمانان له خپل اصلي مسير څخه خطا باسي اوبې ساري دنيوي او معنوي تباه کونکې پايلې لري .

که موږ دې ټکي ته ځير شو چې اسلام خويو مسلمان د بل مسلمان ورور بللی ، او ورور هېڅکله هم د خپل ورور دښمن نه وي ، خو که تر مينځ يې کوم وخت تاوتريخوالی او جګړه پېښه شي ، نو بيا نبي عليه السلام په دې برخه کې اصحاب کرامو (رض ) ته خپل داسې پيش ګويې حديث شريف بيان کړی :

ژباړه : وروسته له ما څخه به زما د اصحابو کرامو (رض) تر مينځ خپل منځي جګړه پېښه شي ، او په هغې کې به زما دوه جليل القدراصحاب کرام ووژل شي . حضرت طلحه (رض) چې په دې اصحابو کرامو (رض) کې موجود ؤ ورته ويې يل : يا رسوالله (ص) ! که چیرې زه په داسې معرکه کې راشم ، زه څه باید وکړم ؟ رسول (ع ) ورته په ځواب کې وفرمايل چې : ( فهوَ مقتول ) په دې معنا چې ته د مقتولينو له جملې څخه و اوسه ، يعني قا تل کېږه مه ، يعني لومړی ګوزارپر مسلمان باندې مه کوه ( متعرض کېږه مه ) . ځکه چې که چیرته په خپل لومړي تعرض سره بل کس مړ يا ژوبل کړې ، نو ته بيا د خدايتعالی د پوښتنې ځواب نه لرې ، او که هغه بل لوري لومړی در باندې تعرض وکړ او بيا تا له خپل ځان څخه ددفاع په خاطرهغه ژوبل او يا مړکړ ، نو دا بيا د خپل ځان ددفاع له پاره ستا خپل حق دئ . او که ته د بل له خوا ژوبل او يا ووژل شوې ، نو ستا پوښتنه به خدايتعالی ستا له قاتل څخه وکړي . له دې حديث شريف څخه دادرس موږ واخيست چې مسلمان هېڅکله هم پر بل مسلمان باندې پرته له دفاع څخه د لاس پورته کولو او تعرض حق نه لري . ځکه که چیرته لومړی تعرض وکړي ، که ژوندی پاتې شو، قاتل دئ ، او که مړ شو، نو مرګ يې هم خراب دئ . له دې څخه دا نتيجه اخلو چې د مسلمانانو تر مينځ جګړې الله (ج) اوږ د الله پيغمبر (ص) حرامې کړې او پر ځای يې سوله ئيز ژوند ور ته خوښ کړی دئ . موږ هم بايد له هغه څه سره خپل ځان او خپل ژوند په سيرت اوصورت دواړو سره عيارکړو چې هغه د الله (ج) او د الله (ج) د رسول (ص) خوښ وي .

الهي ارشاد په دې اړه فرمايي:

واطيعوالله و رسوله ولاتنازعو فتفشلوا وتذهب ريحكم واصبروا ان الله مع الصابرين (سورة الانفال آيت ۴۶ )

ژباړه:تاسودالله(ج)اودهغه دګران پيغمبر حضرت محمد(ص) اطاعت وکړئ اوخپل منځې شخړې اوجګړې ددې له پاره مه سره کوئ چې تاسوبه ډارن شئ ځواک او شته به مو له منځه ولاړشي اوکمزوري به شئ ، تاسو صبر اوزغم وکړئ ، ځکه چې الله (ج) دصبر کونکو مرستندوي دی.

دتلپاتې سولې په اړه دحجرالاسوددايښودلوپېښه:

داسلام په تاريخ کې دسولې ډيرې بېلګې موجودې دي ، چې يوه يې هم دکعبې په ديوال کې دحجرالاسود دايښودلو پرسردقريشو د (ځلورو ) قبيلو ترمنځ اختلاف وو.

د حجرالاسود دا لاندې پېښه د نبي کريم(ص)د سولې را وستو د هڅو او منځګړتوب يوه تر ټولو غوره ښکاره او ځرګنده بېلګه ده.

د نبي کريم(ص)په وخت کې قريشو او د مکې اوسيدونکو دکعبې د ودانۍ په رغونه باندې خبرې سره وکړې ، د کعبې د ترميم د چارو تر بشپړيدو وروسته دکعبې په ديوال کې دحجر الاسود ډبرې د اېښودولو پر سر دقريشو دځلورو قبيلو تر منځ اختلاف را پيدا شو ، ځکه هرې يوې قبيلې غوښتل چې په خپل لاس په ټاکل شوي ځای کې دحجر الاسود دايښودلو وياړ خپل کړي ، اختلافات ورځ تر بلې سره زياتيدل ، په همدې مهال کې د قريشو مشرانو د ور پيښې ستونزې د حل له پاره يو شرط وړاندې کړ او هغه دا چې که سبا هر څوک مسجدالحرام ته لومړی داخل شو، همغه به ددې ستونزې حل ته د پای ټکی هم ږدي

خودالله (ج) له خوښې سره سم لومړی کس حضرت محمد(ص)وو چې مسجد الحرام ته داخل شو، نوآنحضرت (ص) د قريشو د ځلوروقبيلوترمينځ د حجرالاسود د آسماني کاڼي پرسردراولاړې شوې ستونزې دحل په خاطريو ځادر وغوړاوه او د حجر الاسود تيږه يې پکې کينښوده ، او دټولو قبيلو مشرانو ته يې د ځادر يوه يوه پيڅکه په لاسونوکې ورکړه او ترې ويې غوښتل چې په ټولوسره دې هغه خپل ځای ته يوسي، چې په دې توګه يې د خلکو تر منځ ستونزه د تل له پاره حل کړه.

له پورته ټولو دلايلو څخه څرګنديږي چې داسلام په مبارک دين کې پرته له الهي امر څخه د مسلمانانو تر مينځ جنګ ، جګړو ، تېريو او تند لاريتوب ته د خرابو پايلو له امله ځای نه دئ ورکړ شوی .

په دې اړه ګڼ شمېر احاديث هم راغلي دي اومسلمانان يې په هغو کې سولې ته هڅولي دي ، له پورته الهي ارشاداتو او نبوي احاديثو څخه دا درس اخلو چې اسلام دسولې ، ثبات اوامن دين دی.

داچې داسلام سپیڅلی دین دسولې او ورورۍ دین ، او سوله دژوند یوه ډیره مهمه اړتیاده ، خو ددې اړتیا دپوره کېدوله پاره مثبتې هڅې په کار دي ، ترڅو موږ هم دګران هیواد افغانستان دتل پاتې سولې په راوستوکې بریالي شو ، خپلو ځوانانواوکوچنیانو ته ددې زمینه برابره کړو چې دتعلیم پر مټ دخپل روښانه راتلونکې په لورد تلپاتې سولې ډاډمن ګامونه پورته کړي .

سوله ییز کلتور

ټولنیز وګړي او د هغوی کلتور (روا دودونه رواجونه ) د یوې ټولنې د شخړو ، تاوتریخوالي ، جګړو او سولې د ټول تصویر ، خوځښت او پایلو ښوونه کوي . که د یوې ټو لنې تصویر موږ ته دا را په ګوته کړي چې په نوموړې ټولنه کې د تاو تریخوالي ، زور زیاتي او جګړو عناصر د ودې په حالت کې وي ، نو دغه وضعیت موږ ته دا را ښیي چې په نوموړې ټولنه کې د تاو تریخوالي ، زور زیاتي او جګړوعناصر د اعتبار او امتیاز پیدا کولو په حالت کې دي .

په دغه حالت کې اړینه ده چې د سولې سر چینې او عناصر سره و پیژنو ، او د اعتبار، امتیاز او فعالې پیاوړتیا له پاره یې مناسب ګامونه واخلو . ترڅو دغه اقدامات د سولې سر چینې او عناصر له وچېدو څخه وژغوري . خو د سولې اصلي سرچینې د ټولنې خلک ، د هغوی باورونه ، اخلاقي او فرهنګي ارزښتونه دي چې باید درناوی یې وشي .

لکه چې په پورته توګه یادونه وشوه د سولې د کلتور ډېره مهمه سرچینه ( منبع ) خپله د ټولنې خلک دي . همدغه خلک او د هغوی ذهنیتونه اوکړنې سوله ییزې اړیکې او جوړښتونه را مینځته کوي . سوله ییزې زده کړې د سوله ییزو ذهنیتونو په پراختیا او وده کې مهم رول لري . سوله ییزې زده کړې په دې ټینګار کوي چې په ټولنه کې اوسېدونکې خلک له یو بل سره په سوله ییزه توګه ګډ ژوند سره وکړي . د سوله ییزو زده کړو په پایله کې داسې خلک را وړاندې کېږي چې د سولې رېښتینی استازیتوب به کوي . ځکه هغوی په دې باندې پوهېږي چې څنګه سوله ییزو اړیکو ته پراختیا ورکړي . او څنګه د تاو تریخوالي او جګړو څخه د خلاصون په لارو موندلوکې ښکېل اړخونه له یو بل سره په ګډه سره صا د قا نه کارکولو ته وهڅوي .

سوله ییزو زده کړو د علم ، پوهې اوژمنتیا پر بنسټ منفي مهارتونه ، ذهنیتونه او عادتونه له شرم ،کرکې او ګواښونو سره مخ کړي . هغه ذهنیتونه ، عادتونه او رواجونه چې خلک تاو تریخوالي او جګړوته هڅوي ، لومړی اصلاح او وروسته یې په سوله ییزو ذهنیتونو ، عادتونو او رواجونو باندې بدلوي . سوله ییزې زده کړې د شخړو او تاو تریخوالي د ریښو را سپړلو او د نویو حل لارو او بد لونونو په پیدا کولوکې مرسته کوي . سوله ییزې زده کړې د یوې سوله ییزې ټولنې د را مینځته کولو له پاره په داسې توګه په هڅه او هاند کې وي ترڅو په نوموړې ټولنه کې تعصب ، زور زیاتی او تاو تریخوالی په همغږی( یوه خوله ) ، یو والي ، سولې او عدالت سره بد لون ومومي .

ددې له پاره چې د کلتوري ودې په برخه کې پرمختګ وکړو ، لازمه ده چې د سولې د فرهنګي بنسټونو د پیاوړتیا له پاره نوې ټولګې ، سر چینې او زېرمې را مینځته او په ټو لنه کې یې ټیت او خپرې کړو .

د بېلګې په توګه :

- د شخړې د سوله ییزحل له پاره د نویو داسې مفکورو مینځ ته راوړل چې مقابل لوری په باوري توګه په ریښتیني سوله کې عملي ګام پورته کړي .
- د شخړو د حل له پاره دداسې بد یلونو را مینځته کول چې د ذ ید خلو اړخونو موافقه پرې راشي .
- د موافقو د را مینځته کولو او د هغو د تطبیق له پاره د باور را مینځته کول .
- د نویو سوله ییزو اړیکو جوړول او د اهدافو رڼه ( سپېڅلې ) تشریح .
- د سولې را وستو له پاره مخکې له مخکې ټولنیزوعام فهمه مصلحینوته ټرېنېنګ او روزنه ورکول ، ....او داسې نور.

د سوله ییزکلتورد نویو ټولګو، سرچینواوزېرمو د را مینځته کېدو او په ټولنه کې د هغوله ټیټېدو اوخپرېد و سره به د شخړو د حل سوله ییزکلتورهم پراختیا ومومي اوترڅنګ به یې پرمټ د شخړود بد لون له پاره رغنده کلتوري بنسټونه را مینځته شي . د سولې د رغنده کلتوري بنسټونو پیاوړتیا به د دوامداره سولې د خوندیتوب له پاره شرایْط برابرکړي . د سوله ییزو رغنده کلتوري جوړښتونو موجودیت به په ټولنه کې د اختلافاتو او شخړو په وړاندې په سوله ییزه توګه عملي سولې ته لاره هواره کړي . د سوله ییز کلتورپه را ټګ سره به په سوله ییزمتن کې ریښتیا ، عدالت ، زړه سوی ، مسؤولیت ، خپله ملامتیا منل ، مرسته کول ، خواخوږي ، صبر، استقامت ، ښننه ، انساني کرامت ته درناوی ،.... وده او پراختیا راشي .

زموږ په هېواد کې سولې او فرهنګ ته وده او پراختیا ورکول د سولې د اوږدې مودې یو( ستراتیژیک ) هدف دئ . دلیل یې دادئ چې د سولې د دوامدار تأمین له پاره باید زموږ د ټولنې د وګړو په زړونوکې د یو لړ ارزښتونو لکه ؛ ایمانداري ، ریښتینولي ، تعهد او ژمنتیا ، تحمل ، اعتماد ... او نورله کینې، نفرت ، انتقام (کسات اخیستو) او وېرو څخه د خلاصون احساس ... پیاوړی شي ، په ماغزوکې عقل او پوهه ، د اړوندو مسا ئِلو تحلیل او غورچاڼ ، د ستونزو په وړاندې د حل لارو موندلو له پاره له ابتکار، معقولو او منطقي رووېښونوڅخه د تمهید په شکل کاراخیستل ... ترڅو د باوري توافق له پاره استدلال پرې پیاوړی شي ، د افهام او تفهیم له پاره په نرمه اوپسته ژبه او سړه سینه معقولې او اغېزناکې خبرې او په عزت اووقارسره د یوبل خبرو ته غوږ نیول ، خواخوږي ، زړه خواله ، له یو بل سره ملګرتیا ، په ژبه اولاسونو سره پرته له ضرر رسولوڅخه د ګټې رسولو فکري سیستمونه پرې ورغول شي . سوله ییز فرهنګ د یو لړ انساني او اسلامي ارزښتونو او سالمو سوله ییزو کړنو مجموعه ده چې په انساني اړیکوکې

سره را ټولیږي ، وده او پراختیا مومي ، او په پایله کې انسانان له وېرو او ضرر رسولو څخه پرې خلاصون مومي . سوله ییز فرهنګ د سوله ییزو زده کړو ، ټولنیزې اقتصادي ودې ، د انساني حقونو د درناوي ، انساني برابریو ، متخصص او صادق مشارکت او برخه اخیستل ، تحمل او ملاتړ ، او د انساني او ټولنیز امنیت د پیاړتیا څخه مینځته راځي .

د سوله ییزاوجګړه ییزکلتورځانګړتیاوې:

| سوله ییزکلتور | | جګړه ییز کلتور |
|---|---|---|
| د انسان وقار او ګټو ته درناوی | + | خپلو ګټو ته درناوی |
| پرپوهولو ، پوهېدلو ، خبرو او سوله تکیه کول | + | په زر، زور ، تهدید او تزویربانديې تکیه کول |
| پرتحمل ، صبر او یووالي ټینګارکول | + | په دښمنیو جوړولو او بېلتون باندې تکیه کول |
| پربرابریو او همغږۍ باندې ټینګارکول | + | په بر ترۍ او خود خواهۍ باندې ټینګار |
| له طبیعي منابعو څخه د ټولو په ګټه کاراخیستل | + | له طبیعي منابعو څخه شخصي ګټه اخیستنه |

د افغان سولې اوجګړې په اړه ملي ، سيمه ئيزې اونړيوالې هڅې :

**لومړی:ـــ** دسعودي عربستان حکومت د ۱۳۹۷ لمريز کال د چنګاښ په ۱۳مه په افغانستان کې د سولې اوثبات په اړه د اسلامي نړۍ ددیني عُلماوود کنفرانس نېټه اعلان او زياته يې کړه چې داغونډه به په جده اومکه مکرمه کې د جولای په (۱۰مه او۱۱مه ) چې د شوال له (۲۶ مي او۲۷ مي ) سره سمون خوري د اسلامي همکاريود مؤسسي (OIC) له خوا جوړه شي . ددغې غونډې د جوړېدو پرېکړه د اسلامي نړۍ هېوادونود بهرنيوچارو وزيرانوکړې ده . هغوی پرېکړه کړې چې په افغانستان کې د سولې او ثبات ټينګېدواود تشدد اوافراطيت دمخنيوي په موخه روانه جګړه د اسلام له نظره وڅېړي اوپررروا والي اويا ناروا والي باندې يې پرېکړه او فتوا ورکړي ، خوداسې ښکاري چې په سعودي عربستان کې ددې اسلامې کنفرانس د (۳۷) اسلامي هېوادو ګډونوال علماء به د اسلام له نظره په افغانستان کې روانه جګړه حرامه اوغيرشرعي ځکه اعلان کړي چې بله هېڅ شرعي توجيه نه لري .

پخوا هم د افغان سولې په تړاوپه رسمي اوغيررسمي توګه ډېرې غونډې جوړې شوې وې خوپايلې يې ځکه منفي اوبې نتيجې وې چې د افغانستان د حکومت وسله وال مخالفين خپلواکه اراده نه لري اواختيارېي لاهم د پرديواستخباراتوپه لاس کې دئ .د هغوی د جګړه ئيزې اوسياسي ارادې ريموټ د پرديوپه واک کې دئ . ځکه چې کله د طالبانوپر رژيم باندې معامله وشوه ، هغوی په سرکې له خپلې ماتې وروسته د خپل ملت په وړاندې له جګړې څخه لاس په سرشول اوويل يې چې موږ نه واک غواړو، نه ځواک ، نه تخت غواړو او نه هم بخت ، موږدې په خپلوکليواوجوماتونوکې په قلاره پرېږدي ، موږجګړه نه کوو .

خوپه افغانستان اوسيمه کې د جګړې ستراتيژي د طالبانو له دې غوښتنې سره په ټکرکې وه او يو يو يې له سوړو را وايست اود پردۍ جګړې پروژه جبراً وربانډې تحميل شوه . ځوک ګوانتاناموته يووړل شول ، ځوک زندانونه واچول شول ، ځوک په مرموز ډول ورک شول اود چاکورني يرغمل له ځانه سره وساتل شوې اوچا چې د جګړې قومانده نه منله ، هغوی په مستقيم اوغيرمستقيم ډول ووژل شول .

افغانستان ته د ناټوځواکونوله راتلوسره افغان حکومت هم په لومړي سرکې ډېربېواکه ، بې تجربې ، غيرکاري ، غيرمتخصص اوکمزوری ؤ او پوره (۱۴) کاله دغه بېواکه وارداتي خپسه د افغانستان د شريف او ځورېدلي ملت پرسينه باندې همداسې سپره وساتل شوه . خصوصي پرديو امنيتي کمپنيوله ناټوځواکونوڅخه امنيتي پروژې ترلاسه کولې اوهغوی به د امنيت په نامه پرکليو، بانډو اوکورونوباندې چاپې اوغدۍ اچولې ، لويې لارې اوسړکونه به يې نيول . بېګناه خلک به يې بنديانول او وژل . آن تردې چې ځينوبهرنيوامنيتي کمپنيوبه د امريکايي ( ايديما ) په څېرشخصي زندانونه هم لرل اوهلته به بېګناه افغانان په کې شکنجه کېدل ، ولې له دغو وارداتي خپلسرو امنيتي قراردادي کمپنيوڅخه ددوی د خپلسرو غيرقانوني کړنو هېچا پوښتنه ونه کړه چې دا ولې ؟

له همدې کبله ډېری خلک له طالبانوسره يوځای اوپه لوی لاس د پاکستان اوايران په لاس اسيراوهغوی د خپلوستراتيژيکوناوليوموخو له پاره استخدام او استعمال کړل.

بلخوا د هغه وخت په افغان حکومت کې هم دا استعداد نه ؤچې د نړيوالې ټولنې له حضورڅخه په سمه توګه استفاده وکړي ، ځکه د بن له قالبه راوتلې خامې ادارې د وړې مرغومې په څېرهم د نړيوالې ټولنې شيدې وخوړلې ، هم

کورنۍ او باندنۍ مافیا په ګډه وده په کې وکړه او هم یې له جنګي ښکروسره لوبې کولې ، چې د پیوله پاره یې هیڅ ډول ملي مدیریت اوپلان له ځان سره نه درلود اوله جنګي ښکروسره په لوبه کې یې خپل ملت ټول ځکه وربانديِ خراب کړچې له تروریزم سره د جګړې قراردادونه د افغانستان پرجنوبي ، شرقي اوجنوب غربي سیموباندې د وخت د دووغیرملي او په سمت او ژبه پورې تړلو وزیرانو له خوا لاسلیک شوي ووچې پرمټ یې جګړو ورځ تربلې په ټول هېواد کې زورواخیست .

که څه هم افغان حکومت په غیرمستقیم ډول له خپلومخالفوسله والو سره د پخلاینې اړیکې پاللې ، خودا اړیکې د طالبانواو نورو د مشرتابه په کچه نه بلکې په منځنۍ ، درېیمه اوڅلورمه کته ګورۍ کې رواني وې ، بل داچې د سولې د خبرو اصلي سر واګې بیا هم د افغان مخالفینو په لاس کې نه ـ بلکې د پردیو استخباراتو په لاس کې وې .

ښاغلي کرزي صیب له دې فورمول څخه ډېرکارواخیست چې له مخالفینوڅخه وړې وړې ډلګې را بېلې او د هغوی صفوف پرې ضعیف کړي ، خوکله به چې کوم یو مخالف راغی ، د هغو ساتنه به یې هم پر وس پوره نه وه ، اود شپې به چاپه وربانديِ واچول شوه او ګوانتاناموته به یووړل شواویا به ووژل شو. ځکه خو په ننګرهارکې د حزب اسلامي له کشمیرخان اوپه کابل ـ سرینا هوټل کې د حقاني له زامنو سره د ښاغلي کرزي تشوخبرونتیجه ورنه کړه اوخپله هم په واک کې د پاتې کېدو پرسر له سولې سره چندان جوړنه ؤ اوپه پټه یې له سولې کرکه لرله .

بلخوا د سولې د خبروله پاره یوداسې شخص څوکاله د سولې د عالي شورا سر مشریزه په لاس کې لرله چې په اصل کې د قضیې یواړخ بلل شوی اود افغانانوترمنځ د کورنۍ جګړې اصلي عامل اولامل ګڼل کېده ، په دې مانا چې هغه په عین زمان کې هم مدعي ؤاوهم مصلح اوحکم .

له دې جوړښت څخه داسې معلومېدل چې د هغه وخت حکومت اوورسره شریکانو یې په لوی لاس په افغانستان کې سوله نه غوښتله اود افغانستان جګړه یې د خپل ځان د مالي درآمد له پاره د سرو زرو پروژه یې ویاله بلله . اوکه د افغان مخالفینوسره به د سولې د خبرو په تړاوکوم څرک ولګېد ، د هغوی استازیتوب به هم د پاکستان په واک کې ؤ . ځکه پاکستان تر ډېره هڅه کوله چې پرافغانستان باندې خپل کنټرول ټینګ کړي ، ددې کارله پاره یې پرطالب پروژې سربېره عائقو سیموته خپل عسکرداخل کړل ، پاکستاني آزادو رسنیو خو دا هم ویلي چې پاکستان په دې لوبه کې ( ۵۰۰۰) قبائلي قومي مشران او(۵۵۰۰۰)عام سرحدي وګړي پعائقو سیمود خپل واک ټینګولو له پاره په لره پښتونخواه کې وژلي دي .

دوهم : ـــ د افغان سولې خبرې څنګه پیل شوې ؟

څه وخت چې د ملي یووالي حکومت جوړشود جمهور رئیس محمد اشرف غني ترمشرې لاندې افغان سولې ته یوه بنسټیزه سترا تیژي جوړه شوه چې پرمټ یې لومړی په مري ، ورپسې په قطر، ترکیه اود افغانستان په ځینو سیموکې له ځینو طالبانوسره غیررسمي خبرې وشوې ، خوپایلې یې ځکه دومره اغېزمنې نه وې چې هغوطالبانوپرطالب مشرتابه ، اوطالب مشرتابه بیا پرپاکستان باندې تسلط نه درلود ، بلخوا پاکستان په افغانستان کې د پردۍ جګړې پروژه په اجاره نیولې وه ، ولې بیا هم ځینوطالب مشرانود ملاعمراوملا اخترمحمد منصورله وژل کېدوسره سم د طالبانو صف پرېښود اوځانته یې انشعابي ډلې اعلان کړې چې اوس هم له افغان حکومت سره پرسوله کولو باندې خوښ دي .

كله چې حكمتيارله افغان حكومت سره د سولې پرمېكانېزم باندې بېخپوره خبرې پيل كړې اوپه دې خبروكې دواړه خواوې له هغه بهيرڅخه بريالۍ راووتلې ، دا له نورومخالفو وسله واله ډلوسره د سولې يوه پخه بېلګه اوحكمتيارنوروډلوته د سولې د كاروان پُل جوړشو . هو! د سولې ريښتيني لارخوهمدغه ده چې حكومت له حكمتيارسره پرې تېرشو . نوبيا سوله ولې نه كېږي اوڅوک يې مخې ته خنډ دي ؟

دريېم : ـــ افغان سوله له كومو خواوو څخه تخريبېږي ؟

د پاكستان مزبوحانه خلې ځلې :

له كومې ورځې چې طالبانوله افغان حكومت سره په رسمي ډول په چين كې د سعودي عربستان اوځينونوروهېوادوپه منځګړتوب دافغان سولې په تړاوخبرې پيل كړې ، هغوخبروهم سمه نتيجه ځكه ورنه كړه چې له يوې خوا چين په پاكستان كې ډېره پانګونه كړې اوله بل لورې چين هم پردې باندې ډاډه دی چې د پاكستان په خاوره كې د ګوادربندرله لارې د هند سمندرګي اوعربوبحيرې ته لاره موندلی شي ، نوبايد د پاكستان رضايت په هره برخه كې د ځان كړي ، ترڅوله دې لارې خپل اقتصادي او تجارتي سياست د خپل حريف ( امريكې ) په وړاندې سم پرمخ يوسي .

له بل پلوه پاكستان خپل وزن اوازرښت په دغه نړيواله اوسيمه ئيزه لوبه كې د سيمې اونړۍ د اقتصادي قدرتونوترمنځ آزاد رقابت ته وړاندې كړ، هرچاته يې د خپل ځان د اهم والي ببه وړاندې كړه اوله هرې خوا يې پرځان بېشكي پيسې واخيستې .

ځكه خود افغان سولې د تخريب په اړه چې پاكستان هرفرمايشي نظرچين ـ يا روس ته وركاوه ، هغوی ته د سرېه سترګود منلوؤ، له همدې امله چين د داسوبند جوړولواوپرډېورند كرښې د اغزن تارلګولوپرسرپاكستان ته په ميلياردونوډالرمرستې وركړې اوهم يې پرګوادربندرباندې زياته پانګونه وكړه ، ترڅود بلوچستان د بېلتون پالود بېلتون مخه پرې ډپ كړي . له همدې كبله چين له افغانستان څخه د پاكستان په تله كې د وزن زياتولوهڅه وكړه اود طالبانوخبرې له افغان حكومت سره بې پايلې پای ته ورسېدې .

همداسې پاكستان خپلواستخباراتي ملايانو( مولانا فضل الرحمن ، مولانا سميع الحق اومولانا طاهر) ته دستوروركړچې په افغانستان كې د ځانمرګي بريدونواوجهاد د روا والي او په پاكستان كې د ناروا والي يوطرفه فتوا وركړي . خوپرضد يې په زرګونوافغان علماء د كابل په لويه خيمه كې سره را ټول او په ښكاره نصوصو يې د افغانستان جګړه ناروا او مردوده ثابته كړه او په عين زمان كې يې د پاكستان له علماء وو سره ګډه ناسته اومناظره وكړه او پاكستاني ملايان يې پردې باندې قانع كړل چې د افغانستان جګړه جهاد نه بلكې يومردود جنګ دی .

ترهغې را وروسته كابل ته د اندونيزيا د جمهور رئيس له راتګ وروسته د ياد هېواد د جمهور رئيس په بلنه اندونيزيا ته د افغانستان ، پاكستان او اندونيزيا علماء ور وغوښتل شول او په ګډه يې په افغانستان كې روانه جګړه د اعلاميې په خپرولوسره ناروا ورور وژنه وبلله ، خود افغانستان په جګړه كې ښكېلو استخباراتي اړخونو په اندونيزياكې د علماء وو ددې غونډې په غبرګون كې چاودنې وكړې او دا يې وښودله چې جنګ بايد په افغانستان كې همداسې دوام پيدا كړي .

له بلې خوا افغان وسله والو طالبانو په اندونېزیا کې د علماء وو په غونډه کې ورغلوعلماء ووته د نه ګډون خبرداری ورکړ، اوهم يې ګوت څنډنه ورته وکړه چې افغان جګړه دې نه تحريموي ، زموږجګړې ته دې جهاد اوځانمرګو ته دې فدائيان ووايي ، په داسې حال کې چې ځان وژنه په قطعي توګه د اسلام په هېڅ متن او شرح کې نه شته . له همدې امله په ننګرهارکې د علماء وو د شورا رئيس د مزدورو طالبانو له خوا په شهادت ورسېد .

بل لورته پاکستان طالبان له همغه روسانوسره په يوه ميزباندې ځوځوځلي کښېنول چې په کلونوکلونويي افغان مجاهدين اوهمدغه طالبان په وړاندې جنګېدلي وو. روسانود ايران له لارې طالبانوته وسلې ورکولې چې موږ يې ښکاره بيلګې د فراه اوهلمند وروستي بريدونه په ګوته کولی شو . څه موده وړاندې ازبکستان د افغان سولې په تړاوکوربه هېواد ؤ ، خوطالبانو په هغه غونډه کې د پاکستان په اشاره ګډون ونه کړ. ترکمنستان هم ځوځلي د افغانستان د سولې په اړه هڅې کړې دي .خوطالبانومنفي غبرګون ښوولی او پلمه يې يوازې همدا وه چې بهرني ځواکونه دې له افغانستانه ووځي ، خو په اصل کې ددوی په خوله دا د پاکستان غوښتنه وه ، ځکه چې که بهرني ځواکونه په داسې حالت کې له افغانستان څخه ووځي ، نو پاکستان لکه د پخوا په څېرپه آسانی سره کولی شي افغانستان يوځل بيا ونيسي . خو دا د پاکستان هسې يوخوب دئ چې ليدلی يې دئ ، ځکه افغانستان اوس هغه د رباني اوطالبانود وخت افغانستان نه دئ چې افغانان په خپلوکې سره وجنګوي او( آی اس آی ) حکومت ورباندې وکړي . اوس افغانان تربل هروخت خپل دښمنان اوخپل دوستان ښه وپېژندل . ځکه پاکستان همدا اوس د افغانانود سولې د کاروان د برحق غږ په وړاندې منفي غبرګونونه ښيي اومزدورطالبان دې ته هڅوي چې ووايي ګواکي دا د امريکايانوپه دستوريوحرکت دئ . خود انګليسانو په لارښوونه خپل منا فقانه حرکتونه بيا له پامه غورځوي .

خلورم : ـــ آيا په افغانستان کې د افغانانو په وړاندې روانه جګړه روا ده ، که ناروا ؟

اوس چې د مکي مکرمي سترامام الشيخ عبد الرحمن السديس د مکې له ممبره د افغانستان جګړه حرامه و بلله اود سعودي د حکومت له خوا د اسلامي نړۍ د بهرنيوچارود وزيرانو له پرېکړې سره سم د نړۍ په سطح د اسلامي هېوادونودعلماء وويوه لويه غونډه را د سه شنبې په ورځ را وبلل شوه اوپه هغه غونډه کې په ژوندۍ بڼه را بلل شووعلماء وود اسلامي متونواواسلامی شريعت له مخې د افغانستان د جګړې پرحرام والي باندې مؤجه دلايل وړاندې کړل ، داسې ښکاري چې وروستۍ متفقه فتوا به هم پرې صادره کړي ، نو پاکستان افغان طالبان هڅولي چې ورته ووايي ددوی د جګړې په اړه د اسلامي نړۍ علماء بايد منفي فتوا ورنه کړي . خووروسته له دې فتوا به څرګنده شي چې پاکستان اوملاتړي يې د خپلوشوموګټومونډلوله پاره څومره د اسلام او افغانستان پرضد ګامونه اخلي . اوس خوامريکي اود اسلامي نړۍ (۳۷) هېوادو په ګډه په افغانستان کې ددغي نارواجګړې د ختمولو او سولې راتلو په تړاوژمنې کړې او ويلي يې دي چې موږ د افغانستان د حکومت ددريځ ملاتړي يو، او په بروکسل کې د ناټود وزيرانو غونډه هم د افغان سولې په اړه روانه ده چې جمهور رئيس غني هم هغې غونډې ته وربلل شوی .

پايله :

که چېرته ناټواود سيمې هېوادونه په ريښتيا غواړي چې په افغانستان کې دغه ناروا پردۍ جګړې ته د پای ټکی کېښودل شي ، نو بايد د جهان اسلان د علماءوو د فتوا ملاتړ او ننګه وکړي ، ترشايي ټينګ ودرېږي ، پرپاکستان دې له ديني ، فزيکي ، سياسي او اقتصادي اړخونو فشارونه ور زيات کړي ترڅو لومړی په افغانستان کې ريښتيني سوله منځه ته را شي طالبان دې د پاکستان له منګولو وژغوري ، او بين الافغاني سولې ته يې دې اړکړي ، ترڅو په

افغانستان کې سوله اوثبات ټينګ شي ، ځکه په افغانستان کې سوله په حقيقت کې په سيمه او نړۍ کې د سولې او ثبات په مانا ده . او په افغانستان کې جګړه او نا امني په اصل کې په سيمه او نړۍ کې د جګړې او نا امنيو په مانا ده .

افغانستان د ټولې سيمې اوټولې نړۍ له پاره هم د امن او اړيکوټينګولو دروازه ده اوهم د نا امنيو او بې ثباتيو خزانه . اوس به معلومه شي چې څوک د افغان سولې ملاتړي دي اوڅوک د افغانستان بې ثباتي غواړي ؟! دا ګز، اودا ميدان !

د افغانستان سوله اود جګړې د د وام ډيزاينونه

د انساني ځوځات هستي له پيله د خپل فطرت له مخې له سولې اواخ وډب سره جوخت منځ ته راغلی ، چې کله اخ وډب همدغه انسان د خپل قهراوغُصې له امله د مرګ ژوبلودهړَم مُتکبرې څوکې ته ورخېژولی اوله پاسه د خپل طغيان اوسرکشۍ غيرانساني فرمانونه يې ترهړَم لاندې د نورولوېد ليودلاځپلوپه موخه صادرکړي اود انسان د امن ځالې يې د تلپاتې بد يوامېرڅيوپه سنګرورته بدلې کړي دي ، خوکله يې بيا هم د خپلې انساني عاطفې اووجيبې له مخې انسان د انسان لاس نيوی کړی ، پرځمکه پراته انسانان يې له ځانه سره را پورته کړي ، لاره يې ورښوولې اود سولې په ډاډمنه ټولنه کې يې د يوبل انساني اړتيا وو پوره کولوته په صداقت سره اوږه ورکړې اومجبوراوبېوزله انسان يې د استثمارګرانسان له بنډ اوګُلنډ څخه پرې خلاص کړی دئ .

داسې انسانانوپه ګډه د استکباراوظلم زورلاسونه د خپل ملي يووالي د مټ په زورورلنډ کړي اوخپل هويت يې ژوندی اوخوندي پرې ساتلی دئ .

اوس که چېرته ژوند په ريښتيا سره د انسان خپل خدای ورکړی حق وي نود افغانستان خلک خوهم څه د مريخ يا کوم بل ستوريز  نظام څخه نه دي راغلي ، که جغرافيه يې له نوروسيمواوهېوادوڅخه (۵۰۰۰) کاله وړاندې بېله شوې ده ، نود ځمکې پرمخ د آسيا د لويې وچې په زړه کې خوافغانان د انساني اړيکوله مخې له نورو سره په انساني ، کلتوري ، د ينې او نورو مشترکاتو کې شريک دي چې بايد سيمه اونړۍ ورته درناوی ولري ، ځکه انسانان د رغنده روابطوله مخې يوله بل سره خپل ژوند په ګډه د عروج اوتکامل د پخو پړاوونوپرخوا بيولی شي ، خودا يو اصل دئ چې د انساني اړيکوتارونه هغه مهال يوله بل سره غړل کېږي چې انسان د انسان ترڅنګ خپل باوراواعتبارد تلپاتې د وستۍ په خاطرپوخ ، يقيني اوپه عمل کې يوبل ته خپل علم يقين په عين اليقين باندې ثابت کړي ، ترڅوريښتيني سوله يې په ريښتيني تلپاتې دوستۍ بدله شي .

ځکه انسان د ځمکې پرمخ د انساني نظام جوړولواوچلولوله پاره پردووشرطونومنځ ته را غلی چې بايد د خپلې فريضې او وجيبې له مخې يې عملي کړي :

لومړی : حقوق الله .

دوهم : حقوق العباد .

په حق الله کې د هرمکلف انسان رابطه په عباداتوکې له خپل رب (ج) سره ده ، خوپه معاملاتوکې بیا د انسان رابطه له انسان سره ده چې د انساني ژوند د کړنلارې اصلي محورهمدغه دوې رابطې تشکیلوي . که هرچا د حق الله اوحقوق العبادوترمنځ د روابطوعادلانه تعادل برقراروساتلو ، همغه کس د ځمکې پرمخ ستراو بر یالی سیاستمداردئ .ځکه انساني سیاست همدې ته ویل کیږي چې سړی د حق الله اوحقوق العبادوترمنځ متعادله اواندولیزه رابطه برقراره وساتلی شي .

انسان د فاني نړۍ د ژوندانه په دغه آزموینتي ډګرکې د همدې دووټکوپه محدود شوي محورباندې را څرخېدلی دئ چې که څوک په دې کارکې بریالي شول ، هغه به د ټولې هستۍ د خالق اود سیمې اونړۍ د ټولوخلکوملاتړله ځانه سره ولري ، اوکه په کې ناکام را ووتل ، له هغوی سره به د خدایتعالی اود خدایتعالی د بنده ګان حساب کتاب حتمي وي .ځکه حق الله اوحقوق العباد دواړه داسې سپېڅلي حقوق دي چې خائن ته په کې پرته له عذاب څخه د اجراوبدلې بل هېڅ بدیل نه لیدل کیږي .

افغانستان د آسیا په زړه کې د ځمکې پرمخ یوه منل شوې لرغوني تاریخي متمد نه جغرافیه ده چې تر(۵۰۰۰) کلونوزیات قدامت اوتاریخي مخینه ، جیوجغرافیک ، جیوپولیتیک ، اوسترا تیژیک موقعیت ، پرېمانه خوږې اوبه ، په واوروا وځنګلونوپټې سردرې ، طبیعي ژوندۍ منظرې ، اود کانونوشتمنې اومړې زېرمې لري چې د نړیوالوپام یې ځانته وراړولی دئ .

خوپه افغانستان کې مېشتووروڼوقومونوته داحق الله (ج) اوالله (ج) رسول (ص) ورفېرزوکړی دئ ، ځکه د الله (ج) پیغمبر(ص) فرمایلي دي : (المرعی لِاقرب القُراء) یعنې مرعی یا مالچراود هغه ګټه هم د هغه چاده چې طبیعي ضرریا تاوان یې همغه کلي ته متوجه اویا د کلي خلکوپه خپل لاس هغه دښتې اوشاړې د خپل ژوند په اوږدوکې را ژوندۍ کړې اوپرهغه ځمکه باندې د خپل تاریخي قدامت له مخې هستوګن اویا له خپلوپلرونواونیکونوڅخه په میراث ورپاتې وي . خوداسې هم نه شي کېدلی چې ورځ تربلې د کلي د نفوس له ډېرېدوسره د کلي اوسېدونکې خپله په یاده مرعی کې سره خواره واره شي اونورې اړوندې سیمې اوځمکې آبادې اوژوندۍ کړي ، وروسته بیا نورپردي غاصبین پرې را پاڅي اوددې کلي د پنځېد لیوکورنیوپرسینه باندې د خپلواستعماري اواستثماري شوموااهدافوپه خاطرنامعقول اوغیرانساني وېش بنداود بېلتون خط پرې را کش کړي. ځمکې ، کورونه اوکورنۍ سره بېلې کړي . پلاراو زوی یوې خواته ، موراو لوربلې خواته ، یو وروریوې خواته اوبل وروربلې خواته د شرمښ د وېش له مخې داسې سره بېل او ووېشي چې پرته له رسمي ویزې هېڅکه یود بل په غم اوښادۍ کې سره یوځای نه شي .

افغانستان زموږ ټولومېشتوقومونوته د همداسې یوه کلي حیثیت لري ، خومتأ سفانه چې پا کستان ، ایران اوزموږځینوشمالي ګاونډ یانود وخت دغاصبواویرغلګروزبرځواکونوله خوا د خپلوتروخت تېرو محدوده قراردادي تړونونوڅخه پرسؤاستفادې سره پردۍ بې تعریفه نیابتي جګړې پرموږ باندې را وتپلې ، هرکس اوناکس ددې سپېڅلې تاریخي خاورې ځمکني اوقضآئیي حریم اونوروملي اود یني ارزښتونوته په سپکه سترګه کتلي ، هغه یې ترخپلوباروتي پښولاندې کړي، زر، زواوتزویریې پرموږ باندې حاکم سا تلی .

د هرډول وارداتي کورنيواوبهرنيوفشارونو، نا امنيو، مرګ ژوبلو، تهديدونو،چور، غلاګانو، اختلاسونو، رشوتونو، نابرابريو، محروميتونو، بېکاريواوټولوانساني ناورينونوونده يي زمونږ بې دفاع ملت ته ورکړې اود واک پرګديوبيا ددوی خپل منځ کي مسابقې رواني دي چي ځاني اومالي ټولې قرباني يې بيا د بې د فاع ملت پراوږو وربارکړې دي د برده ګی اواسارت ژغ يي پراوږو وراېښی ، واک اختيار يي ترې اخيستی ، د سياسي نظام تنفس اوتغذيه يي د بخورونميرپرخپل محدود اومشروط اقتصاد باندې روان ساتلی چي همدې ته د استعمارد زاويي له کنجه د انساني باځريته غوښتنوخلاف بد لون ، تغير، تحول ، تمدن اوپرمختګ وايي .

راځئ چي په ډانګ ببيلې اوسپيني خبرې په دې اړه در سره شريکي کړم !

ګرانوهېواد والو ! کله چي برتانوي توراستعمارپه لومړي ، دويم اودريم ځل زمونږ پرځمکني حريم باندې له مختلفوخواوڅخه د کورنيو دېن پلورونکو په پلمه يرغلونه پيل کړل ، اودري ځلې يې د افغانانوله خوا ماتې وخوړله ، خپلواکي يې په زورترې ترلاسه کړه ، نوبيا ددوی حاجت د آجت څه ؤچي خپلواک ملي نهضتونه اوملي څېرې يي يوپربل پسي د مختلفوز هري لاروڅخه له منځه وپوړې ، انګرېزانو خپل غچ له دې لارې له افغانانو څخه واخيست چي د ملي شخصيتونو پرځای يي بودنه بازان اوداسې کسان د روسانوپه توافق اود فرانسي په وساطت واک ته راوستل چي پوره (۴۴)کاله يي دا ملت د فقر، بېوسی اوغُربت په تبه کي همداسي بيده پرې وساته .

روسانوله دې فرصت څخه ګټه پورته کړه اود يتيم ملت سرپرستي هغه پلا تزاري روسانوپرغاړه واخيستله. د فرهنګي ، نظامي او سياسي اړيکوغرضي تارونه يي دومره ورسره وغړل چي آن دديمکراسی ترلسيزې يې ځانونه ورته را لنډ کړل . دديمکراسی د لسيزې پيل د افغانستان د شاهي نظام د زوال پېلامه اوپای يي د يحيی د کورنی (۴۹) کلن واک ته په سپينواوسروکودتاووسره د پای ټکی اېښودل وو.

په څنګ کي ورسره غرب هم آرام نه ؤ ناست، ځکه چي په پاکستان کې يي پرسقاوي پاڅون سربېره د امريکي د استخباراتو( سي آی اې ) د پخواني رئيس په قول له تېرو(۵۵) کالورا په ايسته د بنو، مردان ، شبقدر، اکوړه ختک ، پينډی ، ملتان ، لاهور، کراچۍ اوکويټې لويې مدرسي اودهغوی مهتممين په اقتصادي لحاظ تويلول چي دادي له (۵۵) کالووروسته يي له هغوی څخه په ځانمرګي بريدونو، په افغانستان کي د جهاد د رواوالي اوپه پاکستان کي د جهاد د ناروا والي په تړاود فتواګانوورکولوپه توګه کاراخيست چي هم يې اصيل جهاد اوټول جهادي ارزښتونه اومجاهدين پرې بدنام اوله منځه وېوړل اوهم يي ځانته د خپلې پوځي مداخلې اوحضورزمينه پرې برابره کړه .

ورسره جوخت ايران ، پاکستان ، تاجکستان اوروسيه هم آرام نه وو ناست اوهريوه په خپل نوبت پرته له څه ډيل اوځنډه په افغانستان کي خپلې ناروا ګوتي وهلې چي د ټولو اصلي تارګېټ په ټول افغانستان کي يوازې د پښتانه اود هېواد نوربې دفاع هغه افغانان ځېل وو اودي چي د روس ، ايران ، پاکستان اوتاجکستان مزدوري يي نه ده منلې .

نه يوازې دا چي پښتانه اود استعماري کړيوضد خلک يي وځپل ، بلکي له سياسي ، پوځي ، تعليمي ، اقتصادي واک اوټولوخدای ورکړيوحقوقوڅخه يې هم دومره ايساراو ليرې ساتلي چي د قلم اوبيان د آزادۍ حق يې هم ورڅخه اخيستی دئ .ځکه پرهمغوسيمودغه پردۍ تېل شوې جګړه روانه ده چي هلته پښتانه پراته دي ترڅوپه ټول ټاکنوکي برخه وانه خلي ، واک ته د نه رسېدو په موخه په لړه کيو کي وشمېرل شي ، ماشومان يي له تعليم څخه ليرې او وروسته پاتې شي ، کډه کېدوته اړشي ، د پرديوغلامۍ ، مزدوری اوانتحاري بريدونوته مجبورشي ، ترڅونړيواله بد

نامي ورپه غاړه اوجګړه وربانديږ دوام پيدا کړي اوخاوره اوکورونه يې په پرديوبانديږ وپلوري ، بې هويته يې کړي اوپه ژوند يې د نابودئ اونېستئ فاتحه واخلي .

په افغانستان کې د جګړې پروژه په راتلونکي پسرلي کې (څلوېښتم) کال ته داخلېږي، لس کاله کم نيمه پېړئ د افغانستان په جغرافيه کې پردی اوربل دئ ، مالي اوځاني قرباني اوتاوانونه يې د افغانانوپه برخه رسېد لي ، خوګټې يې ټولي څکه په جګړه کې د ښکېلوخواوودي چې هغوی خپلې ګټې د افغانستان اوافغانانوپه مرګ ژوبلوکي ګوري ، پرافغانانو بانديږ له دې حالت څخه خوندونه اخلي اوپردی غم ورته نيم اخترښکاري .

د پخواني شوروي اتحاد په مشرئ وارسا نيواکګرې اوغاصبې ټلوالي د برېژنېف په قوامانده پرافغانستان بانديږ د ځمکې اوهوا له لارې د نړيوالونورمونواو کنونسيونونوخلاف برېد وکړ، لس کاله يې په مېليونونوعامه وژنې اومرګ ژوبلې په کې وکړې ، په ټول هېواد کې يې پرسونل ضد ماينونه وکرل ، خواېل يې نه کړل ، چې بالآخره خپل ډېرمشران يې له لاسه په کې ور کړل اوله امريکايي چاروا کوسره ترسلاوشوروروسته وتوته اړشول .

روسان ولاړل ، خولاسوهنې يې لاهم په افغانستان کې څکه دوام لري چې له يوې خوايې د ډاکټرنجيب الله اومجاهدينوترمنځ هغه شوی توافق د کودتا له لارې ناکام کړچې په کې لومړی په مسالمت آمېزه توګه يوې مؤقتې ادارې ته د واک ورسپارلو، ورپسې دعبوري ادارې د جوړېدواوبيادشفافواوسالموانتخاباتودترسره کېدوپرسرهوکړه شوې وه اودالاسوهنه څکه روسانووکړه چې پرمټ يې د مجاهدينوترمنځ خپلمنځي جګړې پرې پيل اوله روسانوڅخه د مجاهدينولاس ته ورغلې وسلې اومهمات پرې تباه اوبرباد کړي چې د غرب اوشرق په دې پلان کې د پاکستان ، ايران ، تاجکستان اونوروغربيانوهم لاس ؤ، څکه هغوی اود افغانستان ګاونډيانويوه يې هم د افغانستان هغه پروسلواومهماتوترېښېنګ شوي مسلح شل مېليونه وسله وال ملت تريوه ملي قيادت لاندې هېچا هم نه شوای زغملای ، څکه روسانواوغرب په ګډه لومړی د جګړې دا پروژه د افغانستان په داخل کې د پخوانيو چپيانو په ملاترېوازې يوې ورې کړئ اوپاکستان اوايران ته وسپارله. د سعودي اونوروعربانوهم په کې برلاس ؤ.

روسانوخپل پلويان د تفرق اوجنګ جګړوخواته هڅول . ايرن اوتاجکستان يې په مذهبي ، سياسي ، ترمينالوژيکي ، ژبني ، سمتي او توکمي سيستمونوبانديږ ګوتې وروهلې چې همدا اوس هم د نفاق اوتفرق بد بوی اودود ترې پورته کېږي .د پاکستان د منافقت کيلي خوپه لندن ، کاناډا اوامريکه کې ده چې لومړی يې طالب اوورپسې يې د القاعده اوپه دې وروستيوکې يې د تروريزم اوداعش په نومونوپروژې په اجاره ترې ونيولې ، يادودولتوپلانونه اوپيسې ورکولې اوپاکستان يې اوپراتيفي دندې پرغاړه اخيستې وې . خو په افغانستان کې د جګړې ددوام ډول ډول ډيزاينونه اونقشې په لندن ، واشنګټن، تورنتو، مسکو، پيکېنګ ، اسلام آباد ، تهران ، سعودي عرب اودوحه کې ورته جوړېږي .

اوس چې د دغې بې تعريفه پردئ نيابتي جګړې تاکتيک ورځ تربلې سره پېچلی ، طرا حان يې بربنډ اورسواکېږي اوله بلې خوا د نوموړې جګړې دونران اوتمويلوونکي په افغانستان اوسيمه کې خپلواصلي موخوته ورلنډ شوي اوپرپاکستان بانديږ خپل مصارف بېځايه ګڼي ، نوله يوې خوايې د جګړې دانه پرپاکستان بانديږ ودروله اوله بل لورې په پاکستان کې د ترهګروډلومخ بلې خواته کول غواړي .

خوپاکستان چې له تېرو(۳۹) کالورا په ايسته يې په افغانستان کې د جګړې د اورتودولوپه ژرنده د نفاق اوبه ور زياتولې اواوس دا خوا ورته ګټه نه لري ، اوس يې له چين څخه د امريکې دوه برابره (60) ميليارده ډالره پيسې واخيستې ، غواړي پردې سره له امريکې څخه په افغانستان کې نورامتيازات واخلي .

امريکې چې خپلوپوځيانوته په پاکستان او افغانستان کې د ترهګرو په پټن ځايونو باندې د بريدونوامرکړی افغانانودده دا امرپه نېک پال نيولی ، خولاهم څرګنده نه ده چې امريکه به پرخپل سترا تيژيک ملګري څه ډول اوڅه وخت بريد وکړي ؟ آياپه ريښتيا به پاکستان د ترهګرو له ملاتړه پرې را وګرځوي که څه ؟ په داسې حال کې چې پاکستان لا پخوا د افغانستان پرستراتېژيک عمق ، اوبواو ډېورنډ کرښې خپلولوباندې کارکړی ، پرسرحدي سيموپوځي يرغلونه کوي ، په ښارونوکې ځانمرګي بريدونه ترسره کوي ، ناقانونه دروازې جوړوي ،خندقونه کيندي، د اوبوپرسرچينوتوغنديزبريدونه کوي اوسيمي کټارې لګوي ، خود امريکې په مشرۍ نړيوال ائتلاف پاکستان ته د(۱۷) کلنوتېرېواولاسوهنو ونوپه تړاوخوشې خپل غوږ هم ونه ګراوه او ويل به يې چې دا د افغانانوخپل کاردي دا زموږ مأموريت نه دئ .

يوه نيمه مياشت وړاندې يې بيا وويل چې هرڅوک هرچېرې زموږګټې وګواښي موږ يې مخه نيسو.

اوس چې پاکستان پرانګليس سربېره له چين ، روسيې ، اونوروهېوادوسره تازه يارانې پيل کړې دي ، آيا امريکه به پرته له خپلوګټوڅخه د افغانستان ترڅنګ ودرېږي ؟ اوس خوداسې معلومېږي چې په اوسنۍ لوبه کې له افغانستان څخه د بُزکشۍ څاروی جوړشوی ، هرسړی غواړي د خپلوګټوخوندي کېدوله پاره ځان د هلال تردايرې پورې پرې ورسوي ، نوريې په کيسه کې هم نه دي چې دا خاوره د چاپندازانوپه لاسوکې د هلال تردايرې پورې سلامته اوبشپړه رسېږي او يا ددوی د آسانوترباروتي لتولاندې ټوټې ټوټې کېږي ؟

خوخپله افغانانوپه تېره سياسيونوته زما دا خواست دئ چې په داسې حال کې دې دوی ټول پريو ه ملي محورسره راټول اوځان ځاني او ملوک الطوائفي دې پرېږدي ، خپل نظام او خپل ملي يووالی دې خپله وساتي ، ملت يې ترشا ملاتړلی ولاړدئ ، ترڅو نړيوال پر دې باندې پوه شي چې دا ملت اودا خاوره لا يتجزا ده . همدلته به زموږ مشروعيت اوقانونيت ته نوره نړۍ سلامي ووهي اوله قانونی اړخونوبه نړۍ د آسيا له همدې زړه څخه سره و تړل شي . هم به زموږ زېرمې خوندي شي اوهم به په چټکۍ سره د خود کفا کېدو پر خوا ګامونه پورته کړو . هو ! له ټولورا پېښنو بدمرغيو څخه زموږ د تجات لاره همداده .

دوهم فصل

انساني ژوند ـ سوله اوشخړې:

انساني ژوند په اصل کې په سوله سره پیل شوی دئ . په انساني څوځات کې د انسان کلمه له ( انس او الفت ) څخه اخیستل شوې ، چې په هغې کې د بدئ کلمه له سره ځای نه لري . ځکه انسانانو په پیل کې د یوه امت په توګه ګډ ژوند سره کاوه . دوی په عادي ډول د ژوند ټولې ور پیښې ستونزې له یو بل سره په خورا درناوي ، خبروکولو ، یو بل ته غوږ ایښودلو او له یو بل سره په مرسته کولو سره حل کولې . خو دې حالت دوام ونه کړ . څومره چې دوی سره ډیرېدل او پنځېدل ، ددوی په اړیکو کې د عُدول او انحراف له مخې اختلافاتوځان را څرګند او ځالي یې په کې جوړې کړې . ددې اختلافاتو بنسټ د مسایلو او ستونزو په هکله له یو بل سره د انساني تصوراتو د سم او ناسم قرائت تر مینځ تو پیرونه وو . له همدې سببه د انسانانو تر مینځ اختلافات را وټو کېدل او له اختلافاتو سره د تعامل او برخورد په نتیجه کې د ریښتیني سولې راتلو له پاره تر ابوالبشر حضرت آدم (ع) راوروسته هم نور پیغمبران ( علیهم السلام ) د وخت له اړتیا سره جوخت د نبوت او رسالت پرالهي منصب باندې مبعوث شول .

که موږ او تاسې خپل ژوند ته په حال او تېره ماضي کې په ژوره توګه پاملرنه وکړو ، وبه ګورو چې په کور ، کلي ، ښوونځی ، دفتر، کار روزګار، او اړیکو کې فعال ګډون به موږ او تاسې خامخا د نظریاتو د توپیر او اختلافاتو په صورت کې له شخړو او دعواوو سره مخ کړي . په ټولنیزو اړیکوکې د انسانانوتر مینځ د اختلاف ، شخړې او دعوی پېښېدل یوڅرګند حقیقت او د یوې فعالې ټولنې ښکاره خصوصیت دئ . موږ پردې باوري یوچې انساني ژوند په سوله سره پیل شوی او د نظریاتو اختلاف او شخړې هم له انساني ژوند سره ژورې اړیکې لري . له همدې امله موږ د انساني تاریخ په اوږدوکې د سولې، اختلاف ، او له اختلاف سره د انساني تعامل دکړنلارواو پایلو روښانه انځورونه وینو . انسانانو له دې سره سره چې له شخړو سره یې د ټکر او تصادم په صورت کې ډېر ځلې جګړه ییزې لارې غوره کړې او زیاتې ورانی یې په بشري پېښلیک په سینه کې ثبت کړې دي ، خو بیا هم پر دې توانېدلي چې خپل مینځي نسبي سوله وساتي . اولاهم د شخړو د سوله ییز حل او سوله ساتنې له پاره په کوښښ لګیادي . که چېرې انسانانو خپل مینځي شخړې سره حل کړې نه وای ، هغوی به اوس د ځمکې پرمخ د ژوند کولو خپل قابلیت له لاسه ورکړی ؤ .

داچې !

- اختلاف ، منازعه یا شخړه څنګه مینځ ته راځي ؟
- کله چې یوه شخړه پېښه شي ، په انساني ذهنونو ، کړو وړو ، او اړیکو کې کوم بدلونونه رامینځ ته کېږي ؟
- کوم څیزونه د منازعې د زور زیاتي او دوام سبب جوړېږي ؟
- کوم څیزونه په نارمل او سوله ییز حالت کې موجود ، خو د شخړو پر مهال بیا نه تر سترګو کېږي ؟
- کوم عوامل د شخړو د آسانه حل مخنیوی کوي ؟
- کوم څیزونه د شخړو د آسانه حل سبب کېږي ؟
- شخړې څنګه اداره ( مدیریت ) او په سوله ییزه توګه حل کېدای شي ؟
- د شخړو پر مهال څنګه کېدای شي شخړې مهار، له تاو تریخوالي ، تخریب ، زیانونو او جګړې څخه وساتل شي ؟
- له هغو فرصتونو څخه څنګه ګټه واخیستل شي چې شخړه یې د یوې ټولنې په اختیارکې له لاسه ورکوي ؟
- د ټولنیز سیستم او شخړو تر مینځ د اړیکو څرنګوالی څه ډول دئ ؟

- د منازعې د سوله ييز حل مهارتونه کوم او څنګه کارېدای شي ؟
- سوله څه ته وايي او څنګه يې رغولی او ساتلی شو ؟

پورته پوښتنو ته ځوابونه برابرول د يوې ټولنې د وګړو ، ټولنيزو ډلو او بنسټونو مسؤوليت او اړتيا ده .

که د يوې ټو لنې وګړي ، ډلې او بنسټيز جوړښتونه د نوموړې ټولنې اختلافات او منازعې په سوله ييزه توګه مديريت او حل کړي . نوموړې ټولنې به هېڅکله د ناو تريخوالي او جګړو ښکار نه شي . جګړې خپله منازعې او اختلافات نه شي حل کولای ، بلکې د خپل بهير په اوږدوکې به لکه د اوسنی تروريزم جګړه داسې نورې ستونزې هم را مينځته کړي چې د هغوی اداره کول او حل به په خپل وار له خپل کنټرول څخه ووځي او نورې سيمه ئيزې او نړيوالې ستونزې به ور سره را وټوکوي  او ټولنيز وضعيت به لا پسې خراب او پېچلی کړي .

که په ټولنه کې د شخړو د پېښېدو ، د هغو د څرنګوالي ، مديريت ، د سوله ييزو حل لارو چارو او مهارتونو د زده کړې او په کارولو اهميت ته پاملرنه و نه شي ، په نوموړې ټولنه کې به په پرله پسې توګه د ناحل شوو شخړو زور زياتې او د تاو تريخوالي بهير ته لاره هواره کړي . ډېری ساده اوکوچينی شخړې به په لويو جګړو سره واوړي او بيا به دا جګړې د اعرابو د جهالت ددورې د اوس او خزرج د قبيلو او يا د تورپوستانو او سورپوستانو په څېر په سوونوکلونه دوام کوي .

جګړې ډېرمصيبتونه، ناخوالي ، زيانونه ، ورانی ، ويجاړی  اوتباهی را مينځته کوي . ځکه جګړې د يوې ټولنې پرګنې په خپلوکې سره ويشي . او د وګړو ترمينځ د اعتماد فضأ له مينځه وړي . جګړې زور او پراختيا مومي ، وېرې اوترهې خپروي ، چې له امله يې لکه په ټوله اسلامي نړۍ کې پرديو مداخلو او لاسوهنوته د نورو لا وهنو لارې پرانيزي .

که يوه ټو لنه له دوامداره ناورين سره مخ او په جګړوکې ښکېل شي ، نو له داسې حالاتو څخه وتل او د سوله ييزې ټولنې جوړېدل بيا د چا کار دئ ؟ او دا کار به څرنګه تر سره کېږي ؟

ټو لنيزې شخړې يو ملي ناورين دئ او مخنيوی يې د ريښتيني سولې له لارې څخه کېدای شي . خو ملي سوله د حکومت ، ملت او مخالفينو يوګډ امانت او ستر مسؤوليت دئ چې بايد دا دين ادأ کړي .

په حقيقت کې د سولې  کار د هرې ټولنې په ټولو وګړو پورې اړه لري چې د لا ښه نظم له پاره يې د سولې مؤسسو ، ادارو اووګړو پراخه مؤثرو مشورو، بحثونو او منظم پلانيزه کارته اړتيا ده . د سولې مؤسسې ، وګړي اوډلې د پراخه مشورو له لارې کولای شي چې د مخالفو ډلوتر مينځ د مفاهمې ، مذاکرې او پخلاينې له پاره لارې پرانيزي . د سولې هڅې که له يوې خوا د سولې له پاره پراخ تعهد ، پوهې ، مهارتونو او ځيرکتيا ته اړتيا لري ، نو له بلې خوا د جګړو د ناخوالو څخه پند او عبرت اخيستو ته هم اړتيا شته . نوموړی تعهد ، تجربه او عبرت دوی ته ددې جرأت ورکوي څوپه جګړه کې ښکېلې متقابلې او سيالې خواوې سولې ته سره وهڅوي او له دوی سره د سولې په را وستو کې مرسته وکړي .

يا په بله ژبه :

ریښتیني سوله داسې عناصروته اړتیا لري چې علمي او جسمي دواړه ځواکونه په کې موجود وي . یعني علمي ځواک د سولې د بشپړ پېژندلو ، او جسمي ځواک د سولې د تطبیق او عملي کېدو له پاره په کې شتون ولري . که علمي ځواک اوکامل مهارتي سیرت اوحکمت ور سره نه وي ، د ښو او بدو تشخیص نه شي کولای . او که جسمي ځواک ( غټ ماغزه ) ورسره نه وي ، سالم مدیریت اوتطبیق نه شي کولی . یعنې د سولې خلک باید علماً او جسماً په ټوله معنا روغ کسان وي ، نه ناروغ . په دې اړه یومتل دئ چې وایي : **( تر کاڼي د بېزو کارنه دئ ) .**

یوه ټولنه د وګړو مجموعه ده . اود ټولنې هروګړی د یوه کارله پاره خدای پاک پیدا کړی .خوپه ټولنه کې د هر مثبت کار له پاره مکلف خلک مسؤول دي چې د خپل بصیرت ، درایت ، ټولنیزعلم ، عقل ، حکمت او خودکفا خپلواکې ارادې له مخې د خپلې ټولنې ژورو ته خپل پام ور واړوي او د ټولنې درد ونه او لومړیتوبونه په کې په نښه او وروسته د خپل تعقل او مشورې پربنسټ داسې عادلانه پرېکنده پرېکړه وکړي چې پا یله یې په ټل پاتې سوله او وروروګلوۍ بد له شي .

څرنګه چې د سولې او پخلاینې په کارکې ډېر ثوابونه او لوړ فضیلتونه شته ، نو لازمه ده چې په سوله کې د جانبینو زړونه په لاس راوړل شي . ځکه په دې اړه علامه اقبال څه ښه ویلي :

دل بد ست آرکه حج اکبراست + ازهزارکعبه یک دل بهتراست

له دې بیت څخه داسې ښکاري چې بني آدم ټول سره یو تن او یو وجود دي ، او وجود د بدن د ټولو غړیویوه نه بېلېدونکې مجموعه ده . که چېرې په دې بدن کې یوه ګوته ضرر ووینې ، ټولوجود ورسره درد کوي . نو ددې د پاره چې ټول وجود دغه درد محسوس نه کړي ، لازمه ده چې په ګډه د بني آدم له دې وجود څخه د ساتنې له پاره دفاع وکړو او پرې نه ږدو چې ټول آدمي ځوځات له ستونزو او نا آرامیو سره مخ شي . چې دا کارد انسانانو ترمینځ په یو والي ، خوښیواو نیکمرغه ټولنیزاو سوله ییز ژوند کې تر سره کېدای شي . ځکه الله تعالی سولې ته خیر ویلی او دا یې پر مسلمانانو باندې لازمه کړې چې په خپل مینځ ( کور ، کلي ، مدرسه ، مکتب ، دفتر ، ولسوالی ، ولایت ، هېواد ، سیمه او نړۍ ) کې د مسلمانانو تر مینځ سوله وکړي او له بدیو څخه خلک په لاس او ژبې سره منع کړي . که داسې کومه ډله په مسلمانانو کې نه وي ، نو اسلامي ټو لنه به له ډول ډول بدبختیو سره مخ شي .

د شخړې د سوله ییز حل او سولې را وستو له پاره ثالث بالخیر(مصلحینو) ته دا ضروري ده چې شخړه او سوله ښه سره وپېژني ، ګټې او زیانونه یې په ګوته کړي ، او د شخړو ، سولې ، تاو تریخوالي ، جګړو او روغې جوړې په اړه معلومات او مهارتونه ولري او خپلو مهارتونو ته پراختیا ورکړي .

د شخړې ( منازعې ) مفهوم

کله چې موږ د شخړو او سولې په اړه په کومه روزنیزه ناسته کې له ګډون کوونکو سره دا لاندې پوښتنه شریکول غواړو ، مجبوریو په کې ووایوچې :

کله تاسې د کومې منازعې یا شخړې نوم اورئ ، ستاسو په ذهن کې کوم ډول تصور رامینځته کېږي ؟ هغوی به خامخا زما ددې پوښتنې په ځواب کې ډول ډول ځوابونه ووايي او تبصرې به ور باندې وکړي . کېدای شي یو به یې داسې ووايي :

کله چې موږ د شخړې یا منازعې نوم اورو ، نو په اتوماتیک ډول زموږ په ذهنونوکې د تاوتریخوالي او جګړو ناولې څېره سر را پورته کوي او زموږ نه خوښېږي چې د شخړو او منازعو نوم واورو ....

که له دې وروسته بیا موږ همدا موضوع لږڅه ژوره وڅېړو، نوعلتونوته به یې په لاندې توګه خپل پام ور واړوو :

تاسې پوهېږئ چې ولې زموږ په ذهن کې د شخړو او منا زعو نوم له تاوتریخوالي اوجګړو سره تړل شوی دئ ؟ دا یو رو ښانه حقیقت او دلیل یې دا دئ چې زموږ په ټولنه کې له ډېرې شخړو سره په داسې او یا دېتهورته توګه چلند شوی اوکېږي . همغه شخړې د ناسم چال چلند په وجه بیا په تاو تریخوالي او جګړو بد لې شوې او زموږ د تاریخ زیاته برخه یې د شخړو او جګړو په داستانونو باندې ډکه کړې ده .

خوانسا نې ځوځات یوالهي مخلوق دئ چې ذاتاً د مینې او قهر دوې قوې الله تعالی په کې ځای پرځای کړې دي . مینه یې د ( رُ حماءُ بینهُم ) په خاطر، او قهر یې د تعقل د فیصلې پر اساس له خپل برحقه حق څخه د د فاع په خاطرد ټولو انساني حقوق العبا د و په رعا یتولو او تعمیل سره په کې ځای پرځای کړې دي . خو د قیقاً دغه دواړه قوې د حیوان صفته کارونو د تعمیل له پاره انسان ته نه دي ورکړشوي .

که چېرې دغه دواړه قوې ( مینه او قهر ) په انسان کې نه وای ، نو یو پر بل به یې ترحم او صله رحمي نه کوله . او که د غضب او شدت قوه خدای تعالی نه وای ورکړې ، نوبیا به یې د زور مندانو څخه نه خپل او نه هم د بل حق غوښتی شوای . ځکه خو اختلاف او شخړه په حقوقي مسایلو کې ذاتاً بده نه ده . ولې بیا هم کله چې زور مندان حق ته غاړه کېږدي نو بیا خو باید سوله ور سره وشي .

له شخړو سره زموږ تعامل اوکړه وړه په خپله شخړه تاو تریخوالي او یا سولې ته هڅوي . په دې خاطر دا په موږ پورې اړه لري چې له اختلاف او شخړې سره څه ډول چال چلند وکړو . له اختلاف او شخړو سره مناسب تعامل هغه وخت شونی دئ چې تعمیل یې پر عدل او قسط باندې ولاړ وي .

- موږ باید شخړه او سوله ښه سره پر تله او و پیژنو او د اختلاف ، شخړو او سولې له حالت سره سم د دیني ، انساني او اخلاقي اصولو رعایت په کې عملي کړو .
- د مناسبو وسایلو ( اسبابو ) د کاروني مهارتونه تر لاسه کړو .

که موږ شخړه او سوله سره وپیژنو او د شخړو د مدیریت ، حل او سولې جوړونې وسایلو ته پراختیا ورکړو ، بیا به د راتلونکو نسلونو له پاره د سولې ، امن ، ډاډ او له ویرونو څخه د خوندي ژوند لارې په کې روښانه شي .

هغوی به بیا په خپلو کې اختلاف ، شخړه او د عواوې په ژوره توګه تحلیلوي ، په حل لارو او بد لون کې به یې هڅه کوي او له تا و تریخوالي او جګړو څخه به یې ساتي . ځکه چې په بشري ټولنو کې داسي ، او دېته ور ته نورې پېښې بیا پېښېدونکې دي او راتلونکي نسلونه د تمهید په څېر له هغو څخه کار اخلي .

(اختلاف اومنازعه)

اختلاف په تصویري او ذهني کچه د ښکېلو خواوو ترمینځ د یوې موضوع په هکله ښکاره یا پټ توپیر ته وایي . پټ اړخ یې لومړی په ذهني ډول محسوسېږي . خوکله چې نوموړی توپیر د مخالفت په ډول را څرګند او په فعاله توګه په خوځښت را شي ، بیا نو هغې حالت ته منازعه ویل کېږي .

منازعه په لغت کې د نزعې ، ایستلو او له یو بل څخه د جلا کېدو په معنا ده . همدا رنګه ؛ ددوو شیانو له ټکر( تصادم ) ، سولولو ( مښلو ) او له هغه څخه د یو درېیم شي مینځته راوړل هم د منازعې په نوم سره یادېږي . په چینایي ژبه کې منازعه د خطر او برابر فرصت په معنا ده . ددې مفهوم دادئ چې که ښکېلې خواوې له منازعې سره په مناسبه توګه چلند وکړي د حل ، پیژندنې او نویو شیانو د را مینځته کېدو او را ښکاره کېدو فرصت له ځانه سره برابروي . که ذیدخلې خواوې له منازعې سره نا مناسب چلند وکړي ، نو متقابل لوري به له خطر سره مخ شي . اختلاف او منازعه په فکري لحاظ له یو بل څخه لیرې ښکاري ، خو په برخورد کې یو بل ته ډېرسره نږدې او د هغوی تر مینځ ډېر نږدې واټن شته . ځکه اختلاف او منازعه دواړه متحرک ، فعال او خوځنده خصوصیت لري .

تعریفونه :

- د دوویا زیاتو ډلو ترمینځ د دوو یا زیاتوموضوعاتوپرسرتوافق نه لرلوته اختلاف وایي .
- اختلاف د دوو خواوو د غوښتنو اوموخو ( اهدافو ) د نه موافقت اوتقابل څخه عبارت دئ .
- منازعه هغه غبرګون ( عکس العمل ) دئ چې متقابلې خواوې یې د یوې موضوع پرسرد مخالفت په توګه یو د بل په وړاندې څرګندوي .

په ټولنیزو اړیکو او ژوند کې اختلاف او منازعه د ژوند ډېر مهم واقعیتونه دي چې معمولاً د نویو مفکورو او پېښو د را مینځته کېدو سبب ګرځي . اختلاف ، منازعه او سوله د ژوند طبیعي برخې دي . خو تشدد اووسله وال مخالفت او جګړې بیا انتخابي دي چې تل د زورواکو له خوا پرکمزورو باندې تحمیلیږي . خو موږ عاقل او مکلف انسانان بیاکولای شو چې له تاوتریخوالي ،وسله وال تقابل او جګړو څخه ځانونه لیرې وساتو او یا لږ تر لږه د هغو مخنیوی وکړو . دا اړینه نه ده چې که اختلاف د نه موافقت او منازعه د تاو تریخوالي او جګړو سبب شي ، د د زیان پر ځای به د ګټې او یا د نویو شیانو د را مینځته کېدو سبب شي .

په بله وینا :

که له شخړو سره د تعامل په بهیرکې د شخړو د مخنیوي ، مدیریت ، حل اوبدلون مناسبووسایلو ، تګلارو ، انساني ارزښتونو اوګډوباورونو ( عقایدو ، وجیبو ، اخلاقو ، مسؤولیتونو ، ځانې کنټرول .... او نورو) ته درناوی وکړو، نه یوازې دا چې پر مټ به یې د تاو تریخوالي اوجګړو مخه ونیول شي ، بلکې زموږ پر مخ به د نویو فرصتونو ، لازیاتو پېژند نو ، حل لارو او بد لون د لارو چارو د پراختیا دروازې هم پرانېزي .

اختلاف د اصلاح له پاره :

اسلام د اصلاح له پاره اختلاف رحمت بللی . او د منازعې د سوله ییز حل له پاره یې مسلمانان دې ته هڅولي دي چې په فقهي او دیني مسائلو کې دې مسلمانان د منازعو یا شخړو د حل له پاره د الله تعالی او رسول الله (ص) لارښوونو ته مراجعه وکړي . ځکه چې که د اسلام د دین په متن اوشرح کې ددوی په وړاندې کوم څه مجهول اود ائمه وو فکر نه ور رسیږي ، کومه ستونزه اوغوټه یې مخې ته وي ، نو د هغې د خلاصون غورچاڼ د امت مسلمه په اجماع او قیاس سره هم تر سره کېدای شي . لکه څنګه چې تابعینو ، تبع تابعینواو مجتهدینو د امت په اجماع او قیاس سره شرحې او متن ته په کتو ځینې ګونګ مسا ئِل رو ښانه کړي دي . همداسې شرعي احکام هم له خپلو ځانګړنو سره سره راغلي ولې حکم یې ځکه عام دئ چې د ټول بشریت په وړاندې د تاریخ په هر پړاوکې پر ټولو باندې د تعمیل وړ دئ .

د اسلام په مبارک دین کې د ښکېلو خواوو له اختلاف سره د تعامل آداب او د حل معیارونه په پراخه توګه بیا ن شوي ، له هغوڅخه په ګټې اخیستو باندې امرشوی دئ . ددې معیارونواوآدابوهدف د اسلامي پخې ورور ولۍ ساتنه او همداسې له تاوتریخوالي ، دښمنیواوجګړوڅخه د مسلمانانواوټولو انسانانو ساتنه ده .

همدا رنګه له یووالي څخه د سر غړونې او غفلت پایلې هم په روښانه ډول بیان او له هغو څخه په کلکه توګه د ډډې کولو امر شوی دئ . ځکه چې مسلمانان په اسلام کې یو د بل ورونه بلل شوي ، اوکه تر مینځ یې کومه لانجه وي ، نو باید د مصلحینو ډله یې په عدالت او قسط سره تر مینځ روغه جوړه وکړي .

په اسلام کې مسلمانان په خپل مینځ ، له نورو انسانانو سره په اړیکو ، او له اختلاف سره د مجادلې پر وخت په فردي او ټولنیزه توګه په ډېره نېکه او ښه طریقه چې هغې ته د (بالّتي هی احسن ) الفاظ استعمال شوي ، مأمور شوي دي .

له همدې کبله مسلمانان مکلف دي چې له اختلاف سره د تعامل مهارتونه او د اخلاقي ارزښتونو زده کړې او رعايت د اسلامي ورور ولی د ساتنې او له نفاق څخه د مخنيوي په موخه عملي کړي .

د بېلګې په توګه :

که موږ خپله د اختلاف او شخړو د تعامل پر وخت د اسلامي ورور ولی او سوله ييزو اړيکو د ساتلو له پاره د حق او عدالت غوښتونکي شو ، يو بل ته غوږ شو ، او په درناوي او ريښتينې توګه د خپل ځان خپلې اړتياوې ښکاره کړو ، د انساني کرامت درناوی وکړو ، د ضرر رسولو او ضرر قبلولو له مخنيوي سره سره صبر ، حلم ، ايثار ، عفوه ، او سوله ييز ارزښتونه پياوړي کړو ، له بخيلی او حرص څخه ځانونه وساتو، پريوبل باندې لوړېينه او د يوبل اړتياوو ته په عملي توګه لاس رسی عملي وکړو ، له نفاق ، کينې ، لوړتيا غوښتنې( پربل باندې د ځان اوچت بللو ) ، د نورو د لا تحريکولو او .... څخه ځان وساتو ، نو ښکاره خبره ده چې اختلاف به په سوله ييزه توګه حل او بدلون به مينځته راشي او د شخړو ، تاو تريخوالي او جګړو مخه به پرې ونيول شي .

که چېرې اختلاف په شخړه باندې واوړي نو بيا هم نوموړی اختلاف او شخړه د مديريت ، حل او بدلون وړده . په دې حالت کې هم يو شمېرلارښوونو ، وړتياووا‌و مهارتونوته اړتيا ده چې د هغو مناسب کارونه به د تاو تريخوالي اوجګړو څخه مخنيوی وکړي .

له همدې کبله اړينه ده چې موږ مسلمانان بايد له يوې خوا د شخړود مديريت ، حل او بدلون په لار ښوونو ، وړتياوو ، زده کړو او په مناسبه توګه د هغوکارولو ته پراختيا ورکړو ، له بلې خوا له ټولنيزو شخړو سره د مناسبو تعاملاتو له پاره اغېزمنو سيستمونو( قوانينو ، لايحو ، پاليسيانو ، قضاء ، محکمي ، اقتصادي ، ټولنيزو او سياسي جوړښتونو د عامه خدماتو .... ) اصلاح او پراختيا ته اړتيا شته .

ترڅو له فساد څخه مخنيوی پرې وشي ، او عامه خدمات په ريښتيني ډول پراختيا ومومي . نوموړي موضوعات هغه مهم او اړين توکي دي چې له هغوڅخه غفلت او سرغړونه به په ټولنه کې تاو تريخوالي او جګړوته لاره هواره ، اوتل به يې جاري وساتي .

د تاريخ په اوږدو او اوسنۍ نړۍکې دا له ورايه ګورو، هغو ټولنو چې له اختلافاتو او شخړو سره يې په مناسبه او سوله ييزه توګه چلند کړی ، او د تاو تريخوالي او جګړو مخنيوي ته يې پاملرنه کړې ده ، هغوی د سولې او رغنده اړيکو دپراختيا پرخوا روانې دي .

که چېرې د اختلافاتو مخنيوی د سالم مديريت له مخې صورت ونه مومي ، نو بيا کېدای شي چې همدغه اختلافات په شخړه باندې واوړي . خوکه شخړه هم خپلسريو ته پرېښوول شي ، له هغې نه بيا منازعې سر راټوکوي . چې بلآخره منازعه په تاو تريخوالي او تاو تريخوالی په جګړو باندې بدلېږي ، خو جګړې بيا ورانی ، تباهی او بشري ستر ناورينونه او بې ثباتی له ځانه سره راوړي چې جبيره کول يې لسګونه او پېړۍ

کلونه وخت او غټې قربانۍ او بيې غواړي .

---

په اسلام کې ټول بشري ژوند د اسلام پر بنسټ [ الهي احکامو(امر او نهی) ، موعظو ، پند او حکمت ] سره پيل شوی . او مسلمانان له يو بل سره په سوله ييزو اړيکوکې د ورور ولی په ژوند کولو باندې مأمور شوي دي . په اسلام کې د

ژوند کولو ، یو والي ، ورور ولیٔ ، رغوني، ساتني اوځواکمن ملاتړ له پاره په ډاګه عقیدتي ارزښتونه او عملي مسؤولیتونه اووجیبي ټاکل شوې او له اختلاف سره د چال چلند د روښانه لارو ، دسپلین او د اخلاقي ارزښتونو رعایت ( په پام کې نیول ) اړین ګڼل شوي دي .

په اسلام کې اختلاف ددیني مسایلو د غور چاڼ له پاره رحمت بلل شوی دئ .

(( الله تعالی پر مسلمه امت باندې ددې رحمت او فېرزویني د دوام په اړه په تابعینو او تبع تابعینو کې داسې نخبه امامان پیدا کړل چې هغوی د الله تعالی دغه خوښ کړي دین ته د مستشرقینو تراستعدادونو لوړخدمتونه ترسره کړي دي . په دې اړه د امام بخاري رحمه الله علیه د هغو دیني کارنامویادونه کوم :

((هغه مهال نوموړي وروسته له (۱۲۰۰۰۰) احادیثو یادولو دری ورځې سر پر سر یوخوب ولیدلو چې د رسول الله (ص) پرقبرباندې ډول ډول حشرات را ټول وي ، او رسوالله (ص) امام بخاري رحمه الله علیه ته وایي چې دا حشرات له ماڅخه لیرې کړه ! امام بخاري رحمه الله علیه خپل دغه مکرر خوب خپل استاد ته ووایه . هغه هم دده د خوب د تعبیرپه اړه همدا مشوره ورکړه چې : له آنحضرت (ص) سره هر ډول خلکو ناسته پاسته کړې ، او تر رحلت وروسته د پیغمبر (ص) په احادیثو کې ډېرې لاسوهنې شوې دي . باید صحیح ترین او مستند ترین با اعتباره احادیث له مشکوکو او بې سنده احادیثو څخه بېل اوغورچاڼ شي . امام بخاري د همدغو احادیثو په غورچاڼ اوکره کولو باندې پیل وکړ او په بخاري شریف کې یې د مستندو احادیثو ټولګه اوغورچاڼ ترې را وایست . ځکه خونن له اصلي متن ( قرآن کریم ) څخه وروسته پر بخاري شریف ډېر ترکیز او ټینګارکېږي .

پر دې پسې بیا پینځه نورد احادیثو معتبرکتابونه د ( مسلم ، ترمېذي ، اوبو داؤد ، نسایْي او ابن ماجه ) په نومونو د وخت علماء وو ترتیب کړل ، لله الحمد چې اوس د مسلمه امت له پاره په دې اړه هېڅ ستونزه ، شک او شبهه نه شته . هرڅه رڼه دي .

د یهودو او نصاراوو ټول درواغ اوټولې توطیْې خنثی شوې . دوی په قرآن کې د تورات اوانجیل په څېرلاسوهنې نه شي کولی اونه خوله قرآن څخه اوسنی تېلمود او بایْیبل جوړولای شي . دوی چې په خپلو ټولو توطیؤ کې ناکام شي نو بیا یا قرآن کریم سوځوي ، یا یې د بشرد حقوقو ، دیموکراسۍ او د بیان د آزادۍ په پلمه د آیتونو بې دلیله ، او بې منطقه ړوند تردید کوي . او یا هم د سلمان رُشتي په څېر د آیات شیطاني په نوم کاریکاتورونه را باسي . خو پر دې سره دوی هېڅ هم نه شي کولی ، ځکه د قرآن او احادیثو حرف حرف پر خپل ځای قایْم او دایْم پاته دئ .))

ځکه د مسلمانانو تر مینځ هم د شخړې په حالت کې دغه د الله تعالی (ج) اوامرو اود رسول الله (ص) لارښوونو ته مراجعه شوې ، او په خپل مینځ کې پرسوله کولو باندې امر ورته شوی دئ . همدغه پیغمبري لار ښوونې او الهي اوامرد شخړو د مدیریت ، سوله ییز حل او بدلون له پاره بنستیزاصول دي چې په پاملرنه او تعمیل سره به یې د سولې په ساتنه او د جګړو او تاو تریخوالي په مخنیوي کې ډېره مرسته وکړي .

که شخړه تاو تریخوالي او جګړې ته داخله شي او ښکېلې خواوې ونه شي کولای چې خپلې شخړې سره حل او فصل کړي ، نو بیا د نورو مسلمانانو دا وجیبه او دنده ده چې د جګړې وضعیت په خورا دقت او ځیرکتیا سره په سولې سره واړوي . خو په دې ټولو فعالیتونوکې عدالت او انصاف د سولې د تأمین له پاره تر هر څه اړین بلل شوی . او عدالت او انصاف یوازې په اسلام او د اسلام په اصولي دین کې دئ ، نه په نورو لا دینه پرېکړوکې .

دلته یوه خبره په ډاګه کېږي چې د اختلافاتو او شخړو د سوله ییز حل له پاره په اسلام کې د وړ تیا وو د پیاوړتیا له پاره په پراخه توګه آسانتیاوې را مینځته شوې دي . همدا علت ؤ چې د لومړي دور مسلمانانو او د پیغمبر (ص) د مبارک ژوند په زمانه کې اختلافات او شخړې هېڅکله هم تاو تریخوالی ، او جګړې د سرو کرښو خواته نه دي رسېدلي .

آن تر دي چې د مکې مشرکینو به هم تر بعثت مخکې ، او له بعثت وروسته پر پیغمبر (ص) باندې خپلي فیصلي کولي او لانجې به یې ور باندې پرې کولې .ځکه هغه ته دوی خپله د امین لقب ورکړی ؤ . همد لته ده چې په سوله کې عدالت یو ستر امانت دئ ، چې باید وساتل شي . ځکه په اسلام کې د خپلمینځي شخړو ، تاو تریخوالي او جګړوبېخپوره رېښې او منابع یې له مینځه په کې ځي . او مسلمانان یې د ورور ولۍ ، عدالت ، انصاف او اخلاقي ارزښتونو په پام کې نیولو او تعمیل سره مأمورکړي دي .

تمرین:

کله چې د کومې موضوع په هکله ستاسې او کوم بل چا تر مینځ د نظر اختلاف را مینځ ته شي :

الف : څه ډول لومړی په منازعه او بیا په تاو تریخوالي باندې اوړي ؟

ب : تاسو د خپل ځان او مقابل لوري د اختلاف ، منازعې او تاو تریخوالي حالات د خپلواحساساتو او اړیکو د وضعیت بدلېدو په اړه تشریح کړئ ؟

د شخړې ( منازعې ) خصوصیت :

د ټولو انساني روېښونو او ارزښتونو ضد د افراط او تفریط توپیري چلند د شخړې اصلي لاملونه بلل کېږي . او

شخړه له توپیرونو ( تفاوتونو ) څخه مینځته را ځي . کله چې د خلکو او ډلو ترمینځ د ارزښتونو ، تصوراتو ، مفکورو ، غوښتنو او اړتیاوو خوځښتونه یو د بل په وړاندې په متقابله توګه سره مخ شي ، په خلکو او ډلو کې احساسات را وپاروي ، چې بیا دا احساسات د شخړو په توګه را ښکاره کېږي . شخړې د متقابلو تعاملاتو د ( ناسم چال چلند ) په بهیرکې له یوې مرحلې څخه بل پړاوته ور د ننه کېږي او په خپل وار سره د ذیدخلو ډلو تر مینځ د اړیکو د بدلون سبب کېږي .

شخړې په لاندې توګه ځینې خصوصیات لري :

- لکه څنګه چې هره شخړه( منازعه ) د نورو ژوندیو موجوداتو په څېر د پیدا کېدو ، ودې ، ځوانېدو ، زړېدو او فنا کېدو قابلت لري ، نو شخړې په خپل ذات کې د ژوند یو سعودي او نزولي دوران هم لري چې د ژوندیو موجوداتو د ژوند له دوران سره ډېر ور ته والی( مشابهت ) لري .

د بېلګې په توګه :

منازعه ( شخړه ) له اختلاف څخه را مینځته کېږي چې د رستم د لیندۍ په څېر سعودي او نزولي ګرافونه طی کوي ، خوځښت او تحرک پیدا کوي ، وړوکوالی یې په ځوانۍ او لوی والي باندې بدلېږي ، د اکمال او پخېدو پرخوا خپل آخرین معراج ته د ځان رسولو په تکل کې وي ، چې کله خپل هدف ته په کې رسېږي ، او کله هم په کې ځوانی ، هیجاني کېدو او تاو تریخوالي ته داخل ، خو کله هم په کې ځوانیمرګه او پسرلی یې نیمه خوا شي . ولې له معمول سره سم د ځوانۍ او پخېدو تر وروستي پړاو ورسته مخ پرځوړ زړښت مومي ، زړه او ورسته شي او د فناه کېدو پرخوا روانه شي او بیا په خپله له مینځه ځي . خوا کار په هغه صورت کې ممکن وي چې ټولنیزو اخلاقو د پیغمبري سیرت لاره خپله کړې وي .

ولې له بده مرغه د ځینو شخړو تخمونه د راتلونکو شخړو د پیلېدوعوامل جوړوي . **( ځینې شخړې لنډ ، او ځینې نورې یې بیا ډېر اوږد دوران لري . )**

ولې دا باید په یاد ولرو چې هره شخړه یوه ، یا څو سټې هم لري :

الف : لومړۍ سټه یې د فزیکي او رواني ناروغیو له کبله ناسم افهام او تفهیم دئ .

ب: دوهمه سټه یې د بېسوادۍ ، غریبۍ ، بې روزګارۍ او پرته له تعقل اوعلمي اساس څخه د بل بابولالو ته غوږ نیول دي .

ج: دریېمه سټه یې د پردیو خواووغرضي مداخلې او کورنۍ نیمګړتیاوې دي .

د: ځلورمه ستړه يې د قانون نشتوالی ( انارشي) ده چې هرڅه د ځنګل د قانون پراساس په کې په غیر متعادله او بې انصافه توګه چلېږي .

ز: پینځمه ستړه یې د حق او باطل تر مینځ د عدالت نشتوالی او د حق او حقیقت قرباني کېد ل دي .

و: شپږمه ستړه یې دهغه نظام ده چې له بهرڅخه پرې تپل شوی اود چارواکو نصب اوعزل یې له بهره وربانده تحمیل وي .

س: اوومه ستړه یې خپل اصالت هېرول او پرد ی عنعنې او کاپي ګانې پرځان او خپله ټولنه باندې د څو پیسو په مقابل کې عملي کول دي .

ک : اتمه ستړه یې د خود ارادیت ، قربانۍ او خپلواکۍ د احساس نشتوالی دئ .

ط : نهمه ستړه یې د لنډ مهال ، منځ مهال او اوږد مهال کورنیو او بهرنیو سترا تیژیو او پلانونو نشتوالی دئ .

ی: لسمه ستړه یې د سالم ، صادق او ملي مدیریت او کاري ټیم نشتوالی دئ .

- منازعه (شخړه) هغه وخت مینځته راځي چې د ذیدخلو خواوو اهداف یو د بل په تقابُل کې واقع شي . هغه وخت چې سیالي خواوې د خپلواهدافو د نه ترلاسه کېدو احساس وکړي اوپردې باندې پوه شي چې غوښتنې یې له خطر سره مخ دي . په دې حالت کې یوه یا دواړه خواوې د وېرې او اضطراب ( پرېشانۍ ) احساس کوي . وېرې او پرېشانۍ د دواړو خواوو تر مینځ د بې باوریو سبب جوړېږي .

په انساني ذهنیتونو کې وېرې ، اضطراب ( پرېشانۍ ) اوبې اعتمادۍ د یو بل درک ته صد مه رسوي . او په پایله کې د نفرت او کرکې ذهنیت په ټولنه کې تحریک کېږي . د کرکې او نفرت په حالت کې ډېر لږ اختلاف هم په ډېر سرعت او بیړې سره د تاو تریخوالي یا تشدد (ژبني او فزیکي برخورد )خواته هڅول کېږي او په پایله کې د ضرر رسولو اعمال او کړنې را مینځ ته کوي .

- په ټولنیزو شخړو او منازعو کې په زیاته کچه قوت او انرژي پټه وي . همدغه انرژي کېدای

شي چې په تعمیري توګه د مسایلو په حل ، نوښت او پر مختګ کې وکارول شي ، او یا په تخریبي توګه د څملولو ، وېشلو ، درځونواچولو ، جګړو او ورانیو سبب شي . د منازعې د توان له انرژۍ څخه ناوړه ـ یا سمه ګټه پورته کول ( استفاده کول ) ددواړوخواوو په صادقانه یا منافقانه ذهنیتونو اوکړنو (اعمالو ) پورې اړه لري . د متقابلو اړخونو ذهنیتونه موږ ته دا را په ګوته کوي چې ذیدخله خواوې له منازعې سره څنګه برخورد او معامله کوي . نوموړې معاملې به د تخریب او یا هم د ترمیم خواته روانېږي .

له منازعې سره تعمیري معامله سالمې پوهې ، کلکې ژمنتیا ، مؤثرو مهارتونو ، محیطي درک ( ټولنیز جوړښت ، کلتور ، هویت ... ) او نورو ته اړتیا لري .

- منازعه یوه ولاړه او ساکنه پدیده نه ده ، بلکي د خواوو د ذهنیت او کړو وړو په پایله کې له مختلفو مرحلو څخه تېرېږي ، چې کله ورو او کله هم چټکه شي او په هره مرحله کې هم له خپل ټو لنیز چاپېریال څخه اغېزمنه کېږي او هم خپله پر تولنیز چاپیریال باندې اغېز کوي .
- ټولنیزې منازعې (شخړې) په ټولنیز سیستم کې لږ یا ډېرې بې عدالتي ، بې انصافي ، اویا هم په افراطي او تفریطي شکل نا انډوله بې عدالتي را په ګوته کوي . اوټولنې غواړي چې نوموړی حالت بد لون ومومي .

په بل عبارت :

ټولنیزې منازعې په ټولنیز سیستم کې د ضعف او ناروغۍ څرګندونه کوي ، چې بدلون ، سمون ، او روغتیا ته اړتیا لري . ځینې ټو لنیزې شخړې یوازې په سیستم کې د مناسبو بدلونونو له لارې ځانته د حل لاره مومي . له همدې کبله اړینه ده چې د ټولنیزو شخړو ریښې وڅېړو . په ډېرو ځایوکې څېړنو روښانه کړې ده چې د اکثرو ټو لنیزو شخړو ریښې په ټولنیز سیستم کې نا انډوله او باطل کړه وړه د نوموړو ټولنو د حیاتي او اروایي ناروا اړتیاوو او غوښتنو سره تړاو لري .

- هره شخړه حل یا بد لون ته اړتیا لري . په یوه ټولنه کې ناحل شوې شخړې د تشد د او تا و تریخوالي له پاره شرایط برابروي . تشدد نه یوازې ښکاره زیانونه را مینځته کوي ، بلکي دداخلي ، ذهني او اروایي زخمونو ( ټپونو ) سبب هم ګرځي .

د شخړې ( منازعې ) د پېژندنې اهمیت :

د شخړو یا منا زعو پېژند نه او له هغو سره مناسبې کړنې خورا زیات اهمیت لري . شخړې په تېره ټولنیزې دوامداره شخړې ددې ښوونه کوي چې ځینې شیان یا ټو لنیزې اړیکې سمې نه دي . نوموړي شیان او اړیکې کېدای شي ناسم قضاوتو نه ، پرېکړې ، بې عدالتی ، د ژوند اړتیاوو ته نه لاس رسی ، محرومیتونه ، پر واک باندې انحصار ، د مفاهمې او معلوماتو ستونزې .... او نور چې دا ټول سمون او بدلون ته اړتیا لري .

مثال یې لکه د انسان په وجود کې د تبې او درد په څېر دئ . درد او تبه موږ ته دا را په ګوته کوي چې زموږ په وجود کې یوڅه ستونزه ده او سم ( نارمل ) نه دئ . درد او تبه موږ ته دا راښيي چې موږ باید هغه درد تشخیص او مناسبه درملنه یې وکړو . په ټولنه کې د شخړو تشخیص اودرملنه د ټو لنې په صحت او سلامتی کې مهم رول لري . ځکه د ټولنې د سالم جوړښت ساتنه د ټولنې د هر وګړي دنده ده . دا ریښتیا ده چې د شخړو پر وخت د ګټلو او بایللو احساس د غوسې او وېرو هیجانات ( غیر نارمل حرکات ) را پاروي ، په داسې وضعیت کې باید موږ خپلو هیجاناتو او د مقابل لوري هیجاناتو ته پاملرنه وکړو او هغه سره تنظیم او کنټرول کړو . هیجانات موږ زور زیاتي کولو ته

هڅوي . په شخړوکې له زور زياتي څخه کار اخيستل شخړې په تاو تريخوالي او جګړو باندې اړوي . او هيجانات د مرګ ژوبلو اړولو وروستی تولیدوونکي وسيله ده چي کارتري اخيستل يي مناسبه لاره نه ده . ځکه هرڅوک خپل هيجانات په صبر ، زغم او حوصلې سره هم کنټرولولی شي . کله چي يوڅوک د صبر او زغم باظرفيته پانګه په ځان کې ولري ، نو بيا ولې د هيجاناتو (۱۸۰) ميله خطرناک رفتار ته زړه ښه کوي ؟ په داسي حال کې چي هره لحظه ور ته د مرګ ژوبلو د ناولي برخليک زيګنال ( سره اشاره ) هم ورکوي .

د شخړوپيژندل اوپرخصوصياتويې خبرتيا له موږ سره په لاندې ټکوکې مرسته کوي :

- د منازعې د حل او بدلون په خاطرپه مديريت کې له منفي خوځښتونو بايد مخنيوی وشي .
- مدير يت د ذيدخلو خواوو پټې ستونزې او نظر يات را بر سېره کوي.
- مديريت ځانګړی او ډله ييزه پيژندنه راښيي .
- مديريت د خلکو د يووالي او بېلتون هغه کرښې ټاکي چې په تولنه کې د بدلونونو سبب ګرځي .
- مديريت د شخړو پرمختلفو موضوعاتو باندې د نويو زده کړو له پاره رڼا اچوي .
- مديريت د منازعې د قيق تحليل په دواړو خواوو ، اړيکو او ټولنيز سيستم کې د ستونزو د روښانه کولو لارې چارې په پلانيزه ډول په ښه کوي .

د مديريتي سيستم جوړونې په برخه کې شخړې کولای شي چي تعميري رول ولوبوي او په نوموړي سيستم کې د تعادل او ثبات د را مينځته کېدو سبب شي . خوداسي هم کېدای شي چي په سيستم کې تخريبي رول ولوبوي او د لا زيا ت تشنج ( کړکېچ ) او تاو تريخوالي سبب شي .

ددې بېلګه لکه چي دمخه هم ګوته ورته ونيول شوه د انساني وجود په سيستمونو(هضمي ، وينې ، اعصابو....) کې د ( محرقې ، ملاريا ) د ناروغی را مينځته کېدو په شان ده . کله چي په انسان کې ناروغي مينځته راشي ، ټول بدن ور سره نا کراره کېږي ، درد او تکليف احساسوي او سړی درملنې ته اړباسي ، ځکه سم تشخيص او درملنه د روغتيا او صحت سبب ګرځي . غلط تشخيص او ناسم اقدام د ناروغی د لا زياتې پيچلتيا ( اختلاطاتو) او يا مړينې سبب کېږي . په همدې توګه په يوه ټولنه کې ټولنيزې دوامداره شخړې په ټولنيزو سيستمونو او اړيکو کې د ضعف او ناروغی په معنا دي چي سم تشخيص اودرملنې ته اړتيا لري . ښه تشخيص ښو معالجو( مصلحينو) اود ښواواغيزمنولاروچارو تطبيق او مناسبو بدلونونو ته اړتيا لري .

په ذاتي توګه په منازعه ( شخړه ) کې بدي نه شته . منازعه او شخړه هغه مهال په بدی ، خطراو ضرربانديې اوړي چي له منازعې سره په مناسبه توګه چلند ونه شي . منازعه داسي ده لکه اور . اورکولای شي تخريبي سوځونې وکړي او هر څه په ايرو باندې بدل کړي . خوکه مهارشي ، په سالمه توګه په پخلي ، ذوب اوتودوخه کې هم کار ترې خيستلای شو . همدا رنګه موږګورو چي د تاريخ په اوږدو کې له اور څخه مناسبه ګټه اخيستل د انساني تمدن او پراختيا سبب شوې ده . له منازعې سره هم مناسب چلند او تعامل د انساني تاريخ د زياتو تحولاتو او پرمختګونواسباب را مينځته کړي دي .

د شخړې پيښېدل اوانګېزې :

شخړه هغه وخت پيښيږي چې د وګړو يا ډلو اړتياوې ، غوښتني ، ګټې ، نظريات ، عقيدې ، تصورات ، انګېزې او موخې په تقابل او ټکرکې سره واقع شي .

د بېلګې په توګه :

داچې په کورکې لوښي څوک پرېولي او څوک پخلی او جارو وکړي ؟ يا د ورونو تر مينځ ځمکه څنګه سره ووېشله شي ؟ د کلي اوبه څنګه وېشل کيږي ؟ د کلي او سيمې مشرتوب څه ډول ترسره کېداشي ؟ د يوې اداري مديريت څه ډول پر مخ ځي ؟ يا يوهېواد څنګه اداره کيږي ؟ .... دا ټولې پوښتنې د شخړو او اختلافاتو موضوع ګانې دي . همدا رنګه کېدای شي دا د يوې شخړې د را مينځته کېدو انګېزې تاريخي تصورات اوپېښې ، اوسني جريانات ، پرېکړې او کړنې (چا له چا سره څه وکړل .... ) وي .

پورته ياد شوي ټول موضوعات کېدای شي په معقوليت او انصاف سره يو بل ته د درناوي ، غوږ اېښودلو او خبرو له لارې حل شي . د خواشينۍ خبره خو بيا داده چې کله ناکله انسانان له معقوليت اوانصاف نه ليرې کيږي . ډېروخت داسې هم کيږي چې د خپلوغوښتنواو اهدافوترلاسه کولو له پاره له زورزياتي څخه کاراخلي او په بد ، رد وېيلو ، وهلو ، ورانولو ، کډه کولو ، بندي کولو او وژلو باندې لاس پورې کوي .

زموږ په هېواد او ټوله انساني نړۍ کې ډېرې بېځايه او غير ضروري شخړې پېښې شوې دي او پېښي به شي چې آخر پای يې پرجګړو او دښمنيو پای ته رسيږي .

کېدای شي ددې ډول شخړوعامه عوامل لاندې څيزونه وي :

- بې پر وايي ، غفلت ، ناپوهي ، بېځايه سر زوري ( سر ټمبه توب ) ، بېځايه ادعاً ګانې ، غير عادي او بې واکه مديريت ، تهمتونه ، بېځايه بدګماني ، د مفاهمې نشتوالی ، ( يو د بل پر نيت نه پوهېدل او د نيتونو ناسم تعبير) ، د پرازيت ډوله عناصرو چغولی ، ناوړه ګټه اخيستل او نور .
- د موضوع د حل له پاره له مناسبو او سوله ييزو لارو او روښنونو څخه نا خبري .
- د غيرت ، عزت ، شهامت او شجاعت د مفاهيمو ناسم تعبير اوکارونه .
- د حرص ، بخل ، ځان منني او له نورو څخه بې پر وايي . د شخړو اصلي رېښو ته نه پاملرنه .
- د پرديو مداخلې .
- يو پر بل باندې ملامتي او ټاپې وهل .
- د ځان غوښتنو په باب سر زوري او له خپلو غوښتنو او ادعاً ګانو څخه نه تېرېدل .
- پر خپلو غلطيو ، تېر وتنواو ناپوهيو باندې سترګې پټول .
- ځانته د ټولو مسائلو حق او صلاحيت ورکول او نورو ته په سپکه سترګه کتل ، محرومول او له صحنې څخه ګوښه کول .
- ......

که موږ چېرې لويو جګړو، په خاصه توګه زموږ په هېواد کې په جګړو کې د ښکېلو ډلو خصوصياتو(ځانګړتياوو) ته ځير شو ، دا به راته جوته شي چې په پورته توګه يادو شويوموضوعاتو په روانو کړکېچنو کشالو کې ډېر مهم رول لوبولی دئ .

په عام ډول په انسانانو کې د منازعې انګېزې له مختلفو عواملو څخه منشاء ( سر چينه ) اخلي . په دې ځای کې موږ د لاند نيوبنسټيزو اړتياوو يادونه کوو چې د اکثرو شخړو رېښې له هغو سره تړاو لري او شخړې له همغو څخه سر چينه اخلي :

- ژوندنی (حياتي ) فزيولوژيکي اړتياوې :

دا اړتياوې د انسانانو د ژوند د بقاء او دوام له پاره اړينې دي لکه : ځای ، هوا ، خواړه ، اوبه ، جنس ، خوب ، هوساينه ....

- اروايي (رواني) پسايکولوژيکي اړتياوې :

دا اړتياوې رواني او معنوي اړخ لري چې د انسانانو ژوند ته رنګ او حيثيت ور ښښي لکه : هويت پېژندنه ، امنيت او آزادي ، د عقيدې او ارزښتونو در لودل ، د تعلقاتو اواړيکو درلودل او پالل ، له مينې او درناوي څخه برخمن توب ، عزت النفس ، د ځاني توان اواستعداد د غوړېدو او پر مختګ اړتيا .... او نور .

د نوموړو اړتياوو په واسطه انسانان په ژوند کې حرکت کوي . او خوځښت ژوند او اړيکو ته مفهوم ، رنګ او خوند ور ښښي . که د نوموړو اړتياوو د پوره کېدو له پاره مناسب سوله ييز ذهنيتونه ، اغېزمن او مناسب جوړښتونه ( سيستمونه ) او ښې کړنې (رفتار) ونه شي شخړه او منازعه به را مينځته شي ، که له شخړې سره مناسب چلند و نه شي ، په تاو تريخوالي اوجګړه به بدله شي . او جګړه به راز راز زيانونه او ورانی را مينځته کړي . د منازعې د را مينځته کېدو ، د انګېزو پېژندنه او د هغو اړتياوو ته پاملرنه به د شخړو په مخنيوي ، سوله ساتنه ، او د شخړو په سوله ييز حل کې خورا ډېره مرسته وکړي . له دې کبله اړينه ده چې پورتنيو موضوعاتو ته ژوره پاملرنه وکړو . له نوموړو موضوعاتو څخه غفلت او هغو ته نه پاملرنه ددې سبب کېږي چې ډېر لږ اختلاف په شخړه او جګړه سره واوړي او سوله زيانمنه کړي .

تمرين :

الف : زموږ په ټولنه کې د شخړو ( منازعاتو ) انګېزې او د هغوتحرک له کومو اړتياوو څخه سرچينه اخلي ؟

ب: د نوموړو اړتياوو د پوره کېدو له پاره کوم اقدامات بايد تر سره شي ؟

د شخړې ( منازعې ) ډولونه:

شخړې مختلف ډولونه لري چې په عام ډول شخړې په درېيو لاندې ډلوکې سره را ټولېدای شي :

۱ــ د ګټوپرسرمنازعه :

دا منازعه هغه مهال واقع کېږي چې انساني ( منقولې او غیر منقولې ) ګټې له ګواښ او خطر سره مخ شي . ددې ډول شخړو ( منازعو ) حل نسبتاً آسانه دئ ، ځکه چې ددې شخړو موضوعات د اندازې او وېش وړ وي . لکه پیسې ، کور ، ظرف او فرش ، ځمکه ، اوبه ، ځنګل ، څړځایونه ، غر .... او نور .

۲ــ د ارزښتونوپرسرمنازعه :

هغه وخت واقع کېږي چې انساني ارزښتونه له ګواښ ، خطر او سپکاوي سره مخ شي . انساني معنوي ارزښتونه له عزت ، آبرو ، هویت ، او دیني مقدساتو څخه عبارت دي ، ددې ډول منازعو حل د متقابل درناوي ، معذرت غوښتنې او باور د فضأ جوړولو له لارې تر لاسه کېدای شي . نه د پولې ارزښتونو له لارې .

۳ــ د موقفونو یا نا انډوله اړیکو پرسرمنازعه :

دا منازعه هغه مهال واقع کېږي چې د انسان موقف ( واک ، مشري او څوکۍ ) له ګواښ یا خطرسره مخ شي . د موقفونو، نا برابرو اړیکو منازعې هغه وخت حل لوري ته لاره موندلای شي چې قوانین ، لایْحې ، او پالېسیانې د عدالت او انصاف پر اصولو ودرېږي او بشري حقوقو ته د یوې واقعاً منل شوې ملي وثیقې د رعایت کولو له مخې پاملرنه وشي .

د منازعو ټول پورتني ډولونه کېدای شي یو بل ته لاره سره و مومي او یا له یو بل سره مخلوط او ګډ شي .

له شخړو سره د چال چلند روېښونه

په هره شخړه کې دوه ډېرمهم ټکي ( موضوع او اړیکې ) شاملې دي . که زموږ شخړه له خپلوخپلوانو سره وي ، موږ به د دواړو ټکو ( موضوع اواړیکو) په هکله په اندېښنه کې یو. که شخړه له پردیو اړخونوسره وي ، موږ بیا د اړیکو په اړه کومه اندېښنه نه لرو او په پایله کې زموږ کړنې او د کړو وړو سبک توپیرسره لري . همداسې ، چې څومره موضوع موږ او تاسې ته ارزښتناکه برېښي او یا نه برېښي ، له شخړوسره د تعامل په سبک کې رول لري . که موضوع هرڅومره زموږ له حیاتي او رواني اړتیاوو سره ژور تړاو ولري ، په همغه کچه موضوع ډېره مهمه ګرځي .

سربېره پر دې په انسانانو کې د شخصیت توپیرونه ( تېرى کوونکي ، فرمان وړونکي اومطیع ، د خپل ځان اونورو د حقوقو ساتونکي ) هم له شخړو سره د تعامل د روښونوپه تشکیل کې مهم رول لوبوي .

په بل عبارت ؛ له موضوع او اړیکو سره د تړاو پربنسټ په شخړه کې ښکېلې خواوې له شخړو سره د تعامل په عملیه کې له یوه سبک څخه کاراخلي ، چې هرسبک په خپل وار د شخړو د دواړو خواوو پرهدفونو او اړیکوباندې ځانګړى اغېز لرلی شي .

اوس موږ له شخړو سره د تعامل پينځه سبکونه د هغو روښونو په بهيرکې د شخړو د ښکېلو خواووکړه وړه او پايلې په لنډه توګه له يوبل سره پرتله کوو :

۱ــ شاته کېدل :

په شخړه کې يوه ، يا دواړه خواوې له شخړې څخه تېرېږي . هغوی ته موضوع او اړيکې ارزښت نه لري ، او مهمه ور ته دا برېښي چې له شخړې څه ډول ځان وباسي . په دې سبک کې پرشخړه باندې سترګې پټېږي ، له شخړې څخه اغماض او انکارکېږي ، په دې معنا چې : ( نه څه ليدل شوي او نه څه اورېدل شوي ) ، د معلوماتو له شريکولو څخه ډډه کېږي او دېته ترجېح ورکول کېږي چې نور هم له نوموړې موضوع څخه ځان ليرې وساتي .

۲ــ رقابت ( سيالي ) :

د شخړې يوې ــ يا دواړو خواوو ته موضوع ډېر اهميت لري او خپلو اړيکو ته کومه پاملرنه نه کوي . د شخړې په دې سبک کې د وړلو يا بايللو مسئله مينځته را ځي . په دې سبک کې يوه ـ يا دواړه خواوې پر دې ټينګار کوي چې ددوی له غوښتنې سره سم بايد چلند وشي . د بېلګې په توګه وايي : څه چې زه وايم ـ همغسې وکړه . په دې سبک کې له فشار، کنټرول او جګړې څخه کار اخيستل کېږي . دېته تر جبح ورکول کېږي ترڅو چې مقابل لوری کورټ مجبور او ترې تېر شي او يا د هغه غوښتنې ومني . ( خو دا بيا له اسلامي شريعت سره په ټکر کې راځي ، ځکه په اسلامي شريعت کې جبر او اکراه نه شته ، اود جبراو اکراه کړنې اوفيصلې ټولې خپله باطلې او مردودې دي ) . ځکه په سوله کې ترتعميل مخکې د حُرّو ، عاقلو او بالغو او پرتولو شرعي صفاتو متصفو جانبينو رضأيت شرط دئ .

۳ــ تېرېدنه اوګذشت :

په دې سبک کې اړيکو ته زياته پاملرنه کېږي او يوه خوا له موضوع څخه صرف نظر کوي . په دې سبک کې داسې عمل کېږي :

د بېلګې په تو ګه :

ويل کېږي چې : هر څه چې ته يا تاسې وايئ سمه ده منم يې . له اختلاف څخه سترګې پټول ، تسليمېدل ، او د نورو کنټرول او فيصلو ته غاړه ايښودل دي . خو دا سبک هم بايد په خپل رضأيت سره تر سره شي .

۴ــ مرسته اود ستونزوحل :

په دې سبک کې هره خوا هم موضوع او اړيکو ته پام لرنه کوي . دوی غواړي چې هم خپلو موخو ته ورسېږي ، او هم يې اړيکې له خوا بديو او دښمنيو څخه خوندي پاتې شي . په دې سبک کې يواځې د شخړې پر حل او فصل باندې ټينګار کېږي . د معلوماتو پر راټولولو او د شخړې د حل له پاره د بديلونو پر موندلوباندې ډېر ټينګار کوي .

۵ ــ سازش( جوړ جاړی ) :

د سولې له پاره دواړه خواوې يو څه ترلاسه کوي او يو څه له لاسه په کې ورکوي . ډېری خلک داسې فکر کوي چې دا يو ښه سبک ( روښ ) دي ، خو په بشپړه توګه اړتيا نه په کې پوره کېږي . د بېلګې په تو ګه : يوه خوا داوايي چې

زه له خپلو ګټوڅخه په دې شرط يو څه تېرېږم چې تاسو هم دېته ورته همدا سې کار وکړئ . دواړه خواوې په خپلو غوښتنو کې يو څه کموالی راولي او ګټي او تاوانونه بيا په خپلو کې سره ووېشي .

پورتني ټول سبکونه کېدای شي په ځينو شرايطو کې ډېر ګټور او اغېزمن وي ، خو ددې پر خلاف په ځينو نورو شرايطو کې بيا له زيانونو څخه ډک وي . لازمه ده چې دواړه خواوې د شرايطو په پام کې نيولو سره له شخړو سره د معاملې پر وخت پورتني سبکونه په پام کې ونيسي او په مناسبه توګه يې وکاروي .

پوښتنې :

۱ـ تاسو په خپل ورځني ژوند کې له شخړو سره د معاملې پر وخت له نومړو پينځګونو سبکونو څخه له کوم يو سبک څخه کار اخلئ ؟

۲ـ ستاسې په اداره ، کورنی ، کليوالي ژوند او ټولنه کې له شخړو سره د معاملې کوم سبکونه ډېر بريالي دي ، او ولې ؟

له اختلاف اوشخړوسره دنامناسبوکړنوپايلې

څه وخت چې د يوې موضوع يا ستونزې پر سر د ښکېلو خواوو تر مينځ اختلاف په مناسب او ښه شکل مديريت او کنټرول نه شي ، همغه اختلاف بيا د شخړې سبب ګرځي . او که له شخړې سره مناسب چال چلند و نه شي ، له شخړې څخه د وتلو سمې لارې او وخت و نه ټاکل شي ، بيا هم همدغه شخړې په تاو تريخوالي ، جګړو او دښمنيو باندې بدلېږي . چې له کبله يې کېدای شي په ټولنه کې درزونه او بېلتون را مينځته شي .

له دې خبرو دا مطلب اخيستلای شو چې :

د ښکېلو خواوو له اختلاف او شخړو سره مثبت تعامل اوځرنګوالی ډېر مهم رول لري ، ځکه چې د ښکېلو خواوو ذهنيتونه او کړنې د شخړو د تحرک او خوځښت سبب کېږي .

منفي لوري ته د شخړې خوځښت ( تحرک ) په لومړي سرکې ورو او د کنټرول ( اداره کولو ) وړ وي ، خو که شخړه د تاوتريخوالي او جګړو حدودو ته ور واوړي ، نو بيا د هغې کنټرول او قابو کول څه آسانه خبره نه ده . د شخړودغه ډول مېتودونو لوستلو دا را په ګوته کړې چې د ټولنيزو شخړو په بحراني حالاتوکې ډېر لوی رهبران او خورا ځواکمن خلک هم د شخړو د تحرک او خوځښت د انرژئ په سمندرکې ورډوب شوي او يا ځنډوته ديکه ( ټېل وهل ) شوي دي . خوترډېره بريده داسې هم پېښه شوې چې د شخړو د خوځښت په جريان کې نورو نويو مشرانو په اصلي يا مصنوعي ډول سررا پورته کړی چې پايله يې يا د شخړو او جګړو پر دوام ، اويا هم د شخړو پرمؤقتې پای ته رسېدو بد له شوې او ثمره يې همغو مصنوعي مشرانو او ددوی ټېمونو خوړلې ده چې نصب اوعزل دواړه يې په بهرکې شوي وي . هغه متل دئ چې وايي : ( تورې لا لا وکړې ، مړی عبدالله وکړې .) چې په داسې سوله کې حق تل تلف ، او حقيقت په کې قرباني شوی دئ .

خو په دائیمي سوله کې چې د شخړو او جګړو تږغرد تل له پاره په کې تول اوغرضي خلک د خپلې توطئې پیاز پردئ ښورواته په بده په کې نه شي وهلی ، ځکه د هغې سولې مشران د ملت له متن او بطن څخه سر را پورته کوي . تول ملت د آرام سا اخلي ، خپل مصؤونیت او ډاډ احساسوی ، ملت را ولاړیږي ، له خپل متن او بطن څخه د خپلې خوښې خپل ریښتیني او خواخوږي ملي مشران غوره کوي . له هغوی څخه ددولت دری ګوني قووې د وړتیا او صداقت له مخې ټاکل کیږي . هغوی بیا په متوازنه او منعادله توګه د ملت خلکو ته خپل حقوق ټاکي او له همغې ادرسونو څخه حق حقدارته رسیږي ، او په تل پاتې سوله کې حقیقت تل ژوندی او خوندي وي . همدا لامل دئ چې هلته د خلکو ریښتیني خادمان په اصل کې د سپېڅلو وجدا نونو او ویښو ضمیرونو خاوندان دي چې پرخلکو باندې حکومت کوي .

د شخړوپه هکله یوهه ترلاسه کول :

پس د شخړو د تحرک ( خوځښتونو) له خصوصیاتو اوله بدلونونو څخه د خبرېدو له پاره اړینه ده چې موږ باید له اختلاف او شخړو سره د تعامل د څرنګوالي ، او د شخړو د خوځښت او بد لون د مرحلو ، او د ښکېلو خواوو په اړیکو پورې د اړونده بدلونونوپه هکله ځا نونه سره یوه کړو . ځکه هرڅومره چې شخړه منفي لورته خوځیږي ، ور سره جوخت د ښکېلو خواوو دریځ د یو بل په وړاندې همدومره سختیږي . چې په دې توګه د شخړو په شدت او پېچلتیا کې هم زیاتوالی راځي . همدلته ده چې نوې ډلې اونوي خلک له نویو اعمالو سره د خپل ځان او پرد و په ګټه د شخړو چاپېریال یا انګړ ته داخلیږي ، له د وی سره جوخت د زیان رسولو او فزیکي حملو احتمال هم زیاتیږي . که چېرته داسې وضعیت پېښ شي ، شخړې بیا نور هم شدت مومي . په ځینو حالاتو کې دواړه خواوې د خپلمنځي شخړو کنترول او واک له لاسه ورکوي ، او شخړې او جګړې یې نورذید خله عناصر اوکړی لکه د افغانستان ګاونډیان د خپلو شومواهدافو له پاره پرمخ وړي .

که چېرې له ښکېلو اړخونو یو یې داسې فکر وکړي چې د زر ، زور او تزویر له لارې په مقابل لوري باندې خپلې غوښتنې ومني ، په داسې حال کې بیا مقابل لوری د مقابلې له پاره ځان چمتو کوي . که یو سړی یا یوه ډله بل لوري ته زیان ورسوي ، نو مقابل لوری هم په ورته عمل لاس پورې کوي . چې ددغه منفي سیالیو په دې بهیر کې شکایتونه ، ملامتی ، تهد ید ونه ، وېرې ، بې رحمی او زور زیاتی لا پسې ډېریږي .

که په ټولنه کې له شخړوسره د سوله ییز تعامل پوهه او مهارتونه ضعیف او یا د شخړو د کموالي او سرېدو نورمونه او اداري فعالي او اغېزمني نه وي ، شخړې به خپله منفي خواته خورې ورې او په مختلفو پړاوونوکې به د لا زیات شدت او تاو تریخوالي او جګړو سبب شي .

د اختلافاتواوشخړود(اووه)ګونوپړاوونوپېژندنه :

مور دلته په لاندې توګه د شخړو د خوځښت د مختلفو پړاوونو او په هغوکې د بدلونونو د را مینځته کېدو لنډه یادونه کوو :

۱ــ اختلاف او شخړه د دوو خواوو تر مینځ د یوې ستونزې یا موضوع په هکله په ښکاره ډول را مینځته کېږي .

۲ــ سیالي خواوې د خپل اختلاف او شخړې په هکله له یو بل سره بحث کوي ، چې کېدای شي په دې سره یې اختلاف تر مینځ حل او یا لا پسې پېچلی شي . که اختلاف حل نه شي ، د دواړو خواو تر مینځ کشمکش را پیدا کېږي ، چې په دې ترڅ کې دواړه خواوې پر اصلي ستونزه خپل تمرکز له لاسه ورکوي او یو بل ته د ستونزې په نظرګوري . په دې وخت کې دوی یو بل ته ډېر غوږ نه نیسي او له یوبل څخه سر ټکوي .

۳ــ شخړه داسې ښکاري چې دواړه خواوې په کې یو د بل پرچلند بېځایه نیوکې کوي ، ددوی منفي نظرونه اویوپر بل باندې پېرې اچونې هرې خواته خورېږي . قضأوت یې یو اړخیز شکل غوره کوي . انصاف ، حق بیني او ترحم ورځ تر بلې کنګل ( قرنطین) کېږي . او اړیکې یې له ضعف سره مخ کېږي .

۴ــ په دې مرحله کې یو پر بل نیوکې او منفي ګرأیی زیاتېږي . د دواړو خواوو تر مینځ قضأ وت ، انصاف ، حق بیني او رحم نور هم د انجماد پرخوا وړاندې ځي . خپل منځي اړیکې له ماتېدو سره مخ کېږي ، دښمني یې تر مینځ سر را ټوکوي او مخامخ مفاهمه په کې له مینځه ځي .

۵ــ په دې مرحله کې هره خوا د خپلو پلویانو په ملاتړد خپل ځان په حقه ښوولو او د خپلو دلائیلو د لا قوي کولو له پاره پر مقابل لوري باندې د ملامتی او سر غړونو ټاپې لګوي . هر لوری هڅه کوي چې له غرامت او تاوان ( نهه ګونیو، مچلګو او د جرګې د نورو بارونو) څخه ځان بچ کړي . ددې مرحلې په وروستیوکې د دواړو خواوو تر مینځ یو بل ته د مالي او ځاني زیان رسولو هڅې پیلېږي .

۶ــ په دې مرحله کې دواړه خواوې یو د بل په وړاندې د زیان اړولو د عمل او عکس العمل په دایْره کې سره را ټولې او قطب بندي را مینځته کېږي . د هرې خوا پلویان یو بل ته په خپلو خزو ( مورچلو ) کې د تیارسی په حالت کې ماشه په لاس قو ماندې ته ناست وي .

۷ ــ په دې مرحله کې دواړه خواوې د یو بل په وړاندې متضاد دریځونه غوره کوي . چې په پایله کې ترې ټولنیزه ماتې را مینځته کېږي .

په پورته توګه د اختلاف او شخړو د مختلفومرحلو پیژندنه او په هرپړاو کې د حل لارې چارې له یو بل سره لږ څه تو پیر لري . د اختلاف مدیریت او حل کول د شخړو په لومړیو مرحلو کې ډېر آسانه دئ . که شخړه څلورمې او یا تر هغې لوړو درجو ته دا خله شوې وي ، حل او مدیریت یې ستونزمن ګرځي . خو بیا هم له دې سره سره په هره مرحله کې بیا هم د نوموړې مرحلې سره سم مثبت ګانونه پورته کول شوني دي .

د شخړو د هواري او سوله راوستونکو له پاره دا اړینه ده ترڅو پردې ځانونه پوه کړي چې د ښکېلو خواوو تر مینځ شخړه په کومه درجه کې ده . کله چې د شخړې کچه ور معلومه شوه ، بیا دې له نوموړې مرحلې سره سم په اقداماتو لاس پورې کړي .

نوټ : د شخړو د خوځښت ( تحرک ) پورتنۍ درجه بندي له یو بل سره د بېلوالي ډېرې نږدې کرښې نه لري ، ځکه چې شخړه په یو خوځنده او متحرک حالت کې ده . د شخړو خوځښت د خواوو په ذهنیت ، کړنو ، او شاوخوا چاپېریال کې له وضعیت څخه اغېزمن کېږي .

که له ځانګړیو او ټولنیزو اختلافاتو او شخړو سره په ښه توګه تعامل او چلند ونه شي او یا ټو لنیزې اړیکې ، چاپېریال او سیستم داسې وي چې ټولنیزو شخړو ته لازم ځواب ونه شي موندلای ، او یا داچې د ځینو منازعو او شخړو له پاره اړین مېتودونه او حقوقي روښانه تګلارې او کړنلارې نه وي تر سیم شوې او دواړه خواوې د شخړو له سوله ییزو حل لارو او مهارتونو څخه بې خبره وي ، نو بیا خو د مرکې لېوان هم په داسې ځایونو کې څه کمی نه لري ، هغوی منفي بافیو ته لمن وهي او ډېر لږ اختلافات کېدای شي په شخړو ، تاو تریخوالي او جګړو باندې بدل شي . له شخړو سره نا مناسب کړه وړه او نا حلې شخړې د یوې ټو لنې وګړي او ډلې د تشدد ، تېري ، ظلم ، بې انصافیو او تاو تریخوالي په مختلفو مرحلو کې سره را نغاړي . او په ټولنه کې د تاو تریخوالي مختلفې کچې را مینځته کوي .

تمرین :

له شخړو ( منازعو ) سره د تعامل په بهیرکې ښکېلې خواوې د کومو شیانو ، لارو او مېتودونوکارولو له کبله د جګړې خواته ورګډ یږي ؟

له شخړوسره د تعامل اړین تدابیر

که چېرته موږ د خپل ورځني ژوند او تېرو تاریخي شخړو پیل او له هغو سره د ښکېلو خواوو ترمینځ د معاملو پایلو ته په ژوره توګه پام وکړو اوپه پوره پاملرنه او خورا دقت یې مطالعه اوغورچاڼ ترې را وباسو ، وبه ګورو چې په پیل کې شخړه د یوې موضوع ، مسئلې یا کومې پېښې پرسرچې اکثراه د نظر یاتي ، تصویري ، تعبیري او تفسیري اختلاف بڼه لري پیل شوې او یا پیلېږي .

دغه اختلاف زیاتره د موضوع په اړه د مالوماتو (بشپړاو څرګند مالومات ، ناقص اومبهم ( ګونګ ) مالومات او یا هم غلط یا تحریف شوي مالومات ) او د مفاهمې په څرنګوالي پورې اړه لري . دا ټول هغه موارد دي چې د پېژندنې وړ او د ځینو مهارتونوکارولو له لارې موږکولای شو نوموړو اختلافاتو او شخړو ته بېله دې چې د تاو تریخوالي او جګړو خواته و خوځېږي په سوله ییزه او مدیریتي توګه حل لارې ومومو او حالت ته یې بدلون ورکړو .

له هر اختلاف او شخړې سره جوخت د مدیریت کولو ، حل لارو او بدلون فرصتونه موجود دي . له شخړو سره د نغښتو فرصتونو څخه هغه وخت ګټه پورته کېږي چې موږ اختلافات اوشخړې ښې سره پرتله او وپېژنو ـ او له هغو سره د تعامل تر ټولو مناسبې کړنې غوره کړو ـ تر څو پر مټ یې له شخړو سره د مناسبوکړو وړو او مهارتونو اړونده کارونه موږ د تاو تریخوالي اوجګړو له ورانوونکو اونه جبیره کېدونکو زیانونو او دردونو څخه خوندي وساتي .

له تشدد او جګړو څخه د خوندیتوب وقایوي ( حفاظتي ) تدابیر له موږ سره مرسته کوي چې د شخړو له پېښېدو څخه پرې خبر شو او له هغو سره داسې چال چلند وکړو چې شخړې منفي خوانه ترې ونه خوځېږي . ځکه نوموړي تدابیر له موږ سره د شخړو په مدیریت ، حل او بدلون کې مرسته کوي . موږ باید پردې پوه شو چې کوم حالات ، ذهنیتونه ، کړنې او پرېکړې د شخړو د را مینځته کېد و ، منفي خوځښت ، او د تشد د لوري ته په هڅه کې دي .

موږ باید د شخړو عمق ( ژورو) ته ور د ننه شو ترڅو پر دې پوه شو چې په شخړوکې دننه څه روان دي ؟ آیا شخړې بېروني اړخونه هم لري که څنګه ؟ د شخړو لاملونه او عوامل څه دي ؟ شخړې په حقه دي او که نه ناحقه ؟ د شخړو د فکري (کلتوري ، سیاسي ، توکمي ، ژبني ، سمتي او مذهبي ) هڅونې ، او مادي ( اقتصادي او مالي ) تغذیه ، تمویل او تجهیز یې له کومو خواوو صورت مومي ؟ د ملاتړ او ننګې عاملین یې څوک او په کومه کچه دي ؟ نفوذیې څومره دی ؟ کمیت اوکیفیت یې کومې کچې ته رسېدلي ؟ ولې یې خلک په اړه پټه خوله دي او هېڅ مسؤوله او غیر مسؤوله خوا یې د هواري په اړه هېڅ ډول اقدام نه کوي ؟

موږ پر دې باندې پوهېږو چې په هره شخړه کې ښکېلې خواوې او د خواوو پلویان ، موضوع ، او په موضوع پورې اړونده اړتیاوې اوغوښتنې ، ارزښتونه ، موخې ، د حل فرصتونه ، د ګټلو او بایللوهیلې اوویرې ، سترا تیژیک تفکر او د پایلو د بېش بینۍ عناصر موجود وي . چې د همدغوعناصرو تعا مل او یو پربل یې اغېزې د شخړو د مثبت او منفي خوځښت سبب جوړېږي .

د شخړو د مخنیوي ، مدیریت ، حل او بدلون له پاره په شخړه پوري د اړونده پورته یادوشوو عناصرو ژوره پېژندنه ډېره اړينه ده . ډېری مشران او رهبران د شخړو له عناصرو او د هغوی له اغېزو څخه په بې خبری سره او د شخړو د حل له فرصتونو څخه د غفلت له امله په خطر ناکو جګړو کې را ښکېل کېږي .

( په دې وروستیو کلونو کې موږ د دنیا لوی لوی مشران ولیدل چې ډېرې ورانوونکې جګړې یې په انساني ټولنو باندې ور تحمیل کړې او دادي د ورانیو ، بربادیو او بې ثباتیو پایلې یې زموږ په هېواد باندې هم پرتې دي ) .

یوه بله بنسټیزه موضوع چې له شخړو سره د معاملې د مناسبو او یا نا مناسبو کړنلارو په غوره کولو کې مهمه ونډه لري ـ هغه په شخړوکې د ښکېلو خواوو د ذهني حافظې نقشه ، انګېرنې ، کړنې اود چاپېریال ، کلتوري فکتورونه دي . د شخړو د ښکېلو خواوو د ذهني حاغظې نقشه ، آنګېرنې اوعادتونه په خپل وار سره د کلتوري چاپېریال او ورځنیو تعاملاتو په مینځ کې صورت مومي .

موږ د ژوند له چاپېریال څخه دا زده کړه کوو چې :

ــ له ستونزو ، اختلافاتو او شخړو سره څه ډول چال چلند وکړو ؟

ــ څه ډول خپلو موخو ( جوړ جاړي ) ته په کې ورسېږو؟

ــ څه ډول موږ خپلې اړتیاوې ترلاسه کړو ... او نور ؟

ــ آیا له نورو سره اړیکو او یا د نورو اړتیاوو ته په عادي حالت ، د شخړو په پیل ، مینځ او پای کې موږ کومه پاملرنه کړې ده که نه ؟

ــ د شخړې د خوځښت په مختلفو پړا وونوکې مو د ځاني کنټرول وضعیت ( غُوسه ، هیجانات اوتفکر ... ، قضأوت او انصاف ، د خپل ځان او نورو درناوی ) په کوم حالت کې دئ ؟

ــ د مخالف لوري وضعیت څه ډول ارزولی شئ ؟

ــ له شخړو سره د معاملې د انتخاب ( غوراوي ) په سبک ( طریقه ) کې مو په شخړوکې ښکېلو عناصرو ته کومه تحلیلي پاملرنه کړې ده که څنګه ؟

ــ له شخړو سره د تعامل د روېښ په غوره کولو کې مو د احتمالي ورانیو د تصور او وړاند وېینې په هکله دمخه څه فکر کړی ، او یا یې کوئ ؟ ....

زموږ په ټولنه کې له شخړو او اختلافاتو سره د پایلو عامه انځور موږ ته د ا را په ګوته کوي چې له بده مرغه ډېری شخړې د تاو تریخوالي او جګړو خواته ور اوښتې ـ ډېر ځاني او مالي زیانونه یې اړولي ـ اوتخریبي پایلې یې ترشا پاته دي چې دغه پایلې او لاسته راوړنې موږ ته زموږ د ټولنې د ځینو مشرانو ، د خپلو ذهني نقشو ، پرېکړو او کلتوري چاپېریال او کړو وړو څرنګوالی را په ګوته کوي .

ددې له پاره چې له شخړو سره د مناسبو عملونو روا نې لارې چارې په ډاګه شي یو شمېر بېخپوره اقداماتو ( کړنو ) ته اړتیا ده . دغه کړنې باید لومړی له شخړو سره د تعامل مناسبې لارې موږ ته را وپېژني ، او بیا پردې لارو باندې روان شو او خپل دې عمل ته ترهغو پورې وده ورکړو ترڅو له شخړو سره په دې تعامل کې د نغښتو فرصتونو په را سپړلو او بر سېره کولو کې مرسته را سره وکړي ، چې پر مټ یې بیا په ټولنه کې د مثبتو بدلونونو راوستو پرخوا آسانتیاوې پرې برابرې شي .

څنګه د شخړود منفي خوځښت مخنیوی وکړو؟

دا چې شخړې منفي اړخونه هم لري ، نو موږ څه ډول کولای شو چې ددغو منفي اړخونو مخنیوی وکړو ؟ لازمه خو داده چې لومړی په هغو خواوو او چاپېریال کې د بدلون راوستو له پاره یو لړ اړین کارونه تر سره کړو چې په کې شخړه را مینځته شوې .

په زیاتره شخړو کې د زور زیاتي د را مینځته کېدو په صورت کې هغه وخت کموالی او شاته تګ را تلای شي چې زور زیاتی په پرله پسې ډول پر ځای ولاړ حالت ځانته غوره او دواړه خواوې له شدیدو زیانونو څخه متأ ثره شوې وي .

په زور زیاتي کې د کموالي راوستو ، شاته تګ ، اوربند او له جګړې څخه د همکارۍ اوهمغږۍ پرخوا روانېدل ددواړو خواوو له یو شمېر مثبتو داسې لاس په کارېدو سره تړاو لري چې له یو بل سره همغږي وي . خو دا کار هله

شونى دئ چې سوله راوړونکي دربېمګړي عناصرد دواړو خواوو پرتولو جګړه بيزو تلفاتو ، انګېزو (عواملو) ، کتلېستي محرکينو، جګړه ييزو سببونو، په جګړه کې د ښکېلو خواوو پرضعفي نقطو ، فکري اوسوله بيزو مشترکاتو اوتمايلاتو باندې علماً پوه اوعقلاً د تشخيص او پرځاى پرېکړې قوّت ، درايت ، بصيرت او د پرېکړې خپلواک صلاحيت په کې موجود وي .

دغه اقدامات که څه هم په سرکي په وړه سطحه پيلېږي ، خو ډېر مهم او د پام وړ دي . چې په عام ډول په هغه اقداماتوکې د ښکېلو خواوو تر مينځ د زور زياتي کموالى ، مذاکرې ته تمايل ، د رسنيو رغنده مديريت ، او د اړيکو د ښه والي او پياوړتيا له پاره ډول ډول هڅو ته پراختيا ورکول شامل دي . خو دغه اقدامات بايد نه يوازې په شخړوکې د زور زياتي د مخنيوي او خوځښت په کموالي کې خپل رغنده رول ولوبوي ، بلکي د شخړو د خوځښت پر وړاندې هم بايد ټينګ ودرېږي .

داچې په دې اړه څه بايد وشي ، موږ د لته په لاندې ډول د ځينو اړينو اقداماتو بېلګې راوړو :

بېلګې :

- د شخړه ييز خوځښت د مخنيوي له پاره د پلانيزه نورمونو او ادارو را مينځته کول او د هغو پياوړتيا .
- په شخړوکې د ښکېلو خواوو تر مينځ لومړى د اخلاقي ستونزو پرحل تمرکزاو ټينګارکول .
- د دربېمګړو( ثالث بالخير ) داسې عناصرو او ادارو پياوړتيا چې ټولو ته د منلو وړ وي ، ترڅو د شخړو په سوله ييزحل کې مرسته وکړي . مدّعي او پروژه يي طرف هېڅکله هم سوله نه راولي او نه يې راوستى شي . بلکې خنډونه په کې اچوي .
- د شخړو له وضعيت څخه خبرتيا او د هغو د منفي خوځښتونو د مخنيوي ، کنګل کېدو او وچېدو له پاره په ديپلو ماتيکي اقداماتو لاس پورې کول .
- د شخړو له منفي او تخريبي پايلو څخه عامه خبرتيا او پوهاوى .
- د شخړو د ښکېلو خواوو تر مينځ د شخړو د خوځښت د لا زيات مخنيوي له پاره د بنديزونو لګول او د هغو دوامداره څارنه .
- د سولې ضد تخريبي او تخريشي بېځايه ( در واغجنو )آوازو اچولو او تبليغاتو مخنيوى .
- د سوله ييزو ټولنيزو ډلګيو جوړول او هغو ته د اړتيا تر بريده پراختيا ورکول . نه داسې چې د سولې له ټولنيزې پروسې څخه د سولې په نامه (ان جي او يي ) پروژه جوړه شي ، چې هغوى له دې لارې خپل ځان ، خپلې کورنۍ او خپل ملګري په کې تمويل او اکمال کړي ، او د ښکېلو خواوو تر مينځ د جګړې اوږدول يې د خپلې پروژې اصلي موخه وي ، خو جګړې او تاو تريخوالي ته د پاى ټکي ايښودل يې په فکري قاموس کې هم نه وي .
- د ( ولقد کرمنا بني آدم ) د الهى ارشاد له مخې عامه انسانيت ته په درنه سترګه کتل او د ښکېلو خواوو تر مينځ مشترکاتو ته درناوى ، پياوړتيا او پراختيا ورکول .
- په شخړوکې د ښکېلو خواوو تر مينځ سوله ييز حل پياوړي کول ، او د عامه ؤلس مسؤولانه ساتنې او ذمه وارى ته پاملرنه .

- پرته له تعصب څخه د خوابد و خواوو د زړونو باوري لاسته راوړنه ، او د یوبل له ستونزو او اړتیاوو څخه خبرېدل .
- د هغو ډلو او وګړو پېژندل او د هغوی مخنیوی چې د نورو تر مینځ له شخړو څخه ناوړه ګټه پورته کوي .
- د ژوندانه سرچینو ته پراختیاورکول ، او د ښکېلو ډ لو اړتیاوو ته لاس رسی او د آسانتیاوو را مینځته کول .
- د ښکېلو ډلو تر مینځ د یو بل منل او یو د بل روا انساني حقوقو ته درناوی کول .
- د شخړو د بېخپوره کمښت او له مینځه وړو له پاره د سیمه ییزو ګډ و بنسټونو را مینځته کول او د هغوغښتلتیا .
- د سولې له پاره ښوونیزو مرکزونو او مېډیا ته وده او پراختیا ورکول .
- د وسلو د وېش اوکارولو څخه مخنیوی کول .

شخړه ییز انځور:

په کلي کې د اوبو پر سر د دوو ګاونډیانو د شخړې وضعیت له پیل څخه تر پایه پورې انځورکړئ ، او یا د کومې بلې داسې شخړې انځور چې تاسو په خپلو سترګو لیدلې او یا تاسو آزمویلې وي وکاږئ .

- په نوموړې شخړه کې ښکېلې خواوې څوک دي او یو له بل سره څه اړیکې لري ؟
- شخړه څنګه او په څه ډول پیل شوه ؟
- د شخړې په اړوند د دوی متقابلو کړنو او عکس العملونو کوم مرا حل طی کړي دي ؟
- ددوی ذهني او د اړیکو حالت څه ډول دئ ؟
- اوس شخړه په څه حالت کې ده ؟
- شخړه څنګه حل شوه ؟ ( د زر ، زور او تزویر له لارې ـ او که د دواړو خواوو په رضأیت او ګډ توافق ؟ )
- ښکېلې خواوې پرې راضي دي که څنګه ؟

د شخړې اغېزې:

شخړې په ناسمو ( نا متوازنو) ټولنیزو اړیکو کې مینځته راځي چې هم خپله بد لون مومي اوهم د خلکو په اړیکو کې بد لونونه را مینځته کوي او پر ټولنیز حالت خپل اغېز پرې باسي . خونوموړې اغېزې په لاندې څلوروبرخوکې را مینځته کېږي :

الف : شخصي ( ځانګړې) برخه :

موږ د ټولنې د وګړو په توګه له شخړو څخه په مثبت یا منفي ډول اغېزمن کېږو . شخړه زموږ پرجسمي حالت ، عزت النفس ، عاطفي ثبا ت ، ادراکي ظرفیت او روحاني حالت باندې اغېزې کوي . چې نوموړې اغېزې زموږ په شخصي ژوند او ټولنیزو اړیکو کې ځان ښکاره کوي .

ب: د اړیکو برخه :

ددې برخې اغېزې په مخامخ اړیکو کې د مفاهمې څرنګوالی ، د ټولنیزو ډلو تر مینځ د عصبي ، توکمي ، نژادي او فکري نږدېوالي او لیرې والي د مسایلو او پېښو په اړوند د هغوی په سم یا ناسم ادراک ، د هغوی په وېرو ( ډارونو ) ، هیلو ، نه هیلیو او د قدرت او صلاحیت په کارولو کې ځان ښیي .

ج: د جوړښت برخه :

دا برخه موږ ته دا را ښيي چې خلک یو له بل سره څرنګه خپلي ټولنيزې ، اقتصادي ، سياسي ، او سازماني اړيکي جوړوي ، ترڅو انساني لومړنۍ اړتیاوې پرې لیرې ، سر چيني ور ته برابرې او د ټولني د وګړو او ډلو په اړه پرېکړې وکړي . په همدې برخه کې د ډېرو شخړو اصلي علتونه ځای لري . د ډېرو ټولنيزو شخړو ريښي په همدې برخه کې پرتې او په متقابله توګه همدغه برخه پر ټولنيزو شخړو باندې خپلي اغېزې لري .

د: دودېزه ( فرهنګي ) برخه :

کله چې شخړې د مادي زيانونو تر څنګ د غلطو رواني دردونو او زخمونو له یوې ټولګي سره ملې( غبرګې ) شي ، د شخړو له پاره یو کلتوري بنسټ او یا د شخړې کلتور مینځته راوړي . په هره کچه چې شخړې اوږدېږي ، په همغه کچه د شخړو کلتور هم ور سره اوږدېږي ، بخېږي ، وده کوي او ټو لنه په مختلفو شخړه ييزو ليکو باندې سره وېشي چې هره ليکه شخړې ته د خپل نظرد زاويې له کنجه ګوري او د شخړې بېل قراءت ، تحلیل او تفسیرکوي .

د يوه مشترک تعريف پر مخ لارې بند وي . د شخړو کلتور د شخړو د حل ، سولې او پخلاينې په لار کې بنديزونه او خنډونه را مینځته کوي .

په بل عبارت ؛ د شخړو د تحرک او دوام له پاره د سون ( سوخت ) مواد برابروي . ( د خاموش اکثريت بې دفاع اوغريب اولادونه ) د جګړه ييز بې تعريفه اورلمبو ته په مختلفو آنو بهانو را کاږي ، د تعليم مخه يې نيسي ، مجبوروي يې ، پرهغوی باندې بمونه تړي ، ځانمرګي واستونه وراغوندي ، پردي اولادونه ور باندې وژني ، د کرأيي جنګيالي پر وينو او د يتيم او کونډې پر اوښکو يې خپل سوړ تجارت کوي ، له استخباراتي چينلونو څخه په خپله دغه ډول پروژه کې بجټ ترلاسه کوي اوخپل اولادونه د هغوی په بيه په پرمختللو هېوادونو اوتعليمي مؤسسوکي د راتلونکو زعامتونو له پاره تعليم کولو ته پرې لېږي ، خپلې مزې چړچې پرې کوي او نه پرېږدي چې شخړې سړې شي . ځکه چې ددوی او ددوی د کورنيو ، ډلو او هېوادونو په کې ګټه ده .

اوس راځم دېته چې موږ څنګه کولای شو په خپل هېواد کې دې ناورين ته د پای ټکی کېږدو ؟

اړينه بولم چې ددې کار له پاره موږ بايد ترهرڅه مخکې لومړی د یوې با کيفيته ملي پالیسۍ او پلانګذارۍ پرميکانيزم جوړولو باندې کاروکړو ، ترڅو د هغې پالیسۍ او پلان له مخې موږ وکولای شو په ګام په ګام پړاوونو کې په بنسټيزه توګه دایمي سوله په خپل هېواد کې ټينګه کړو :

دیوی ملی پالیسیٰاوپلانګذارۍ مراحل اوپړاوونه :

داچې پاليسی د يوې يا څو څرګندو او ضمنی پرېکړو په پام کې نيول دی چی مونږ ته د راتلونکو پرېکړو د لارښوونو لپاره اويا هم د پخوانیوپرېکړو د تطبیق له پاره کړنلاره برابره وی ، نود پالیسۍ په جوړولوکی بايد درېيو مهموبرخوته پاملرنه وشي :

لومړی: کورنی حالت : لکه په یوه ښوونیزسازمان کې پرسونل، بودجه ، فزيکی او تکنالوجيکی وسایل اونور.

دوهم : بهرنی حالت : په دې ګام کی باید خارجی وضعی ته پاملرنه وشي ، له نورو سوله ييزو سازمانونوسره اړيکې نيول ، د خلکو او ادارو پيژندل ، له میدیاسره اړيکی نيول اوځينی نور.

دریم : څه پایلې لري ؟ په دې ګام کې پایلو ته داسې پاملرنه کېږي چې هرفعالیت په پالیسی کی باید ترډېره بریده څیړل شوی وی ترڅود یو عملي کیدونکي فعالیت پایلې په کې څرګندې شي .
همداسې هره پالیسي درې مخته وړونکي علمبرداران هم لري :
لومړی: پالیسي جوړوونکي چې خپله یې پالیسي جوړه کړې وي .
دوهم : هغه عناصر دي چې په هغوی باندې پالیسي تطبیق کیږي .
دریېم : دا برخه یې د پالیسۍ له پاره ډونران (تمویلوونکي ) دي چې هغوی د پالیسی له پاره بودجه ورکوی .
اوس غواړم د پالیسی هغه مراحل چې د یوې تعلیمی پالیسی له پاره اړین وی په ترتیب سره وړاندی کړم :
د تعلیمي پالیسی اړین پړاوونه :
کله چې وغواړو یوه ملي ښوونیزه پالیسي جوړه کړو ، په کارده چې لومړی د هغه ستونزو او مشکلاتو په اړه چې پالیسي ور باندې جوړیږي په نښه کړو او هغه دیوې ستونزې په ډول منو چې کیدای شي دغه ستونزې د خلکو دبېسوادۍ له امله وي ، په ښوونځیو کې د خشونت مسایل وي اویا هم په هیواد کې د ښوونځیو د درسي ټیټ کیفیت د لوړولوپه اړه وي ، اویا په ټولیزه توګه د ښوونې او روزنې وزارت په کچه وي .
پالیسي جوړونکي باید :

- په لومړي ګام کې همغه موضوعات اوستونزې په عام ډول درک کړي او دلاس رسی له پاره د پالیسۍ جوړولو لارې ورته وسنجوي . مونږ باید د پالیسی په جوړولوکې سر چینې په پام کې ونیسو اوپه دی وپوهیږو چې څنګه له منابعوڅخه په استفادی سره ستونزو ته لاس رسی پیداکړو . کیدای شي چې دغه سر چینې بشری ، فزیکي اویاهم مالي وي ، همدارنګه ټولنه باید په پام ونیسو چې دغه پالیسي د ټولنې له دین ، مذهب او کلتورسره په ټکرکې نه وي ، په همدی ډول په دې مرحله کې باید دپالیسۍ له پاره اهداف وټاکل شي ، او دغه اهداف باید په ډیر دقیق ډول وي ترڅوهغوی ته لاس رسی آسانه ، ارزانه ، په مناسب وخت کې عملي او تر ډیر وخت پورې دوام وکړې . په همدې ډول د د ښوونیزې پالیسۍ جوړول باید دخلکو د ضرورتونو پربناوي . اوهمداسې پالیسي جوړوونکي د یو فعال کاري ګروپ په ټاکلو کی باید له ډیر دقت څخه کار واخلي.
- په دوهمه مرحله کې باید پالیسي قانوني بڼه خپله کړي ، د پالیسی دقانوني کیدوله پاره لومړی باید د اګاهی عامه ( عامه پوهاوي ) سطحه لوړه شي ، روان وضعیت په عامه مانا وپلټل شي، او بیا د هغه په اړه د پالیسی ذیدخله مخکښانوته باید مسؤولیتونه وسپارل شي ، باید د پالیسۍ د مخکښانو ترډېره بریده ملاتړ او ننګه وشي ، څکه همدغه خلک پورته منابعو او د هغه ترسره کوونکو اقداماتوته منظمه بڼه ورکوي . دغه ښکېل مخکښان باید داسې خصوصیات هم ولري چې پر مټ یې وکولای شي د خلکو توجه ځانته پرې راجلب کړي ، له خلکوسره د هماهنګی فضاء رامنځته کړي اوهم وکولای شي پر دغه جوړه شوې پالیسی باندې خلکو ته عامه پوهاوی ورکړي ، په همدې ډول دوی باید د مالی مرستوشتون ثابت کړي ( که هغه کورنۍ وي ، یا بهرنی ) ، د غیردولتی سازمانونو، ټولنو، ډلو او ادارو ترمینځ مشارکت رامنځته کړي ترڅوخپله پالیسي پرې ځواکمنه کړي ،

• په دریمه مرحله کې ټولې هغه ستونزې اومشکلات باید په دقیق ډول وڅیړل شي کوم چې په لومړۍ مرحله کې ترګوتوشوي ، ځکه بیاهمغه موضوعات او ستونزې سره ترتیب او تنظیم کیږی . په هغوی باندې پالیسي جوړوونکي او دپالیسی د مخکښانوترمنځ بحثونه صورت نیسی اوځینی پوښتنی لکه،
•څنګه یې ترسره کړو . . . . . . . ؟
•ولې باید ترسره شي . . . . . . . ؟
•چیرته یې ترسره کړو. . . . . . ؟
•کومې ګټې لري ؟
.څه ور ته په کار دي ؟
.په کومه کچه ؟
اوځینو نورو داسې پوښتنوته باید ځواب ویوونکي وي . همداسې ددی پورته پوښتنوڅخه مهم موضوعات را چاڼ کیږي ، په پای کې د کاغذ پرمخ لیکل کیږي ، اوبیا دغه غورچاڼ شوي موضوعات اوستونزې د دوهم ځل له پاره د پالیسۍ جوړونکي او دپالیسۍ د مخکښانوله خوابیا له سره کتل کیږي .
. په څلورمه مرحله کې که چیرې هغه چاڼ شوې ستونزې ډیرې زیاتې وي ، نو مونږ باید هغه ستونزو او مشکلاتو ته لومړیتوب ورکړو د کومو له پاره چې زیاته اړتیا لیدل کیږی . په همدی ډول که چیرې لاسته راغلې د حل لارې ډیرې وي ،کمزورې لارې ترې کموو چې بیا ددې لارو په کمولوسره په آسانی سره کولای شو یوه ښه اوسنجول شوې داسې حل لاره پیداکړو چې هغه تر ټولو اسانه ، ارزانه اوپه محدود ( ټاکل شوي ) وخت کی وی ، په همدی ډول هغه لاملونه سره را نغاړو کوم چې د حل لارو له پاره په نظرکی نیول شوي . د حل لارو د ارزونی په صورت کې د یولړ فکتورونو په پام کی نیولوسره هغه حل لاروته ډیرچانس ورکوو چې ارزښت یې زیات او لګښت یې کم وي . دغه فکتورونه عبارت دی له لګښت ، ځای ، وخت اوکاری وړتیا څخه .
**. په پینځمه مرحله کی هغه ستونزې او مشکلات چې د پالیسی جوړوونکواو مخکښانوله خوا ورته لومړیتوب ورکړل شوی په عمل کې پیاده کوو. خو د پالیسی په عملي کیدو کې مهمه ونډه هغه کسان لري چې پالیسي یې تر لاس لاندې ده . ځکه همدوی دي چې ډیره کمزورې پالیسي هم تر هدف پورې رسولای شي . اوکه چیرې کاري ټیم ښه همکاري ونه کړي ،که پالیسی هرڅومره ښه هم وي ، خوبیابه هم ښه پایله و نه لري ، ولې په عین وخت کې موږ باید له همدغه عملي شوې پالیسی څخه نظارت او څارنه وکړو . دغه نظارت باید ددی له پاره موجود وي چې د پالیسی د هدف په ترلاسته کولو سره دخپل ځان باور پرې ترلاسه کړو ، خو د پالیسی د دوام له پاره باید خپل نظارت ته دوام ورکړو، ترڅو د راتلونکي عمل له پاره یې تګلاره (مسیر) وټاکل شي .**
• په شپږمه مرحله کې دعملي شوې پالیسی نتائج ګورو چې له دغې پالیسی څخه کومې لاسته راوړنې لرو ؟ اودابايد هم معلومه کړوچې دغه لاسته راوړنې په مترقبه ډول پیښې شوی او که په غیر مترقبه ډول؟ په همدی ډول د پالیسیپرمخ وړل هم له مهموبرخوڅخه شمیرل کیږي . که چیرې ډیره ښه پالیسي هم وي خو چې ونه پالل شي ، خامخا به له ناکامی سره مخ کیږي .

د شخړوښه مدیریت سوله ساتلی شي
موږ نه شوکولای چې شخړې ودروو او د ژوند او اړیکو له صحنې یې لیرې کړو او یایې له مینځه یوسو .
موږ باید دا ومنو چې اختلاف او شخړه د ژوند او ټولنیزو اړیکو یوه مهمه برخه ده . شخړه له خپله ځانه سره د خوځېدوځواک او وړتیا لري . چې د شخړې دا ځواک او وړتیا د تخریب او ورانی یا نوښت او پرمختګ په لار ه کې استعمالېدای شي . موږ د شخړو له ځواک او وړتیاوو څخه هغه وخت په مثبت نوښت او ترقۍ کې ګټه اخیستلای شو چې شخړې په ښه ډول مدیریت او په مناسبه توګه کنټرول شي . شخړې هغه مهال د مدیریت وړ ګرځي چې موږ د شخړو په درک او د هغوی د څرګندولو ( اظهار ) په طریقه کې بدلون راوړو .

لومړی : د شخړې د درک په طریقه کې بدلون :

شخړې ټل د شخړه بیزو موضوعاتو په هکله د درک ، تصور ، فعالیتونو یا طرزالعملونو پر بنسټ ولاړې او را مینځته کېږي . ځینې وختونه نوموړي بنسټونه روښانه او دقیق وي ، خو ځینې وخت بیا دا بنسټونه پیکه او دقیق نه وي . د شخړې د موضوع په هکله ډول ډول تصورات او تعبیرونه د وضعیت د لا زیاتې پېچلتیا ، ابهام او مغشوشیت سبب ګرځي . ددې له پاره چې په شخړه کې بدلون راولو ، لومړی: باید د شخړې په هکله د خپل ځان او نورو په درک کې بدلون راوړو . د شخړې د لاښه وضاحت او روښتیا له پاره باید موضوع ، تصورات ، اړیکې ، درک او د کړنو طرز ښه تحلیل کړو ، تر څو د شخړو رېښه او بنسټ ښه روښانه او وپېژندل شي .

دوهم : د شخړې څرګندولوپه روښښ کې بدلون :
شخړې ټل په یوه طریقه ( زور زیاتي ، یا پرته له زور زیاتي ) څخه را څرګندېږي . که د شخړې په اړه روښانه او سم تحلیل ولرو ، نو کولای شو چې شخړه پرته له زور زیاتي څخه را لوڅه او د منطقي حل له پاره یې په اقدام لاس پورې کړو .
که د اختلاف یا شخړې د را څرګندولو له پاره سالمه طریقه وټاکو او د مقابل لوري انساني اړتیاوو او عزت ته په درنه سترګه وګورو او د څرګندولو او حل له پاره یې له زور زیاتي پرته لارې ( بحث او خبرې وکړو ، مفاهمه ، منځګړتوب او مذاکره ) غوره کړو ، شخړې به کنټرول او مثبت لوري ته به بدلون ومومي .

دپه شخړو عادت ټولنودبدلون کړنلارې

څنګه کېدای شي په هغو ټولنو کې چې له دوامدار تاو تریخوالي او شدیدو شخړو څخه زیانمنې او له شخړو سره عادت شوې وي ، د سولې پرخوا بدلون ته لاره هواره شي ؟
له شخړو سره په عادت شویو ټولنو کې د سولې پر لوري بدلون هغه مهال شونی دئ چې موږ په خپلو ذهنونو ، کړنواو د ټولنیزو جوړښتونو په هغو برخو کې چې د تاو تریخوالي رېښې ور سره اړیکې لري ، اصلاحي بدلون را مینځته کړو . د سولې پر لور د بدلون عملیه یوه دوامداره او فعاله عملیه ده چې د هغې په پایله کې منفي ذهنیتونه ، کړنې ، اړیکې او ټولنیز جوړښتونه مثبت لوري ته بدلون مومي .
په عام ډول له شخړو څخه د سولې پر لور بدلون او اصلاح باید د لاندې سطحو پربدلون باندې تمرکز ( تکیه او ټینګار ) وکړي :

لومړی : شخصي سطحه :

په دې سطحه کې د یوه شخص د ژوند پر جسمي ، احساساتي او ذهني برخو او په هغو کې د سوله ییزو بدلونونو په را مینځته کولو باندې تمرکز کېږي . که موږ د اشخاصو د ژوند په پورته یادو شویو برخو کې سوله ییز بدلونونه را مینځته کړو ، د سولې له پاره به موږ ډېر بنسټیز ( بېخپوره ) کار کړی وي . دلیل یې دادئ چې د سولې بنسټ په همدې ځایونو کې موقعیت لري . په نوموړو برخو کې مثبت بدلونونه به د ښو کارونو په هڅونې او له بدو کارونو څخه په مخنیوي کې ډېرې آسانتیاوې را مینځ ته کړي .
موږ کولای شو په خپلو اټکلونو ( تصوراتو ) ، احساساتو او افکارو کې د مثبتو بدلونونو په را مینځته کولو او د هغوی په تمرین سره په خپل ځان کې د مثبتو بدلونونو بنیاد او بنسټ جوړ کړو . ښو او نېکو کارونو ته پراختیا ورکړو ، هغه پیاوړې او وستایو ، له بدو ذهنیتونو ، منفي افکارو او اعمالو څخه مخنیوی وکړو .
د بېلګې په توګه :

- په خپل جسمي ، ذهني ، احساساتي او د خوا وشا چاپېریال په نظافت او ښکلا کې ونډه واخلو او د خپلو کړنو او وړتیاوو په غښتلتیا کې په دوامداره توګه کوښښ وکړو .
- له خپل ځان او نورو سره د اړیکو په را مینځته کولو او پراختیا کې مرسته وکړو .
- وخت باید له لاسه ور نه کړو او په ښه طریقه ګټه ترې پورته کړو.
- لکه څنګه چې په هېنداره کې خپل ځان ، جامو اوښایست ته د تنظیم او اصلاح په خاطرګورو ، همداسې خپلو تصوراتو ، احساساتو او افکاروته کتنه هم اړینه خبره ده . هغه افکاروته چې زموږ سوله ییز حالت او ټولنیزې اړیکې له ګواښونو سره مخ کوي باید د ټولنې له سویې او عاداتو ( عنعنو ) سره سم مثبت بد لون ورکړو .

زموږ د ژوند ظاهري حالت زموږ د هیجاني او ذهني ژوند له کیفیت سره ډېر تړاو لري .
که موږ ټمبل ( سست ) ، ډېر وارخطأ او د نویو شیانو له تجربه کولو څخه وېره ولرو ، موږ به پر خپل ځای پاته شو ، او هېڅ وده به ونه کړو .
که موږ د خپل تفکر له بدلون څخه ونه وېرېږو ، زموږ ژوند به بدلون ومومي .
که موږ د شیانو او پېښو په اړه خپل درک او احساس ته بدلون ورکړو ، له هغه سره سره به زموږکړني او عادتونه هم زموږ په بدن کې د ننه بدلون ومومي . او بیا به زموږ همدغه داخلي بدلونونه زموږ باندیني چاپېریال ته هم بدلون ورکړي .

دوهم : د اړیکونیولوسطحه :
انسانان په ټولنیزه توګه یو د بل ترڅنګ د اُنس او اُلفت له مخې د اړتیاوو ( راکړې ور کړې ) ، پیوندي اوعقیدتي اړیکو په تارونو باندې له یو بل سره پېیلی او تړلی ژوند لري . چې ټولنیزې اړیکې یې له یو بل سره د یو رېښتیني بایْع او مشتري په څېر په درناوي ، مرسته کولو ، همغږۍ او پېرزوینې سره ورځ تر بلې پیاوړې کېږي . او له دې سره سم یو پر بل باندې د اعتماد او باور د فضأ په را مینځته کېدو سره د مقابلو خواوو حقه حقوق ټول محفوظ او خوندي وي .
کله چې داسې پیاوړی بنسټ مینځته راغئ ، بیا په ټولنه کې د هغوی سر ، مال او ناموس ټول خوندي وي .
ولې ددې پر عکس ؛ د نه درناوي ، مرسته نه کولو او یو د بل په وړاندې له درغلیو او نورو ناروا کارونو څخه د کار اخیستلو ، یو پر بل د نه لورېینې او مخالفت کولو په صورت کې پر یو بل باندې د اعتماد او باور کچه را ټیټېږي او له مینځه ځي او له دې سره سوء تفاهم ، وېره او مخالفتونه را مینځته کېږي ، چې په پایله کې اړیکې کمزورې او سره شلېږي . ځکه انسانان د ارتباطي سطحې له لارې له نورو سره معلومات او راکړه ورکړه تأمینوي .
د همدې سطحې څرنګوالی د ټولنیزو اړیکو له نورو سطحو سره د ژوندانه څرنګوالی ټاکي . چې په حقیقت کې د ژوندانه دغه ټول ټولنیز مسایْل ، موضوعات ، او معاملات (راکړې ورکړې ) د انساني اړیکو په سطحه کې تر سره کېږي . خو ددې سطحې د لا زیات سمون او پیاړتیا له پاره اړینه ده چې موږ د مفاهمې هر اړخیزمهارتونه په کې پیاوړي کړو . او ددې ترڅنګ د نورو خبرو ته په ډېره پاملرنه سره غوږ ونیسو. د هرچا خبرو ته پاملرنه او د اړیکو نیولواصلاح به د ټولنیزې سولې په بداینه کې له موږ سره زیاته مرسته وکړي .
که د ټولنې مختلف وګړي ، ډلې ( ګروپونه ) له یو بل سره ښې اړیکې جوړې کړي ، دا به د سولې پر لور یو ښه پر مختګ وي .
که موږ په خپل ورځني ژوند کې دا محسوسه کړو چې زموږ ځینې اړیکې کاواکه (ضعیفې ) او ماتې شوې دي ، نو ددې اړتیا شته چې دا اړیکې بیا له سره وڅېړو او ویې رغوو . له خپل ځان او نورو سره تر هغو پورې مفاهمه وکړو ، ترڅو د ضعف عوامل په کې پیدا او هغه د اړتیا له مخې له مینځه یوسو . وروسته بیا په پر له پسې توګه د موجودو سوله ییزو اړیکو پالنه وکړو ، او له نورو سره د مثبتو اړیکو په را مینځته کولو کې هڅه او زیار وباسو .
ځکه خدای تعالی هم انساني ژوند پراړیکوباندې بنأ بللی ، او دا اړیکې یې د یو بایْع او مشتري تر مینځ د نغد یا جنس په توګه په معاملاتو کې د یوه مکلف بنده له خوا له بل مکلف بنده سره ، او همداسې په عباداتو کې د

هر مکلف بنده له خپل بر حق معبود ( خدای تعالی ) سره په ګوته کړې دي . که چېرته د بنده له بنده سره دغه اړیکي د نغد یا جنس د معاملې په صورت کې په راستئ او صداقت سره تر سره شي ، پرته له عد ل او قسط څخه عدول او انحراف په کې نه وي ، اړیکې یې ترمینځ د خپل مینځي اعتبار او اعتدالي سیاست له مخې سره پخېږي ـ پیاوړې کېږي . اوکه په درغلیو، چل ول او دوکه بازیو باندې بنأ وي ، نو بیا په هغه صورت کې ددغو دواړو انسانانو ترمینځ د اعتماد او باور مزي او اړیکې د حقوق العبادو د اصل نه رعایتولو له امله سره شلېږي ، او آن د دښمنیو تربریده سره رسېږي . ځکه د اعتدال اصل په کې تر پښنولاندې ، اوحقیقت د افراط او تفریط په سیاست کې قرباني شوی . همدلته ده چې پرحق الله او حقوق العبادو دواړو باندې سترګې پټېږي ، ددغو دواړو رابطو ترمینځ د اړیکوتعادل له مینځه ځي ، انساني سیاست د نفساني رأیو اوغوښتنو ترتأثیرلاندې راځي چې بیا یې تر مینځ د سولې بهیر پخېږي او په سوله کې ځنډ او خنډونه مخې ته راځي .

درېیم : د ټولنیزوجوړښتونوسطحه :

د ټولنیزوجوړښتونوسطحه له ټولنیزو مؤسسو ، حکومتي بنسټونو ، قوانینو ، لاېحو(مقررو) ،پالېسیانو ، د تصمیم نیولو او پرېکړو د واک ځایونو .... او د ژوند د سیستم له هغو چوکاټونو څخه عبارت ده چې د هغو له مخې ټولنیز تصمیمونه او پرېکړې تر سره کېږي . ځکه د اکثرو شخړو ریښې له همدې برخې سره تړاو لري . چې بیا ټولنیزې دوامداره شخړې له همدې برخې ځخه تغذیه او د تشدد پرخواخوځېږي .
په سوله ییزو شخړو کې څېړنو او موندنو دا ښوولې ده چې د فقر او بېسوادئ تر څنګ د اکثرو شخړو ریښې د یوې ټولنې د عدالت په سیستم ، د تصمیم نیولو په شکل ، په اقتصادي او سیاسي برخو کې د خلکو د مشارکت په څرنګوالي پورې اړه لري .
د بېلګې په توګه : که د یوې ټولنې حالت په لاندې ډول وي :

- که په یوه ټولنه کې سیاسي ، اقتصادي او ټولنیز جوړښت داسې وي چې د ژوند اساسي توکي او منابع له اړو ( مجتاجو ) او بېوزلو خلکو څخه د بډایانو خواته د انتقال په حال کې وي .
- که دیوې ټولنې حالت داسې وي چې د ټولنې اکثریت په سیاسي ، اقتصادي او ټولنیزو تصمیمونو ا وپرېکړوکې په ریښتیا برخه ونه لري .

نو د یوې ټولنې پورتنی انځور موږ ته دا را په ګوته کوي چې نوموړې ټولنه د خپل جوړښت له مخې له تاو تریخوالي سره مخ ده .
خو که وغواړو چې په یوه ټولنه کې :

- د ټولنیزو شخړو او تاو تریخوالي ریښې اصلاح او یا پرې کړو .
- د دوامدارې سولې پر لور وړاندې ولاړ شو .
- د ټولنیزو ، اقتصادي ، سیاسي او د ژوند د بنسټیزو منابعو عادلانه وېش را مینځته کړو .
- په ټولنیزو پرېکړو کې ټولنیزې ونډې اخیستو ته سمون او پراختیا ورکړو .

ضروري ده چې :
(د ټولنیزو جوړښتونو په سطحه کې اصلاحات راوړل اړین دي .)

- ځلورم : د ټولنې کلتوري سطحه :

دا چې هره ټولنه په خپل ذات کې خپل خپل ټولنيز دودونه ، رواجونه ، رسمونه ، سمبولونه ، عرفونه ، عادات او عنعنې سره لري او په ټوله کې پورتني ټول موضوعات د يوې ټولنې کلتور جوړوي . نوپه هرکلتورکې د شخړواو تشدد د مخنيوي او د تشدد د تحرک (لمسون) عناصرهم شتون لري .که په يوه کلتور(رواج) کې د تشدد(زور زياتي )او يا عدم تشدد عناصر په هره ژوندۍ بڼه فعال وي ، په همغه کچه به د هغې ټولنې سوله ييز او يا د تاو تريخوالي انځور (تصوير) ځرګند او روښانه وي . ځکه چې کلتور او د هغه عناصر د پورته يادو شوو نورو سطحو سره جوخت په ځرګنده توګه د يوې ټولنې د سوله ييز او يا جګړه ييز انځور په ترسيم کې خورا زياته مرسته کولای شي .
که وغواړو چې په يوه ټولنه کې د سولې کلتور ته وده ورکړو ، اړينه ده چې :
هغه ټولنيز رسمونه ، سمبولونه ، رواجونه (معروف عرفونه ، عادات او عنعنې) بايد پياوړې کړو چې اختلافات او شخړې له تشدد او تاو تريخوالي څخه خوندي وساتي . درناوی ، ښه والی ، زغم ، د يو بل منل ، يو پر بل زړه سوی ، مرستې ، پيرزوينې او همغږۍ ته بايد پراختيا ور کړو او د بديو مخه ونيسو .
د بېلګې په توګه :
که د يوې ټولنې د کلتور د مثبتو او ښو عناصرو لکه :
که موږ شهامت (زړور تيا) ، ډالی ، زغم (غوسه خوړل) ، په ښوکې مرستې ( تعاون )، له بديو څخه مخنيوی ، ترحم (زړه سوی)، ښه ګاونډيتوب ، کاراوزياراېستلو ته هڅونه ، د ناروا اوناسمو عنعنو او بېځايه رواجونو مخنيوی ، او د نېکيو تبليغ ته وده او پراختيا ورکړو ، د ټولنيزو شخړو په بد لون کې به زياته مرسته را سره وکړي او سوله ييز ژوند ته به لاره پرې هواره شي .
په پورته توګه په ځلورو يادو شوو سطحو کې به مثبت بدلونونه په شخړو عادت شوې ټولنې د سولې پرخوا پرمختګ ته را واړوي .
ددې له پاره چې په يوه ټولنه کې د دوامداره سولې د تأ مين پر خوا بدلون ( نوښت ) را مينځته شي د يوه دقيق او منظم پلان عملي کېدو ته خورا زياته اړتيا ليدل کېږي ، چې ددې بدلون پيل زموږ له بدلون څخه پيلېږي .
**په لاندې قصه کې دا بدلون وګورئ :**

قصه ـ د ځيزونواواړيکوبدلون :

يو سړی د خپل بدلون ( نوښت )کيسه داسې بيانوي !
ځيزونه او اړيکې هغه مهال بدلې شوې چې ما د شخړو د سوله ييز حل مهارتونه زده کول او تمرينول مې پيل کړل . خو وروسته په دې پوه شوم چې په شخړه کې به هرځومره پر خپل موقف ټينګ ولاړ وم ، په همغه کچه به ما د شخړې په تاوجن حالت تېل او د اور سکروټې ور پاشلې .
آيا پوهېږئ چې اوس د شخړې په حالت کې څه کوم ؟
- يو ګام شاته ځم ، يا يو لنډ پل ونيسم . ( يوه لحظه فکراو زغم مې ترزرځلې پښېمانيوغوره دئ ) .
- ژوره سا اخلم (تنفس) کوم .

- هڅه کوم له مقابل لوري واورم . ( له نورو اورم ! په اړه یې مثبت او اړین تصمیم نیسم ) .

په هره کچه چې د شخړې په حالت کې د پورتني روښ سره سم ګامونه اخلم ، په همغه کچه شخړې له تاوجن حالت څخه د حل لوري پرخوا را ته بدلون مومي .

اوس پردې پوه شوی یم چې :

- د ټولو شخړو بې ثباته کېږ و ، په براس بدلېدو او منفي خوا ته د خوځېدو اړتیا یې نه شته .
- شخړې په اصل کې د لا زیاتې پېژندنې ، فکري نوښت او نویو لارو د لټون په هڅه کې دي .

اوس ماته دا په ثبوت ورسېده چې د شخړو غورچاڼ او پایله مستقیماً له شخړو او زما د کړو وړو سره تړاو لري .

انسان د ژوند په ټولو چارو ( کورنی ، ګاونډ ، ښوونځی ، دفتر، بازاراو ... ) کې له نورو سره اړیکې او تړاو لري . همدا رنګه هرانسان بېلې اړتیاوې او بېلې بېلې غوښتنې لري چې انسانان ددغو اړتیاوو د پوره کولو ا و د غوښتنو د تر لاسه کولو له پاره ځانګړي دریځونه نیسي . کله ناکله د همدې اړیکو په مینځ کې د اړتیاوو ، غوښتنو او دریځونو ترمینځ تقابل هم را مخې ته کېږي او شخړې سر په کې را ټوکوي .

که له شخړو سره په خوندي او سالمه توګه چلند ونه شي ، کېدای شي شخړې په جګړو او تاو تریخوالي بدلې شي .

دشخړو پېښېدل او له هغو سره د چال چلند په بهیرکې د سوله ییز حل مهارتونه په کار اچول د انساني ژوند خوندي ساتلوله پاره ډېرد پام وړدي . دلیل یې دادئ چې :

- انساني درناوی ، ژوند او اړیکې له زیان څخه خوندي ساتي .
- په ژوره توګه پېژندل کېږي .
- د ستونزو د حل استعداد ته وده ور کوي .
- د نویو شیانو د را مینځته کېدو او ودې سبب ګرځي .
- ........

که چېرې موږ په منظمه توګه له شخړو سره د لاس او ګرېوان پر وخت پورتنی نومول شوی مهارت او پوهه خپل عادت وګرځوو او هغه عملي کړو ـ په همغه کچه به بریالی او ښه ژوند ولرو .
موږ باید پردې باندې سوچ او فکر وکړو چې څه ډول په نوموړو مهارتونوباندې خپل ځان عادت کولای او هغه خپلولی شو ؟
که چېرې غواړئ چې په خپل ځان کې مثبت بدلون راوړئ ، نو لازمه ده چې لاندې ګامونه هم پورته کړئ :
۱ـــ آرام اعصاب (ساړه ماغزه ساتل):

دا باید په یاد ولری چې شخړې ذاتاً لږ څه کم و زیاته ګرمي او تاو له ځانه سره لري . خو د تودو او ګرمو هیجاناتو په حالت کې د حل لوري خواته لاره نه شي موندلای . ولې ددې پر خلاف که چېرته مو خپل اعصاب (ماغزه ) لږ څه ساړه وستل ، او له صبر (حوصلې) او زغم څخه مو کار واخیست ، نو بیا خو :

- باید لږ څه دمه شو ، او یا یو ګام وروسته په شا ولاړ شو .
- په ژوره توګه باید سا (تنفس) واخلو . خپل قهر اوغوسه وخورو .
- له خبرو مخکې باید له هیجاناتو څخه ځان خلاص کړو او یا مقابل لوري ته غوږ ونیسو .

د شخړه پیز چال چلند یوکارپوه وایي :

(کله چې زه د شخړې پر وخت لږ څه ژور ه سا واخلم ، لږ خپل ځان ته پام وکړم چې زه په کوم حالت کې یم ؟ نو لږ تر لږه د هیجاني عکس العمل پرځای د شخړې یو مناسب ځواب پیداکوم . خو که په دغه مرحله کې لږ څه بې پروایي اوغفلت وکړم ، نوسملاسي زما د خبرو په استعمالېدونکو اصطلاحاتو او جملو کې توپیر راځي اوله عصباني کېدو(هیجان ) سره یوځای بیا ماته قهر راځي او د مقابلې په بدرنګې لارې تلو ( دریځ اختیارولو) ته مې هڅوي .

د شخړې په صورت کې تاسي څه کولای شئ ؟

ښایي تاسې په خپل ذهن کې د هغو لسو شیانو نومونه انځور او یا یې په خپله عملي کړئ چې ستاسي ماغزه سړوي .

لومړی : • ژور تنفس وکړئ .

. له خپل موقعیت څخه ځان لیرې کړئ .

. ژور تنفس وکړئ .

- پورته آسمان ته وګورئ .
- په یخو اوبو اودس وکړئ .
- .....

بالآخره دا ځانته معلومه کړئ چې د قهر پر وخت ستاسي کومه هڅه تاسو له قهر څخه ژغوري ، له همغې هڅې څخه د قهر پر وخت ګټه واخلئ .

۲ـــ پرته له دې چې بله خوا پړه او ملامته وګڼئ او یا یې ووېروئ ، د موضوع یا ستونزې په هکله خپل احساس ، اندېښنه ، یا خوا شیني را وسپړئ . د بېلګې په توګه : لاندې دوې جملې ولولئ :

- تاسو بیا د پخلنځي لوښي ناولي او په بد حالت کې ګډوډ پرې ایښي دي .
- ته یوازې خوارک ته تیار یې او د لوښو پرېوللو ته دې ملا ماته ده .
- په پخلنځي کې بیا د ناولو نا وینځلو لوښو پر لیدو سره ډېر وځورېد م ، موږ خو په دې سره سلا شوي وو چې لوښي به تر خوراک وروسته پرېولو ، حیران شوم چې کومه ناوړه پېښه نه وي شوې .

د شخړو د حل سوله پیزه کونجي (کلئ ) داده چې موږ د ستونزو په وړاندې په ګډه مبارزه وکړ و نه دا چې له یو بل سره د نااندریو ( تاویلي ما ویلي ) او یو پر بل باندې د ملامتئ هڅې وکړو .

۳ـ هره خوا دې د بلې خوا هغه څه په سړه سینه واوروي چې اورېدلي يې وي :
د شخړې او تودو بحثونو په مينځ کې دا ډېره سخته ده چې د يو بل خبرو ته غوږ شو او هغه واورو ، تر څو يوې هوکړې ته پرې ورسيږو .ځکه هره خوا زيار باسي چې ددوی خبره بايد واورېدل شي ، له همدې کبله په زوره نارې سورې جوړې کړي او ځان په حقه ګڼي ، ترڅوثابته کړي چې پر ده ـ يا دې باندې ظلم شوی . خو په دې حالت کې يو هم نه شي کولی چې خپله خبره پر مقابل لوري باندې واوروي . چاره څه ده ؟
زه هم پخوا همداسې وم . کله مې چې د يو ګام وروسته کېدو ، ژورې سا اخيستو ، مقابل لوري ته د موقع ورکولو او تمرين ښېګڼې وليدلې ، نو د ډېرو تودو بحثونو په حالت کې هم نوموړی تمرين په ډېر لږ تو پير سره عملي کوم .

- ځانته لږ څه موقع ور کوم . ژوره سا (تنفس ) اخلم .
- خپل فکر او حواس تنظيموم ، په ډېره پاملرنه د خبرو له پاره د خپلو وېيلو له پاره رغنده لغات او جملې انتخابوم .
- ځان ناخبره نيسم او په ډېر احتياط پر مقابل لوري سلام اچوم . بيا له مقابل لوري پوښتم چې خير خو دئ څه پېښه ده ؟ يا څه کيسه ده ؟ پردې سره هغوی پوهوم چې په اصل کې زه غواړم هغوی واوروم . د هغوی خبرې هم اورم . بيا هغه څه چې ما اورېدلي ، هغوی ته يې په هغو رغنده جملو کې اوروم چې ما د مخه ور باندې سوچ کړی ؤ ( په پسته او نرمه له پند او حکمت څخه ډکه ژبه ). چې دا بيا زما د اورولو سره جوخت په هغوی کې له ميل او رغبت پيدا کېدو سره مرسته کوي ، تر څو زما خبرو ته هم غوږ ونيسي . له دې وروسته هغوی ددې وړتيا پيداکوي چې د يوې پرېکړې خواته لاره ومومي . تاسو هم باور وکړئ چې دغه تمرين ډېر ګټور او ژور اغېز لري . او ما خپله تر دې وړاندې دا باور په ځان کې نه درلود .

۴ــ مسؤوليت پرځان منل :
په ډېرو شخړو کې دواړه خواوې يو د بل په وړاندې يو څه مسؤوليتونه هم لري . خو د افسوس خبره داده چې هرلوری په مقابل لوري باندې غواړي تورونه پورې کړي او د ملامتولو (پړې) اچولو هڅه يې کوي ، او خپل ځان سپين باز ګڼي . خو که موږ لږ ترلږه يو څه مسؤوليت پرغاړه واخلو ، نو موږ به په بشپړه تو ګه د شخړې له منفي اړخ نه مثبت لوري ته بدلون ورکړو . خو پوښتنه داده چې د شخړې په مينځ کې دا بدلون ( نوښت) څنګه امکان پيدا کولی شي ؟
ځواب يې دادئ چې که له پخوانۍ يادې نسخې څخه کار واخيستل شي نو ښې پايلې به ترې تر لاسه شي .
د بېلګې په تو ګه :

- لږ څه له خپل موقعيت( ځای ) څخه ليرې شی .
- ژوره سا واخلی .
- د مقابل لوري خبرو اورېدو ته ځان چمتو کړئ ـ ښې رغنده او له عاطفې او حکمت څخه ډکې پر معنا جملې له ځانه سره په ذهن کې تکرار او بېرته را وګرځئ .

۵ ــ د ستونزې د حل له پاره له دواړو خواوو څخه حل لارې وغواړئ :

د شخړو حل ، ابتکار او نوښت ته اړتیا لري . د هرې شخړې له پاره په لسهاوو حل لارې شتون لري خو ددې حل لارو کونجي ( کلی) د دواړو خواوو له هڅاند تمایل او رغبت سره تړاو لري . دا په دې معنا چې تمایل او رغبت باید وهڅول شي ، او له دواړو خواوو څخه حل لارې وغواړي . کله چې حل لارې یې سره را ټولې کړې ، نو بیادې ددواړو خواوو حل لارې سره مقایسه کړي . د توافق او نږدې کېدو ټکي دې ترې را ټول - اولومړی دې له هغو ټکو پیل وکړي چې دواړه خواوې پرې رضأیت ولري .

۶ــ تائید ( تصدیق ) ، بخښل او مننه کول :

یو له بل سره روغبړ ، غاړه غړی کېدل ، د مینه ناکو اصطلاحاتو او جملو کارول د شخړو په حل کې ډېره مرسته کوي . بخښل او معافي په دواړو خواوو کې له تر خو یادونو ، مړاوی او غمجن حالت څخه خلاصون مومي اوپه دواړو خواوو کې د سولې احساس را مینځته کیږي . که موږ زیار وباسو چې یو د بل له احساساتو ځان خبر کړو ، نو موږ ته به خپله د شخړو حل لاره ځان را وښيي .

د اسلام له نظره د بدلون بنسټ

د اسلامي ټولنو اصلاح یو ساده او آسانه کار نه دئ . پرته له یوې دقیقې نقشې او معقولې کړنلارې د انساني ټو لنو اصلاح نا ممکنه ده .
د یوې ټولنې وګړي هغه وخت له خوبه را ویښیږي ، درکود حالت یې پر خوځېدو راځي او د سمون او اصلاح خواته روا نیږي چې د یوه ریښتیني تعهد پر بنسټ د داسې ښوونې او روزنې څخه برخمن او د انساني سلیم فطرت ټولو غوښتنو ته ځواب ووایي .خو نوموړې ښوونه او روزنه باید په لاندې برخو کې د بدلون سبب جوړه شي :

- د انساني اټکل او ارزونې په معیارونو کې . ( د علمي او جسمي ځواک په لرولو سره ) .
- د ژوند په مختلفو اړخونو کې د ځان اونورو په اړوند په تصمیم نیولواو پرېکړو کې .
- د ځان او خواوشا چاپیریال د مسؤولیتونو په هکله .

کله چې د یوې ټولنې د وګړو د پوهې او ارزونې کچه داسې سطحې ته ورسیږي چې په هغې کې پورتنې بدلونونه را مینځته شي ، همدلته نوموړې ټولنې د سوله بیز بدلون په لور خوځیږي .

الله تعالی د قرآنکریم د رعد سورت په (یوولسم) آیت کې د بشري ټولنو د بدلون په اړه د یوه بنسټیز عامل یادونه کوي او داسې فرمايي :

( انَّ اللهَ لا یغیّرُ ما بقوم حتّی یغیّرُوا ما بانفسهم )

ژباړه : ( الله تعالی د هېڅ قوم (ملیت) حالت ( وضعیت ) ته بدلون نه ورکوي ، تر څو چې هغوی د خپلو نفسونوپه حالت (وضعیت ) کې بدلون را نه وړي . د رعد سورت (یوولسم) آیت

د وضعیت او حالت د بدلون څخه مطلب دادئ چې په انساني ذهنیتونو ، کړنو او د ژوند په ټولنیزو مناسباتو کې باید بدلون (انقلاب ) راشي . بد خویونه ، رواجونه او خصلتونه باید لیرې ، او پر ځای یې ښه خویونه (بشپړ انساني سیرتونه ) ، رواجونه او دودونه مینځته راشي .

د بېلګې په توګه :

له بېرحمۍ څخه د ترحم ، له کرکې څخه د مینې ، له دښمنۍ څخه د ورور ولۍ ، له بدبختۍ څخه د نېک بختۍ ، له جهالت څخه د پوهې ، له ذلت څخه د عزت ، له غلامۍ څخه د آزادۍ ، له خوب څخه د ویښتیا ، له رکود څخه د خوځښت ، له بې تصمیمۍ څخه د تصمیم نیولو ، له برده ګۍ څخه د خپلواکې رهبرۍ ، له بې اتفاقۍ څخه د اعتصام او اتفاق ، له جګړې څخه د رېښتینې سولې ... او برعکس افادې او مفاهیم شامل دي .

بدلون تل له انسان څخه پیلېږي . په انساني تصور او تفکر کې د بدلون بنسټ د خپل ځان او هغه وضعیت (ټولنیزو مناسباتو ) په اړه چې نوموړی انسان په کې استوګن دئ ـ پیلېږي . داسې بدلونونه چې له مخې یې انسان وکړای شي په خپلو اعمالو باندې بشپړ کنترول او تسلط ولري ، ښه له بدو تمیز (فرق) کړی شي ، د خپل ځان او نورو په اصلاح کې اړینې کړنې تر سره کړای شي .

په حقیقت کې د بدلون بنسټ په الله تعالی او آخرت باندې **د ایمان** او باور څخه پیلېږي . ایمان په انسان کې دداخلي (ضمیر) د رڼا سبب جوړېږي . چې د نوموړې رڼا په واسطه موږ خپل داخلي چاپېریال (مثبت او منفي افکار ، غوښتنې ، اړتیاوې .... ) سره پېژنو . همدارنګه ددې رڼا په واسطه موږ دباندې چاپېریال د مناسباتو ، اړیکو او تمایلاتو څرنګوالی د انساني سوله ییزسلیم فطرت سره پرتله کولای شو .

تاسې کولای شئ چې ښه له بدو ، حق له باطل ، او سوله له فساد څخه توپیر اوسره بېله کړئ . هغه بدلونونه چې پر الله تعالی باندې د ایمان ـ او د ایمان د غوښتنو له اغېزو څخه را مینځته کېږي ، په ځانګړي او ټولنیز ژوندانه کې د مثبتو بدلونونو سبب ګرځي . ایمان په حقیقت کې انسان ته د انسانیت ژوند ور ښیي . چې دغه ژوند له حیواني ژوند څخه په کامله توګه توپیر لري . ددې ژوند خصوصیت دادئ چې له خپل ځان او نورو انسانانو څخه د فساد او ظلم د ټولو بڼو څخه د نجات او خلاصون هڅه کوي .

تمرین : څنګه کولای شو په خپله ټولنه کې د سولې پر لور د دوامدار بدلون نقشه جوړه کړو ؟

دریم فصل

تشدد (تاوتریخوالی) اوجګړې

تر دغه سر لیک لاندې په لنډه توګه تشدد (تاو تریخوالی) او جګړه لولو :

الف : تشدد (تاوتریخوالی):

تعریف : هر ډول ذهنیتونه ، تصورات ، کړنې او سیستمونه چې د ځان او نورو د فزیکي ، مادي ، معنوي ، رواني او چاپېریال ته د زیان اړولو او صدمې رسولو سبب وګرځي ـ تشدد ( تاو تریخوالی) بلل کېږي .

تشدد او تاو تریخوالی د انساني جوړښت په سرشت او طبیعت کې وجود نه لري ، په بله وینا : تشدد جینیتیکي او ارثي بنیاد او بنسټ نه لري . بلکې د ټولنې د اړیکو له څرنګوالي او مناسباتو څخه را مینځته کېږي . هېڅ انسان له نورو سره د نفرت او جګړې کولو له پاره دنیا ته نه راځي ، نفرتونه ، تاوتریخوالی او جګړې هغه وخت را مینځته کېږي چې ځانګړي او ټولنیز ذهنیتونه (رواني او فزیکي ناروغی ) ، کړنې ، ټولنیزې اړیکې ، مناسبات او د ستونزو په هکله د پرېکړو جوړښتونه (( پالېسیانې ، دستورونه ( قواعد ، لایْحې او مقررات ) او تطبیق)) او یا سیستم ونه شي کولای د ټولنیزو شخړو د مخنیوی ، مدیریت ، حل او د بدلون له پاره اغېزمن ( مؤثر) اوعادلانه بنسټونه را مینځته او فعال وساتي .

د تشدد یا تاو تریخوالي ډولو نه :

په ښکاره خو موږ داسې آنګېرو چې تاو تریخوالی د یو شمېر کړنو لکه د : رټلو ، وهلو ، ټپي کولو ، وژلو او جګړه کولو په څېر را څرګندېږي . دا ډول پېښې د نړۍ په مختلفو ځایونو( کورنیو ، کلیو ، بانډو او ښارونو....) کې په پراخه توګه لیدل کېږي . خود تاو تریخوالي ځینې ډولونه چې په ښکاره توګه نه لیدل کېږي ، خو اغېزې یې په دوامداره توګه د یوې ټولنې یا ډېرو ټولنو د کړاوونو او رنځولو سبب ګرځي . دا ډول تاو تریخوالی کله نا کله فیصدي بڼه لري او یا یې هم نه لري . د بېلګې په توګه : د نورو ژوندنیو او رواني اړتیاوو ته نه پاملرنه ، په نړیواله تو ګه د شمال او جنوب اقتصادي او سیاسي مناسبات ( د پورونو ادأ کولو شرایْط ، د مستبدو نظامونو تر شا درېدل او د هغوی پټ او ښکاره بشپړ ملاتړ ، د وسلود پېر او پلور له پاره د بازار موندل ، د بحرانونو هڅول ، او بیا د وسلو او مداخلو سیالۍ .... ) دا ټول د تاو تریخوالي هغه شکلونه دي چې د یوې ټو لنې د لویو پرګنو ژوند له خطر او تهدید سره مخ کوي . موږ او تاسې په خپلو سترګو وینو چې همدغه ډول تاو تریخوالی په نړیواله کچه روان دئ .

په لاندې توګه د تاو تریخوالي ( تشدد ) د ځینو ډولونو یادونه کېږي :

١ ــ مستقیم یا ښکاره تشدد : هغه تاو تریخوالی دئ چې په ښکاره توګه لیدل کېږي ، لکه : ښکنځل ، وهل ، تهدید ، تعذیب ، وژل ، شړل .... بندي کول .

٢ــ غیر مستقیم یا پټ تشدد : هغه تاو تریخوالی دئ چې په ښکاره توګه نه لیدل کېږي ، خو اغېزې او اثرات یې محسوسېدای شي . لکه د نورو په وړاندې توپیري چال چلند ، تعصب او تبعیض ، بې تفاوتي ، محرومیت ..... او نور .

په حقیقت کې غیر مستقیم یا پټ تاو تریخوالی د ښکاره تاو تریخوالي رېښې جوړوي ، او ښکاره یا مستقیم تاو تریخوالی له همغو څخه تغذیه کېږي .

غیر مستقیم یا پټ تشدد دوه ډوله دئ :

الف : ناسمې انګېرنې او احساسات : په ذهني توګه د یو شمېر ناسمو ذهنیتونو او احساساتو لرل او خورول لکه : وېرې ، نفرت ، په خپل قوم ، ژبې او سیمې باندې افتخارکول ـ کبر او لویې ، او نورو ته په ټیټه سترګه کتل ، بې اعتمادي ، کینه ، منفي او ناسم رسم او رواج ، د ناروا او خرافي عنعناتو پیروي ، نا سم او غلط معلو مات.

ب : د مخه پلان شوی تشدد : د منابعو نا مناسب او غیرعادلانه وېش ( ښوونیزو ، روغتیایي ، عدلي ، اقتصادي سرچینواو خدماتو ته نا انډوله لاس رسی ، سیاسي نا برابرئ او د مور او میرې په څېر نا برابر سلوک (چلند) ، له حقوقي پلوه له هر څه څخه محروم او په ګوښه کې ساتل ....او داسې نور د پلان شوي تشدد بېلګې دي .

د سازمان یافته پلان شوي تشدد تعریف :

سازمان یافته پلان شوی تشدد د یو شمېر جوړښتونو او ذهنیتونو مسلط (حاکم) موجودیت دئ چې په سیستیماتیکه توګه د یوې ټولنې د ځینو خلکو یا ډلو د استعدادونو (آی کیو) د ودې او پر مختګ مخه نیسي . دغه جوړښتونه ددې سبب کېږي چې نوموړي خلک او ډلې د خپل ژوند اړتیاوو ته لاس رسی ونه مومي .

د پلان شوي سازمان یافته تشدد قربانیان ورو ورو د خپل ژوند له آسانتیاوو څخه محروم او د مرګ خواته په لوی لاس ور ټېل وهل کېږي . توکم پالنه ، نژاد (رنګ) پالنه ، جنسیت (پدر سالاري ـ یا مادر سالاري) پالنه ، ژب پالنه او داسې نورد سازمان یافته تشدد نمونې دي . په دغه ډول تشدد کې عدالت تر پښو لاندې ، حقیقت په کې قرباني او مستحق کسان له هر څه نه محروم پاتې کېږي ، همدلته ده چې سوله له شدید تاوان او نابودئ سره مخ کېږي .

د تاو تریخوالي تخریبي دوران :

ډېری ټولنې اود هغو ټولنو استوګن وګړي د تاو تریخوالي او تشدد د مختلفو ډولونود بیا ځلې راتلو پروخت په پایلو کې را ښکېل کېږي .

خو د تشدد (ظلم) ددغه دوراني حرکت مهم عناصر عبارت دي له :

- تېری کوونکی (ظالم)
- تشدد (ظلم)
- قرباني شوی (مظلوم)
- بدله یا کسات (انتقام)

ننني قرباني د سبا ورځې د بدل (انتقام) له پاره شپې ورځې شمېري او د خپل مټ پوره کولو او پیاوړتیا له پاره د کسات او بدلې (انتقام) تر شېبې پورې لارې او خپل پلویان چارې لټوي .

همدارنګه ننني تېرى كوونكى (ظالم) له ده څخه د سبا د انتقام له وېرې زيار باسي ، څو داسې يوه ډله ، اړيكې او سيستم را مينځته كړي چې پر ده باندې د احتمالي بريد مخه پرې ونيسي . په پايله كې د تاو تريخوالي ظالمانه ذهنيتونه ، كړنې او د تاو تريخوالي ظالمانه سيستمونه او كلتور پراختيا مومي چې ټو لنه په كې را ګير او ښكېل كېږي .

د تاو تريخوالي سيستمونه د ټولنو پر مختګ او انساني هو ساينه له ركود سره مخ كوي . په داسې ټو لنو كې انساني حقوق په پراخه تو ګه تر پښو لاندې كېږي .

لاندې شكل ښه وګورئ !

تېري كوونكى

تشدد

انتقام

د تشدد(ظلم) په دوران كې بنده شوې ټولنه

قرباني (مظلوم)

تشدد او تاو تريخوالى په حقيقت كې يوه ټولنيزه ناروغي ده چې نه يوازې د انسانانو روغتيا او سلامتيا ته زيان رسوي ، بلكې ټو لنيزې اړيكې هم زيانمنې كوي ، د ټو لنې تعادل او سوله ييز حالت ته تاوان پېښوي او سوله له ماتې سره مخ كوي .

لكه څنګه چې نوري ناروغۍ ـ د هغې له عواملواو حفظ الصحي څخه د غفلت او بې پر وايۍ او د نظافت د نه مراعات كولو ، د چاپېريال د بدلونونو او د انساني وجود دداخلي چاپېريال د ځينو اختلاطاتو او بې نظميو يا جينيتيكي مسائېلوڅخه را مينځته كېږي . همداسې تشدد او تاو تريخوالى د ټولنيزو تعاملاتو ، غير معروفو رواجونو ، ځان غوښتنو(خپلسريو) ، بخيليو ، حيوان صفته حرصونو ، پر ژوندنيو سر چينو باندې د خېټې اچولو او پر نورو باندې د لاس برۍ او غلبې ، انحصاركولو .... له ذهنونو او په خپله خوښه خپلسرو كړنو څخه د ټو لنيزو اړيكو په مينځ كې تمرين او عملي كېږي . له دغو كړنو څخه نور زده كړه كوي او ورو ورو د ناسم كلتوري جوړښت بنه غوره كوي .

په ننۍ نړۍ كې تاو تريخوالي اود تشدد (زور زياتي) كړو وړو ډېره پراختيا موندلې ده . د ډول ډول وسلو پراخ خپرېدل ، سيالي او پر ببوزلو باندې د هغو پراخ بېرحمانه استعمال په انساني ژوندانه كې يو پر بل باندې باور او

اعتماد له ډول ډول ګواښونو سره مخ کړی دئ .  په بله وینا : په اوسني وخت کې انساني ژوند له ډول ډول تهدیدونو او وېرو سره مخا مخ دئ .

په دې برخه کې د لوستونکو پام زما خپلې یو ې مقالې ته را اړوم چې سر لیک یې دئ : ( افغانستان د پېښنو محوراو برخلیک یې ) ترڅولوستونکي پوه شي چې جګړه ئیزو پېښنو زموږ په هېواد کې څومره ورانی کړی.

افغانستان دپېښومحوراوبرخلیک یې

وایي چې : ګل د کد و ګل ګوره + یو چې لتوې ترې لاندې بل ګوره .

د شلمې پېړۍ وروستی دوې لسیزې ـ او د یوویشتمې پېړۍ لومړۍ یوه نیمه لسیزه افغانستان د سیمې او ټولې نړۍ د پېښنو مرکزؤ. خو دا چې دغه پېښې چېرته طرح رېزي کېدلې ؟ چا عملي کولې ؟ او څوک په کې له مینځه تلل ؟  دا بېلې ـ اوڅو په ډانګ پیلې پو ښتنې دي . ځکه په تېرو (۳۷) کلنوجګړو کې هرڅه په ډاګه شول چې په افغانستان کې دغه پردی جنګ د کومو وجوهاتو له مخې د کوم فورمول پراساس جوړشوی ؤ او څوک په کې د کومو موخو له پاره وسوځېدل .

که زه د دې پوښتنوپه تړاو خپل ځواب له درنو لوستونکو سره په لنډه شریک کړم ، نو باید ووایم چې : په افغانستان کې پردی جنګ او د جګړې دوام د پخوانیوچارواکواوسیاسي څېرو د خامو سیاستونو زیږنده او پایلې دي . ځکه هغوی د خپل سیاسي واک د د بګ برغولي خپله د نورو په اشاروپه لوی لاس پورته کړاو په د بګ کې پراته ټول ملي محرمات یې له نورو سره شریک کړل چې له امله یې په لاس ورغلي خپل ټول فرصتونه د خپلو لنډ مهاله کاذبو واکمنیو د سر صدقه کړل .

که نه نودا خو یوه کلیه ده چې : دولتي مرجع باید یوؤلسواک قانوني نظام وي ، ترڅود خپل ؤلس په ملاتړ د خپلو اتباعو په استازیتوب د یوه منل شوي قانون او ملي وثیقې په عملي کولو سره په کورنی او بهرنۍ کچه خپلې ملي پرېکړې د خپل ؤلس ، خپلې خاورې او خپل نظام د بقأ په خاطرد خپلو ملي ستر تیژیوپه چوکات کې د خدمت جوګه وبلل شي .

دداسې دولتي سیستم جوړېدل بیا پرته له بهرنی وارداتي دروازې څخه په کورد ننه د اهل الرأی افغانانو له خوا په ډاډمنه فضأ کې پرته له لاسوهنو ترسره کېږي او د ؤلس اهل الرأی خلک د هېواد مشرتابه ټاکي . دغه ډول مشر تابه د ملت له خوا په سري اوعلني توګه غوره کېږي ، هغوی د ملت له خوا دغه ډول درانه سترمسؤولیت منلو ته مجبورېږي ، خوداسې نه چې مشرتابه د خپل ځان له پاره خپله کمپاینونه کوي ، نا اهله خلک په پیسو را نیسي ،

هرځای یې لکه د ؤلسي جرګې په ټاکنوکې د زر، زور او تزویر دامونه اېښي وي او خپل ځان له دغه ډول کاذبوسوړو څخه د واک د هِرم څوکې ته پرې رسوي .

دغه ډول عناصر د واک له ترلاسه کولو وروسته هېڅکله هم د افغانستان ؤلس ، خاورې او نظام ته کارنه کوي ځکه چې هغوی د خپلو خلکو ، خپلې خاورې او خپل نظام د چوپړ له پاره نه ـ بلکې د خپل جیب ډکولواو پرد یو استخباراتو له پاره د خپل ؤلس د استازي په جامه کې خپل ځانونه سیستم ته داخل کړي وي ، ترڅوپه قانوني بڼه خپل ؤلس ، خپله خاوره او خپل دولت چور، کمزوری او رسوا کړي .

همدغه وجه ده چې دداسې عناصرو له لاسه زموږ دولت او ملت دواړه د (۱۶) کلنو بهرنیو مرستو او کورنیوعائداتو په شتون کې له لوږې ، تندې او نا امنیو څخه مړه شول او افغانستان د نړۍ د فاسدو هېوا دو په کتارکې و ګڼل شو. افغانستان د تېر په څېر د ناسم مدیریت له کبله همداسې وران ویجاړ پاتې شو . هغه متل دئ چې وایي : هندو سترۍ ـ خدای ناراضه ، مېږ مرداره ـ پور پرغاړه . د نړیوالو تر احسان لاندې هم راغلو ، او د خپل هېواد سیستمونه مو هم ونه رغول .

یوه ورځ یوه لېوني په ځمکه کې مړوی ټکواهه ، بل لېوني هغه مړوی له ځمکې را و ایست او لومړي ته یې ور ناړې کړې چې : هې ! د مخه خو په دې ځمکه کې سوړه نه وه ، اوس دې چې دا مړوی په کې ټکواهه او ما بېرته ترې را و ایست ، نو دا خاوره یې څه شوه ؟ اوس هم افغانستان ته خو مرستې را غلې ، پرکومه خوا بېرته و ایستل شوې ؟ ځکه اوس خو په افغانستان کې نه هغه مرستې شته ، او نه هم د مرستو کوم بدیل دلته لیدل کېږي .

دا ځکه چې له پیله زموږ دعزل او نصب مهال وېش د خپل ملت له متن او بطن څخه نه ، بلکې د بن په غونډه کې او له هغو وړاندې د نورو په لاس جوړ شوی ؤ او داسې خلک هېڅکله هم د هېواد او هېواد والو خواخوږي نه وو . په لوی لاس یې د افغانستان سوله له مینځه یووړه اوافغانستان یې د جګړې ډګرجوړکړ، له سیمه ئیزواو نړیوالو باندېونو څخه عزرائیلیان جوړشول چې هردم اوهره ګړۍ زموږ له هېواد والو څخه د تروربستي پېښنو په قتل ځای کې سا اخلي او په تدریجي او تلپاتې مرګونو یې را څخه وژني .

اوس به راشو دېته چې له نن څخه (۳۷) کاله وړاندې د تروربستي پېښنود افعي مارانو د نسل دغه مرګوني سوړه لومړی کوموپاډوګرورا وسپړله چې خپله یې له دغوتروربستي رسیوڅخه ځانته کټونه ترې بوټلې اود پاسه خپل خوبونه ورباندې کوي ، خوزموږ د زاړه کورپه انګړکې یې ترهره تیږه لاندې بیا ځالې جوړې کړې اولا تراوسه پورې زموږ ببوزله هېوادوال په ډېره بېرحمۍ سره ددوی ترمنترلاندې ترې چیچل کېږي ، ولې ددم دارو واګې یې له هېچاسره نه شته .

ددغه ډول عناصرو هڅه تل داده چې یوازې د خپل ځان اوخپل راج چلولو د بقأ له پاره د نورو په مرګ ژوبلوکې تل له دوست او دښمن سره په ناروا ملي ضد معاملو باندې اخته وي . دوی ته ترخپلو ځانو ، خپلوخپلوانواو خپلو ګټو هېڅوک او هېڅ شی غوره نه دي . دوی ته د خپل هېواد تاریخ ، ملي او دیني روایات او د افغانستان مظلوم ؤلس هېڅ ارزښت نه لري . ځکه خو پردې باندې خوښ دي چې د خپل ځان ، خپل نظام ، خپل هېواد ، خپل اقتصاد ، او خپلو زېربنا وو کاواکه کولو ، چور تالان او له مینځه وړوله پاره د افغانستان د د ښمن هرې ناروا ملي ضد معاملې ته په دوو پښو تیارسۍ ولاړ وي .

تاسووګوری چې دغوعناصرو په دا تېروڅه کم څلورو لسیزو کې د افغانستان یوموټی مجاهد ؤلس له سمتي ، ژبني ، قومي او مذهبي ډلو وېشلو پرته نورڅه کارکړی ؟ همدوی د پردیو استخباراتو په لومو کې ځانونه ورغورځولي او تل يې په ملي ضد کارونوترسره کولو باندې لاس پورې کړی ، له سفارتونو پیسي اخلي او بیا د مظلومو افغانانو له پاکو احساساتو څخه پرسؤ استفادې سره د خپلو بادارانو په دستورغونډې اولاریونونه جوړوي ، ددولت او ملت تر مینځ فاصلې را مینځته کوي ، خو کله چې خوار افغانان خپل شوم هدف ته پرې ور تېل وهي ، خپل ځانونه ترې وباسي او مظلوم او بې خبره افغانان په خپلو وینوکې پرتروربستي ډلو لېت پېت کړي . تاسې وګوری د دهمزنګ پېښه ولې را مینځته شوه ؟ ددې خونړی پېښي ترشا د چا لاسونه وو ؟ ولې مذهبي او توکمي اور ته لمن وهل کېږي ؟ ولې ملت او دولت په جنګ سره اچول کېږي ؟

همدغه ډول مزدورالالصله عناصر جمهوررئیس خپلو پلانونوعملي کولوته هم نه پرېږدي ، له هرې خوا خنډونه ورته را مخې ته کوي ، تل د خپلو امتیازاتو ترلاسه کولو په لټه کې دي ، له عائداتي سرچینونیولې آن ترنورو ټولو امتیازاتو ترلاسه کولو پورې په ټولو شیانوکې یوازې خپل ځان واجب الاحترام او مستحق ګڼي . په هېڅ شي باندې نه مړېږي . یوازې خپل ځان د واک د هِرم څوکې ته رسول غواړي . ولو که شین سوټی هم وي .

دا ځکه چې ملت خپل انتخاب په سمه توګه نه دئ کړی . په اصولي شکل يې خپله ایماني او وجداني دنده نه ده تر سره کړې . پایله يې هم دا ده چې ددوی په پاکو رأیو دغه ډول یو شمېرعناصرو پارلمان او د حکومت نورو څوکیو ته لاره موندلې ، هغوی ددولت له مخالفینو سره غاړه غړی دي ، او بیه يې هم همدغه مظلوم او بې خبره ملت پرې کوي .
زما له حکومت څخه د دې خاورې او ددې نظام د یوه تبعه په صفت دا تمه ده چې د راتلونکورنیو ټاکنوترسره کېدو په خاطردې پرټاکنیزواصولواوبنیادونواصلاح کولو باندې بېخپوره کاروکړي ، ترڅوافغانستان د تل له پاره ددغه ډول غمجنو پېښوله محوره پرې خلاص اواوسنی مجهول برخلیک يې په آزاد اوځرګنده ډول د ریښتیني سولې په رڼا کې و ټاکل شي .

دتاوتریخوالي کمول اوله مینځه وړل:

د تاو تریخوالي د کمولو او له مینځه وړو له پاره دېته اړتیا ده چې د ټولو په ډاګه شوو او ښکاره پېښو اړونده برخوته ښه ځیر او اړتیاوو ته يې پاملرنه وکړو . خو دلته اړینه د اده چې موږ باید له یوې خوا په خپل ځان کې د سوله ییز ذهنیت او کړنو عناصر د تاو تریخوالي د ذهنیت او کړنو له عناصرو سره پر تله کړو او دې ته پام وکړو چې زموږ په ورځني ژوند ( ناسته ولاړه او ورځنیو تعاملاتو) کې په ارادي او غیر ارادي ( خپلواکه او غیر خپلواکه ) توګه زموږ په اړیکو او چاپېریال کې د تاو تریخوالي د عناصرو څومره ډول ډول شکلونه سره بدلېږي را بد لېږي ؟ موږ باید نوموړو عناصرو اوپه تېره بیا دېته پاملرنه وکړو چې آیا د هغو د اصلاح له پاره څومره تدابیر تر لاس لاندې نیول کېږي ؟ او له بلې خوا عدالت ته پاملرنه وکړو چې زموږ په اړیکو او د حقوقو په تأمین کې د یو بل حقوق څومره په پام کې نیول کېږي ، او هم په عدلي سیستم کې پرېکړې (فیصلې) څومره عادلانه دي ؟ آیا ؤلس عدالت ته لاس رسی لري ؟ په اقتصاد او سیاست کې د عامه ؤلس ونډه څنګه ده ؟ د تېري کوونکو (ظالمانو)د مخنیوي ـ اود قربانیانو (مظلومینو) د ملاتړ او حمایي وضعیت څنګه دئ ؟ ؤلس ته د خدمتونو د مسؤولو نهادونو او ادارو په نوم د ؤلس د ستونزو په لیرې کولو کې څومره اغېزمن رول لوبولی ؟ آیا وګړي او ډلې خپلې شخړې په سوله ییزه توګه ،

ډارولو ، تاو تريخوالي ، زر ـ زور او تزوير ....سره حلوي ؟ د شخړو په حل کې د ښکېلو خواوو ونډه اخیستل څومره دي ؟ .... او نور .

که په پورته ډول د ژوند مختلفو برخوته په دقيقه او ژوره توګه ځیرشو ـ وبه ګورو چې د سولې رېښې په ډېرو ځايو کې له خنډونو سره مخ ـ او له عدالت او انصاف سره ډېر تړاو نه لري . خو د عدالت د تطبيق او عملي کېدو له پاره په بنسټيزه توګه د ژوند په ټولو برخو کې اصلاحي بدلونونو او آسانتياوو را مینځته کولو ته ډېره اړتيا ده .

موږ. اوتاسې په دې پو هېږو چې ټول انسانان په انسانيت کې سره برابر او ديوه واحد ذات (الله)جلّ جلاله بنده ګان دي . او ټول خلک د عقل او شعورلرونکي دي ، او يو يې د خپلو ليد لوريو ( د خپلې فکري زاويې ) له کنجه دنيا ته ګوري . دوی هريو د خپل ځان او خپلې ټولنې په اړه احساسات ، عواطف ، غوښتنې او اړتياوې لري .

دوی حق لري چې په عزت او کرامت سره خپل ژوند وکړي . د ژوند د سمون او په ټولنه کې د اغېزمنې برخې اخیستو له پاره د ښوونې او روزنې حق لري . همداسې بايد ټول خلک ددې وړتيا وموم‌ي په هغو پرېکړو کې برخه ولري چې له ژوند سره يې اړيکې لري او اغېزې پرې کوي . خو که نور څوک د دوی په برخه کې پرېکړې او فيصلې کوي ، نو بايد د هغوی پرېکړې او فيصلې ددوی د اړتياوو او احساساتو غږ. منعکس کړي .

د ټولنيزو اړيکو او جوړښتونو په مينځ کې د تاو تريخوالي د سر چينو په پېژندلو او د هغو د اصلاح يوه مهمه وسيله د ټولنې تر مينځ په مختلفو برخو کې له يو بل سره خبرې کول دي . ځکه د خبرو اترو له لارې افکار او نظريات سره تبادله کېږي . د ستونزو له پاره ګډ تعريفونه را مينځته کېږي . او د هغو له مخې بيا حل لارې په ډېره آسانۍ سره پېژندل کېږي .په ټولنيزو خبرو کې به دا هم په ډاګه شي چې د دوی پرمخ دهمغږۍ اوله يوبل سره د مرستې کولوڅومره لارې خلاصې او څومره نورې تړلې دي ؟ د پرانستو لارو څخه د سولې ، امن او پراختيا له پاره څه ډول ګټه پورته کولای شو ؟ او د بندو لارو عوامل څه ډول اصلاح او له مينځه يوسو ؟

د سولې د کار بنسټيز هدف په خورا هوښيارۍ سره د شخړو په ښکېلو اړخونو او نورو ټولنيزو جوړښتونو کې دتاو تريخوالي د ټولو بڼو کموالی او له مينځه وړل دي . سوله نه يوازې يوه موخه ده ، بلکې يوه پرله پسې فعاله روانه عمليه ده چې ټولو انساني لومړنيو اړتياووته د پاملرنې ترڅنګ د شخړو پر سوله ييز حل باندې ټينګار کوي .

په نړۍ کې ځينې خلک او ډلې په دې باور دي چې بايد د ذهني ، کلتوري ، اوجوړشوي ټولنيز تاو تريخوالي د له مينځه وړلو له پاره د زور او وسله والې مبارزې او ټينګار څخه کار واخلي . خو ځينې نور يې بيا په دې عقيده دي چې د فعال عدم تشدد او سو له ييزو لارو چارو څخه کار واخلي او په نوموړو ټولنو کې د وضعيت د بدلون له پاره کار وکړي .

د خوځنده عدم تشدد کړنلاره په دې باور ده چې د غير عادلانه وضعيت او بې انصافيوختمولو له پاره د نوموړي وضعيت په هکله د عامه وګړو پوهاوی ،خبرتيا ، د وګړو په ګټه د قوانينو ، پاليسيانو او لايحو د تدوين او عملي کېدو له پاره مدافع او صادقانه پياوړی افهام او تفهيم به د انسانيت ګډ درک غښتلی او د تاو تريخوالي څخه د خلاصون سوله ييزې لارې به د ټولنو د وګړو پر مخ خلاصې کړي .

د خوځنده عدم تشدد دکړنلارو پرمټ له تشدد سره مبارزه:

- (( د عدم تشدد معنا داده چې په عام ډول په شخړو او جګړو کې انسان باید پر بل انسان باندې لومړنی تېری او ګوزار ونه کړي ، او په خاص دول په تېره مسلمان باید په خپلمنځي شخړواو جګړو کې پر بل مسلمان ( مقابل لوري ) باندې یر غل ونه کړي ، ځکه که چېرې په لومړي برید کې لومړني بریدګرمقابل لوری وواژه ـ برید ګر قاتل او مقتول شهید دئ ، اوکه خپله ووژل شوـ نو بیا مرداردئ ، ځکه پیغمبر اکرم (ص ) لومړي بریدګرته د قتل په صورت کې قاتل ویلي او د وژل کېدو په صورت کې یې مقتول مردار بللی . خوکه بل چا برید ور باندې وکړ ـ نو بیا د ځان ددفاع په خاطر د خپلو وینو په بیه ور باندې واجبه ده چې د خپل ځان دفاع وکړي . که په داسې مقابله کې مړ شو ، نو بیا دی خپله شهید او برید کوونکی قاتل د ئ ـ او که مقابل لوری یې له لاسه مړ شو ، نو خپله غازي ، او مقابل لوری بې ایمانه له دنیا تېردئ ، او که همداسې لاس تر زنې ور ته کښېناست ، نو بیا خو د قیامت په ورځ ظالم د خپل ظلم له لاسه او مظلوم به له خپل حق او خپل ځان څخه د دفاع نه کولو له امله دوزخ ته خي . چې دا بیا عدم شدد نه دئ . ځکه ظالم ته باید څوک لاس ترزنې کښې نه ني ، لومړی دې په منطقي نرمه ژبه او لاس سره د ظالم د ظلم مخنیوی وکړي . دا په دې معنا چې انسان باید نه پر چا باندې ظلم وکړي ، او نه هم بل دېته پرېږدي چې پر ده باندې د ظلم لاس پورته کړي . یعنې انسان باید ترخپلې وسې پورې نه ظالم وي او نه هم مظلوم . همدې ته عدم تشدد ویل کیږي . ))

د فعال عدم تشدد د کړنلارو د اغېزمنتوب او د زده کړو پراختیا پر ځای عملي کېدل به وکولای شي چې د سولې ، عدالت ، انصاف او انساني خواخوږۍ له پاره عامه (هر اړخیز) تعهد را مینځته کړي . په دې وخت کې به نه یوازې د ټولنې یو هه طبقه ـ بلکې ډېر عادي خلک به هم د سولې ، عدالت ، انصاف او انساني خواخوږۍ له پاره خپل غږ اوچت کړي . او د تاوجنو شخړو ، تشدد و جګړو د ختمولو له پاره به ډېر څه تر سره کړي .

د فعال عدم تشدد د اغېزمنوکړنلاروکارولو له پاره اړینه ده چې موږ په دې باندې پوه شو د شخړو په چوکاټ کې څه ډول ځان نـنبـاسو ، او له کومو لارو او روښونو څخه کاراخلو ، څو له تشدد څخه مخنیوی پرې وکړو. په دې څخه باید موږ پوه شو چې د تعصب کچه په کې څومره ده ؟ د ټولنې د خلکو او ډلو تر مینځ د بېلتون کرښې کومې دي ؟ او څوک د څه له پاره د مدینې د منافقینو په څېر بېلتانه ته لمن وهي ؟ څنګه د تعصب کچه را ټیټولای شو؟ پر څه باندې د ناسمو پالېسیانو او کړنلارو په وړاندې دفاع وکړو ؟ ... په شخړو کې د ښکېلو خواو تر مینځ باور را ستو ته څنګه وده ورکړو څو دوی پر دې باندې سره قانع شي چې د شخړو د حل اصلي لاره یو له بل سره خبرې کول دي ؟

داچې شخړې او اختلافات د ژوند یو واقعي اړخ دئ . خو دغه واقعیت څېړنو ( تحلیل ) ، حل او بدلون ته اړتیا لري . نو د شخړو د حل له پاره زور زیاتي او تاو تریخو الي ته د لاس اچولو هېڅ اړتیا نه شته . ځکه تشدد او تاو تریخوالي شخړې هېڅکله هم نه شي حل کولای . بلکې د حل کولو پرځای نورې ستونزې هم زېږوي . ځکه په یوه ټولنه کې له شخړوسره د زور زیاتي او تاو تریخوالي چال چلند د هغې ټو لنې د بې ثباتۍ او توکړې کېدو سبب جوړېږي .

په هره ټو لنه کې ډېرداسې خلک او ډلې شته چې سولې او امن را وستو ته ژمن او صادق دي . ځکه دوی کولای شي د ورانوونکو اعمالو د مخنیوي او ودرېدو له پاره په خپلو کې سره یو موټی ، او د انساني عاطفي چال چلند او

اسلامي ارزښتونو د پیاوړتیا له پاره خلک را ویښ ـ او سره یو موټی کړي . د ټولنې د امنیت او مصؤنیت له پاره باید پر تعصب ، تبعیض ، ظلم ، بې عدالتیو ، تشدد او تاو تریخوالي باندې د فعال ( خوځنده ) عدم تشدد په واسطه نیوکې وکړي او خپل غږ پورته کړي .

- دلته په لاندې ډول د خوځنده ( فعال ) عدم خشونت د څو بېلګو یادونه کېږي :

**۱:ـ (( یو سړی رسول الله (ص) ته راغی ، او له خپل ګاونډي څخه یې سر ورته وټکاوه ( شکایت ) یې ور ته ترې وکړ . حضرت رسول الله (ص) ور ته وفرمایل : (صبر وکړه ! یو څه موده وروسته په دوهم ځل بیا رسول (ع) ته ورغی ، رسول (ع) بیا یاد سړي ته په صبرکولو باندې امروکړ . څه موده وروسته په درېیم ځل بیا د الله پیغمبر (ص) ته ورغی او له یاد ګاونډي یې سر ور ته وټکاوه . حضرت رسوال الله (ص) ور ته و فرمایل :**

**د جمعې د لمانځه پر مهال کله چې خلک د جمعې د لمانځه له پاره له هرې خوا را روان شي ، د خپل کور او ژوند اړوند سامان په کوڅه کې د جمعې د لمونځ کوونکو د تګ په لاره کې کېږده ، تر څو لمانځه ته تلونکي دا سامان ووینې چې تا د کور خپل ټول سامان په کوڅه کې غور ځولی دئ ، کله چې له تا پوښتنه کوي ـ نو هغوی ته ووایه چې ما د خپل ګاونډي د ضرر او زیان رسولوله لاسه د کور سامان د باندې را ایستلی دئ .**

**عارض سړي د رسول الله (ص) له توصیې سره سم همغسې کار وکړ ، زیان رسوونکي ګاونډي چې د نوموړي سړي دا سامان آلات ولیدل اوخبرې یې واورېدلې چې آبرو او حیثیت یې له خطر سره مخ دئ ، په سو ګند یادولو سره یې ژمنه وکړه چې له دې وروسته به هېڅکله له خپل ګاونډي سره بدي نه کوي . ))**

**۲:ـ (( د فرانسې په سویلي برخه کې یوه سیمه ده چې ( دلرزاک ) نومېږي . ددې سیمې کروند ګرو د نظامي مشق او تمرین په موخه د لازیاتو ځمکو د اشغال د مخنیوي له پاره له نظامیانو سره خبرې وکړې ، خو ددوی په خبرو نظامیانوغوږونه کاڼه واچول اوهېڅ پروا یې ونه ساتله . له همدې کبله یوه ورځ کروند ګروترخپلمنځي سلا مشورو وروسته خپلې رمې (پسونه) په تراکتورونو او ټرېلروکې بارکړل او په پاریس کې یې د ایفل برج لاندې خپلې رمې خوشې کړې .**

**کروند ګرو دا کارځکه وکړ ترڅو نظامیانو ته دا وښیي چې ددوی رمې ( پسونه ) څړ ځایونو ، او فرانسه رمو ( پسونو ) ته اړتیا لري . په پاریس کې د رمو پر سر د کروند ګرو او نظامیانودا صحنه ترمطبوعاتو پورې شریکه شوه . او د رسنیو له لارې ټول فرانسویان د کروند ګرو اونظامیانوترمینځ په دې ستونزه باندې خبر شول . کله چې نظامیانو دا حالت ولید ، همغه دم ګړی له صحنې څخه ووتل اوخپله غلطي یې درک کړه او ویې منله چې بیا به څړځایونه پرنظامي تمرین ځایونونه بدلوي . ))**

هغه متل دئ چې وایي : کومه غوټه چې په لاس سره خلاصېږي ـ خولې ته حاجت نه شته . مانا یې داده چې د وروری اوهمزیستې په صورت کې هرکارپه تد بیراو سلا مشوره سره باید ترسره شي . له شخړې سره د تعامل ( چال چلند ) پر وخت د هغو اغېزمنولاروغوره کول چې په یوه فعاله او معروفه طریقه له شخړې سره وصل ـ او له تشدد څخه په مخنیوي او درولو کې رغنده رول ولري اړین دي .

له تشدد سره د مبارزې په وړاندې باید داسې فعالې د زور زياتي ضد لارې چارې په كار واچول شي او تدابيراو لومړيتوبونه په كې په نښه شي چې په هر اړخيزه او كاملاً مسلكي توگه په هېواد كې د ننه د بهرنيو لاسوهنو او متوقعه خنډونو د مخنيوي په خاطر طراحي او ډيزاين شوې وي .

د ورانوونكو شخړو او تشدد څخه د مخنيوي اولا ښه مديريت په اړه د ښكېلوخواوو او نورو متنفذينوڅخه د ګډو گروپونوجوړولو له پاره بايد اړين او كوټلي گامونه پورته شي .

د جابرو او زور واكو مقابله په مدني سرغړونو ، ټولني ته د بديلوخدماتي نهادونو د را مينځته كولو ، دعأ گانو ، ټولنيزعبا د ت ( استثقأ لمونځ) ، له زور زياتي څخه د خلاصون دعأ ..... او نور هغه تدابير دي چې ريښتيني ممثلين يې پر مټ كولاى شي ډېرې ښې ديني او ملي اغېزې او پايلې پرې تر لاسه كړي .

ب : جګړه :

د جګړې لغوي مفهوم :

ـ له تاو تريخوالي څخه ډکه قهر جنه مجادله او مبارزه ، اغتشاش او مقابله د جګړې مفهوم لري .

ـ .... د متخاصمو ډلو تر مينځ فزيکي ټکر او تصادم د جګړې معنا ور کوي چې مرګ ژوبلې هم ور سره ملې وي .

د جګړې تعريف :

جګړه د قامونو ، ګوندونو او حکومتونو تر مينځ يوه منظمه وسله واله ، قهري ، ارادي مبارزه او مجادله ده چې اصلي موخه يې پر مقابل لوري باندې د خپلو غوښتنو منل او يا د مقابل لوري له مينځه وړل دي .

جګړه اکثره وخت د دوو يا زياتوموقفونو د متقابل شدت څخه را پيلېږي . قهرجنې ( تُندې ) ډلې اکثره وخت له شدت څخه يو د بل پر وړاندې کار اخلي او د مقابل لوري د له مينځه وړو او ورکېدو له پاره شديد موقفونه ځانته غوره کوي . ولې دا فکر هډو ور سره نه وي چې ګني مغلوبه ډله به هم کوم وخت د انتقام او بدلې فکر ته وده ور کړي . ( يو کال ، سل کله وروسته) به د کسات او بدلې په مقصد يوه ورځ را پاڅي يا به خپل هدف تر لاسه کړي او يابه هم خپل ځان په کې بايلي . خو په دغه دواړو حالاتوکې دواړو لوريو ته لړ ـ يا ډېرځاني او مالي تاوانونه هم رسېږي . او يا دواړه خواوې دومره په خپلو کې سره کاواکه شي چې پردي د پيشو په څېر ور باندې ټوپ کړي او د دواړو سرونه د مرغۍ په څېر وخوري . د کوم هدف له پاره چې دوی په خپلو کې سره دښمنۍ کوي ، هغه هدف هم پردي خلک ترې يوسي .

د جګړې موخه ( هدف) :

ـــ د سياسي واک او قدرت په ګوته کول ، ساتل يا قدرت ته رسېدل .

ـــ د دښمن ماتول او ځپل .

ـــ د تولنيز نظم د تأمينولو په خاطر جګړه د يوازينۍ وسيلې په توګه کارول .

ـــ د پرديو زېرمو او پرديو ملي عايډاتو او لرغونو توکو غلاکول .

جګړه يوه د مخه پلان شوې منظمه ، وسله واله ، قهري ، ارادي مبارزه او مجادله ده چې د دولتونو ، ؤلسونو او ټولنود وګړو او ډلو ترمينځ د سياسي ، اقتصادي ، قومي ، ژبني ، مذهبي او يا شخصي ګټو د تر لاسه کولو او ساتلو په موخه را مينځ ته کيږي .

جګړه له شديد تاو تريخوالي ، ځاني او مالي تلفاتو( زيانونو ) سره مله وي . جګړه د سيالو خواوو تر مينځ يو د بل په وړاندې له زور څخه د کار اخيستو ـ او په مقابل لوري باندې د خپلو غوښتنو منلو ته وايي .

په دغه نړۍ کې چې موږ په کې اوسېږو جګړې ډېر اوږد تاريخ لري چې په مېليونونو انسانان په کې وژل شوي ، ژوبل او کډه شوي دي .

د جګړو انګېزې:

جګړې له ډول ډول انګېزو څخه سر را پور ته کوي چې ستري انګېزې یې په لاندې ډول دي :

- د ژوند د اړتیاوو پوره کولو ، ساتلو او پر سیالو خواوو د واک لرل .
- د رقیبو خواوو له مینځه وړل .
- اقتصادي ګټې ، فتوحات ، په طبیعي زېرمو باندې کنټرول .
- د وس او قدرت ښوول .
- له وېرو څخه خلاصون . د ارزښتونو تحمیل او یا دفاع .
- د نظامي صنعت او تولید ګټو( پطء او پلور ) ته بازار موند نه . د ځوان نسل ( ۱۵ـ ۲۹کلنو) زیاتوالی او وُزګارتیا .
- تبعیض ، عدالت او انساني حقوقو ته نه پاملرنه .

ځیني ځاروي ( حیوانات ) هم جګړه سره کوي ، خو د هغوی جګړه د خپل ژوند یا خوراک له پاره واقع او تر سره کېږي . د لوږې ، تندې ، درد ، ګرمی او یخنی احساس په ځان کې لري ، خو شعور او عقل نه لري . ولې ددې پر خلاف ـ انسانان د خپل ژوند او خوراک له پاره ډېرې منابع او زېرمې لري . انسانان د ځمکې پر مخ یوازیني موجودات دي چې د تفکر او تعقل په خورا پر مختللي استعداد ( آی . کیو ) باندې سمبال او مجهز شوي دي . انسانان کولای شي چې خپل پرمختللي استعدادونه په کار واچوي اوپه مشترکه توګه د نړۍ له زېرمو څخه په خپل ژوند او نظام کې ګټه پورته کړي . نه دا چې د ځناورو په څېر له یو بل سره وخوري .

اروایي جګړه

ډاکټر ظهیر

- July 19, 2016
- Written by: تاند کابل
- Category: تولنیز علوم, مقالي

شالید:

لوی خدای «جل‌جلاله» د بقرې سورت په ۲۱۷م ایت کې فرمایي؛

وَلَا يَزَالُونَ يُقَٰتِلُونَكُمۡ حَتَّىٰ يَرُدُّوكُمۡ عَن دِينِكُمۡ إِنِ ٱسۡتَطَٰعُواْ

او هغوی «مشرکان» به له تاسې سره په دې موخه تل خپله جګړه روانه وساتي چې که «خدای مه کړه» پر تاسې غالب شي، تاسې له خپله دینه وباسي.

د قران کريم په دې ايت کې د "لايزالون" کلمه د "تداوم، تل يا پرلهپسې" په مانا راغلې ده او دا راښيي چې دښمنان مو تل په جګړه راسره بوخت دي، که څه هم د جګړې ډول، مهال، ځای، او شرايط روښانه نه دي. کېدای شي چې دا جګړه اروايي، پوځي، اقتصادي، ديني، ژبنۍ او يا هم کلتوري بڼه ولري.

موږ دلته د اروايي جګړې په هکله خبرې کوو. په اروايي جګړه کې د دوست، دښمن او بېپلوه ټولنو احساسات، نظريات، باورونه، دريځونه او کړنې د يو لړ پلان شويو تبليغاتو او کړنو په مټ په دې نيت تر اغېز لاندې را وستل کېږي چې سترو او ملي موخو ته رسېدل او يا هم د رسېدا لارې چارې اسانه کړي. اروايي جګړه په پوهنيزو سرچينو کې د هېښوونکې ټولنيزې پديدې په توګه ياده شوې او په انساني ژوند کې ژورې رېښې لري. نننۍ نړۍ د اروايي جګړې او تبليغاتو نړۍ ده؛ نو هغه سياسي کړنې چې د نورو د بېلارې کولو په موخه او يا هم کومو ځانګړو موخو ته د رسېدا په خاطر ترسره کېږي، تبليغاتي حرکت بلل کېږي.

پوهان پر دې باور دي چې دا د جګړې تر ټولو خطرناک ډول دی. هغه په دې خاطر چې دښمن په اروايي جګړه کې د خلکو همدا ډول پوځي سرتېرو د مورال کمزورولو او ماتولو په موخه د خلکو باورونه، احساسات او تمايلات په نښه کوي؛ نو له همدې کبله اروايي جګړه د پوځي چارو يوه مهمه برخه ګڼل کېږي.

وينسټن چرچيل د اروايي جګړې په اړه وايي: "اروايي جګړو ډېر ځلې د تاريخ لوری بدل کړی دی او په تاريخ کې د دې ډول جګړو نمونې تر شمېر اوښتې دي. د جنګي ماشينونو په وسيله ګټل شوې جګړې تر لنډې مودې وروسته له ماتې سره مخ شوې، هغه په دې خاطر چې د پوځيانو او خلکو معنوي روحيه يې نه ده کمزورې کړې؛ نو له همدې کبله، جګړهيز ماشين د لوړ معنوي مورال پر وړاندې تل له ماتې سره مخ شوی او د جګړې سوبه د لوړ مورال‌لرونکيو ملتونو په برخه شوې ده".

د اروايي جګړې په اړه ليدلوري

لومړی ليدلوری :

اروايي جګړه هغو کړنو ته ويل کېږي چې د دښمن د روحيې، باورونو او عواطفو د اغېزمنولو، زيانمنولو او کمزورولو په موخه ترسره کېږي. د دې ليدلوري يونيلي/پلويان تبليغات د اروايي جګړې يوه اړينه او بنسټيزه برخه ګڼي.

دويم ليدلوری :

اروايي جګړه يوه اروايي پديده ده چې د ټولنې ټول غړي اغېزمنوي. په دې ليدلوري کې شخصيتوژنه، جاسوسي، انسانوژنه، ترهګري، سانسور او داسې نور په دې نيت تر سره کېږي چې له دې لارې ټولنيزو ناخوالو او کړکېچونو ته لاره هواره، ټولنه پر يوه ځانګړي لور روانه او موخو ته لاسرسی اسان شي.

درېيم ليدلوری :

دا کسان بيا اروايي جګړه د سياسي چارو، پوځي کړنو، چريکي جګړو او نيمه پوځي جګړو يوه برخه ګڼي او په دې باور دي چې د اروايي جګړې، هم د جګړې په ډګر کې او هم د سولې پر مهال، د دولتونو د سياسي او پوځي چارو اړينه ملاتړې مټه ده.

د اروايي جګړې موخې :

د پورته خبرو مانا دا شوه چې اروايي جګړه يوه متداومه جګړه ده چې د پیل او پای لپاره کوم ځانګړی مهال يا شرايط نه لري. اروايي جګړه لاندې پوځي او تکتيکي موخې لري؛

- د خلکو ويرجنول :

د خلکو کمزورتياوې لويې او پياوړتياوې وړې ښوول او د خلکو غوښتنې او ارزوګانې د هغوی د امکاناتو په پرتله سترول د خلکو د ويرجنولو له لارو چارو شمېرل کېږي. په دې برخه کې رسنۍ، په ځانګړې توګه ټولنيزې رسنۍ لکه فېسبوک، ټويټر او ځينې نور مهم رول لوبوي.

- په خلکو کې نهيلي را منځ ته کول :

د ټولنې سياسي، اقتصادي او اروايي حالت ته په کتو، په خلکو کې د محروميت، ورانيو، په جګړه کې د ماتې، د وينې توييدنې او داسې نورو شيانو نهيلي را پارول.

- د ترهې او ډار را منځ ته کول :

د ډار او ترهې د خبرونو د خپرولو په وسيله د خلکو فکر او روان تخريبول.

پر اروايي جګړې اغېزمن لاملونه :

ذهني لاملونه :

ا. د مخاطبو کسانو ذهني، اروايي، فکري، او اعتقادي کچې پېژندنه.

ب. په ټولنو کې د مخاطبو کسانو د ژوند کچې او چاپېريال پېژندنه.

ج. د اروايي جګړې ځانګړنې؛ وړتيا او ژمنتيا لرل.

چاپيريالي لاملونه

ا. مذهبي اختلافات

ب. توکميز اختلافات

ج. طبقاتي اختلافات

د. ژبني اختلافات

نور لاملونه :

ا. د شخړو پارونکو خبرو/کړنو مخنيوی کول

ب. له پوځي عملياتو سره د اروايي طرحو يو ځای کول

ج. له بشپړ حقیقت ویلو، که څه هم اړین وي ډېره کول، ځکه چې د ټول حقیقت ویل ښايي ستونزې را وپاروي.

په اروايي جګړه کې رسنۍ «مطبوعات، خپروني، راډيو، ټلويزيون، انټرنيټ...»، ادبيات «کيسې، شعر، رومان او طنز» او په نړيوال ډګر کې «ډيپلوماسي، نړيوال سازمانونه، له هېواده بهر سفارتونه» او هنر «فلم، تجسمي هنرونه، تياتر او موسيقي» کارول کېږي.

په رسنيوکې د رواني جګړې تاکتيکونه :

درنښت او سپېڅلتيا :

په دې تاکتيک کې د يوه شي پر درنښت او سپېڅلتيا په دې موخه زيات ټينګار کېږي چې له شواهدو پرته منلتيا ومومي. مثلاً په دې تکتيک کې ملي او مذهبي څېرې او يا هم هغه ملي دودونه يا جريانونه چې عامو خلکو ته د درناوي وړ وي، کارول کېږي. همدا ډول، په دې کې طنز، موسيقي، کاريکاتور، لنډې کيسې او شعرونه هم د تکتيکونو په توګه کارول کېږي.

تصديق :

د نومونو کسانو لکه سياستوالو، هنرمندانو، پوهانو او د کولتوري، ټولنيزو او سياسي ډلو ملاتړ ته د تصديق تاکتيک ويل کېږي.

اوازه:

هره اوازه د يوه واقعيت يوه لويه برخه وي، خو د اغېزناکتيا کچه يې د اوازې په نامالوموالي پورې تړلې ده. ياني يوه اوازه چې هر څومره پېچلې او مهمه وي، هغومره يې د اغېز کچه لوړه وي.

په خرپ درواغ:

په دې تکتيک کې هغه پيغامونه چې رښتيا ته نږدې لا نه وي، خلکو ته رسول کېږي او د خلکو د ذهنونو د ګډوډولو او له دې لارې د مطلوبو درواغو د ځايولو په موخه بيا بيا ويل کېږي. دا يو بشپړ نابېره خبر وي او خبري عناصر په بشپړه توګه پکې مطرح کېږي.

نيم رښتيا ويل:

په دې تکتيک کې د يوه مهم خبر ځينې برخې تر نورو رسول کېږي او ځينې هغه برخې چې له رښتيا ويلو سره تړاو لري په لوی لاس ځنې حذف کېږي.

د کړکېچ د راتلو وړاندوینه:

په دې تکتیک کې پرلهپسې د هېواد د سیاسي او اقتصادي حالت په اړه دروغ خبرونه او شمېرې په دې موخه وړاندې کېږي چې که اوسنی وضع دوام وکړي؛ نو ستر کړکېچونه او بحرانونه به را منځ ته شي او یا هم د بدلون په نامه داسې چارې تر سره کېږي چې د خلکو ذهنونه اغېزمن کړي. یو بل تکتیک دا هم دی چې په بېلابېلو وختونو کې په ډېره کمه کچه او نامنظم ډول خلکو ته خبرونه او مالومات ورکول کېږي چې خلک یې پر وړاندې حساس او تر یوې مالومې نېټې وروسته هغه ومني.

سانسور:

په دې تکتیک کې د خبرونو ځیني برخې لېرې کېږي او ځیني خلکو ته رسول کېږي چې له کبله یې خبرونه مبهم کېږي او پوښتنې راولاړوي او په دې توګه اوازو ته لار پرانیستل کېږي.

جنسي پارونه یا لېوالتیا:

په دې تاکتیک کې له یو لړ ځانګړیو نومونو او یا داسې خبرې یا ټولنیزو څېرو د غولوونکیو کسانو په توګه کار اخیستل کېږي چې د ټولنې کسان په اساني تر اغېز لاندې راوستلای شي او په خلکو کې له همدې امله د منلو وړ ګرځي او خلک د پیغام او ادبیاتو له محتوا غافل کېږي.

په خلکو کې شخړې او توکمپالنه را منځ ته کول:

په دې تکتیک کې د خلکو او سیاسي نظام تر منځ درځ اچول کېږي چې له کبله یې خلک پر خپل سیاسي رژیم بېباوره کېږي. دا تکتیک ترهګرې ډلې او ملاتړي هېوادونه یې په ډېره اغېزناکه توګه کاروي.

شخصیتوژنه:

په دې تکتیک کې که د یو چا فزیکي وژنه امکان و نه لري او یا هم باید و نه وژل شي؛ نو بدیل یې د بېلابېلو رسنیزو لارو چارو له لارې د نوموړي کس په شخصیت وژلو باندې لاس پورې کول دی.

تکرار:

د یوه پیغام د اغېز د پایښت په موخه پیغام بیا بیا ځلي تر خلکو رسېږي او د خلکو په ذهنونو کې ځانګړی ځای نیسي.

ترهه او ډار اچول:

د ارواېي جګړې پوهان خپلو مخاطبانو ته داسې خبرې کوي چې ګواکې تاسې ته زیاتې ستونزې او کړکېچونه را روان دي، ستاسې راتلونکی نامالوم دی او ډېرې لویې بلاوې او مصیبتونه به دربانديې راشي.

مبالغه:

د یوې موضوع په لویولو سربېره، د هغې د ربښتیا ښوولو کوښښ کوي او دا ډول تکتیک په ځانګړیو وختونو کې کارول کېږي.

مغالطه:

په دې تکتیک کې سمې او ناسمې، کره او ناکره، روښانه او تیاره او منطقي یا غیرمنطقي څرګندونې په دې موخه یو ځای کارول کیږي چې خلکو ته تر ټولو ښه یا تر ټولو بد محصول وړاندې کړي. په دې برخه کې دا ډول لارې چارې او دلایل کارول کیږي چې یو نظر تاییدوي او هغه دلایل چې هغه نظر نه تاییدوي له پامه غورځول کیږي.

د اروايي جګړې ډولونه:

ستراتیژیکه اروايي جګړه :

دا اوږدمهاله او ستراتیژیکه اروايي جګړه ده چې د سیاسي، پوځي، ټولنیزو او اقتصادي کمزورتیاوو په کارولو سره د ټولنې د یوې برخې او یا هم د ټولو کسانو پر وړاندې پلې کیږي. دا جګړې د ټولنې خلک په خپلو باورونو او ارمانونو ناباوره کوي.

اروايي تکتیکي جګړه:

دا ډول اروايي جګړه په کوچنۍ محدوده کې د ځانګړو موخو لپاره ترسره کیږي. په دې جګړه کې د جګړې د ډګر پوځي او ملکي دښمنان په نښه کیږي.

تحکیمي اروايي جګړه:

دې ته تثبیتي، استقراري او استحکامي اروايي جګړه هم وايي. دا د جګړه‌یزو عملیاتو د پرمختګ، په عملیاتو کې د اسانتیاوو د را منځ ته کولو او د ملکي خلکو د همکارۍ د کچې د زیاتولو په موخه د هېواد دننه یا په هغو سیمو کې چې د دښمن تر واک لاندې وي، کارول کیږي.

د اروايي جګړې وروستۍ موخه په جګړه کې سوبې لاس ته راوړل، د تر لاسه شوې سوبې ساتل او د سولې او امنیت ټینګښت دی. د جګړې یا سولې پر مهال، دولتونه اړ دي چې د خپلو ګټو د خوندیتوب لپاره یو لړ ځانګړې او پام‌وړ کړنې ترسره کړي چې په نړېواله کچه د خپل هېواد او ملت ګټې عملاً خوندي کړای شي. پر همدې بنسټ، دولتونه او سیاسي ډلې خپلو موخو ته د رسېدا او د خپلو ګټو د خوندیتوب په خاطر په هېواد کې دننه، بهر او په نړیواله کچه یو لړ کړنې ترسره کوي چې دا کړنې "اروايي جګړه" بلل کیږي.

له یوې خوا سیاسي ډلې او دولتونه اړ دي چې په اروايي جګړه کې ښکېل لوري په پام کې ونیسي او عام افکار د خپلې اروايي جګړې په زور مهار کړي. له بلې خوا که څه هم اروايي جګړه د پوځي عملیاتو بشپړوونکې بلل کیږي، خو د جګړې په ډګر کې سوبې ته د رسېدو لپاره باید د خلکو همیشنۍ ملاتړ ترلاسه کړي؛ نو ښکاره ده چې سیاسي نظامونه دې د سولې پر مهال خپلو ملي او سترو موخو ته د رسېدا په نیت د رسنیو له لارې هراړخیز تبلیغات وکړي او د نورو هېوادونو ملاتړ دې تر لاسه کړي.

په نننی عصر کې له اروايي جګړې پرته د هېواد د ملي ګټو خوندیتوب ناشونی دی. هغه ملتونه چې په اروايي جګړه کې ګټونکي وي، په توده او ماشیني جګړه کې یا خو نه ماتېږي او یا هم لنډمهاله ماتې مني، خو په اوږدمهال کې به سوبه د دوی په برخه وي.

د سیاست او تبلیغاتو همغږي په اروایي جګړه کې اړینه ده، په دې مانا چې د سیاسي چاروکیو او د سرې جګړې د تبلیغاتي ارګانونو تر منځ باید پوره باور، همغږي او همکاري وي چې په ګډه دا جګړه په ښه ډول پر وړاندي بوځي. دا چاره به له هېواده بهر د ګټو په خوندیتوب کې کارنده رول ولري او همدارنګه تر مادي ګټو ور ها خوا به سیاسي او اقتصادي ګټې هم له ځانه سره ولري. د خلکو باور به پر نظام زیات او ملاتړ به یې وکړي، د خلکو د پوهاوي کچه په دې توګه لوړېږي او د دښمن د دسیسو پر وړاندې خلک دربېږي چې له دې لارې د دښمن د اروایي متقابلې جګړې د زیان او اغېز کچه را کمېږي.

جنګ جګړو موږته ترشا څه پرې اېښي ؟

په دې اړه زه دلته د ایمل افغان د مقالې هغه دوهمه برخه د ګرانو لوستونکو مخې ته ږدم چې د (جګړه ) په نوم یې په تاند ویب پاڼه کې خپره کړې ده :

جګړه --- دوهمه برخه:

ایمل افغان

که بېرته یې د افغانستان له لومړي رئیس جمهور سردارمحمد داود خان له دورې راپیل کړو دا خبره هېوادوالو ته ډېره ښه په ډاګه کېږي، چې د دې دورې له ړنګېدو راپه دې خوا ورځ تربلې د افغانستان سیاسي، فرهنګي، ټولنیز اواقتصادي حالت د خرابېدو په لورچټک ګامونه واخیستل، سیاسي لاسوهنې په هېوادکې ډېرې شوې، سوله په جګړه بدله شوه، فرهنګ د بل په لاس کې ولوېد، چې له دې سره سم یې د ځوانانو اوپه ټوله کې د افغان ولس په ژوند، حالت، کار اوزده کړې هم ډېرې بدې اغیزې وکړې، یوشمېرځوانان اونجوني له ښوونځیو اوپوهنتونوڅخه د خپلې وېرې اوعزتونو د ساتلوپه موخه له زده کړې بې برخې پاتې اوپه کورکېناستې، چې په نتیجه کې یې نن ژوند له اقتصادي او رواني ستونزو سره لاس او ګرېوان دی.

د دغو ستونزو د پیدا کېدو عوامل ټولې هغه بدبختۍ اوجګړې وې چې زموږ مشرانو ورته لاس اچولی وه، هېواد اوهېوادوال ورسره په دغه جګړه کې وسوځېدل، د دې وخت په لاس ورنه غی، چې هغوی خپلې ستونزې په خپله هوارې کړې وای نورې هم ستونزې زیاتې شوې، هېواد د اور د لمبو ښکارشو اوخلک په خپلو وینو ولمبېدل، چې زه

دغه ستونزې اوجنایت نن ټول د هغه وخت په سیاسي څېرو اچوم، هغه که د هرګوند اوډلي خلک وو خو هېواد يې په لوی سیند لاهوکړ، چې اوس يې اداره اوکنترول له واک څخه فکرکوم وتلې خبره ده، ځکه ملي اردو په ماته ملا اونه امکاناتو د دښمن په وړاندې په جګړه کې ښکېل ده، د هېواد اقتصاد د دې تقاضا نه کوي، چې خپل ولس ته داسې کار پیدا کړي چې هغه بنیادي اوخلک هم ورسره مشغول پاتې شي ترڅوله يوې خوا هېواد اباد اوله بلې خوا د ولس اقتصاد پیاوړی شي.

د دې ستونزې د پیدا کېدو عوامل که بېرته ترڅېړنې لاندې ونیسو، څرګنده ده چې په هېوادکې سیاسي نظامونه اوحزبونه د بهرنیوکړیو په نتیجه کې رامنځ ته شول، ورځ تربلې د زیاتېدو په حال کې وو، خو د دې ډول بې پلانه اوبې فکره حزبونو اوډلوجوړېدل په هېواد کې زموږ دکورنیو اوبهرنیو دښمنانو له خوا و شول، ولې د هېواد په ګټه نه وه اوبل بهرني ملکونه په دې ښه پوهېدل که په دې هېوادکې دا ډلې ټپلې ډېرې شي، افغان ولس به په خپله ورسره په يوه لوی سیندلاهو شي ځکه، چې دا خلک نه شي کولای په افغانستان کې د واک په وېشلوپه خپلوکې سره جوړ شي، چې همداسې وشول او اوس هم د هغوی له لاسه افغان ولس د اور د لمبو ښکاردی، چې موږ يې ښکاره بېلګې په ننني حکومتونوکې وینو، نظام زموږ، اداره زموږ، ملک زموږ خو ؛ لاسوهنې، چاودنې او د ادارې جوړول د نورو په لاس کې دي اوهغه داسې يوه لاسپوسې اداره غواړي، چې په دوه کلونوکې يې زموږله پاره ایله د دفاع وزیر وټاکلوچې نه يې ترشاه نظام راتلای شي اونه ورسره ملک د پرمختګ په لور روانېدای شي اونه دوي غواړي چې د افغان ولس له پاره دې يو پیاوړی حکومت جوړ اورئیس جمهور دې د خپل واک خاوند وي، ترڅو هغه وکولای شي د خپلوکارونو د مخ په وړاندې بیولو په نتیجه کې خپل ولس په ځان رامات اویوخپلواک اوپیاوړی رئیس جمهور دې وي، چې د دې کار په کولو به دغه ولس د بریا په لور روان شوی اوهغه ناخوالې اومرګونه چې د دوی په مخ کې دي هغه به يې له خپل هېواد اوخپلې مخې څخه لرې کړي وي.

همدا خبرې اوستونزې دي چې د دې خاورې کورنیو اوبهرنیو دښمنانو په دې وخت کې په دې ناوړه کاریوځل ښه په نره لاس پورې کړ اوهغوګوندونو او ډلو ته يې يوه رسمي بڼه د دولت په چوکاټ اوبهرنیو ملکونوکې ورکړه، هغوی هم خپلو ورانکاره کړنو ته اوړه ورکړه چې اخریې پایله دا شوه اوهېواد د يوې لوې کندې په لورسیخ اوخلک بې کوره اوپه پردیوهېوادونوکې کډوال شول، چې بیا هلته د هغه هېواد د سیاسي لوبغاړو په کمپونو اوکورونوکې ورته ناوړه درسونه پیل شول، داسې يو نصاب ورته تدریس کېدو، چې د افغانستان خاوره باید یوځل د دې ملت په وینو سره او ووینځل شي اوهم د افغان حکومت او د دې خاورې په وړاندې دغه خلک جګړه پیل کړي، چې دلته جهاد دی، کفار دي، روسان دي، ودانۍ ړنګې کړی، پلونه ړنګ کړئ اوښوونځي وسوزوئ ، ترڅو د افغان ولس بچي په کې زده کړې ونکړي اوهمداسې بې سواده را لوی شي، چې په دې بې سوادۍکې د پاکستان ګټې اود سیمې د هېوادونو د خرڅلاو بازارونه خوندي شول اوهم زموږ سیاسي لوبغاړو ته د جګړې اوګټې ډګرخالي شو، ځکه دکارسړي خو ټول له دې خاورې بهر ووتل کوم، چې په دې ځای کې وو هغوی ته چا په حکومتي اداروکې وخت ورنکړ اوملي اردوخو هغه وه چې په يوه اونۍ کې يې د نورو هېوادونو په لمسون له منځه یوړله، هېواد د امنیت له پلوه د جګړې داړه مارانو ته خالي شوچې د هغه وخت پوځي وسلې اومهمات يې په غیرې قانوني توګه ټول د پاکستان اوسیمې په هېوادونو د يوې دوه کلدارو په بدل کې وپلورل اوهېواد ټول د دفاع له اړخه دې خلکو ته خالي پاتې شوچې څه په افغانانوکوي نو لاس يې آزاد دی، ځکه دې خلکو ته له خپلو واکدارانو نورڅه په میراث کې پاتې نه شول په هرکلي او هرکورکې بېلابېل حکومتونه د سیمه ییزو قومندانانو له خوا پیل شول د هغوی چې څه زړه غوښتل هغه يې په دې خاوره کې په

خپل ولس ښه په نره ترسره کول، ځکه درد یې د ولس له تن څخه وتلو په دوي یې کوم فشار نه راتلو، ترڅو دوي هم له دې کارڅخه لاس په سرشوي واى.

کله چې دې حزبونو اوجنګي کړيو په دې خاوره کې د خپلو ورانکاره فعاليتونو له پاره په کارپيل وکړ په دې وخت کې ورسره بهرنۍ لاسوهنۍ هم ډېرې اوملګرې شوې، امنيتي ستونزې ورځ تربلې زياتې او د خرابېدو په حا ل کې شوې، د افغانستان کورنيواوبهرنيو دښمنانوهم غوښتل چې اوس نوپه دې هېوادکې بايد يو ناورين رامنځ ته کړو، ترڅو وکولاى شو، په دې جګړه کې دا خپلې شومې ګټې د خپلو روزل شووکسانو په مرسته خوندي اوترلاسه کړو اوهم افغان ولس يوځل په خپلو وينو ولمبو او دا سياسي لوبغاړي، چې دغه لوبه يې له کوم وخت څخه په دې خاوره کې روانه کړې ، ورته ښه په رسميت، ټګې اوبرګۍ کې ور وپېژنو چې ولس هم په حقيقت کې په دې پوه شي چې دا ستاسو د وينو تويولوملي اتلان اود پرديو هېوادونو په غېږکې لوى شوي غلامان دي چې په دې ورانکاره کړنو اوکارونو يې اوس لاس پورې کړى او هېواد يې درته د ورانۍ او ټوټه کېدو په لورسيخ کړى دى.

جنګ ولې پيښيږي ؟

- June 12, 2016

نجيب الله عليزى

د بشرپه ټول تاريخ کې جنګ وجود درلودلي دي يو واحد علت يې تر اوسه هم نه دي معلوم خو علماؤ د جنګ علتونه په نړيوال سيستم کې پردرو برخو ويشلي.

اول: د سيستم په سطحه کې: د سيستم په سطحه کې د جنګ علت بيا هم پر درو برخو ويشلي دي، په لومړي قدم کې تحليل ګران وايي چې په نړۍوال سيستم کې چې تغير راسي بعضي قدرتونه د صعود او نزول سره مخامخ شي جنګ پيښيږي لکه اوس چې هندوستان او افغانستان د قدرت د صعود په حال کې دى او پاکستان د انزوا خوا ته روان دي، اوس چې پاکستان جنګ ته لمن وهي علت دادي چې نومړي د افغانستان څخه خپل Supremacy يا تفوق غواړي.
دوهم علت يې پدي کټګورۍ کې د رياليسټي فلسفي و يوه اصل ته ور ګرځي پدي معني چې رياليسټان وايي چې جنګ ځکه پيښيږي چې په نړۍواله سطه کې داسي قوت نسته چې دوه متخاصم هيوادونه دى د جنګ څخه راوګرځوي يا هم په نړۍواله سطحه کې انارشيزم موجود دي ددي معني دا چې که پلار په کور کې ؤ نو ماشومان يو له بل سره جنګ نه کوي، خو که نه ؤ بيا نو هغه خبره ده چې ول بابا کور نسته له ادي ډارنشته. دريم اقتصادي فکټور د جنګ علت کيدلاى سي مثلا شايد پاکستان دچابهار بندر، يا هم د افغانانو بايکاټ د پاکستاني موادو په وړاندي ددوي غوصه راپارولي وي. دسلما بند دافغانانو نژديتوب دهندوستان سره يو بل علت کيدلاى سي.

دوهم ددولت په سطحه د جنګ علت:

ځيني وخت ضعيفه دولتونه چي خپل دملت تر سخت انتقاد لاندي وي خپل داخلي بحران خارجي کوي ترڅو خلګ وغولوي چي دا مشکل د بحر څخه را روان دي، د سياست د علم پوهان دغه ډول کړنو ته دداخلي بحران خارجی کول وايي، اکثره وخت انقلابي رژيمونه د خپل قدرت د ساتلو لپاره دا کار کوي.

دریم په فردی سطحه د جنګ علتونه:

ځیني لیډران جنګي خاصیت لري جنګ یې په خټه کي اخښل سوي وي یعني دا په کرکټر پوري هم اړه لري د کرزی صاحب په وخت کې همدا پاکستان څلور کاله توغندي په جلال اباد باندي وتوغول خو کرزی صیب غوماشي هم نه خوړي زما په نظر نوموړي ارمان ګرا ؤ یعني Idealist سړي ؤ ده تل کوښښ کاوه چي د پاکستان سره زموږ جنګ وه نه شي د سولي ارما ن یې درلودۍ مګر د پاکستان سره په ارمان ژوند نه کیږي چي ته کښیني او وایي ای کاش چي موږ سوله درلولای پاکستان داؤد خان، ډاکټرنجیب الله او ډاکټر غني غوندي خلګ غواړي دشهید ډاکټر نجیب الله په وخت کې پاکستان پر جلال اباد باندي توغندي وتوغولي خو نوموړي بل مثله عمل وکړي سکاټ توغندي یې ور وغورځولي بس هغه یوه ورځ یې سول بیا یې د کرزي صیب تر پاچاهي پوري خوله منډه وه. کله- کله جنګ د ازادۍ لپاره وي ازادۍ ویني تویولو ته ضرورت لري کړه خوله په سوک سمیږي، راځي پر ځینو فرضیو باندي بحث وکړو اول خو جنګ ښه کار نه دي ګټوونکي هم په تاوان کې روان وي بایلوونکي خو هلته پریږده خود پاکستان سره دنن جون دولسم تاریخ جنګ د ازادي جنګ دي که مو په خپل کور کي په غلامي ووژني ښه دا ده چي دده په کور سړي ور ننوخي او هلته مړشي، دتاریخ څخه هم باید ګټه واخستل شي تاسو وواياست که چیري کرزي صیب همداسي کړي وای زموږ د جلال اباد او کنړونوخلګ به ولي څلور کاله ددوي توپونه حسابلای کله چي زموږ د ملي اردو په ملي بس باندي په کابل کې حمله کیږي وژل کیږي ښه دا ده چي د کورپه انګړ کي مړه شي چي دوهمه ورځ افغانستان ته د راتګ اراده دځان سره ګور ته یوسي دا باید په یاد ولرو چي جنګ به د یوې سیاسی وسیلې په ډول تل دوام وکړي ځکه چي دا وسیله کار کوي نتیجه ور کوي کله چي یو هیواد بل تهدید کړي ځیني وختونه خپل هدف لاس ته هم راوړي مګر دا فومول په افغانستان کې چا نه دي عملي کړي تل د قبر میلمانه شوي. د وطن دفاع فرض ده وطن د جنګ دي، ځکه وطن ناموس دي، وطن ننګ دي ،چي د وطن خیال نه کړي نغه بي ننګ دي.

مننه

نجیب الله علیزی، هندوستان د جواهر لعل نهرو پوهنتون په نړیوالو اړیکوکې د ماسټرۍ دوهم کال.

جنګ ولي پیښیږي؟

/ نجیب الله علیزی

خپروونکی: تاند

د بشرپه ټول تاريخ کې جنګ وجود درلودلي دي يو واحد علت يې تر اوسه هم نه دي معلوم خو علماؤ د جنګ علتونه په نړۍوال سيستم کې پردرو برخو ويشلي.

## اول: د سيستم په سطحه کې:

د سيستم په سطحه کې د جنګ علت بيا هم پر درو برخو ويشلي دي، په لومړي قدم کې تحليل ګران وايې چې په نړۍوال سيستم کې چې تغير راسي بعضي قدرتونه د صعود او نزول سره مخامخ شي جنګ پيښيږي لکه اوس چې هندوستان او افغانستان د قدرت د صعود په حال کې دی او پاکستان د انزوا خوا ته روان دي، اوس چې پاکستان جنګ ته لمن وهي علت دادي چې نوموړي د افغانستان څخه خپل Supremacy يا تفوق غواړي. دوهم علت يې پدي کټګورۍ کې د ريالستي فلسفي و يوه اصل ته ور ګرځي پدي معني چې رياليستان وايې چې جنګ ځکه پيښيږي چې په نړۍواله سطه کې داسي قوت نسته چې دوه متخاصم هيوادونه دی د جنګ څخه راوګرځوي يا هم په نړۍواله سطحه کې انارشيزم موجود دي ددي معني دا چې که پلار په کور کې ؤ نو ماشومان يو له بل سره جنګ نه کوي، خو که نه ؤ بيا نو هغه خبره ده چې ول بابا کور نسته له ادې ډارنشته. دريم اقتصادي فکټور د جنګ علت کيدلای سي مثلا شايد پاکستان دچابهار بندر، يا هم د افغانانو بايکاټ د پاکستاني موادو په وړاندي ددوي غوصه راپارولي وي. دسلما بند دافغانانو نژديتوب دهندوستان سره يو بل علت کيدلای سي.

## دوهم ددولت په سطحه د جنګ علت:

ځيني وخت ضعيفه دولتونه چې خپل دملت تر سخت انتقاد لاندي وي خپل داخلي بحران خارجي کوي ترڅو خلګ وغولوي چې دا مشکل د بحر څخه را روان دي، د سياست د علم پوهان دغه ډول کړنو ته دداخلي بحران خارجی کول وايې، اکثره وخت انقلابي رژيمونه د خپل قدرت د ساتلو لپاره دا کار کوي.

## دريم په فردی سطحه د جنګ علتونه:

ځيني ليډران جنګي خاصيت لري جنګ يې په خټه کې اخښل سوي وي يعني دا په کرکټر پوري هم اړه لري د کرزی صاحب په وخت کې همدا پاکستان څلور کاله توغندي په جلال اباد باندي وتوغول خو کرزی صيب غوماشي هم نه خوړي زما په نظر نوموړي ارمان ګرا ؤ يعني Idealist سړي ؤ ده تل کوښښ کاوه چې د پاکستان سره زموږ جنګ وه نه شي د سولي ارما ن يې درلودی مګر د پاکستان سره په ارمان ژوند نه کيږي چې ته کښيني او وايې ای کاش چې موږ سوله درلولای پاکستان داؤد خان، ډاکټرنجيب الله او ډاکټر غني غوندي خلګ غواړي دشهيد ډاکټر نجيب الله په وخت کې پاکستان پر جلال اباد باندي توغندي وتوغولي خو نوموړي بل مثله عمل وکړي سکاټ توغندي يې ور

وغورځولي بس هغه يوه ورځ يې سول بيا يې د كرزي صيب تر پاچاهۍ پوري خوله منډه وه. كله- كله جنګ د ازادۍ لپاره وي ازادۍ ويني تويولو ته ضرورت لري كړه خوله په سوک سميږي، راځي پر ځينو فرضيو باندي بحث وكړو اول خو جنګ ښه كار نه دي ګټوونكي هم په تاوان كې روان وي بايلوونكي خو هلته پريږده خود پاكستان سره دنن جون دولسم تاريخ جنګ د ازادي جنګ دي كه مو په خپل كور كې په غلامي ووژني ښه دا ده چي دده په كور سړي ور ننوځي او هلته مړشي، دتاريخ څخه هم بايد ګټه واخستل شي تاسو ووايااست كه چيري كرزي صيب همداسي كړي واى زموږ د جلال اباد او كنړونوخلک به ولي ځلور كاله ددوي توپونه حسابلاى كله چي زموږ د ملي اردو په ملي بس باندي په كابل كې حمله كيږي وژل كيږي ښه دا ده چي د كورپه انګړ كې مړه شي چي دوهمه ورځ افغانستان ته د راتګ اراده دځان سره ګور ته يوسي دا بايد په ياد ولرو چي جنګ به د يوې سياسي وسيلې په ډول تل دوام وكړي ځكه چي دا وسيله كار كوي نتيجه ور كوي كله چي يو هيواد بل تهديد كړي ځيني وختونه خپل هدف لاس ته هم راوړي مګر دا فومول په افغانستان كې چا نه دي عملي كړي تل د قبر ميلمانه شوي. د وطن دفاع فرض ده وطن د جنګ دي، ځكه وطن ناموس دي، وطن ننګ دي ،چي د وطن خيال نه كړي نغه بي ننګ دي.

مننه

نجيب الله عليزى، هندوستان د جواهر لعل نهرو پوهنتون په نړىوالو اړيكوكي د ماسترۍ دوهم كال

د تروريزم تعريف

نجيب الله عليزى د تروريزم په اړه ويلي چي ،تر اوسه تروريزم او د تروريزم تعريفول يو مغلق كار دئ مختلف تعريفونه سته هر يو د بل څخه متفاوته دي هر تعريف د وخت او جغرافيايي موقعيت په بدلون سره تغير خوړلى

دOxford dictionary  د تعریف له مخې تروریزم په لغت کې وهم او وېرې اچولو ته وايي او په اصطلاح کې د دولت یا ډلو ټېلو په واسطه د سیاسي قدرت لاس ته راوړلو په منظور د خلکو وژل ، ترس او وهم اچولو ته وايي. د پاملرنې وړ ده چې  په نړیوال جزايي قواعدو کې تروریزم، انسان پلورنه، انسان پېریدنه (رانیول)، د مخدره توکو قاچاق، د بشر ضد جرایم او ژنوسايډ نړیوال جرایم بلل کېږي([1]).

د تروریزم لغت د فرانسوي ژبې څخه راغلی چې د وهم، ترس، سیاسي قتل په معنی دئ، بعضې بیا په دې باور دي چې ټول هغه اقدامات چې د زور، وهم تهدید او خوف پر دایره څرخي هغه که د دولت په واسطه او یا کومې ډلې په واسطه تر سره سي تروریزم بلل کېږي .

ځیني علما تروریزم د مبارزې یوه برخه بولي دوی زیاتوي چې بعضې سازمانونه یا ګروپونه دولت تر فشار لاندې راولي تر څو دولت مجبوره کړي چې د دوی مشروع غوښتنو ته غاړه کښېږدی([2]).

یوه بله نظریه بیا وايي چې  تروریزم د هر هدف لپاره چې وي بېله  جنایت او وحشت څخه بل څه نه دئ.

همدارنګه ښاغلی ډاکټر محمدعلي ناجي راد هم په خپل کتاب (جهاني شدن تروریزم[3]) کې د تروریزم د یو واحد تعریف د نه شتون څخه سر ټکوي، نوموړی وايي چې بعضې ډلې خپل ځان ازادي خواه او استقلال غوښتونکي معرفي کوي خو مخالفه ډله ئې تروریست ګني. نوموړی زیاتوي چې د حزب الله او حماس ډلې د ایران او سوریې د لرلید څخه ازادي غوښتونکي ډلې دي مګر امریکا او متحدین ئې تروریستان ورته وايي، یا مثلا ایران او اسرائیل یو پر بل باندې د تروریست نوم ایږدي. ډاکټر ذاکر نائیک وايي چې د تروریزم تعریف په زماني او مکاني بدلون سره تغیر خوړلی نوموړی وايي کله چې بنجامین فرانکلین او جورج واشنټن د امریکا د ازادۍ لپاره مبارزه کول انګریزانو تروریستان ورته ویل په یو بل مثال کې وايي چې نلسن منديلا چې کله د تورپوستو د حق غوښتلو لپاره مبارزه کول نوموړي ته ئې تروریست ویل خو وروسته بیا هغه هیوادونو د سولی اتل کړ.

[1]  : نصرا الله ستانګزی، د حقوقو وېشنه، سالنګ کتاب خپروونکي، کابل: کال ۱۳۸۷، ص ۷۲

[2] محمد علی اردبیلی، مفهوم تروریزم و دفاع مشروع از منظر اسلام و حقوق بین ا لملل، تهران: سال ۱۳۸۴، ص ۱۲۰-۱۲۲

[3] :محمد علی ناجی راد، جهاني شدن تروريزم، دفترمطالعات سياسي و بين المللی، تهران: ۱۳۸۷، ص

د تروريزم عمده خصوصيات

نجيب الله عليزى د تروريزم عمده ترين خاصيت او وېژه ګي ډار او ويره اچول ښودلي هو زياته کړې يې ده چې دي مؤثر ترينه لاره ئې همدا ده، يو بل خاصيت ئې د عامه خلکو په نښه کول دي چې دا هم ډېر مؤثر اسانه او يو ساده کار او نتيجه يا Output ئې ډېر زيات مؤثر دي ، ځکه داسي حملې چې ناڅاپه صورت ونيسي او په هغه کي ملکي کسان د منځه لاړ سي دا يو اضطراب دئ او يو نوع وحشت منځ ته راوړي او په عيني حال کي و ملکي خلکو ته يو رواني شوک shock ورکوي تروريستان غواړي چې داسي يو عمل وکړي چې هغه د رسنيو تر پراخ پوښښ لاندي راشي.

که د تروريزم ټول تعريفونه هر څوک مطالعه کړي دې نتيجې ته رسيږي چې تروريستي حملې او تاوتريخوالی د سياسي قدرت د لاس ته راوړلو لپاره تر سره کيږي، دا اهداف ممکن د رهبر د تغير لپاره، د نظام د تغير لپاره، د حکومت د ساختار د تغير لپاره ، يا هم حتی د يو دولت د سياسي قلمرو د تغير لپاره وي.

د تروريزم په وړاندي د ملل متحد د سازمان ستراتيژي:

تروريزم د ۱۱/۹ څخه دمخه د ملل متحد د سازمان په غونډو او مجالسو کي يو له فرعي بحثونو څخه وو خو د تروريزم موضوع د سپټمبر د يوولسمي څخه وروسته د ملل متحد د سازمان يو له اصلی او محوري موضوعاتو څخه وګرځېدل د ملل متحد د سازمان سرمنشي ښاغلي کوفی عنان وويل:« چې نور نو تروريزم داسي يوه پدېده ده چې د دغه سازمان ټول اصول چې سازمان ئې حمايت کوي: يعني د بشر دحقوقو څخه دفاع، د ملکي کسانو څخه حمايت، د ملتونو تر منځ د دوستانه فضاء ايجاد، د شخړو سوليزه حل او هغه ټول ارمانونه چې ملل متحد ئې د جهاني سولي بايد د ترويزم سره په مبارزه کي پر پنځو محوری موضوعاتو باندي تمرکز وکړو».

لومړی: خلک د تروريزم څخه منع کول:

دوهم: تروريستان بايد پرې نښودل سي چې پيسو او لازمه اسبابو ته لاس رسی ولري.

دريم: د هغه هيوادونو سره مرسته کول چې د ترويزم قرباني دي تر څو دوی خپله وتوانيږي چې د تروريزم مخه ونيسي.

څلورم: د ټولو هغو اعلاميو څخه دفاع چې د بشر حقوق پکښي نغښتي دي.

پنځم: هغه هيوادونه چې تروريزم ته لمن وهي بايد فشار پر راوستل سي چې تر څو د دولتي تروريزمڅخه لاس پر سر سي.

کوفی عنان په دوه زره څلورم کال د جون پر۱۷ تاريخ وويل چې تروريزم هغه پدېده ده چې د ملل متحد د سازمان زړه ته ضربه ورکوي هغه څه د منځه وړي چې نړۍ ئې په ارمان ناسته ده يعني مقصد ئې د(سولي) څخه وو.
نوموړي زياته کړل چې تروريزم نړۍوالي سولي، ديموکراسي، قانون، حکومت، د بشر حقوق او نړۍوال ثبات ته ضربه ورکوي او زموږ زحمتونه چې د نړۍ د سولي لپاره ئې کاږو ټول په خاورو کي لاهو کوي. د ۱۱/۹ څخه وروسته د سپټمبر پر ۱۲ تاريخ د ملل متحد سازمان د امنيت شورئ اضطراري غونډه وکړل او يوه قطعنامه ئې

۱۳۸۶ صادره کړل چي ټولو غړو هیوادونو د تروریزم پر خلاف تصویب کړل د دغه قطعه نامې په لومړي بند کي راغلي چي هر تروریستي عمل د نړیوالي سولي او بین المللي امنیت لپاره خطر دئ او د ټولو غړو هیوادونو څخه ئې وغوښتل چي د تروریزم د نابودئ لپاره به نه ستړي کېدونکي هلی ځلي کوي.

د یادولو وړ ده چي جامعه ملل هم په خپل وخت کي تروریزم د بین المللی روابطو د خنډ وسیله بللي وه، په ۱۹۱۹ کي د جامعه ملل یو کمیسون چي د قاضیانو او حقوق دانانو څخه تشکیل و د تروریزم پر موضوع ئې بحث وکړي او تروریزم ئې د یو ستر جنګي جرم په حیث وګڼی د هغه څخه وروسته کله چي (الکساندر) دیوګوسلاویا باچا او د فرانسي د بهرنیو چارو وزیر ښاغلي (بارتو) په ۱۹۳۴کي د فرانسي د مارسي په ښار کي یو صرب ووژل جامعه ملل په کال ۱۹۳۵ کي په ګُپنهاک کي غونډه وکړل تروریزم ئې د صلحي لپاره تهدید وبلی او عاملینو ته ئې د جزا غوښتنه توصیه کړل.

د تروریزیم د تمویل منابع

د تروریزم په اړه نجیب الله علیزی ویلي : د پوښتني وړ ده چي تروریستان د چا لخوا حمایه کیږي؟ ځکه جنګ، انفجار، انتحار، موټر بم یا هم مخامخ تعرض په لوړه درجه مصارفو ته ضرورت لري. تروریستي ډلي خپل مالي منابع له کومه کوي، څوک ئې تمویلوي، نن په مارکېټ کي تر ټولو ګران بیه توکي وسلې دي او تر ټولو غټه سوداګري د وسلو پلورل اوپیرودل دي. د ۱۹۴۸ میلادي کال څخه بیا تر ۲۰۰۷ کال پوري د نړۍ هیوادونو تقربیا ۴۳ تریلونه ډالر خپل په ملي نظامي عملیاتو او ملګروملتو په خپل سوله ساتو ځواکونو ۴۹ بیلونه ډالره مصرف کړي دي د ملګري ملتونو لومړی سرمنشي ویلي وه چي:«جنګ ځکه پیښیږي چي نړیوال د سولي پرځاي د شخړو لپاره تیاری نیسي[1]».

د تروریزم د تمویل منابع:

لومړی: دتروریزم د تمویل لومړنی منبع دولتونه دي، هیوادونه د مختلفو ګټو او منافعو لپاره تروریزم او تروریستان حمایه کوي د امریکا دولت د نیکاراګوا، کیوبا، شمالي کوریا، سوریې، لیبیا او د ایران هیوادونه په دولتي تروریزم باندي متهم کړل، په عین حال کي په کال ۲۰۰۲ کي د عربو د روشنفکرانو یوې ډلي چي تعداد ئې۱۲۶ کسه وه د امریکا او اسرائیلو دولتونه ترهګر وبلل دغه تورونه دا معني لري چي دولتونه د ترهګرۍ په رشد کي سخت رول لري کنه نو یو پر بل به ئې دغه شان تورونه نه لګولای. همدا راز د کولمبیا د وسلوال انقلابي ځواک چي یوه تروریستي ډله ده د دوی ټولي طبي مرستي د کیوبا له خوا تامینیږي[2]. پاکستان هم د هند لخوا تورن دئ چي تروریستي ډلي د هند د امنیت د ګډوډ کولو لپاره حمایه کوي.

دوهم: مذهبي اوایډیالوژیک اورګانونه اوسازمانونه هم تروریزم او تروریستان حمایه کوي مثلاپه هند کي د تریپورا تروریستي ډله (NLFT) د بپتیسټ عیسوي کلیسا له لوري حمایه کیږي. (اشوک کولن یانګ) د سوډان اوسېدونکي دي هغه په ۲۰۰۲ میلادي کال کي مسلمان سو، نوموړی مخکي د نړیوالي کلیسا د اتحادیې منشي وو دی په خپله یوه

(رساله[3]) کي وايي چي: « د کليساؤ سازمان په دقيق ډول پلان جوړوي تر څو خلک و عيسويت ته واړوي او که چيرته په خپل فعاليت کي پاته راسي نو هلته د قومونو تر منځ يا هم د مختلفو مذهبي پيروانو تر منځ دښمني او درځ پيدا کوي. او يا هم پر غربي هيوادونو فشار واريدوي تر څو خپل کومکونه پر قطعه کړي او يا ئي و عيسويت ته را واړوي، نوموړی وايي چي ده په ۱۹۸۱ کي د امريکا په ټکساز ايالت کي په هغه کنفرانس کي ونډه لرله چي اجنډا ئي د (اسلام د پېشرفت او ترقی مخه نيول وه) نوموړی وايي چي ده ۱۸ لکه ډالره جمع کړي وه او مخلتفو سازمانونه ته ئي ورکړل تر څو د عيسويت د توسعي لپاره کار ځيني واخلي». د بله طرفه په اسلامي نړۍ کي بيا پر سخت دريځو ډلو تور لګول کېږي چي د عشر او زکات په نامه باندي د محلي خلکو څخه د جهاد په نامه پيسي ټولوی او بيا تروريستي فعاليتونه په کوي.

دريم: قاچاق د تروريزم په رشد او وده کي تر ټولو ستره منبع ده، د افغانستان د مواد مخدرو پر ضد د مبارزي معينيت په ۱۳۹۲ ه ش کي د جوزا پر پنځم تاريخ باندي په يوه کنفرانس کي وويل چي تروريزم د قاچاقو او مخدره توکود عوايدو څخه تمويلېږي. د ملل متحد د سازمان د ۲۰۰۷ د راپور له مخي د افغانستان د ۲۰۰۶ ميلادي کال د تارياکو څخه په لاس راوړو پيسو اندازه درې اعشاريه يو بيلون ډالره وه.([4]) چي دغه پيسي په زياته اندازه د سخت دريځه ډلو په لاس ورځي او خپل پوځي اکمالات په کوي د ملګروملتو راپور وايي کله چي په ۲۰۰۴ کي د هسپانيا په مادريد کي چاودني وسوې ۱۹۱ کسه مړه او ۱۸۰۰ نفره زخميان سول مستقيماً ئې د قاچاقو له پيسو سره ارتباط درلودی ځکه چي د قاچاقو په پيسو باندي سخت دريځه ډلي وسلي رانيسي. د يادولو وړ ده چي د دغه چاودنو پېړه د باسکيو د پلرني وطن د ازادی پر تروريستي ډلي ور ولوېدل.

[1] : جان رورک او مارک بوېر،بين المللی سياست ته يوه کتنه، ژباړن محمد صديق ظير، چاپ علامه رشاد خپرندويه ټولنه، کندهار: ۱۳۹۰،ص ۲۱۰

Barry Dawies, Terrorism inside a world phenomenon, virgin books Ltd, London: : [2] 2003,page 58

[3] : اشوک کولن يانگ، رازهاي پرده کليسا را افشاء می سازد، مترجم احمد ضاء رحيمزي، نشريه جمعيت اصلاح، کابل: سال ۱۳۸۶، ص ۱۳

http://www.unodc.org/unodc/en/frontpage/drug-trafficking-and-the-financing-of- : [4] terrorism.html

اسلام اوجګړه

عبدالرحمن فرقاني بيا د اسلام او جګړې په تړاو خپلې خبرې د قرآن کريم پر دغه آيت باندې پيل کړې چې (شهر رمضان الذی انزل فيه القرآن ) روژه په اسلامي تاريخ کې يوه د رباني عظمت څخه ډکه مياشت ده، په اسلامي تاريخ پورې اړوندې ټولې هغه اساسی او برخليک ټاکونکې پېښې چې د بشريت په هدايت کې پرېکنده اثر لري، د بشريت ژوندانه ته يې بدلون ورکړي او انسانيت يې د بېلابېلو خدايانو له عبادت او بندګۍ څخه ژغورلی، د روژې پر عظمت او سپڅلتيا دلالت کوي په روژه کې د قرانکريم دنزول حادثه هغه برخليک ټاکونکې حادثه ده، چې انسان د جاهليت او بغاوت له تورو تيارو څخه د نور او هديت رڼا ته رايستلی دی " شهر رمضان الذی انزل فيه القران .... "هغه لارښود او دستور چې الله تعالی د انسانی ژوندانه د تنظيم و ترتيب لپاره بشريت ته غوره کړی دی، په روژه کې د قدر د شپې حادثه هم د بشريت په تاريخ کې يوه اساسی او ارزښتناکه حادثه ده، هغه شپه چې تر رزهاوو شپو غوره شپه ده، هغه شپه د کايناتو د خالق او د مځکې پرمخ د بشريت ترمنځ د پيوستون او وصال شپه ده ، هغه درسول الله صلی عليه وسلم پرسپيڅلی زړه باندې د قران دنزول شپه ده ، هغه د يوې لويې اوبا عظمته پيښې شپه ده ، هغه پيښه چې د بشريت په لارښونه او رهنمايی کې د حقايقو لوری ته او دانسانيت په ژوندانه کې د هغې لوی او لوړه اغيزه ساری نه لري ، او دا راز باعظمته او لويه شپه تر دې وړاندې ځمکې نه وه ليدلې . دا هغه شپه ده چې انسانی فهم او ادراک ئې په کامله اوپوره توګه نه شي درک کولای . (إِنَّا أَنزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ وَمَا أَدْرَاكَ مَا لَيْلَةُ الْقَدْرِ لَيْلَةُ الْقَدْرِ خَيْرٌ مِّنْ أَلْفِ شَهْرٍ ) ژباړه : يقينا موږ هغه د قدر په شپه کې نازل کړی دی ! او ته څه پوهيږې چې څه ده شپه د قدر ، شپه د قدر غوره ده تر زرو مياشتو . او د رسول الله غزاګانې او اسلامي فتوحات دي، چې د رسول الله ص د عملي سيرت لويه برخه تشکيلوي او په عملي توګه يې هغه مهال د اصحابو کرامو د اخلاقو او کړنو په تهذيب کې ژور اغيز درلود . هم د اساسي او بنسټيزو پيښنو څخه دي

خو د لوېديځ فکری استعمار ټل د اسلام د بدنامول لپاره غوارړي په خلکو کې د اسلام اړوند شکونه او ابهامونه پيدا کړي، چې په دې اړه مختلفې قضيه په مغرضانه او منافقانه ډول مطرح کوی کله د ښځې د حقونو او موقف په نامه

غوغا را پورته کوي او کله د بشر د حقونو په نامه واویلا وایی او کله په اسلام کې د مساوات او برابرۍ د نقض مساله پورته کوي او کله هم د لوېدیځ فکري استعمار د غزاګانو او جنګ مساله مطرح کوي او وایي : چې اسلام د جبر او زور دین دین او په خلکو د توري تر سیوره لاندې په زور او جبر باندې منل شوی دی او د اسلام فتوحات او غزاګاني د خلکو د ثروتونو د غارتولو لپاره تر سره شوې دي ...

خو که موږ وګورو اکثرا د رسول الله ص په وخت کې غزاګانې او اسلامي فتوحات د دې لپاره تر سره شوې چې بشریت د اوهامو ، ګمانونو ، بغاوت او جاهلیت څخه چې هغه مهال په بشري ټولنه باندې حاکم وو و ژغوري د دې لپاره تر سره شوې چې انسان د انسان له بندګۍ څخه خلاص کړي

• په اسلام کې جنګ او جګړه هم د دې لپاره نه ده تر سره شوې تر څو د نورو خلکو ثروتونه غارت شي ، خلک د خپل دین څخه بې لارې شي، خلک د معیینو استعماري ځواکونو تر اثر لاندې پاتې شي، د ضعیفو ملتونو برخلک د استعماري ځواکونو په لاس کې ولوېږي، په ټول کې جنګ او جګړه د لوېدلیو مادي ارزښتونو لپاره په لاره واچول شي.. بلکې په اسلام کې جنګ او جګړه هم د لویو رباني ارزښتنو لپاره په لاره اچول کېږي د اعلی کلمه الله تر څو د الله تعالی دین اسلام د ټول بشریت لاربښود شي، څرنګه چې الله تعالی د ټول بشریت لپاره غوره کړی دی، د اسلامي دعوت په لاره کې څوک خنډ نه شي .. موږ که د اسلامي فتوحاتو په اړه د غرب بې بنسټه ادعا وګورو او څېرو چې وایی : اسلام د زور دین دی د توري په زور پر خلکو منل کېږي، نو په حقیقت کې د اسلام خطاب بیا داسې نه دي قرانکریم خطاب کوي او وایی: ( لا اکراه فی الدین قد تبین الرشد من الغی ...) د دین په منلو کې اجبار نشته او عمر رض کوم یهودی ته د اسلام د منلو دعوت ورکړ خو کله چې هغه د عمر دعوت و نه مانه عمر رض پرې اجبار او اصرار و نه کړ. او دا مبارک آیت یې تلاوت کړ(لا اکراه فی الدین قد تبین ارشد من الغی...) بنا دا مطلب په اسلام پورې تړل بې ځایه ادعا ده حال دا چې مسیحیانو کله په بیت المقدس فلسطین کې خپله جګړه رسما د صلیب تر عنوان لاندې اعلان کړه او کوم مهال به چې د جګړې ډګر ته وتل په غاړه کې به یې د صلیب علامه ځوړنده کړې وه ، تر څو د دین په نامه د جنګ انګیزه وښیي ... او د بیت المقدس کوچې یې د مسلمانانو او بې ګناه خلکو پر وینو داسې ډکې کړې وې، چې د آسانو پکې لامبو وهله ...

اسلام نه غواړي په زور پر چا اسلام د دین په حیث و مني، د کوم معیین شخص ، او قوم ته د اقتدار سپارلو لپاره جنګ وکړي او کومه سیمه د دغه هدف لپاره فتحه کړي. نو بیا ټول هغه جنګونه نه مني چې د دغو راز دینی تعصب لپاره تر سره کېږي. خو صلیبیان خپل ټول جنګونه د اسلام د خپراوی د مخنیوی لپاره په لاره اچولي دي، که تر هر عنوان لاندې نوموړي جنګونه تر سره شوي خو په پای کې د یوه هدف لپاره چې د اسلام دخپراوي مخه ډب کړي.

• اسلام نه غواړي، چې د اقتدار د سپارلو لپاره جنګ وکړي، ملتونه او قومونه یوازې د تعرف او پېژندګلوۍ لپاره تقسیم شوي دي.په اسلام کې هیڅ څوک تر هیچا برتریت او افضلیت نه لري، که د افضلیت لپاره کوم معیار شته په اسلام کې هغه تقوا ده چې انسان الله تعالی ته نېږدې کوي. نو له دې ځایه اسلام ټول هغه جنګونه او جګړې نه مني چې د لساني، قومی او یا سمتي تعصب پر بنیاد تر سره کېږي. اسلام د کوم شخص قوم او ملت د ستاینې لپاره جنګ ته جواز نه ورکوي او یا د شهرت او پر نورو د واکمنۍ لپاره جنګ ته جواز نه ورکوي.

• اسلام د غنایمو تر لاسه کولو او ثروتونه د غارتولو لپاره جنګ او جګړې ته جواز نه ورکوي، څرنګه چې د لوېدیځ استعمار د تاریخ په اوږدو کې د همدغه هدف لپاره خپلې جګړې د اسلامي امت پر وړاندې تر سره کړې دي او همدا

اوس د موږ او تاسو په زمانه کې دا راز جنګونه په عراق، سوریه، یمن، لیبیا، افغانستان او ټوله اسلامي نړۍ کې جریان لري، که څه هم چې په عراق کې فیزیکی حضور نلري، خو خپله جګړه یې رسما هلته د صلیب تر عنوان لاندې د دیني تعصب پر اساس پیل کړه، د جنګ او جګړې تداوم ته یې داسې زمینه سازي کړې ده ، چې هغه واحده منبع چې د عربی هېوادونو د اقتصاد د پیاوړتیا ضامنه کېدای شي خپل اهمیت داسې له لاسه ورکړي، چې تقریبا په وړیا توګه د غرب اقتصادي او صنعتي ماشین ګرځوي زما مراد د عربانو تیل دي اوس تیل د ۱۴۰ دالرو څخه یوازې ۳۰ دالرو ته رالوېدلی دی ، ایا دا د ملتونو د ثروتونو غارتول نه دي؟ په افغانستان کې د جنګ د تداوم له امله د افغانستان معادن او ذخایر په رمزي بیه د هېواد څخه نه غارتېږي...

خو اسلام د جنګ او جګړې لپاره یو اساسی هدف لري، چې رسول الله (ص) یې په هکله داسې ویلي دي : ( من قاتل لتکون کلمه الله هی العلیا فهو فی سبیل اللله..) هغه څوک چې د اعلا ې کلمه الله لپاره جنګ کوي هغه د الله تعالی په لار کې جګړه ده. خو د رسول الله ص مقصد او مفهوم په دغه حدیث کې د کلمه الله څخه څه دی؟ باید د هغه ص په مطلب پوه شو: الله تعالی وایی ( ان الدین عندا الله الاسلام ..) او ( ومن یبتغ غیر الاسلام دینا فلن یقبل منه...) د اعلا کلمه الله څخه مراد دا دی، چې اسلام د قناعت او خوښې پر اساس ومنل شي نه د زور او جبر پر اساس ( وادع الی سبیل ربک بلحکمه و الموعظه الحسنه و جادلهم بالتی هی احسن ..) دعوت باید د حکمت او ښې رویې پر اساس تر سره شي.

خلاصه جنګ د اسلام په لار کې په دو صورتونو کې تر سره کېږي:

1. کله چې کوم مادي او استعماري ځواک د اسلام د خپراوي په لارکې ودرېږي، کوم دین چې الله تعالی د ټول بشریت لپاره غوره کړی دی. او د دعوت حق د مسلمانانو څخه واخیستل شي، ځکه اسلام ته د دعوت حق او آزادي باید سلب نه شي مسلمانان د قران په حکم (کنتم خیر امه اخرجت للناس تامرون بالمعروف و تنهون عن المنکر.... ) مکلف دي، چې د اسلام دعوت تر ټول بشریت ورسوي، خو بیا د دین په منلو کې خلک آزاد دي..

2. او یا کوم مادی او استعماري ځواک هغه خلک چې پخپله خوښه او رضا یې اسلام منلي دې ته اړباسي چې د اسلام څخه لاس په سره شي ، اسلام د زور او جبر په نتیجه کې پرېږدي .. دلته باید د دغو خلکو د دفاع په خاطر وسله پورته شي .. په اسلام کې اسلامي فتوحات او د رسول الله غزاګاني د همدغو دو هدفونو لپاره تر سره شوې دي.

په پای کې باید ووایو چې په اسلامي هېوادونو کې ټولې جګړې او جنګونه د لوېدیځ د لوېدلیو مادي ارزښتونو لپاره په لاره اچول شوې دي او لوېدیځ غواړي له دغه لارې څخه د اسلامي نړې ثروتونه غارت کړي، د انکشاف او پرمختګ او پراختیا لړۍ پکې ځنډنۍ شي، د حوکومتدارۍ چارې د نظم او نسق څخه ووځي ، نظام او قانونیت خپل اهمیت او اغیز له لاسه ورکړي او داسلام سره د ترهګرۍ او تروریزم ناوړه ښکارنده و نښلوي، موږ مسلمانانو ته په کار ده، چې کوم جنګونه چې د اسلام د جنګي فلسفي سره سمون نه لري او لوېدیځ ته موکه په لاس ورکوي چې له نوموړو جګړو څخه د اسلام او مسلمانونو پر ضد ابزاري استفاده وکړي، دغه راز جنګونه ته د پای ټکی کېږدو، عوامل یې وپېژنو او په هر قیمت ثبات او ټیکاو خپلو ټولنو ته راستون کړو ...

په جګړه کې دانساني ارزښتونواوسولې وضعيت:

د جګړې په مينځ کې د ځينې انساني ارزښتونوعناصر شتون لري چې پرته له څه پام کولو له ډول ډول ګواښونو سره مخ کيږي .

دغه عناصر له انساني درناوي ، انساني حقوقو ، ريښتيا ، زړه سوی (ترحم) ، عفوې (ښښنې ) ، صبر ، عدالت ، د ژوند له خونديتوب او مصؤونيت څخه عبارت دي . د جګړې په وخت کې د انساني ټولنو په اړيکو کې د ډل بنديو ، فزيکي ورانيو ، تېريو ، زيان اړولو ، پټېدو ، مړينو ، ټپيانو ، وېرو ، ګوښه کولو ، شړلو ، تښتېدلو ، ګډوډيو، او ډېرو بې نظميو ترڅوا د غوسې ، غرور ( تکبر ) ، انکار ، غولوني ( چلبازۍ ) ، کرکې ( نفرت ) ، کسات ( انتقام ) ، درواغو ، تعصب ( تبعيض ) ، او نور ... ، انساني ټولنې د دښمنيو په روان بهير کې را ښکېل او د جګړه ييز حالت په تلک کې بند ساتي .

که د جګړه ييز حالت په مينځ کې د سولې وضعيت و څېړو ، وبه وينو چې سوله او له هغې سره يو ځای د انساني ارزښتونو عناصر له ډول ډول ګواښونو سره مخ او غبرګ يې نه اوړېدل کيږي . د جګړه ييزو حالاتو په مينځ کې هم د سولې هڅه داده چې د انساني ژوند د ساتنې په موخه به له سوله ييز ژوند څخه استعدادونو ته وده ور کړي . دا چې سوله د ژوند ـ او د سولې د اړوندو ارزښتونو ساتنه کوي او انساني ژوند له تاو تريخوالي او تېري څخه ژغوري ، د خپل غبرګ په اوچتولو ، اوروللو او د خپل پيغام رسولو کوښښ هم کوي .

سوله غواړي چې ژوند له بې نظميو( ګډوډيو ) او کرکو( نفرتونو ) څخه و ساتي . سوله د انسانانو تر مينځ د يو بل منل ، درناوی ، اعتماد ، ډاډ ( اطمينان ) ، خواخوږي او د يوه انساني ټولنيزسيستم جوړولو ته د ټولنو د وګړوپاملرنه

ځانته را اړوي . د سولې هڅې له جګړې څخه د ښکېلو خواوو د خلاصون په خاطر د سولې هیلې را ټوکوي او پیاوړې کوي یې . او هڅه یې داده چې تر هر څه مخکې د تودې جګړې اوربند وکړي .

سوله د یوې جګړې ځپلې ټولنې له وګړو څخه په ډېرو برخو کې د کار ، زیار او مثبتو بدلونونو غوښتنه کوي . دغه غوښتنې ، هڅې او بدلونونه باید د ذهنیتونو ، کړو وړو ، او د ټو لنیز سیستم په اړیکو کې داسې بدلونونه رامینځ ته کوي ـ څو وکړای شي چې ټو لنیزو شخړو ته په سوله ییزه توګه ځواب ووایي ، او ټولنه له تاو تریخوالي ، تشدد او جګړو څخه پرې وساتي .

هغه ټو لنې چې له جګړو څخه وروسته سولې ته د رسېدو لاره غوره کوي ، د ډېرو بنسټیزو بدلونونو تر خوا د ټولنیزو اړیکو بیا جوړولو او پخلاینې ته اړتیا لري ، چې د پخلاینې په واسطه بیا د سولې او انساني ژوند ارزښتونه له سره په کې احیأ (راژوندي) کېږي . که نه نو د انساني ژوند او سولې د ارزښتونو د بیا را ژوندي کولو ، ودې او پراختیا څخه پرته به سوله څنګه شونې وي ؟

تمرین :

الف : تاسو یوه جګړه تحلیل کړئ . ددې تحلیل موخه دا نه ده چې تاسو د جګړې له پاره حل ومومئ ، بلکې هدف دادئ چې په جګړه کې ښکېلې ډلې ، د اختلاف موضوع ، د هغوی هدفونه او د اهدافو د عدم تطابق ټکي سره پر تله کړئ .

ب: په جګړه کې خارجي مداخلې او د هغوی اهداف ، د خارجي مداخلو څخه د خلاصون لارې موندل .

د وسله والوشخړواوجګړوتاوانونه

د وسله والو شخړو او جګړو د زیانونو د کچې را ټيټولو مفکوره او دقیقه ارزونه ددې له پاره را مینځته شوې ده چې د شخړو د حل او سولې ساتنې له پاره متبادلې لارې په نښه ، له جګړوڅخه د مخنیوي او د شخړو د سوله ییز حل په هڅو کې مرسته وکړي .

دا یو څرګند حقیقت دئ چې د شخړو او جګړو تاوانونه داسې دي چې انسانان یې یو تر بله د خپل ژوند د بقأ ، چاپېریال ساتنې او اړیکو ټینګولوته سره اړکړي . انسانان کولای شي چې ددې زیانونو مخه ونیسي . خو ددې تاوانونو مخنیوی د اسلامي وروروليی د پراختیا او خوندیتوب له پاره الله (ج) د رسول الله (ص) د سیرت په ژوندیو نمونو کې د شخړو د سوله ییز حل ، سوله ییزو مهارتونو او مثبتو بدلونونو له لارې ممکن کړي دي . نه د کفري مرکو، قبائلي مچېلګو، نهه ګونیو او نورو ناروا او غیر معروفوجاهلي دودونو له لارې .

د وسله والو شخړو او جګړو له امله نه یوازې انساني او نور تلفات شامل دي ، بلکې پر دې سر بېره اقتصادي ، سیاسي ، ټولنیز ، رواني ، خدماتي ، او د چاپېریال ساتنې زیانونه هم له ځانه سره لري . مهاجرتونه ، بې کورۍ ، بېکارۍ ، بېوزلی ، بې عدالتی ، بېرحمی ، وېرې ، کرکې ، نا امنی ، کورنۍ او بهرنۍ مداخلې ، او د ډول ډول ناروغیو خپرېدل د انسان ژوند له راز راز ګواښونو سره مخ کوي . په شخړو او جګړو کې ټول انساني ارزښتونه لکه ( انساني درناوی ، انساني مینه او خواخوږي ، صداقت ، زړه سوی ، صبر ، مرسته کول ، عدالت ، انصاف ، اعتماد او باور .... ) له مینځه ځي او ځای یې بې عدالتي ، بې انصافي ، بې اعتمادي ، بې رحمي ، کینه ، نفرت ، تعصب ، تبعیض ..... او داسې نور نیسي .

په داسې ټولنیز چا پېریال او کرغېړنو اړیکو کې د ژوند ټول انساني ارزښتونه تر پښو لاندې کېږي . او ځای یې غیر انساني ارزښتونه نیسي او هغه لا پسې پیاوړي کېږي او خورېږي . ژوند خپل اصلي رنګ ، خوند او ښکلا په کې له لاسه ور کوي .

د خوابدۍ ځای خو لا دادئ چې موږ د شمسي نظام په هغه سیاره کې اوسېږو چې الله تعالی په خپل بالغه حکمت سره د طبیعي سوله ییز برخمن ژوند او په موږ پورې اړوندو نورو ذي روح او غیر ذي روح شیانو له پاره ډیزاین کړې او پیدا کړې ده . په همدې کوچینی ښایسته ګُره ( ځمکه ) کې د اکثرو دولتونو ډېر لوی تشکیلات ، پانګې ، مصارف ( لګښتونه ) ، او نور څېزونه زېرمه کېږي ، چې څنګه جګړه وکړي ، څه ډول د خپلو ګټو خوندي کولو له پاره قوانین په کې نافذ او حاکم کړي ، څه ډول د سرغړونو جزأ ګانې تدوین او تطبیق کړي ، او ددې په عکس دېته ډېره پاملرنه کېږي چې څنګه جګړه ودروي ، څه ډول د شخړو او تاو تریخوالي عوامل له مینځه یوسي ، د ټولو په ګټه څنګه قوانین اصلاح کړي ، څنګه عدالت تأمین کړي ، څنګه خدمات وړاندې کړي .... او نور .

د ژوند په چاپېریال باندې د جګړو ناوړه اغېزې

د ژوند چاپېریال هغه ځایونه چې هلته ژوند روان وي ، چاپېریال بلل کېږي . د بېلګې په توګه : د اوبو یو ډنډ ( حوض ) دریابونه ، بحرونه ، غرونه ، دښتې ، ځنګلونه ، کروندې ، کلي ، ښارونه ... او نور . په دې ځایونو کې ډول ډول حیوانات ، نباتات او نور ذره بیني موجودات اوسېږي ، دوی ټول له یو بل سره او له خپل فزیکي چاپېریال سره اړیکې لري او دوی ټول په مجموع کې په داسې توګه تنظیم شویدي چې په مسلسله توګه فعالیت کوي او د ژوند په ساتنه کې له یو بل سره مرسته کوي .

خو جګړه یې پر ژوند ـ او د ژوند پرچاپېریال باندې ډېرې ناوړه اغېزې کوي ، چې د انسانانو خپلمینځې ارتباطات او د ژوند له چاپېریال سره د هغوی اړیکې له ډول ډول ګواښونو او پرې کېدو سره مخ کولی شي .

نن ورځ پوهان دې پایلې ته سره رسېدلي چې د ژوند په چاپېریال باندې د جګړو اغېزې تر ټولو هغو نورو زیان اړوونکې دي ،کوم چې په طبیعي آفاتو کې پېښېږي .

جګړه د انساني تلفاتو ، معیوب یتونو ، مهاجرتونو او نورو ډول ډول مصیبتونو ترڅنګ د ژوند ساتنې پر سیستمونو ، هوا ، خاورې ، کروندې او ځنګلونو باندې هم ناوړه تاوان اړوونکې اغېزې کوي . د اوبو پر دوراني سیستمونو، هوا، خاورې ، کروندې ، ځنګلونو اوحیواناتو باندې خورا زیاته زیان اړوونکې اغېزه کوي . د مرمیو ( مردکو ) ، کېمیاوي ، بیو لوژیکي او ذروي وسلو کارونه ( استعمالول ) ، ماینونه ، سوځېدل او د نفتي موادو خپرېدل د هوا ، اوبو او خاورې د اوږدې مودې د ککړتیا سبب ګرځي چې په خپل وارسره د ځینو مهمو ځارویو او نباتاتو د دایمي انقراض ( نابودۍ ) سبب جوړېږي چې پر دې سر بېره د ډول ډول ناروغیو د خپرېدو ـ او په راتلونکو نسلونو کې د ناقص الاعضأ بدن او دایمي معیوبېدو اسباب هم مینځته راوړي .

موږ انسانان باید پر دې باندې پوه شو چې د ژوند چاپېریال د ټولو ژوندیو موجوداتو ( پخوانیو- اوسنیو او راتلونکو نسلونو) له پاره یو امانت دئ ، چې ددې امانت په ساتنه کې موږ ټول په واجبي ډول مسؤولیتونه لرو .

زموږ اوسنی وضعیت

د نړۍ ( دوه پر دریمه ) برخه هېوادونه د پټو او ښکاره تاوجنو لانجمنو، شخړو، ماتو اوپرېکړو حالاتو سره لاس او ګرېوان دي . د نړۍ په ډېرو ځایونو کې انسانان یو بل سره وژني ، یو بل ته درنې مرګ ژوبلې اړوي ، انساني ناورینونه را مینځته کوي ، چې دا د انسانانو په لاس را مینځته شوی ناورین بیا د پراخو ورا نیو سبب جوړ شوی اوکېږي .

د انساني تاريخ په اوږدوکې شلمه پیړۍ یوه ډېر ه دردوونکې او وژونکې پیړۍ وه ، چې په کې د پر مختللي مدنیت تر ځنګ بیا هم د یو سل او یو نوي میلیونو(۱۹۱۰۰۰۰۰۰) په شاوخا کې انسانان د شخړو او جګړو له امله په کې وژل شوي دي .

همدغه ډول ورانوونکې شخړې او جګړې په لوړه کچه د نړۍ ثبات ته ګواښوونکې هم دي ، چې دداسې شخړو او جګړو د تحلیلولو ، سړولو ، قابوکولو ( کنټرولولو ) او درولو هڅې هم تر اوسه پورې په ډېرو ځایونو کې ډېرې اغېزمنې او مؤثرې نه دي . ځکه چې د جګړو جوړولو خبر ځای استکباري قطبونه دي چې تل یې غریب هېوادونه او د هغو هېوادونو اتباع د خپلو شومو موخو قرباني کړي ، او خپلې نوې وسلې په کې آزمويي او زړې ور باندې پلوري .

په شخړه ییزو ځایونو او حالاتو کې د ژوند هرخوځښت د شخړې په سړولو یا تېزولوکې خپلې اغېزې لري ، چې یا حالات د جګړې لورې ته بیايي او یا هم د سولې خواته .

خو د سولې هڅې له مختلفو لارو څخه ممکنې او اړینې دي ؛

په اوسنۍ نړۍ کې د هر وګړي انساني دنده داده چې د خپل هرهغه فعالیت پیاوړي کولوته زور ورکړي ترڅو د بالقوه شخړې مخنیوی ور باندې وکړي او د بالقوه سولې د را ژوندي کولو او خوځښت سبب وګرځي .

د دوامداره سولې له پاره ښه نقشه هغه ده چې شخړه او سوله دواړه په سمه او بېخپوره توګه د شخړې د دایمي حل په خاطرپه کې تشخیص ، په نښه او و پېژندل شي . خو په څنګ کې ور سره په یوه ټولنه کې د سولې د ظرفیتونو پېژندل هم اړینه خبره ده .

که چېرې موږ پورتني مفاهیم په سمه توګه و نه پېژنو ، نو څنګه به وکولای شو چې سولې ته لاره ومومو . داچې جګړه او د جګړې جوړولو چمونه زده کېدای او عملي کېدای شي ، نو سوله هم په عملي ژوند کې د زده کړې او عملي کېدو وړ ده .

خو له بده مرغه چې ځینو انسانانو د سولې او همزیستۍ پرځای پرجګړه ییزو پروژو جوړولو اوعملي کولو باندې زیاته پانګونه کړې ده ، خو د سولې له پاره یې تر اوسه پورې کوم منظم بېخپوره کار نه دۍ ترسره کړی .

همدا لامل دۍ چې نننۍ جګړه په افغانستان ، سیمه او نړۍ کې په آسانۍ سره نه دریږي . د دې تر څنګ د نړۍ ځینو حریصو او زورواکو ځواکونو د نویو دښمنیو په راټوکولو ، جوړولو ، د بحرانونو په را مینځته کولو ، وسلو آزمویلو ، وسلو پلورلو او مداخلو سره ځیني انساني کاواکه ټولنې له سختو ستونزو سره مخ کړې دي .

که چېرې موږ او تاسې د جګړو او پرهغو باندې د شویو لګښتونواو کړاوونو بیه د سولې د فعالیتونو ، زده کړو او د عدالت د تأمین له مصارفو سره پرتله کړو ، دا به را ته په ډاګه شي چې د جګړې تر تاوانونو به د سوله ییزو فعالیتونو اودعدالت تأمین ډېر ارزانه او آسانه وي .

(( ځکه چې د یوه هېواد د یوې ورځې جبهه ییزې جګړې لګښت په اوسط ډول د هغه هېواد د ټول کال له ټولوعایداتو سره برابر۔ او یا ترهغې هم څو برابره زیات دۍ . ))

موږ او تاسې ټولو ولیدل چې د عراق او ایران ترمینځ جګړې که څه هم دواړه نفت خېزه هېوادونه دي د ایران اوعراق دواړواقتصادي تیر ورمات ، اود کلونو له پاره یې له مخ پر ودې اقتصاد څخه پر شا کړل .

همداسې هند او پاکستان ، پاکستان او بنګله دېش هم خپلمنځي جګړو د پولې ټک ته ترکلونو پورې سره کښېنول .

مصرله اسرائیلوسره په تعرضي جګړه کې په یوه ورځ ( اته سوه )جنګي ټانکونه له لاسه ورکړل ـ چې له امله یې ترننه پورې دغربت پېټی پرشا وړي . همداسې به لیبیا ، الجزائر، سوډان ، فلسطین ، سوریه، یمن ، لبنان ، بوسنیا اوهرزه ګووینا او افغانستان ترکلونوپورې د سوال اوچندو په کچکول سره چلېږي . ځکه همدا اوس د یادو هېوادونو اقتصاد په صفرکې ضرب او یا ترمنفي صفرهم ورښکته دئ .

پخوانی شوروي اتحاد هم د افغانستان نا اندوله ملا ماتوونکې لس کلنې جګړې سره ټوټه ټوټه کړ، په سوونوجنګي الوتکې ، په زرګونو جنګي ټانکونه اوتریو لک زیاتې درنې لیرې ویشتونکې وسلې ، په مېلیونوسپکې وسلې ، مهمات او نورجنګي تجهیزات ، په زرګونو پوځیان ، د وارسا منظم جنګي ماشین اوکورنی عایداتې او اقتصادي سرچینې یې له لاسه په کې ورکړې . له خپل ګاونډ سره په څنګ کې پروت سترا تیژیک افغانستان او د هند سمندرګی یې له لاسه وؤت . له ناټو سره سړه جګړه او د کمونېزم مفکوره یې په ټوله نړۍ کې په افسانه بدله شوه .

د جاپان د دوو اتومي ریاکتورونو په له مینځه تلو سره د هغه هېواد اقتصاد پینځه کاله شاته ولوېد .

خو که دهغې جګړې پرځای یې د افغانستان په بیا رغونه باندې کارکړی وای ـ اوس به په ډېره لړه بیه هم آزاد او سمسور افغانستان موجود وای ـ اوهم به پخوانی شوروي اتحاد نن د نړیوالو سیالانو په کتارکې ولاړ ؤ . ولې روسانو افغانستان او خپل ځان له هره اړخه داسې ړنګ کړل چې بیا رغونه به یې په لس ګونو کاله وخت واخلي .))

د تاوجنو شخړو او جګړو د اغېزو تشخیص او پېژندل به له موږ سره مرسته وکړي چې پر مټ یې خپل تګ لوری بدل کړو . پر جګړه بیزو لارو باندې پانګه اچونه به موږ نور هم جګړو ته وهڅوي ، او په جګړو کې به ور ښکېل شو .

خو ددې پر عکس ، که چېرته موږ پر سوله بیزو لارو چارو خپلې بانګې ولګوو ، نو موږ به امنیت ، ثبات او سولې ته ورسوي .

اوس انتخاب زموږ په لاس کې دئ ، چې کومه لاره د خپل ژوند او راتلونکو نسلونو له پاره غوره کړو .

( سوله ،که جګړه ؟ )

د اسلام مبارک دین د سولې او امن یو تر ټولو خوندي دین دئ . ځکه اسلام د ټول عالم بشریت له پاره د سولې پیغام له ځانه سره لري . موږ مسلمانانو ته لازمه ده چې د خپل دین پر اصولو باندې منګولې ټینګې ښخې کړو او په خپل مینځ کې د سولې په کار کې له یو بل سره مرسته وکړو . اسلام یوازینی لاره ده چې پر مټ یې زموږ ټولنه کولای شي د هغه په تطبیق سره دایمي سولې ته لاره و مومي . ځکه اسلام زموږ له پاره امن راوړي او د خبرو لاره زموږ پر مخ پرانیزي .

یوه تر ټولو غوره لار داده چې اسلامي هېوادونه په خپل مينځ کې یو د بل پر وړاندې د اقتصادي او ټولنيزو اړیکو دروازې پرانيزي ، هغوی ته پراختيا ورکړي . ترڅو پرمټ يې سيمه ييز ، اقتصادي ، ټولنيز او فرهنګي سازمانونه را مينځ ته کړي . په هره کچه چې اسلامي هېوادونه په خپل مينځ کې سره یو موټی شي ، په همغه اندازه به په کې بهرنی مداخلې کمې شي . چې موږ ددې کار غوره بېلګه له دوهمې نړيوالي جګړې را وروسته د اروپايي اتحاديې جوړېدل په ګوته کولی شو ، چې د نوموړې اتحاديې ډېرو ستونزو ته يې د حل لارې پرې وموند لې .

خو زما پوښتنه له ټولو مسلمانانو څخه داده چې که اروپايي عيسويان دا کارکولی شي ، نو د اسلامي نړۍ مسلمانان ولې دا کارنه شي کولای ؟ آيا ددوی ذهني وده کمزورې او ( آی کیو ) يې ټيټه ده ؟ او يا دوی د وسوسو پرسيند ورلاهو شوي ؟ څه خبره ده ؟ که نه نو موږ خو بايد د مسلمانانو روحيه د سره يوموټی کېدو او يو والي په اړه لا پسې پياوړې کړو . ترڅو د لويو ستونزو پرحل سربېره خپله ديني فريضه مو هم په کې ادأ شي . خو ددې کار د تر سره کولو له پاره صادق ، مُدبراو په کارپوه خدای پرسته کسان په کار دي .

د مسلمانانو د يووالي هغه آواز چې په (۱۸۷۹) ميلادي کال کې افغان سيد جمال الدّين اوچت کړی ؤ ، خو تر نن پورې د هغه غږ د پيلېدو په تمه نسلونه نسلونه انتظار باسي . د نوموړي هغه د ريښتيني ضمير آواز اوس هم په هغو زړونو کې ازانګې کوي کوم چې ضميرونه يې د افغان سيد جمال الدين له ضمير سره تړلي او د افکارو دروازې يې د سيد جمال الدين مفکورو ته ور خلاصې دي . د نوموړي هغه (۱۳۷) کلن ملکوتي آواز اوس هم پرځای او اغېزمن دئ ، د نوموړي دغه د سپېڅلي ضمير غږ زموږ دنده اودين دئ ، او موږ کولای شو چې د نوموړي دا امانت د هغه له آرمانونو سره يو ځای په سوله ييزه توګه د ننني مسلمانانوغوږونو ته د خپل رسالت او وجيبې له مخې ورسوو .

دسولې پرپُل صراط با ايمانه خلک تېرېدای شي

په افغانستان کې له نږدې څلورو لسيزو را په ايسته پردۍ جګړې روانې دي . مرګ ژوبلې افغانانو ته په کې واوښتلې ، خوګټې يې نورو وېوړې . د اسلامي نړۍ او نورې نړۍ خلک را غلل ، په افغانستان ، د افغانستان په

ګاونډیانو او د نړۍ په نورو هېوادونو کې د افغان سولې په تړاو بندو بستونه ، مرستې او ژمنې وشوې . خو لا هم د افغنستان د سولې دروازه تړلې او د جګړو او ډول ډول توطیؤ لارې خلاصې او پرانستې دي .

خو دا چې لاملونه یې څه دي ؟ نو دا به په لاندې توګه وڅېړو :

لومړی : ـ افغنستان ولې د جګړې له پاره ټاکل شوی ؟ آیا ددې هېواد د سترا تیژیک او سوق الجیشي موقعیت له کبله د سیمې او نړۍ پام ور اوښتی . او یا دا چې په دې هېواد کې ځمکنۍ بډایې زېرمې شتون لري، او یا هم له دواړو اړخونو څخه یو برخمن هېواد دئ ؟

که چېرته د افغانستان موقعیت د سیمې هېوادو او نړۍ ته سترا تیژیکي او سوق الجیشي ارزښت لري ، نو بیا خو د سیمې او نړۍ ګټه په دې کې ده چې باید په ګډه افغانستان ورغوي ، د هر ډول ورانېدو مخه یې ونیسي ، امنیت په کې ټینګ کړي او د سیمې او نړۍ د نورو هېوادو په څېر دا هېواد هم خود کفأ او پر خپلو پښو ودروي . ترڅو د نړۍ د نورو هېوادو په څېر د سیمې او نړۍ له نورو هېوادو سره خپله د مرستې جوګه شي .

او که د ځمکنیو زېرمو په خاطر دا هېواد نا آرامه شوی وي او ذیدخلو او خود غرضه هېوادونو د شومو اهدافو له پاره افغانستان د پردیو جګړو تنور ، د افغانانو نظام او ملت دواړه د جګړې خس په کې جوړ شوي وي او نور خپله ډوډۍ ور باندې پخوي لکه چې پخه یې کړه ، نو دا بیا بېله پوښتنه ده ، ځکه چې دغه ډول وارداتي جګړه یوازې د افغان کور او افغان نظام د ړنګولو او د بې ګناه افغانانو د بې هدفه وژلو په معنا ده . کټ مټ لکه د کومو پوځي عملیااتو په څېر یوازې نوم ور ته بدلېږي او نوره په کې د خپلو شپفرونو پر مټ پرمخ ځي . ولې که دا دواړه اړخونه ولري ـ نو د سیمې او نړۍ هېوادونه دې پردې باندې هم له سره سوچ وکړي چې افغانان د خپلو زېرمو او خپل سترا تېزیکي او سوق الجیشي موقعیت اصلي وارثان دي .

که چېرته د افغانانو په خوښه دوی له دې ستراتیژیکي پُل او افغاني زېرمو څخه مشروع ګټه اخلي ، نو ور ته لازمه ده چې لومړی له افغنستانو سره د دې هېواد په زېرمو را ایستلوکې جیولوجیکي او تخنیکي مرستې وکړي ، د زېرمو را ایستلو له پاره دې خپل پانګوال په افغانستان کې پانګه اچونې ته وهڅوي ، د افغان کانونود استخراج له پاره دې امنیتي تدابیر ټینګ کړي ، د افغانستان له دولت او خلکو سره دې مرسته وکړي او د غیر قانوني او غیر فني مافیایي کورنیو او بهرنیوکیندنو او غلو مخه دې ونیسي .

له دې لارې به هم افغنستان او افغان نظام پر خپلو پښو ودرېږي ، او هم به دونران د خپلو اړتیاوو وړ توکي خپلو هېوادونو او د نړۍ نورو بازارونه ته ورسوي.

په افغنستان ـ او له افغنستانه بهر له سیمې او نړۍ سره ددې هېواد د مېنلولو په خاطر دې د افغانستا ن مواصلاتي لارې د افغان سوداګرو او نورې نړۍ له پاره ورغوي .

افغانستان دې نور دوارداتي او مصرفوونکو هېوادونو له لېسته وباسي او په یو خود کفأ او صادروونکي هېواد باندې یې دې تبدیل کړي .

دوهم : ــ په افغانستان کې له دولتي ارګانونو څخه نیولې بیا آن تر غیر دولتي نهادونو پورې ټول یوه بیاوړي مدیریت او پلان ته اړتیا لري ، ترڅوپر مټ یې هم هېواد او هېواد وال له شته امنیتي ستونزو څخه پرې خلاص شي ، او هم په نظام پورې اړوندې داسې ادارې را مینځته کړي چې د مدیریت ، اخلاص ، تخصص او نوښت

وړتیا په کې وي ، ترڅو افغانستان له بهرنۍ نړۍ سره وتړي او په داخل کې ور باندې هر اړخیزه بیا رغونه وکړي .خو دا کارونه په اوسنیو تشو او نیمګړتیاوو سره نه شي تر سره کېدای .

له پخوا را هیسې افغانستان او افغان نظامونو ډېرې خامې ، تشې او نیمګړتیاوې لرلې چې ډکول یې له معقولو ـ علمي او تجربتي لارو څخه اړین دي . او دغه تشې او تیمګړتیاوې ټولې له تاوتریخوالي ، پردیو منافقتونو او جګړو څخه را ټوکېدلي ، خو ریښتیني سوله ددې ټولو بدمرغیو اصلي نسخه او مدوا ده .

دریېم : ــ افغانستان سولې ته اړتیا لري ، د افغانستان ټول اتباع سولې ته تږي ناست دي . خو سوله له چا سره ؟ سوله د چا په خوله ؟ آیا ریښتیا هم په افغانستان کې د سولې په نامه عالي شورا د سولې له پاره کارکړی ؟ که یې کړی ـ نو اغېز یې څومره محسوس دئ ؟ دسولې دغه عالي شورا چې هرکال یې (۵۰۰) مېلیونه ډالر یوازې پرخپلو جیبونو ډکولو او پېرسېدلي بې هدفه ، بې پلانه او بې مدیریته تشکیل باندې لګول او په رأس کې یې تر ډېره پورې همغه متنا زع فیه عناصر په لوی لاس ور ته ټاکل شوي وو چې اوسنی ټولې ستونزې او بدمرغۍ د هغوی د کړوکړنو پایلې بلل کېږي ، نو بیا به په افغانستان کې څه ډول سوله راتلله ؟

دا خو سوله نه وه ، بلکې دا د سولې له پاره یو تلک ؤ چې سوله یې په غبرګو پښو په کې بنده ساتلې او په ژبه یې د سکوت ډالري ټاپه ور وهلې وه . په داسې حال کې چې ډالر تر افغان وینو او مرګ ژوبلو څخه ډېر ارزښت ور ته درلود . بل دا چې د سولې په تېر او اوسني مېکانېزم کې کله د سوله ییز مدیریت ، استعداد او نوښت څرک لیدل کېږي . دوی له پېله تر ننه پورې له افغان سولې څخه یوازې خپله پروژه جوړه کړې وه . د ټول افغانستان غم هره ورځ دوی ته پوره اختر ؤ .

څلورم : ــ همدا اوس د افغان سولې په تړاو په داخل او خارج کې ډېرې خبرې روانې دي . څوک سوله له کرایي عسکر سره کوي ، او څوک یې له نوکر سره ، ځینې یې بیا له چاکر سره له رسمي ادرسونو څخه پرخبرو لګیا دي ، خو پایله یې بیا هم په افغانستان کې په یو بل نوم سره د جګړې دوام دئ .

پینځم : ــ د هرې جګړې پایله که هغه کورنۍ وي یا بهرني ، سوله یې وروستۍ لاره ده . په افغانستان کې به آخر که د خدای تعالی رضأ وه سوله وشي ، خو د ځینوکورنیو ، سیمه ییزو او نړیوالو کاره او نیمګړي نیتونه مو ژړوي . کوم کسان چې دا مهال سولې ته نومول کېږي ، خلک په ځینو ځایو کې ور ته د عقیدت پېرزوینې وړاندې کوي ، اوتر یوه بریده پورې نفوذ هم لري ، پر شخصیت باندې یې هېڅوک څه نه وایي ، ولې په فزیکي لحاظ دا سې سال خورده کربېکترونه د سولې مدیریت نه شي کولي ، ځکه د افغانستان سوله کورني ، سیمه ییز او نړیوال ابعاد لري ، چې ورته روغ فزیکي وجود ، غښ ماغزه ، کره لومات ، پخه تجربه ، ستر نافع علم ، پوخ سیاست ، تدبیر ، بصیرت او درایت په کار دئ . له ډېرو څېرو سره اوس ډېر خلک آشنا دي . لطفاً دې افغان حکومت د سولې پر مېکانېزم د افغانستان د بقأ او برخلیک له پاره د خپل مکلفیت له مخې له سره غور او کتنه وکړي . ځکه ټول افغانستان ، د افغانستان ټولې ملي شتمنۍ ، ټول افغانان او د ټولو افغانانو حقوق تر هر ډول اشخاصو او ونډو غوره دي .

شپږم : ـــ د سولې طرف باید معلوم شي ، چې موږ سوله له چا سره کوو . که سوله دا خلي اړخ لري ، نو باید دا ځواک ولرو چې له پردیو واکونو څخه یې را وباسو . او کاملاً افغاني صبغه باید پیدا کړي .

او که افغان سوله بهرنی اړخ لري ـ نو باید د نړیوالو پر مټ د هغوی دغه نا اعلان شوې جګړه موږ او ټولو نړیوالو ته واضېح شي ، ترڅو لومړی له دیپلو ماتیکواړیکو - او ور پسې له نورو لارو چارو کار واخلو . ملت له افغان دولت سره دئ ، د هېواد د خاورې واک له افغان دولت او افغانانو سره دئ . کوم هېوادونه چې د کمک او همکارې په نوم افغانستان ته راغلي ، هغوی مکلف دي چې د نړیوال کنونسیون له مخې د افغانانو په څنګ کې د افغانانو ددفاع په خاطر ودرېږي ، د افغانانو له حقوقو څخه دې دفاع وکړي او په افغانستان کې د ورانکاریو مخه دې ونیسي . ځکه دا مهال د افغان سولې په وړاندې ډېر خنډونه او اغزي پراته . د افغانستان هره برخه دوزخ دئ دوزخ . د جګړې له دې جهنُمي اور څخه تېرېدل څه آسانه خبره نه ده . دا د افغان سولې پُل صراط دئ . هرڅوک چې له دې پُل صراط څخه د سولې خواته پل ږدي ، په دغه جګړه ییز جهنُم کې د لوېدو وېره ور سره شته . هر څوک هم نه شي ور باندې تېرېدلای ، دېته داسې باایمانه خلک په کار دي چې د خپل ژوند د بګروندې عملنامه یې په ښې لاس اخیستې وي . که نه نو ترکاني د بیزو کار هم نه دئ .

دسولې دیني ارزښت

سید الرحمن عابد دسولې دیني ارزښت ته په خپله لومړۍ او دوهم برخه مقالوکې داسې اشاره کړې ده :

- سوله داسلام له نظره:

لومړۍ برخه:

درنومسلمانانو خویندو او وروڼو داچې په ګران هېوادکې دروانو بدبختیو اوناورینونو اوږده لمن چې تقریباً له لسیزو څخه هم اوړي او هره ورځ زموږ ګڼ شمیر بې ګناه ماشومان،سپین ږیري، ځوانان اوپه ټوله کې ددې ټولنې مظلوم وګړي په ډیرنا ځوانمردانه ډول را څخه اخلي،نو لازمه ده چې دسولې په دیني ارزښت پوه شو،ترڅوپه ګران هېوادکې شته مشکلاتو ته داسلام دسپیڅلي دین په رڼا کې دحل لارپیداکړو.

سوله داسلام په مقدس دین کې خورا زیات او لوی ارزښت لري،ان تردې چې ددوه کسانو یاډلو یا دوه ملتونو ترمنځ سوله او روغه جوړه کې داړتیا پروخت کې دروغ ویل هم جایزدي ،چې په دې هکله رسول الله (ص)فرمایلي دي:دسولې او روغې جوړې پرمهال داسې دروغ ویلو ته هم جواز هم شته چې د روغې جوړې اسباب برابروي ،اګرکه دروغ ویل په شرعه کې ناروا عمل دی ، مګر ددې لپاره چې دخلکو ترمنځ دخپل منځي اختلافاتو،فساد او وینې تویولو مخه ونیول شي ،دروغ ویل روا دي او شریعت دې ته دروغ نه دي ویلي ، لکه چې امام بخاري رحمة الله علیه په صحیح البخاري کې حدیث شریف روایت کړی دی(صحیح البخاري څلورم ټوک ۲۴۰۳ ح)

ژباړه: هغه څوک چې دروغجن نه دی خود خپلو درواغو په اساس دخلکو په منځ سوله کوي ،په خپلو درواغو سره ددوه کسانو ترمنځ اختلاف پای ته رسوي او یا د خیر خبره کوي دا کس دروغجن نه دی،ددې حدیث شریف دلا روښانتیا لپاره د امام خطابي (رح) نظر په لنډ ډول سره ذکر کووم.

امام خطابي (رح) ددې حديث شريف په برخه کې داسې فرمايلي دي :دخلکو ترمنځ سولي ته هڅونه،اودخلکو ترمنځ اختلاف له منځــه وړل اويا داختلافـــاتو مخــنيوی کــول دي،ځکه چــــې رسول الله (ص) دالله (ج) په رسۍ منګولي لګولي دي ،په داسې حال کې چې دخلکو ترمنځ اختلاف اچول په دين کې درز پيداکوي نو هغه څوک چې دخلکو ترمنځ سوله کوي،دثواب اوفضيلت هغه مقام ته رسيږي چې ، دنفلي روژې نيوونکي او نفلي عبادت کوونکي او نفلي صدقې کوونکي له درجې څخه ډير پورته دی،ځکه چې هغوي دځان لپاره لګياوي او سوله کونکی دټولنې لپاره .

همداشان په بل ځاي کې راځي چې سوله دالله (ج) حکم هم دی،الله(ج) په قران کريم کې داسې فرمايلي دي:فاتقوالله واصلحوا ذات بينکم واطيعوالله ورسوله ان کنتم مؤ منين(سورة الانفال ،١.

ژباړه: ای مسلمانانو تاسو دالله (ج) څخه وويريږئ او په خپل منځ کې سوله وکړئ اود الله (ج) له استازي حضرت محمد(ص) څخه اطاعت وکړئ که چېري تاسو مؤ منان ياست .

الله (ج) په پورته آيت شريف کې داشرط لګولی دی چې دالله (ج) څخه وويريږئ او د الله(ج) او دهغه داستازي څخه اطاعت وکړئ ، په خپل منځ کې جګړې،شخړې او اختلافونه مه کوئ،ځکه چې الله(ج)ستاسو تر منځ هرډول شخړې حرامې ګرځولې دي او په بل ځاي کې د مؤمنانو دصفاتو په ترڅ کې د(رحمآء بينهم)صفت ذکر کوي چې داهم ددې ښيلګه ده چې مسلمانان بايدخپل منځي اختلافات دخبرو او روغې جوړې له لارې حل کړي، نه دجګړو او شخړو له لارې .

پورته ټولو الهي احکامو اونبوي احاديثو ته په کتو بايد هڅه وکړو چې په ګران هېوادکې د روانو بدبختيو دله منځه وړلو لپاره هر ممکن اقدام وکړو،ترڅودجنګ جګړو ددې بدمرغي بلاڅخه دتل لپاره خلاص شو ، نو پرموږ ټولو لازمه ده چې په ګران هېواد کې د تلپاتې سولې لپاره په يو اتفاق سره کار وکړو او خپل ټول شته مشکلات پورته ذکر شويو قراني آياتونو اونبوي احاديثو ته په کتو دخبرو له لارې حل کړو .

سوله داسلام له نظره

( دوهمه برخه):

سوله اودسولې کليمه اوسنۍ خبره نده بلکې دبشريت دپيدايښت سره سمه منځته راغلې ده،سوله يوه عربي کليمه ده چې معنايې(استعداد،جوړښت،اتحاد، اتفاق،اودجنګ جګړو بندول دي)

په اسلامي شريعت کې هغه سوله چې حرام پکې حلال او حلال پکې حرام ونه ګڼل شي جايزه نه ده،چې په دې اړه حضرت محمد(ص) فرمايلي دي:((الصلح جايز بين المسلمين الاصلحاحرم حلالاً او احل حراماً والمسلمون علي شروطهم الاشرطا حرم حلالاً اواحل حراماً)):رواه ابن ماجه والترمذي ( سبل السلام ج ٣ص ٨٨)

ژباړه :(دمسلمان او مسلمان ترمنځ سوله رواده،مګرداسې سوله روانه ده چې حلال پکې حرام او حرام پکې حلال وګرځول شي .)

د اسلامي شريعت له مخې سوله په شپږ ډوله ده.

- دمسلمان اوکافر ترمنځ
- دښځي اوخاوند تر منځ
- دباغيانو او عادلانو ترمنځ
- ددوه مرورو ترمنځ
- دخپل منځي جګړو دتپي شويو او تپي کونکو ترمنځ
- ددوکاروباري شريکانو ترمنځ).

((کتاب فتح الباري شرح صحيح البخاري))

دسولې دغه شپږډلونه الله (ج) په قرانکريم کې بيان کړي دي ، چې ځينې يې په ځانګړي ډول ذکرکړي دي،داځکه چې دسولې دغه ډولونه ډير مهم او اړين دي اواهميت يې دمتعدي والي په وجه دي،يعني داختلاف اوجګړې تداوم چې زيانونه يې ټولني ته رسيږي،او ټولنه ورڅخه زيانمنه کيږي .په داسي حال کې چې سوله نه يوازې داچي جګړمارو خوا ؤ ته ګټه رسوي بلکې ټولنې ته يې هم ګڼ شمير ګټې رسيږي .

دسولې هغه ډولونه چې الله (ج) يې ذکر په قر انکريم کې کړی يوځويي دبېلګې په ډول ستاسو درنو سره شريکوم،ترڅو دسولې مينوال په اسانتيا سره دهغې په شرعي ارزښت پوه شي .

په لومړي سرکې دکافر او مسلمان ترمنځ سوله باندې يوڅوکرښې

دمسلمان اوکافرترمنځ سوله:

ددې ډول سولې په هکله الله(ج) مسلمانانو ته داسې لارښوونه اوحکم کړی اوفرمايلي يي دي:وان جنحواللسلم فاجنح لها وتوکل علي الله انه هوالسميع العليم وان يريدواان يخدعوک فان حسبک الله هوالذي ايدک بنصره و بالمؤمنين ( سورة الانفال-۶۱و۶۲)

ژباړه:که چېرې غير مسلم(کفار)سولې او پخلاينې ته ميل وکړي، نوتاسوهم دهغوی دسولې وړانديز ومنئ،سولې ته ميلان وکړئ او په پاک الله (ج) توکل وکړئ،بېشکه چې الله(ج)دټولو احوالو ښه اوريدونکی او په ټولو اقوالو ښه پوه اوعالم دی.

دمسلمان او مسلمان تر منځ سوله:

دا ډول سوله په جګړه کې دښکېلو مسلمانو ډلو ترمنځ دقرانکريم په آيت تثبيت شوې ده،چې دسولې دغه ډول دمسلمانانو دخپل منځي جګړو دبندولو او ختمولوپه اړه دی،دسولې دا ډول ترنورو ټولو انواعو زيات مهم اوضروري دی،ځکه چې خپل منځي جګړې دمسلمانانوقوت ختموي،اومسلمانان له خپل اصلي مسير څخه بې لارې کوي،اوبې ساري معنوي اوتباکونکي پايلې لري .

الله (ج) په خپل پاک کتاب قرانکريم کې فرمايلي دي :

واطيعوالله و رسوله ولاتنازعو فتفشلوا وتذهب ريحکم واصبروا ان الله مع الصابرين (سورة الانفال آيت ۴۶)

ژباړه:تاسودالله(ج)اودهغه دمحبوب پيغمبر حضرت محمد(ص) اطاعت وکړئ اوخپل منځي شخړې اوجګړې مه کوئ،ددې لپاره چې تاسوبه بې زړه شئ قوت او دولت به مو له منځه ولاړشي اوکمزوري به شئ،تاسو صبر اوزغم وکړئ،ځکه چې الله (ج) دصبر کونکو مرستندوي دی.

داسلام په تاريخ کې دسولې ډيرې بېلګې موجودې دي،چې يوه يې هم دکعبې په ديوال کې دحجرالاسود دکېښودلو پرسردقريشو دمختلفو قبېلو ترمنځ اختلاف وو .

د حجرالاسود دا لاندې واقعه د نبي کريم(ص)د صلحې د را وستو د هڅو او منځګړتوب ښکاره او څرګنده بېلګه ده.

د نبي کريم(ص)په وخت کې قريشو او د مکې اوسيدونکو دکعبې د ودانۍ ترميمول وغوښتل،د کعبې د ترميم د چارو تر بشپړيدو وروسته دکعبې په ديوال کې دحجر الاسود د کېښودولو پر سر دقريشو دمختلفو قبېلو تر منځ اختلاف پيدا شو،هر يوې غوښتل چې په خپل لاس په معين ځای کې دحجر الاسود دکېښودلو وياړ تر لاسه کړي،اختلافات ورځ په ورځ زياتيدل، پدې مهال کې د قريشو مشرانو د ستونزې د حل لپاره يو شرط وړاندې کړ او هغه دا چې که سبا هر څوک مسجدالحرام ته لومړی داخل شو نو د مشکل د حل واک لري.

پر سبا يې لومړی کس حضرت محمد(ص)وو چې مسجد الحرام ته داخل شو،نو انحضرت(ص)دستونزې دحل لپاره يو څادر وغوړاوه او د حجر الاسود تيږه يې پکې کېښوده، او ټولو قبېلو له مشرانو څخه يې غوښتنه وکړه چې د څادر پيڅکې ونيسي،او هغه خپل ځای ته يوسي، نو په دې توګه يې د خلکو تر منځ ستونزه حل کړه.

له پورته ټولو دلايلو څخه څرګنديږي چې داسلام مبارک دين د سولې او امن دين دی. بې ځايه جنګ جګړي، تيری او تند لاريتوب ته پکې ځای نشته.

دمسلمانانوخپل منځي جګړې نه جبرانيدونکې اوخطرناکې پايلې لري،چې په دې اړه ګڼ شمېر احاديث هم راغلي دي اومسلمانان يې سولې ته هڅولي دي،له دې نه معلوميږي چې اسلام دسولې ،ثبات اوامن دين دی.

داچې داسلام سپيڅلی دين دسولې او وروروليی دين دی،نوراځئ چې سوله دخپل ژوند يوه ډيره مهمه اړتيا وګڼو او ددې اړتيا دپوره کولو لپاره هڅې وکړو،ترڅو ګران هيواد افغانستان ته دتل پاتې سولې په راوستلو بريالي شو ،دخپلو ځوانانو او کوچنيانو لپاره ددې زمينه برابره کړو چې دتعليم پر مټ دخپل روښانه راتلونکې په لور قدم واخلي .

له جګړو څخه د خلاصون کړنلارې

انساني ټولنې هغه مهال له تاو تریخوالي او جګړو څخه نجات موندلی شي چې د شر، فساد اوفتنو اچولولارې یې پر مخ بندې شي . له اختلافاتو او شخړو سره د مناسبو او رغنده لارو چارو د ودې او په کاراچولوفرهنګ په کې عام شي . په ټولنیز سیستم کې د عدالت او حقوقو د تأمین له پاره اړین اقدامات په کې تر سره شي . خوددې ټولوکارونود ترسره کولوله پاره ترهرڅه وړاندې اړونده پوهنه اوروزنه د ظرفیتونو د ارتقأ او لوړولو له پاره اړینه ده ترڅو په کلاسیک او مکتبي منل شوي شکل خلک د مور له ِغیږې څخه بیا آن تر ګوره پورې د سوله ییز ژوند پر اهمیت او ګټو باندې پوه وي .

کله چې د یوې ټولنې غړي او ډلې د اختلافاتو اوشخړو په وړاندې مناسبه رویه او چال چلند غوره کړي ـ په هغه صورت کې همغې ټولنې یا ډلې ته مدني ټولنه یا مدني ډله ویل کیږي .

د مدني ټو لنې یا ډلې خصوصیات( ځانګړنې ) دادي چې :

ــ زغم ، د یوبل منل ، د یوبل خبرو ته غوږ نیول او په سړه سینه او کاملاً آرامو ماغزو د مقابل لوري خبرې اورېدل ، پر خپلو کړو وړو باندې څار، مراقبت او کنترول باید عامه بڼه خپله کړي ....

ــ بدۍ او زیانونه اړول بد وګڼي ، ور باندې وشرمیږي ، هغه عیب وبولي .او دا فرهنګ په کې وده وکړي .

کله چې په ټولنه او ګوندونو کې ښه ذهنیتونه او کړنې پراخه وده وکړي اوبد ذهنیوتونه او کړه وړه په کې بد اوعیب وګڼل شي ، نو بیا به شرم او حیأ په کې پراخه وده وکړي ـ او همدغه وده به بیا د سولې ، ثبات او سلامتی په پراختیا او وده کې ستر رول ادأ کړي .

په پورتنیوڅیزونوکي یاد شوي موضوعات ټول ممکن دي اوموږ ته به په ځانګړو او ټولنیزو دواړو اړیکوکي دداسي ذهنیتونو اوکړو وړو وده او پراختیا ددې وړتیا راپه برخه کړي څود پرله پسې تاو تریخوالي او جګړو پر ناخوالو باندې برې ترلاسه کړو . ترڅو پرمټ یې د جوړوونکو مثبتو بدلونونو او تحولاتوله پاره لارې پرې هوارې کړو .

زمونږ د اوسنیوکړنو او عامه ذهنیت حالت داسي دئ چي مونږ خپله هغه مهال د شخړي ( منازعي ) په اړه فکر کوو ـ خو بیا هم په خپله په شخړه کي را ښکېل شو . ولي ډېری وخت بیا داسي وو چي د شخړو د اغېزو په وړاندي سمدلاسه عکس العمل ښیو . زمونږ ذهن یوازې په لیدونکو څیزونو باندي مصروفېږي . څه چي نه وینوهغوی ته هېڅ پام نه کوو او هغه د پام وړ څه له پامه په کي غورځووچي د شخړو اصلي سر چینې جوړوي ، او یا شخړه د تاو تریخوالي او جګړې لوري ته بیایي .

ولي په لرلید او پایلو یي فکرنه کوو چي په راتلونکي کي څه تري پیښېږي . او دا زمونږ په ټولنو کي اوس یو دود ګرځېدلی چي د شخړو د سرچینو ، تاو تریخوالي او جګړو ته د هڅوونکو عواملو څخه تر شخړو مخکي ، د فعالو شخړو پر وخت او یا له شخړو څخه وروسته د پام وړ پاملرنه نه کېږي .

مانا یي داده چي له شخړو څخه په سمه توګه منظمه زده کړه او سبق نه دئ اخیستل شوی ، له شخړو څخه پند او عبرت نه دئ اخیستل شوی ، د اړینو اصلاحاتو راوستو ته ډېر لږ پام ور اوښتی ، په ډېر لږ اختلاف سره د شخړو په وړاندي ناسم چلند شوی چي په پایله کي یي تراوسه پوري زمونږ هېواد په دوامدار تاوتریخوالي او تشدد کي یرغمل ساتلی او زمونږ خاوره یي د پردیو جګړوپه آزمون ځای بدله کړې ده .

په هره شخړه ، تاو تریخوالي او جګړه کي خو ځیني مسٔلي او موضوعات په ډاګه او ښکاره وي ، خو ځیني مسٔلي بیا د پورته نومول شویو پیښوپه څېر بیا همداسي پټي (استخباراتي ) وي . خو مونږ د شخړو او جګړو په حالت کي په ښکاره (فزیکي ) شیانو باندې ځانونه مصروف ساتو اوهمغو ته زمونږ پام ور اوښتی وي . و لي ددې پر خلاف د ځینو ډېرو نورو مهمو پیښوڅخه بیا سترګي پټوو . همدا علت دئ چي زمونږ د شخړو او جګړو د سر چینو او محرکو برخو او عواملو ریښي زمونږ د اړیکو او حافظو په ژورو کي په دوامداره توګه همداسي فعالي او ژوندۍ پاتي کېږي . کله چي زمینه ور ته مساعده شي د مطکروب په څېر خپل فعالیت له سره پیلوي .

ددې له پاره چي دوامداره سوله پراخه وده و کړي ، لاندې ټکوته هم پام په کار دئ :

لومړی : ـــ د یوه ځواکمن ، سوکاله او یو موټی افغانستان خیر په دې کي دئ چي ټولي خواوې یو پر بل باندې د بري او غلبې ذهنیت له خپلو دماغونو او کوپړیو څخه وباسي . ځکه چي یو بل ته د ماتي ورکولو ذهنیت ډېرې خطرناکې پایلي لري . افغانانو ته په کار ده چي د ( یا ته او یا زه ) ذهنیت پر ( هم ته او هم زه ) ذهنیت باندې واړوي ، ترڅو د سرتاسري ریښتیني ملي یووالي له پاره د یو مهم بنسټ په را مینځته کولو ، جوړولو او ټینګولوکي مرسته وکړي . که چېرته د ( هم ته او هم زه ) ذهنیت په سوچونو او فکرونوکي نه وي ،تولد ـ ماشومتوب ـ ځواني ـ او زړبوډي یي په ځانځانی سره خپلسرې وده کوي ، نو دا بیا ډېره ستره ټولنیزه فکري خلاء ده . او مونږ باید سر له اوسه دا خلاء د ( هم ته او هم زه ) په ذهنیت سره ډکه کړو .

دا اټکل چي افغانستان د ټولو افغانانو ګډ کور دئ . نو په دې کور کي هېڅ افغان بیا له بل څخه کم یا زیات نه دئ ، او ټول ددې وطن اوسېدونکي دي ، دا وطن د ټولو افغانانو مور ده . ټول افغانان ددې خاورې زامن دي . ټول د فزیکي او معنوي قوت لرونکي دي . دوی کولی شي له خپل وس او طاقت څخه د خپل وطن او خاورې په آبادولو کي کار واخلي ، تر څو خپل ځان او خپلو وطنوالو ته یي ګټه ورسېږي . لکه څنګه چي ساتنه یي پر هرمکلف افغان باندې فرص ده ، همداسي په کي د اوسېد و اوګټي اخیستني حق هم لري . خو هغه افغان ډېر د قدر وړ دئ چي ددې مشترک

کور د عزت او وقار په ساتنه او آبادۍ کې یې متې را نغښتې دي . هڅه او هاند یې داوي چې له خپلو وطنوالو سره په دې سیالۍ کې ځان شریک کړي . خو د جګړه مارۍ ، لوټمارۍ او فساد په له مینځه وړلو کې له یو بل سره په صادقانه توګه مرسته وکړي .

دوهم : ـــ ښه حکومت باید وده وکړي . د ښه حکومت نښه داده چې د خپل ؤلس د رواني او حیاتي نیمګړتیاوو پوره کولواو اړتیاوو لیرې کولو په فکر او لټه کې وي . ترڅوخپل ؤلس ته د ښو خدماتو ښې پایلې وړاندې کړي .

دریم : ـــ حکومت باید خپل ؤلس ته د خپلو ملي ارزښتونو او مقدساتو سره سم د حکومت په ټاکلو کې د ونډې اخیستو او نظر حق ورکړي ، عدالت خوندي وساتي او د ؤلس رأیو ته په درنه سترګه وګوري .

څلورم: ـــ ښه حکومت هغه دئ چې دؤلس د اړتیاوو او ښو خدمتونو له پاره په خپل حکومتي سیستم کې اړین بدلونونه راولي او د افغانانو په سوله ییزه روزنه او پالنه کې ټولې هڅې سره همغږې کړي . له افغان وسله والو مخالفینو سره دې ددې له پاره د سولې او ملي یووالي لارې پرانیزي چې جګړه پرې بنده شي او او ؤلس ته په ګډه خدمت وکړي ، تر څو په ټول افغانستان کې د ټولو افغانانو له پاره امنیت ، سوله ، عدالت او حقوق تأمین شي .

په سمندرکې د یخ غرونه (د یخ لویې ټوټې):

د لاندې طبيعي جوړښت د توضيح او مطالعې څخه په ګټې اخيستو سره موږ کولای شو د تاو تريخوالي او جګړې څخه د يوې خلاصې تولنې په جوړولو کې له يو بل سره مرسته او ګډ کار وکړو :

+ يوه ژوندۍ بېلګه : ـــ په يخ ترلو قطبونو کې د هوا له تودوخې سره د غرونو په شکل د يخ ډېرې لويې لويې ټوټې را بېلېږي چې لږ تر لږه د هرې ټوټې اوږدوالی يې څو کيلو مترو ته رسېږي او ډېرې لوړې ارتفاع ګاني لري . د يخ له خورا سترو کنګلونو څخه دغه لويې لويې ټوټې په سلو کې (۱۰٪) داوبو له سطحې څخه د باندې را وتلې ښکاري ـ او په سلو کې (۹۰٪) برخه يې په اوبو کې د ننه ډوبه وي ، خو د سمندري سترو څپو په زور سره په اوبو کې د لامبو په حال کې ليدل کېږي ـ چې کله نا کله له سمندري بېړيو سره په ټکر او تصادم کې واقع کېږي او زيات ځاني او مالي تاوانونه هم اړولی شي . ولې ځيني وختونه خو بيا ور سره ټکر شوې بېړۍ ډوبولی هم شي .

+ د يخ له غرونو سره د شخړو ورته والی : ـ

شخړې په عام ډول ـ او ټولنيزې اوږدې شخړې په خاص ډول د همدغو سمندري کنګل شويو لويو ټوټو سره ورته والی لري . د يخ په هغه لويو ټوټو کې هم ځيني لږې برخې د اوبو تر سطحې د باندې ښکاري او خورا زياتې برخې يې پراوبولاهو وي او هېڅ نه ښکاري . همداسې په شخړو کې هم ډېرې لږې برخې مشاهدينو ته ورمعلومېږي ـ او زښته زياتې برخې ـ او د هغوی لاملونه تر هغو پورې چاته نه ور معلومېږي چې تر څو پورې د شخړه ييزو سمندرونو تل ته نه وي ور ښکته شوي . ځکه خو بايد د شخړو ښکاره او بر سېرنې برخې ته په پام سر بېره د شخړې مبهمو ( ګونګو ) او پټو اړخونو ته هم بايد پاملرنه وشي ، ځکه همدغه پټې برخې د

ټولنو ، ډلو او هېوادنو تر مينځ د ټکر او تصادم سبب جوړېږي .

د بېلګې په توګه:

د شخړې ښکاره برخې هغه دي چې د غوسې اوزور زياتې پر مهال جګړې ترې پيداکېږي ، جګړې ښکېلو خواوو ته ځاني او مالي زيانونه اړوي . ښکېلې خواوې او نور خلک هم د جګړې همدغه ښکاره اړخ ته ګوري ، په ښکاره توګه خو د جګړې د همدغه پاسنۍ برخې ( ظاهري او فزيکي ) برخې د له مينځه وړو په تکل کې وي ، ولې تر جګړې لاندې ( پټې ) برخې ته هېڅ خيال نه ساتي ، چې کېدای شي د شخړې په همدغه پټه له پامه غور ځول شوې برخه کې د شخړې اصلي لاملونه او عوامل موجود وي .

د شخړې اصلي لاملونه اوعوامل تل د شخړې په لاندينيو او څنګنيو له پامه لوېدليو برخو کې شتون او ځالې لري . کله چې د ټولنو ، ډلګيو ، ؤلسونو او هېوادونو روان عادي بهير پرې برابر شي ، له داسې ناڅاپي او نا پامه ټکر او تصادم سره يې مخ کړي چې يا ټولنې ، ګوندونه ، ؤلسونه او هېوادونه له مينځه په کې ولاړ شي ، او يا هم د شخړې پټې برخې ( فسق ، فساد او فتنې ) يا په بله ژبه : وېرې ـ شخصيتونو ته صدمې ـ د درناوي تهديدول ـ د پېژندل شويو ارزښتونو وېره ـ پخوانۍ ترخې خاطرې ـ د نا امنيو محسوستيا ـ د شرم او بې عزتيو احساسول ... او (د ژوند او روحي اړتياووتهديدول ) په کې ختم شي .

که څه هم په ښکاره خو په عام ډول ددغو برخو يادون له سره نه کېږي . ولې په خصوصي او پټو غونډو کې يې بيا پرځينوبرخو باندې تبصرې رواني وي . د شخړو په ښکاره او ژورو برخوکې ځيني حساس عناصر لکه : ځواک ،

دود دستور ( فرهنګ ) ، اصل او نسل ( هویت ) ، جنسیت او حقوق موجود وي چې له شخړو سره د تعامل او سولې په راوستو کې مهم رول لوبولی شي .

که چیرې موږ ظاهري تاو تریخوالی او جګړه بنده کړو ، د شخړو ژوروعواملواوعناصرو ته شا ور واړوو او له پامه یې وغورځوو ، کېدای شي ددې په څنګ کې اختلافات ، شخړې او جګړې په بله بڼه سر را پورته کړي .

ددې له پاره چې دوامداره سولې ته سره ورسېږو باید په ژوره توګه د جګړې او شخړې عوامل تحلیل او کره پاملرنه ور ته وکړو . خو دا هم بس نه ده چې موږ یوازې د ظاهري سولې په خاطر د جګړې درولوکوښښ وکړو ، بلکې ددې تر څنګ باید د شخړو ژورې خواوې او نور ژور نا ویلي مسایل هم په پام کې وساتو او هغه سره وپېژنو ، ویې څېړو ، ریښې او پایلې یې پیدا کړو . که چېرته دغه ریښې د رغولو وړوي او د رغولو ارزښت ولري ، نو باید ویې رغوو . او که د رغولو وړنه وي ، ترموجودیت یې بیا نه موجودیت غوره وي ، نو باید ریښې یې ور پرې کړو .

په جګړه کې یو وخت داسې هم را رسېږي چې دواړه خواوې له جګړوڅخه ستړې شوې وي ، د جګړو پر بدو پایلو او زیانونو باندې سره پوه وي او د خپلې خوښې سوله غواړي . خو دداسې سولې او خپلو امتیازاتو تر لاسه کولو له پاره دواړه خواوې جرګې ته خپل خپل شرایط وړاندې کوي . دا سمه او پر ځای ده چې د سولې له پاره باید داسې شرایط او اصول د تعادل په صورت کې را مینځته شي چې ټولنیزه خوا په کې په ټولیز ډول ونډه ولري . ځکه سوله خو د یوه شخص ـ یا یوې ډلې ( ګوند ) او یوه تن کار نه دئ ، بلکې سوله د ټولنې ، ګوند ، هېواد او نړۍ په کچه یو رغنده ټولنیزکار دئ چې په ژمنه او ښه نیت سره د ټولو خواوو روا او برحقو غوښتنو ، د ؤلس ( خاموش اکثریت ) حقوقو او اړتیاوو ته باید په متعادله توګه پاملرنه په کې وشي .

خو کله چې جګړه ختمه شي بیا به هم د سولې او د شخړو د بېخپوره حل عملیه دوام مومي . ترڅو د سوله ییز خوند یتوب ، او سوله ییزو اړیکو د بیا رغونې له پاره تل پاتې پخلاینې ته لاره ور باندې هواره شي . ځکه که پخلاینه نه وي ، نوورروسته به بیا څه پیښېږي ؟

ښکاره خبره ده چې :

کرکه او نفرت به ترشا پرېږدي ، درېیمګړي به خپل باور له لاسه په کې ورکړي ، یو پر بل باندې باور به په ښکېلو غاړو کې ډېر کمزوری وي ، د یوبل ترڅنګ د کارکولو روحیې به کده ترې کړې وي ، او په ډېر لږ اختلاف او شخړې سره به بیا تاو تریخوالی زور واخلي او جګړې به بیا پیل شي . ددې مثال داسې دئ لکه یو ناروغ چې په ګېډه کې عملیات هم شي ، خوګېډه یې پاکه نه شي ، خو کله چې عملیات یې پای ته ورسېږي ، او ټپونه یې جوړ شي ، خو په ګېډه کې اصلي ناولتیا به یې د ننه په وجود کې په نویو بڼو سره نور سرایت هم وکړي او آخر به یې له مینځه یوسي .

که څه هم د پخلاینې له پاره کومه خاصه ( ځانګړې ) نسخه او حکومتي نمونه نه شته . خو د سوله ییزو څېړونکو ، حکومتونو او ټولنیزو نهادونو ( مؤسسو ) او د سولې د کار کوونکو دا دنده او وجیبه ده چې تر هغو پورې د پخلاینې له پاره خپل مدبرانه ، عاقلانه او له حکمته ډک ابتکارات په کار واچوي خو پخلاینه او سوله په کرکه او بدلې اخیستو باندې بر لاسې شي . او په ریښتینې تو ګه عذر غوښتلو او ښنلو ته لاره هواره کړي . چې دا په حقیقت کې د ښکېلو خواوو پر زړونواو ذهنونو باندې کارکول او د هغوی زړونه او ذهنونه تسخیرول دي .

حقيقي پخلاېني اوتلپاتې رېښتيني سولې ته د رسېدو له پاره د ( رغنده سولې ښوونيزمهارتونه ) کتاب به له تاسې سره مرسته وکړي . مؤلف

پای